


# هند

## له لومړني کمونيزم څخه تر مرئيتوب پورې

## د لرغوني تاريخ لنډه مارکسيستي څېړنه

ليکوال: ش.ا. ډانگي

ژباړن: م.ا. نوميالـــی

د ښـــځي د آزادۍ او له نر سره د هغې د برابرۍ تامينول تر هغو پوري هم ناممکن دي او هم به ناممکن پاته وي، څو چي ښځه له اجتماعـي توليدي کاره څخه را گـرځېدلـې وي او په کورني کار پوري تړلې وي!

***

د ښـــځي آزادي نه په کورني کار کي ده او نه صرف په دې کي ده، چي د منځنۍ طبقـې يوه «تعليميافته گټندويه» ځنـي جوړه سي. هغه اجتماعي انقلاب چي د توليد په وســـــــايلو کي خصـــوصي ملکيت او همدا رنگه طبقاتي حاکميت او له هغه سره سم يو ځای د نر تفوق پای ته رسوي، د دې عامل کېدلای سي، چي د ښځي آزادي به تامين کړي.

***

په يوه ټولنه کي د دولت موجوديت د دې خبري دليـــــل دئ، چي دغه ټولنه په خپل ځان کي په داسي تضـــــادونو اخته ده، چي نه سره حل کيږي او داسي نه پخلاکېدونکو شــــــخړو تجزيه کړې ده، چي له منځه وړل يې د دې له وســـه وتلي دي.

# INDIA

## From Pirmitve Communism To Slavery

S.A. DANGE

COA

# هند

## له لومړني کمونيزم څخه تر مرئيتوب پوري

د لرغوني تاريخ لنډه مارکسيستي څېړنه

**ليکونکی: ش. ا. ډانگي**

**ژباړن: کانديد اکاډيميسن م. انور نوميالی**

# کتاب پیژندنه


د کتاب سرلیک:

**هند له لومړني کمونيزم څخه تر مرئيتوب پورې**

ليکوال:

**ش.ا. ډانگې**

ژباړن:

**کانديد اکاډيميسن م. انور نوميالی**

بيا ټايپ:

**کريم مهر**

لومړی چاپ او خپرونه:

**د.ا.د.ج د علومو اکاډمۍ د خپرونو رياست، ۱۹۸۵**

بيا ځلي خپرونه او سمونه:

**سور ستوری خپرندويه ټولنه، ۲۰۲۵**

د ژباړې او ټايپ کتنه او سمونه:

**د افغانستان کمونيست سازمان سياسي بيرو**

# د افغانستان کمونیست سازمان یادښت

ډېر کسان په دې غلطفهمۍ کې واقع دي چې مارکسیزم-لنینزم یو چمتو شوی دکتورین او د نه بدلېدونکو احکامو ټولگه بولي، نه یو څېړنیز میتود، یا هماغسي چې انگلس ویلي؛ د نورو څېړنو پر لور د پیل یو ټکی. مارکسیستي میتود په یوه حساب ډېر ساده دی او هغه دا چې نړۍ لکه څه ډول چې ده؛ هماغسي یې وپېژنو، د ټولنیز تکامل تاریخي بهیر د یوې عیني، طبیعي او تاریخي پروسې په توگه تر تحلیل او تجزیې لاندې ونیسو او د تاریخي او ټولنیزو اوښتونونو علتونه د ټولنیزو مناسباتو په دننني تضادونو کې وڅېړو. مارکسیستي میتود د تاریخي او ټولنیزو بدلونونو تر شا د عیني او مادي علتونو د معلومولو او هغو تضادونو د پېژندني کوم چې د نوي پدیدو جوړېدلو او ودې ته زمینه برابروي؛ په لټه دی. د دې میتود را منځته کېدل، د طبیعي او ټولنیزو علومو د کشفیاتي میتودونو د لا ډېر دقت لامل وگرځېدل او د ټولنیزو علومو تیوریکي بنسټونه یې مضبوطه کړل. گڼو پوهانو د مارکسیستي میتود څخه په گټې اخیستني په اقتصاد، تاریخ، سیاست، ټولنپوهني، ادبیاتو او ډېرو نورو علمي څانگو کې گڼ مسایل حل او ډېر مطالب روښانه او دقیق کړل. د مارکسیستي میتود دودېدل په بیلابیلو ټولنیزو علومو باندې د پخوانیو خرافاتو او ارتجاعي نظریاتو د اغېزو د له منځه تللو لامل هم وگرځېدل او د دقیق علمي او څېړنیز کار میتودونه یې وړاندې کړل. خرافاتي، ارتجاعي او تېر ایستونکي نظریات چې د علومو په پوښ کې یې ځان پټ کړی وو؛ د همدې میتود په را وړاندې کېدلو سره د مضرو ویرسونو غوندې له منځه ولاړل.

مارکسیستي میتود د تاریخ په علم کې هم تحول راوست او د بشري ټولني د تېر په اړه د موجودو فاکټونو د دقیقو او عیني استنتاجونو زمینه یې برابره کړل.

د انسانانو د مادي ژوندانه د مناسباتو بدلون؛ د لويو تاريخي بدلونونو د اصلي محرکينو په توگه اثبات شول او د تاريخ د علم د پام وړ شمېر پرابلمونه، تناقضات، مسايل او سوالونه حل وگرځېدل. د تاريخي فاکټونو څخه د سمي اخيستني او جاج لاري-چاري واضح شولې، تر څو تاريخپوهان د تېر په اړه لا ډېرو دقيقو او مشخصو پايلو ته ورسېږي.

د اکاډمسيسن ژوکوف له قوله، خپله «تاريخي کتنه» د مارکسيزم – لنينزم له بنسټيزو اصولو څخه دي. د دې اصل عمده شرايط دا دي چې ټولي پروسې او پديدې د ودي او يو بل سره تړلي شرايطو او هغو مشخصو پېښو سره يو ځای چې د هغوی د را منځته کېدو لامل گرځېدلي؛ په پام کې ونيول شي.

همدا اثر په مارکسيستي ميتود باندي د هند د لرغوني تاريخ څېړنه ده، چې په هندي ټولنه کې د طبقاتو او دولت د منځ ته راتلو لنډيز پکې وړاندي شوی دی. ليکوال په دې اثر کې د ويداگانو، برهمناگانو، سوتراگانو، سمريتي‌گانو، مهابهاراتا او نورو لرغونو آثارو څخه په گټې اخيستني سره د لرغوني هندي ټولني ټولنيز مناسبات او د لومړي کمون څخه د مرئيتوب پر لور د هندي ټولني د تکامل ټوپونه څېړلي دي.

دغه راز دا اثر په يوه ډول، د آريايي اولسونو په باب د انگلس د اثر تکميلي برخي ته هم ورته دی چې په هغه کې د آريايانو د اوسېدو په سيمه کې د بې‌طبقاتو ټولني يو کُلي انځور وړاندي کوي او د پورته ذکر شويو آثارو له منځه، د لرغوني هندي ټولني بيلابېل مناسبات، جوړښتونه او سازمانونه لکه مهاويدي (کموني ټاټوبي)، د چارو د اجراء لپاره د ټوله اولس جرگې (ساميتي)، اولسي اسامبلي (ويداتها)، د خلگو په خوښه د گنی (لومړنی آريايي کمون) انتخاب کړل شوي مشر مقام (گريها پتي) - چې نرو او ښځو ته خپلي

دندي ور سپاري - په تولید کې ګډ کار او وېش (دنم) او د خصوصي ملکیت، طبقاتو او دولت تر را منځ ته کېدو مخکې ډله ییز تولیدي طرز (یجنا) مطالعه کوي.
دا ارزښتمن اثر چې لسیزې وړاندې لیکل شوی او بیا پښتو ژبې ته د افغانستان د علومو د اکاډمۍ له لوري د اکاډمیسین نومیالي په لاس ژباړل شوی؛ د افغانستان کمونیست سازمان یې د بیا ټایپ، ډیزاین او خپرېدلو ویاړ لري. موږ ډاډه یو چې د دې اثر خپرېدل به خامخا زموږ د سازماني غړو د تاریخي او ټولنپوهنیز پوهاوي په لوړاوي او د تاریخ او ټولنپوهنې د علومو د علاقمندانو لپاره ډېر ګټور او اغېزمن تمامېږي.



د کتاب لیکوال:

شریپاد امریت ډانگي



## د کتاب ژباړن:

## محمد انور نومیالی

# لړلیک


| سرلیک | مخگڼه |
|---|---|
| یادداښت........................................ | ۱ |
| د ژباړن خبري ......................................... | ۳ |
| د ځینو کلماتو توضیح ......................................... | ۸ |
| د دریم چاپ دپاره د لیکونکي مقدمه......................... | ۲۸ |
| د لومړي چاپ دپاره مقدمه .................................. | ۵۷ |
| سریزه ........................................................ | ٦۳ |
| د هند په تاریخ کي د ښځي اوسنۍ لاري ......................... | ٦۳ |

## لومړی فصل

| | |
|---|---|
| آریایي انسان له کومه را ځي؟ ........................................ | ۹۸ |

## دوهم فصل

| | |
|---|---|
| د کلتور ماقبل التاریخي مرحلې ......................................... | ۱۱۲ |

## دریم فصل

| | |
|---|---|
| یجنا؛ د آریایي کمون د ډلهییز تولید طرز ..................................... | ۱۲٤ |

## څلورم فصل

| | |
|---|---|
| یجنا، برهمان او ویدا ......................................... | ۱٤٦ |

## پنځم فصل

| | |
|---|---|
| گنۍ، گوترا؛ د آریایي کمون اجتماعي- اقتصادي او قومي سازمان ... | ۱٦۱ |

## شپږم فصل

| | |
|---|---|
| ابتدایي کموني ازدواج ......................................... | ۱۷۵ |

## اووم فصل

د قبیلوي جګړو او د جګړو د ثروت تنظیم «اشوامیدها»، «پوروشامیدها» او «دنم» ........................................................................ ۲۰۰

## اتم فصل

د «ورنه‌ګانو»، خصوصي ملکیت او طبقاتو ظهور........................ ۲۲٤

## نهم فصل

ورانېدونکی کمون فریادونه کوي او د منځ ته راتلونکي خصوصي ملکیت په مقابل کي جنګیږي! ................................................ ۲٤۲

## لسم فصل

د ښځي غلامي او د «ادېمشرۍ» زوال .......................... ۲۵۵

## یوولسم فصل

د نه رغېدونکو تضادونو مبارزه............................................ ۲۷۱

## دوولسم فصل

«ګنۍ سمګهاګاني» په هغه ترتیب، لکه د «پاڼیني»، «کاوتیلیا»، «یونانیانو» او نورو له خوا چي ثبت سوي دي! ..................................... ۲۸۳

## دیارلسم فصل

خونړۍ جګړې او د دولت او «ډنډې» ظهور ......................... ۳۰۱

## څوارلسم فصل

د مهابهاراتا جګړه؛ د مریي‌لرونکو او «ګنۍسمګهاګانو» کورنۍ جګړه ۳۱٤

## پنځلسم فصل

مرئیتوب کمزوری کیږي؛ نوي قواوي او نوې مرحله منځ ته را ځي!... ۳۳۷

ضميمې ........................................................٣٤٩
لومړۍ ضميمه ............................................ ٣٤٩
دوهمه ضميمه ........................................... ٣٥٤

# یادښت

د ۱۳٦۰ل. کال د حوت په میاشت کې چې ما ته «د بیهقي د کتاب خپرولو د مؤسسې د یو کارمند په توګه» د شوروي اتحاد د «مړدونا رودنیا کنیګا» مؤسسې دا زمینه مساعده کړه، چې هند ته یو لنډ مشاهداتي سفر وکړم او هلته د کتابو تجارتي چارې د هند په بېلابیلو ولایتونو کې وګورم، نو له نېکه‌مرغه مې په دغه ترڅ کې دا کتاب هلته وموندی، چې له سرسري کتنې څخه ما ته په زړه‌پورې ښکاره سو. هیواد ته تر را ستنېدو وروسته ما دا فرصت لټاوه، چې دغه اثر په غور وګورم او استفاده ځنې وکړم. زما رسمي مصروفیتونو او هم صحي عوارضو دا مجال نه را کاوه، چې دغه کار سر ته ورسولای سم. لس میاشتې تر هغه وروسته چې له رسمي جنجالو څخه وزګار سوم او صحت مې هم مطالعې ته چمتو سو، نو مې د کتاب په دقیقه کتنه پیل وکړ؛ د مطالعې په جریان کې راته څرګنده سوه، چې په ډېرو لحاظو دغه کتاب موږ ته خورا زیات اهمیت لري او هم په خپله موضوع کې یو ډېر مهم اثر ګڼل کېږي. څه‌رنګه چې دا کتاب د اینګلس «د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء» له اثره سره مستقیم ارتباط درلودی او هغه مې شل کاله دمخه پښتو کړی وو، نو مې په خپل ځان کې د دې بیچ (توان) ولیدی، چې دا اثر هم پښتو ته اړولای سم. دا دی دغه کار مې سر ته ورساوه او هیله لرم، چې د څېړونکو دپاره به ګټور ثابت سي.

څه‌رنګه چې په پښتو باندې د دې کتاب منځ‌ته راتله پر دې پروسه بناء سوه، چې د «مړدونا رودنیا کنیګا» ملګرو ما ته د سفر زمینه برابره کړه او په هند کې دغه شاهکار د کارګري نهضت د لوی شخصیت «ډانګې» له خوا څخه لیکل سوی وو او ما په افغانستان کې د خواریکښو د انقلاب په روحیه همدې کار ته اقدام وکړ، نو ځکه دغه پښتو ترجمه یې د شوروي – افغان – هند د زیارکښانو

د غټو بریالیتوبونو په هیله د ستري دوستۍ الهام‌بخښونکي نامه ته اهداء کوم.
غواړم چې ټوله علمي، تخنیکي او انساني بریالیتوبونه د ستري دوستۍ په فضاء کې د نړۍ د اولسونو تر منځ د ګډې همکارۍ دغه شان مظاهر منځ ته راوړي.

**م. ا. نومیالی**

**۲۱/۱۱/۱۳۶۱**

**میرویس میدان، کابل**

# د ژباړن خبري

د ګډو جغرافيايي او تاريخي شرايطو له مخي دا حدس وهل کېدلای سي او هم دا رنګه په تاريخي اسنادو اثبات ته رسېدلای سي، چي د افغانستان او هند د اولسونو روابط څرګند واحد طبيعي مبادي لري، چي د اجتماعي، اقتصادي او سياسي روابطو د بېلابېلو شکلونو په توګه يې د زمانو په دوران کي د آريايانو په نامه يوه سلسله ګډ مراحل وهلي دي او په مخ کي لا نور هم د انکشاف مشترک مراحل ورته ګوري.

د دغو مشترکو وجوهاتو په اساس، دا خبره پر ځای ده، چي په افغانستان او هند کي د مېشته اولسونو د تاريخي انکشافاتو ګډ مبادي او متشابه خصلتونه په طبيعي توګه داسي مواد لري، چي د علمي څېړنو په چارو کي يو د بل پر تاريخي سابقه باندي پوره رڼا اچولای سي.

دغه کتاب چي د هند په ساحه کي د ابتدايي کمونيزم له دورې څخه بيا د مرئيتوب تر دورې پوري د تاريخ محتويات څېړي او په دې څېړنه کي له علمي مېتود او د تاريخي ماټرياليزم د اصولو له تطبيق څخه کار اخلي، زموږ دپاره دوه څرګند اهميته لري؛ له يوې خوا هغه محتويات پکښې دي، چي زموږ د تاريخي اشتراک په وجه زموږ مبادي د تاريخي تصنيف په چوکاټ کي روښانه کولای سي او بل دا که چيري موږ غوښتي وي، چي خپل مشخص تاريخ د تاريخي ماټرياليزم د دوره‌بندۍ چوکاټ ته واچوو، نو د مېتود په توګه استفاده ځني کېدلای سي.

په دې اثر کي هغه ټاکلې نظريه، چي د آريايانو په ټولنه کي د کار اجتماعي-اقتصادي تقسيم وار د واره د افغانستان په سيمو کي منځ ته راغی، زموږ د ځوانو

مؤرخانو دپاره یوه داسي مهمه موضوع مطرح کوي، چي د تحقیق په نتیجه کي یې د افغانستان د تاریخي سیمي لرغونی تولیدي اهمیت ډېر ښه روښانه کیږي. د لفظ په لحاظ چي د دې پخواني اقتصادي تقسیم پر اساس یوې طبقې ته «ورنه» ویل کیږي او د هغه د اقتصادي مفهوم دپاره د «ورهنه» مشابه پښتو کلمه اوس لا هم ژوند لري، د موضوع تحقیقاتي اهمیت نور هم زیاتوي. همداسي د «ګنی» کلمه چي د پښتو د «اباګنی»، «خسرګنی» او «پلرګنی» په کلماتو کي د لاحقې په صورت نن ورځ لا هم ژوندۍ ده، په دې اثر کي د ابتدایي اریایي کمون لرغونی نوم دی، چي د پلټني دپاره یوه په زړه پوري موضوع بلل کېدلای سي. له دې سره سم نو د ویدا د معنوي کلتور او شعور ریښې هم په دې سیمه کي خپل تاریخي اثبات ته ځان رسولای سي.

موږ که چیري غوښتي وي، چي خپل واقعي تاریخ ولیکو، نو له دې څخه چاره نه لرو، چي ځان به په آریایي سابقه کي د یوه اولس یا اولسونو د یو واحد په حیث ټاکو او وروسته به یې په یوه محل کي د مېشته کېدو سره د دې اولس یا اولسونو د واحد ځان ته خپل انکشافات او د تاریخي شخصیت سیمه‌ییز تشکل تر کتني لاندي نیسو. له همدې کبله نو د دې اثر محتویات زموږ د عمومي تاریخ د محتویاتو یوه برخه کښېباسي.

څه رنګه چي دغه کتاب د تاریخي ماټریالیزم له مېتوده سره سم د «ویداګانو» او نورو لرغونو آثارو له مخي د ژوند پر مادي جریاناتو باندي روڼا اچوي، نو زموږ څېړونکو ته دا الهام ور بخښلای سي، چي د دغه روش په تعقیب زموږ تاریخي آثارو ته همدغسي له واقعي ژونده سره مادي ارتباط ور کړي او په تېره بیا د «اوستا» اثر د دغه راز څېړني دپاره په مشخصه توګه تر استفادې لاندي

راولي؛ په دې ترتيب به نو د کمون د فورماسيون اوږده تاريخي سابقه په دې سيمه کي په مستنده توګه له خپلو ختيځو مميزاتو سره روښانه سي.
د تاريخ ځيني هغه تعبيرونه او تفسيرونه چي د مخصوصو حاکمو طبقاتو او يا د سياسي مبارزاتو په دوران کي د بېلابيلو تمايلاتو له جهته په هر هيواد کي انحرافي او له واقعيته ليري غيرعلمي لاري اخلي، په دې کتاب کي د هند د تاريخ په ارتباط تر بحث لاندي نيول سوي دي، چي زموږ د تاريخ ليکني په سابقه کي هم دا راز تمايلات برملا کولای سي.
د دې کتاب له مهمو خصوصياتو څخه دا خبره هم د يادوني وړ ده، چي د «فريدريک اينګلس» د هغه تاريخي اثر د مېتود په رڼا کي ليکل سوی دی، چي «د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء» نوميږي او د مؤلف د څرګندوني پر بناء، د هند په ارتباط د «اينګلس» د اثر يوه تکميلي برخه ګڼل کېدلای سي.
د اجتماعي- اقتصادي فورماسيون د مارکسيستي دکتورين له مخي، د توليد د لرغوني آسيايي شکل پر مسئله باندي ډېري مباحثې هم سوي دي او لا هم اوس د پوهانو او څېړونکو له خوا څخه رواني دي. شوروي محقق «مومجان» د خپل هغه کتاب په دريم فصل کي، چي د «تاريخ دورې» نوميږي، دې موضوع ته داسي اشاره کوي: «څېړونکي تر اوسه لا هم د اجتماعي- اقتصادي فورماسيونو پر شمېر باندي نه دي سره جوړ سوي او په تېره بيا «د توليد د آسيايي طرز» پر موجوديت، د هغه پر ماهيت او ساحه باندي مباحثې سره کوي.» «دکتور سيميونوف» په خپله هغه مقاله کي، چي د اجتماعي- اقتصادي فورماسيونو په باره کي يې هغي مجموعې ته ليکلې ده، چي «په شوروي اتحاد کي فلسفه» نوميږي او هلته د «تاريخي ماتېرياليزم» په برخه کي خپره سوې ده،

دا موضوع داسي څېړي: «د مارکس دا طرحه، چي يو فورماسيون په بل يوه له منځه وتلی دی، په عمومي توګه ټولو مارکسيستي پوهانو منلې ده. يوازنی عنصر چي دلته تر مباحثې لاندي دی، «د توليد آسيايي طرز» او د هغه په اساس «آسيايي اجتماعي- اقتصادي فورماسيون دی...» د دغي موضوع په ارتباط د دې کتاب محتويات ډېر تفصيلات لري او هم د نورو څېړنو دپاره لاره ښيي. د دې ټاکلي ځانګي د پلټني په کار کي د همدې اثر څرګندوني ډېر علمي ارزښت لري، چي د څېړونکو دپاره په بين المللي سويه د زياتي استفادې وړ دي.

په همدې لړ کي د څېړني دپاره يوه بله ډېره هم موضوع، چي د دې کتاب په محتوياتو کي اشاره ورته سوې ده، په آسيا کي د فيوډالي فورماسيون انکشاف او دوام دی. په داسي حال کي چي د «اينګلس» له بيانه سره سم، د دې فورماسيون خښته په پنځه ميلادي پېړۍ کي د لوېديځو «فرانکيانو» له خوا څخه په اروپا کي کښېښوول سوه او د زرو کالو (لسو پېړيو) تر انکشاف وروسته يې په هماغه قاره کي په خپل زوال شروع وکړه، خو په آسيا کي يې بيا تر ميلاد دمخه په پنځمه پېړۍ کي د «بوديزم» او «جينيزم» له راتلو سره سر ونښتی او تر نن ورځي يې لا هم بقايا پاته دي. په آسيا کي د فيودالېزم د دغه اوږده پايښت ماټرياليستي تشريح ډېر تاريخي حقايق روښانه کولای سي.

دا اثر چي د هند مشهور شخصيت (ډانګي) ليکلی دی، له ۱۹۴۹م. کال څخه تر ۱۹۷۹م. کال پوري په هند کي شپږ واره خپور سوی دی. دا اثر په خپله نوعه کي يو ممتاز کتاب دی، چي له تاريخي محدوديتو څخه د فارغه، يعني کمونيستي ذهنيت په اساس ليکل سوی دی او د فورماسيون د عمومي تيورۍ

په تطبیق کې د هندي ټولني مشخص تاریخي حقایق په علمي توګه تر څېړنې لاندې نیسي.

د دې کتاب خپروونکې مؤسسې (People’s Publishing House, Delhi) د ۱۹۷۹م. کال د شپږم چاپ په خپل یادداښت کې داسې لیکلي دي:

«دا مشهور تحقیقاتي اثر، چې د هند د کمونیست ګوند د مؤسسانو له جملې څخه ش. اې. ډانګې، د هغه ګوند اوسني رئیس لیکلی دی، مسوده یې اصلاً د «ییراوادا» په بندیخانه کې منځ ته راغله، چې هلته دی د ۱۹۴۲م. کال له اکتوبر څخه بیا د ۱۹۴۳م. کال تر جنورۍ پورې بندي وو. کله چې مؤلف له بنده را ایله سو، نو یې د کتاب مسودې ته نهایي شکل ور کړ او د لومړي ځل دپاره په ۱۹۴۹م. کال کې چاپ سو. له هغه وخته راهیسې څو ځلې چاپ سوی دی او دا حاضره نسخه یې شپږم چاپ دی.»

دا د ش. اې. ډانګې کتاب هغه لومړنی تحقیقاتي اثر دی، چې د یوه کمونیسټ له خوا د لرغوني هند د کورنۍ، خصوصي ملکیت، طبقاتو او دولت په باره کې تهیه سوی دی.

# د ځينو کلماتو توضيح

**«د ژباړونکي له خوا»**

په دې اثر کې يو شمېر داسې کلمات راغلي دي، چې ارومرو يو څه توضيح غواړي. که لوستونکی د دې کتاب تر ويلو دمخه يو ځل ټوله هغه تر نظر تېر کړي او بيا د کتاب د لوستلو په وخت کې دوهمه پلا هر يوه ته پر خپله موقع مراجعه وکړي، نو ښايي د مفهوم په پوهېدلو کې يې له مشکله سره مخامخ نه سي.

ما د دې کلماتو د توضيح په برخه کې اساسي استفاده په خپله د همدې کتاب له محتوياتو څخه کړې ده او د ځينو کلماتو د څېړني په برخه کې مې د پوهاند حبيبي صاحب له هغو بيانو څخه ګټه اخيستې ده، چې «د پښتو ادبياتو تاريخ» په لومړي جلد کې يې ليکلي دي. د ځينو کلماتو د تشريح په غرض مې د «داراشکوه» د «اوپانيشاد» لغت‌نامه هم پر کتلې ده.

دا کلمات مې د پښتو الفباء په ترتيب راوړي دي او د دې دپاره چې د صحيح تلفظ شکل يې د پښتو په خط کې ورک نه سي، نو مې د هر يوه څنګ ته د هغه لاتيني شکل هم ليکلی دی.

ځيني کلمات چې د پښتو کلماتو سره يې ژوندی شباهت ليدل کيږي، هم مې اشاره ورته کړې ده او که چا غوښتي وي، نو بيا يې تر زياتي پلټني لاندي د تاريخ او ټولني په ساحه کي کتلای سي.

**ادهواريو** [adhwaryu]: د کمون يو ډول انتخابي لارښود دی؛ هم د کار لارښوونه کوي او هم په خپله د کار په کولو کي برخه اخلي. دی د امن په

وخت کې دغه راز مشري په غاړه لري، خو په بېخي پخوانيو زمانو کې يې د جګړې کارونه هم اداره کوله.

**اديتي** [aditi]: د يو ويدي رب‌النوع نوم دی. دا مشره ادې يا مور ده، چې د ټولو شيانو اساس يې ايښی دی او ډېر درناوی يې کيږي. په کندهار کې «بابا» او «ادې» تر «پلار» او «مور» نسبتاً عام مفهوم افاده کوي او زياتره د کهول يا کام مشري په دې القابو سره ښوول کېدلای سي.

**ادې‌مشري (مورواکي)** [matriarchy]: دا د هغه ټولنيز سازمان نوم دی، چې ښځه د کهول مشره ده او د نسب سلسله له همدې څخه را نيول کيږي. په پښتني عرف او عاداتو کې د دغسي مشري پاته احساسات او عواطف هم په ځينو کلتوري موادو کې ليدل کيږي.

**ارانياکا** [aranyaka]: د «ويدا» له تشريحي ملحقاتو څخه ده، چې په «برهمنا» پورې اړه لري. د دې شرحي موضوع هم لکه «برهمنا» غوندي؛ روايات، نکلونه او مرموز سوالونه او جوابونه دي. وايي چې د دې لفظ معنی «د ځنګله تفکرات» ده. (د ويدا کلمه وګورئ)

**ارتها** [artha]: د شيانو توليد «ارتها» او د وګړو توليد «کاما» بولي. داسي ښکاري، چې د «earth» او «ارض» منشاء هم دغه کلمه وي، ځکه د لرغوني ثروت د توليد يوه ستره منبع هم مځکه ده.

**استهي** [asthi]: د هډوکي تېره وسله ده، چې «اندرا» يې له «وريترا» او «ويشواروپا» سره په مقابله کي استعمالوي.

**اګني** [agni]: اګني د «اور» نوم دی. دا نوم د اور د رب النوع په توګه استعمال سوی دی. اګني د «اماد» او «کراوياد» په نومو سره هم ياديږي. دغه اګني رب النوع د «برهما» په ورته اړه لري. «ريګويدا» اور د انسان د ټاټوبي مشر او

ساتندوی بولي. اور د «ویش‌پتي» په نامه، چې معنی یې د ټاټوبي او کلي مشر کېږي، هم یاد سوی دی. په پښتنو کي د اور په باب هم دغو ځرګندونو ته نژدې یوه پخوانۍ خبره تر اوسه لا ژوندۍ ده، چې وایي: «نغری د کاله مشر دی.»

**اګنیستوما** [agnistoma]: یو ډول مراسم دي، چې په هغه کي د اور نمانځنه پر ځای کېږي.

**اګنیستوما سومایاګا** [agnistoma somayaga]: یوه «یجنا» ده، چې د آریایي کمون د ژوند چاري ښیي او د کوچېدلو مراسم په دې «یجنا» کي تمثیل کېږي.

**اماد** [amad]: معنی یې د اومو غوښو خوړونکی دی. دا د اور د رب النوع، یعني اګني یو بل نوم دی.

**اندرا** [indra]: د یوې ویدي رب النوع نوم دی، چې د «کشترا» په ورڼه اړه لري او د آریایي خدایانو مشري په غاړه لري. اندرا د آسمان، باران او همدا رنګه د مقابلې خدای ګڼل کېږي.

**انګیرا** [angira]: د هغو آریایي «پراواراګانو» له جملې څخه یو واحد دی، چې په نیکه کي اشتراک سره لري.

**اواتار** [avatar]: هغه هویت دی، چې ور پکښې الهي ذات تجسم کړی وي. د لرغوني یونان د قهرمان معادل بلل کېدلای سي.

**اوپانیشاد** [upanishad]: د «ویدا» له تشریحي ملحقاتو څخه دی، چې په «ارانیاکا» پوري اړه لري. په «اوپانیشاد» کي فلسفي موضوعات بیانیږي. وایي چې د دې لفظ معنی «پټ یا مرموز الهامات» دي. (د ویدا کلمه وګورئ)

**بابامشري (پلارواکي)** [patriarchy]: دا یو ډول ټولنیز سیستم دی، چې په هغه کي بابا د کهول مشر دی او د نسب شجره له ده څخه را نیول کېږي. په

پښتو کي د «بابا» کلمه سربېره پر هغه چي د پلار معنی ور کوي، د درناوي او مشرۍ په معنی تر اوسه ژوندۍ ده او نسبت تر «پلاروالي» يې د ټولنيز قدرت او صلاحيت مفهوم په افاده کي ډېر ليدل کيږي. داسي کهولونه اوس لا هم سته، چي د بابا تر مشرۍ لاندي يو شمېر د اولادونو، لمسيانو او کړوسيانو کورنۍ را ټولي وي او د يوه اجتماعي - اقتصادي واحد په حيث په يوه کور يا کلا کي نژدې او ګډ سره اوسي. د بابامشرۍ نظام که د يوه مشخص اجتماعي - اقتصادي فورماسيون په سترګه وکتل سي، نو د پښتنو د پوونده اولس تاريخي ټولنه يې يو بشپړ کلاسيک مثال بلل کېدلای سي.

**بالي** [bali]: د کمون په دوره کي د محصولاتو له مازاده څخه چي د روحانيونو او داسي نورو کارکوونکو ته کومه ونډه ور کول کېده، د بالي په نامه يادېدله.

**برهما** [brahma]: د برهمنيانو ورڼه (فرقه) ده. (ورڼه وګورئ)

**برهمان** [brahman]: د پيدا کوونکي، خالق او هم د پيدايښت معنی ور کوي. په تاريخي توګه دغه لفظ د ابتدايي کمون هغه تاريخي موجوديت افاده کوي، چي د ډله‌ييز توليدي طرز، يعني «يجنا» په اساس چليږي. هغه برهمان چي په «اوپانيشاد» کي ښوول کيږي، لومړنی عقل، شعور يا روح دی، چي نړۍ د هغه مظهر ده او له صفاتو مجرد «نيرګونا» بلل کيږي. خو هغه لرغونی برهمان چي په «ويدا» کي راغلی دی، په عيني توګه واقعيت لرونکی او په صفاتو متصف «ساګونا» دی. هغه معناوي چي د دې لفظ دپاره په لرغونو آثارو کي را ټولي سوي دي، دا دي: غذا يا د غذا هديه، د «ساماني» سندرغاړي سرود، جادويي فورمول، سر ته رسېدلي مراسم، سرود او خيراتي فديه، د «هوتري» مجتهد،

تلاوت او د ستر معنا ور کوي. د برهمان لفظ د کتاب په متن کې هر چیرې د «کمون» په مفهوم استعمال سوی دی.

**برهمن** [brahmin]: د هندوانو روحاني مشر ته ویل کیږي، چې د «برهما» په «ورنه» اړه لري. دلته باید دا خبره یاده سي، چې زیاتره کسانو داسې فکر کړی دی، چې برهمان [brahman] او برهمن (brahmin) دواړه د روحاني مشر معنی لري او نو ځکه یې په یوه معنی سره راوړي دي. خو د دې کتاب په متن کې دغه فرق په ښکاره توګه ښوول سوی دی، چې لومړی د «کمون» په معنی او دوهم د روحاني مشر په جلا مفاهیمو استعمال سوي دي.

**برهمنا** [brahmana]: د «ویدا» له ملحقاتو څخه یوه شرحه غوندې ده. برهمناګاني تر ویدا په وروسته زمانه اړه لري او تر ډېره ځایه هغه مواد پکښې موندل کیږي، چې پر لرغوني ټولنیز تشکیل او مبارزاتو باندې رڼا اچوي. اصلي موضوع یې روایات، نکلونه، مرموز سوالونه او مرموز جوابونه تشکیلوي. د دې کتاب په متن کې د دغو برهمناګانو نمونه راغلې دي: «ایتاریا برهمنا»، «تایت‌تیري‌یا برهمنا» او «شاتاپتها برهمنا». (د ویدا کلمه وګورئ)

**بهګه** [bhaga]: د طبقاتو او دولت په دوره کې چې د محصولاتو له مازاد څخه د مالیاتو او داسې نورو په نامه کومه ونډه اخیستل کېده، هغه د بهګه په نامه یادېدله. امکان لري د «باج» عربي کلمې له همدې تاریخي لغا څخه منشاء اخیستې وي.

**پتهیاسواستي** [pathya-swasti]: د سعادت او سفر رب النوع ده.

**پراجا** [praja]: خلګ، وګړي، اولادونه، ذریات.

**پراجاپتي** [prajapati]: معنی یې پیدا کوونکی، خالق، ایجادوونکی او د وګړو د پیدایښت عامل دی. له دې نامه څخه داسي هویت مطلب دی، چي د پیدایښت ټوله جریان هغه ته منسوب ګڼل کیږي.

**پراجا-پشاوه** [praja-pashavah]: خلګ او څاروي یې معنی ده.

**پراوارا** [pravara]: د «ګنی» یا «ګوترا» په نسبت لوی ټولنیز واحد دی. ټوله «ګوترا»ګاني چي کوچني اجتماعي-اقتصادي واحدونه دي، تر نهو پراواراګانو لاندي تصنیف کیږي. داسي ښکاري، چي د پراوارا واحد ښایي د «ګنی» او «قبیلې» په منځ کي وي.

**پورانا** [purana]: تر حماسو وروسته یوه سلسله لرغوني متون دي، چي په شعري توګه جوړ سوي او له پخوانیو حکایاتو او روایاتو څخه بډغیږي.

**پیشوایان** [peshwas]: د «مراتیانو» مشران یا پاچازاده‌ګان په دغه نامه یاد سوي دي.

**تریتا** [treta]: د هندوانو له روایتي تصنیفه سره سم د دوهم تاریخي عصر نوم دی، چي دوهمه «یوګا» تشکیلوي. (د یوګا کلمه وګورئ)

**تریرا تراکراتو** [trirstrakratu]: (د کراتو کلمه وګورئ)

**چهندا** [chhanda]: د «وزم» یا «وزن» معنی لري، چي د «ریدم» یا «ریتم» سرودونه د هغه په اساس ویل کېده. د څلورو ویداګانو د هري یوې ادا یا «چهندا» او وزم له بلي څخه توپیر لري.

**دنم** [danam]: د کمون د شیانو د وېش او هم د مشترکي ولجې د وېش د دود په معنی دی. دنم د توزیع د طرز مفهوم افاده کوي.

**دهرما** [dharma]: معنی يې انصاف او عدالت دی. قانون، اصول، سيستم او نظام ته هم دهرما ويل کيږي. هغه قانون چې عدالت قايموي، هم په دغه نامه ياديږي.

**دهنم** [dhanam]: دهنم دوه ډوله دی، چې يوه ته يې لومړی او بل ته دوهم ويل کيږي. لومړی دهنم د توليد افزار او توليدي فعاليت احتواء کوي او دوهم دهنم، چې بشري قوه او وګړي دي، د «پراجا» په نامه ياديږي.

**دواپار** [dvapar]: د هندوانو له روايتي تصنيفه سره سم، د دريم تاريخي عصر نوم دی، چې دريمه «يوګا» تشکيلوي. (د يوګا کلمه وګورئ).

**راجان** [rajan]: د ګڼې نظامي قوماندان، جنګي سالار يا پوځي سرخېل دی.

**رامايانا** [ramayana]: دا يو مهم حماسي تاريخي اثر دی، چې تاليف يې «والميکي» نومي ته نسبت لري.

**رشترا** [rashtra]: دا سيمه‌ييزه ټولنه ده، چې د منطقوي او محلي ارتباط په پيوند يې جمعيت تشکيل کړی وي. رشترم «rashtram» چې د دولت په معنی دی، هم د دې کلمې له اشتقاقاتو څخه دی.

**ريتويجا** [ritvija]: د کمون مشر دی.

**ريشي** [rishi]: په لرغونو آريايانو کې هغه چا ته «ريشي» ويل کېدی، چې مشر، لارښوونکی، شاعر او روحاني شخصيت وو. ويداګاني هم «ريشي‌ګانو» ته منسوبې دي او د هندوانو په عقيده ويدي سرودونه دوی ته الهام کېدله.

**ريکا** [rica]: په سانسکريټ کې ويدي سرود ته ريکا ويل کيږي، چې د جمع شکل يې ما ريکاګاني ليکلي دي.

**ساماکهيا** [samakhya]: د داسي مراسمو نوم دی، چې په هغو کې د «سوما» شېره له يوه واحد لوښي څخه څښل کيږي.

**ساميتي** [samiti]: د ټوله اولس جرگه، چي د کمون په زمانه کي د چارو د اجراء دپاره کېدله. ناریشتا «narishta» هم ورته ویل کېدله.

**سبها** [sabha]: د هغي جرگې نوم دی، چي د «ساميتي» ځای یې ونیوی او د ټوله اولس په عوض کي د هغو مشرانو له خوا څخه دایرېده، چي د دغه کار دپاره به ټاکل سوي وه. په وروسته کي د «جاناپادا» او «پاورا» جرگه‌ییز غوندي اورگانونه منځ ته راغلل، چي لومړي د زراعتي مرکز او دوهم د لاسي صنایعو او سوداگرۍ د مرکزو نماینده‌گي کوله.

**سترا** [satra]: یوه ډېره لرغونې «یجنا» ده. په میتولوجۍ کي سترا د خدایانو له خوا اجراء کیږي. د تاریخي ماټریالیزم په رڼا کي سترا اصلاً د پخوانیو آریایانو د کار ډله‌ییز شکل دی. د دې لفظ معنی مقارنت، یوځای‌توب، اشتراکیت او ډله‌ییز ژوند افاده کوي. په دې لړ کي یو ډول مراسم سته، چي «ساراسوات‌سترا» نومیږي. د پښتو په کندهارۍ لهجه کي «ستری» «satrai» د متراکم یا «انباشته شده» په مفهوم د محاورې ژوندۍ کلمه ده.

**سمریتي** [smriti]: دغه کلمه هم د «اسم» او هم د «صفت» په توگه راغلې ده. دا د هندویي فرهنگ د هغو مذهبي آثارو نوم دی، چي وایي د روایت په سلسله را رسېدلي دي. دا لفظ د عرفي اصولو مفهوم هم ور کوي. د جمع شکل یې ما «سمریتي»گاني استعمال کړی دی. (د ویدا کلمه وگورئ)

**سوترا** [sutra]: د هغو لنډو حکیمانه وجیزو نوم دی، چي هر ډول رسومات-قوانین او قواعد بیانوي.

**سودرا** [sudra]: د مریانو ورڼه (فرقه) ده. (ورڼه وگورئ)

**سوما** [soma]: د یو نبات نوم دی، چي ضرور شیدې لرونکی وو او د هغه له شیرې څخه یو مستوونکی مشروب جوړېدی. دغه نبات او د هغه شیرې ته د

آریایانو په میتولوجۍ کي تجسم ور کول کېدی او نمانځنه يې کېدله. د سوما په باره کي هر چيري په تفصيل زيات اساطير بيان سوي دي. په دې لړ کي «سوما» د اذوقې او خوړو د رب النوع هويت هم پيدا کړی دی. سوما د «پراجيتوس – prachetus» زوی بلل سوی دی.

**سه‌ویتا** [savita]: لمر او زمان دی.

**شراوتا** [shrauta]: (د ويدا کلمه وګورئ)

**شلوا** [shulva]: (د ويدا کلمه وګورئ)

**کالي** [kali]: د هندوانو له روايتي تصنيفه سره سم د څلورم تاريخي عصر نوم دی، چي ځلورمه «يوګا» تشکيلوي. (د يوګا کلمه وګورئ)

**کاما** [kama]: د وګړو يا کام (قوم) معنی لري.

**کراتو** [kratu]: يوه ډېره لرغونې «يجنا» ده. د دې يو شکل هغه دی، چي له درې واحدونو څخه جوړه سوې ده او «تريرا تراکراتو» نوميږي. ي، بل ډول يې بيا د «شادرا تراکراتو» په نامه ياديږي.

**کراوياد** [kravyad]: د مړو غوښو خوړوونکی. دا هم د «اګني» يعني د اور د رب النوع يو نوم دی.

**کريتا** [krita]: د هندوانو له روايتي تصنيفه سره سم د لومړي تاريخي عصر نوم دی، چي لومړۍ «يوګا» تشکيلوي. (د يوګا کلمه وګورئ)

**کشترا** [kshatra]: د کشترياګانو ورڼه (فرقه) ده. (ورڼه وګورئ)

**کشتريا** [kshatriya]: هغي ورڼې ته منسوب څوک دی، چي «کشترا» نوميږي. د ده وظيفه نظامي چاري دي.

**کولاپتي** [kulapati]: دا لفظ د کهول د مشر يا خاوند معنی لري، چي «کولا» يې د پښتو له «کهول» او «پتي» يې د مشر يا خاوند معنی ور کوي او د

سانسکریټ په ډېرو کلماتو کي په دغه مفهوم استعمال سوی دی. د «پتي» لاحقه چي په «پراجاپتي»، «کریهاپتي» او داسي نورو پخوانیو کلماتو کي استعمال سوې ده؛ اوس همدا ګړی لا د پښتو په ژبه کي له رواجه نه ده لوېدلې، مثلاً لکه د «کروړ پتي»، «لک‌پتي» په کلماتو کي چي ویل کیږي. خو دلته یې معنی په څرګنده توګه د خاوند، مالک او څښتن مفهوم افاده کوي. د دې کتاب د پنځم فصل د پای په برخه کي د «پتي» او «پتني» کلمات په ترتیب سره د «پلار» او «مور» په معنی هم ښوول سوي دي.

**ګریهاپتي** [grihapati]: دا د کهول هغه مشر دی، چي په انتخاب منځ ته را ځي او ښځو- نرو ته خپل وظایف ور ښیي او د ژوند په چارو کي یې لارښوونه کوي. د «پاڼیني» په حواله، دا نوم هم د نر او هم د ښځي دپاره د خصوصي خاوندانو د را پیدا کېدو تر وخت دمخه استعمال درلودلی دی.

**ګریهیا** [grihya]: (د ویدا کلمه وګورئ)

**ګنۍ** [ganai]: ګنۍ پښتو کلمه ده، خو «gana» د «ګانا» یا «ګنه» او یا یو بل ډول تلفظ سره د سانسکریټ کلمه ده، چي په غالب احتمال د پښتو د «ګنۍ» له کلمې سره هم د لفظ او هم د معنی په برخه کي پوره اشتراک لري. د «ګنۍ» لاحقه چي تر اوسه د ځینو کلماتو په څنګ کي ژوندی استعمال لري، د قرابتي جمعیت مفهوم ور څخه افاده کیږي، لکه د «پلرګنۍ»، «اباګنۍ» او «خسرګنۍ» په کلماتو کي. د «خېل» لاحقه چي د «ګنۍ» په مقایسه ډېره مروجه او ژوندۍ کلمه ده او په عامو مواردو کي د «طایفې» جمعیت په ډېر صراحت افاده کوي او د «زي» د کلمې معادل لوی او واړه قومي واحدونه ښیي، همدا رنګه د «خسرخېل» په کلمه کي د «ګنۍ» معادل استعمالیږي. دا هم د دې دپاره یو دلیل کېدلای سي، چي «ګنۍ» لکه «خېل» غوندي د قرابتي جمعیت مفهوم لري.

داسي ښکاري چي «ګنۍ» په خپل وخت کي د قومي واحد هغه کوچنی جمعیت معرفي کاوه، چي په لرغونو زمانو کي يې موجوديت درلودی. د دې کتاب مؤلف د لرغوني زمانې د «ګنۍ» تعريف داسي کړی دی: «د ګنۍ نظام د ابتدايي اشتراکيت په اساس د خلګو هغه سازمان دی، چي هلته توليدي پيوند په عين زمان کي قومي پيوند هم دی». د دې خبري په شهادت دا ګومان يقين ته ور څېرمه دی، چي «ګنۍ» د لومړني کمون آريايي نوم دی، چي په دې شکل يې په پښتو کي ځان ژوندی ساتلی دی.
د اينګلس په هغه اثر کي چي «د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء» نوميږي، د دغه نسبي او قومي واحد زيات خصوصيات څېړل سوي دي. د هغه کتاب په انګرېزي نسخه کي دا واحد د «gens» په لاتيني کلمه افاده سوی دی. د اينګلس د نوموړي کتاب په پښتو ترجمه کي د «gens» لاتيني کلمه ما د «بهير» په لفظ راوړې ده او هلته مي د دې خبري په اثبات کي يو څه توضيحات هم ليکلي دي. بايد ووايم، چي په دې حاضره ترجمه کي، چيري چي په متن کي «gana» راغلې ده، هغه مي په «ګنۍ» ترجمه کړې ده او چيري چي بيا «gens» راغلی دی، هغه مي په «بهير» ترجمه کړی دی.
دغه لفظ چي د جمع يا صفت په شکل د کتاب په متن کي راغلی دی، نو مي «ګنۍ»ګاني د جمع دپاره او «ګنۍ»وال د صفت دپاره (لکه د ګنۍوال سازمان په عبارت کي) استعمال کړی دی.

**ګنۍسمګها** [gana=samgha]: د نظامي ډيموکراسۍ او پوځي جمهوريت معنی لري، يعني هغه قومي واحد ښيي، چي د جنګ تشکيلات يې د ژوند اساسي چاره وي. د جمع شکل يې ما «ګنۍسمګها»ګاني ليکلی دی.

**گوترا** [gotra]: قومي جمعیت یا د ګډو روابطو ټولې یې معنی ده. د «ګو- go» کلمه چې سانسکریټ ده او معنی یې غوا ده، دا مطلب افاده کوي، چې د دغه ټولنیز واحد اساس د ثروت او غذا پر هغه ستره منبع، چې غوا وه، را بناء سوی وو. لکه په ګنې کې چې قومي محتوا زیاته افاده کیږي، په ګوترا کې بیا اقتصادي محتوا ډېره روښانه ده. که ګنې-ګوترا په ترکیبي شکل استعمال سي، نو هلته د مشترکي اجتماعي- اقتصادي رابطې هویت ښوول کیږي.

**منترا** [mantra]: ویدي سرود ته منتر هم ویل کیږي او جمع یې منترونه را ځي. هغه جادویي کلمات چې خارق العاده تاثیرات ورته منسوب کیږي، هم په دې نامه یادیږي.

**منترا درشتا** [mantra-drashta]: د منتر ایجادوونکی. دا د هغه چا نوم دی، چې ویدي سرودونه ورته الهام کېدل او تر ریشي وروسته په دې نامه وبلل سو.

**منو** [manu]: په ویدا کې لومړنی انسان، چې له هغه څخه د بشر نسل منځ ته راغی، په دغه نامه ذکر سوی دی.

**منو سمریتي** [manusmriti]: د منو اصول یا د منو قانون دی، چې د هندوانو د فیودالي نظام اجتماعي، سیاسي تعاملات احتوا کوي.

**من‌ون‌تارا** [manvantara]: د منو د عمر دوره چې ۴۳۲۰۰۰۰ (څلور میلیونه، درې سوه شل زره) کلونه بلل سوې ده.

**موهینجو دارو** [mohenjo daro]: د هغه لرغوني ښار نوم دی، چې د تمدن زمانه یې له درې څخه تر دوه زره قبل المیلاد پوري اټکل سوې ده او د سیند په ایالت کي یې پاته آثار موندل سوي دي.

**مهابهاراتا** [mahabharata]: د هند مشهور حماسي اثر دی، چې د «کوروګانو» او «پانډاویانو» تر منځ د جګړې جریانات بیانوي. وایي چې دا اثر

۱۲۵۰۰۰ بیتونه لري او د «هنتر» په قول د ۱۲۰۰ق.م. په حدودو کي کښل سوی دی.

**مهاویدي** [mahavedi]: کموني ټاټوبی یا غولی دی، چي هلته د کمون غړي را ټولیږي او د ژوند ګډي چاري مخ ته بیايي.

**وجره** [vajra]: هغه د ډبري وسله ده، چي «اندرا» په جګړه کي کار ځني اخلي.

**وراجاګان** [vrajas]: د اوسېدني ورشو او د «ویشاګانو» سره په یوه معنی استعمالیږي.

**ورڼه** [varna]: د آریايي ټولني په لرغوني دوران کي چي د تولید افزارونو انکشاف نه وو کړی، نو د کار تقسیم نه وو او نو ځکه ورڼې هم منځ ته نه وې راغلي.

خو کله چي دې ټولني وده وکړه، نو د کار د تقسیم په نتیجه کي څلور ورڼې را پیدا سوې، چي اقتصادي ماهیت یې د زمانو په دوران کي اجتماعي هویت هم واخیستی او هري ورڼې په یوې خاصي ډلي پوري اړه پیدا کړه.

وايي چي په وار د واره کي درې ورڼې منځ ته راغلې، چي د «برهما»، «کشترا» او «ویشا» په نامه یادیږي، خو په وروسته زمانه کي بیا د «سودرا» ورڼه هم پر زیاته سوه.

د «برهما» ورڼه د موسمونو، سېلونو او رودونو څارنه او د اجتماعي- اقتصادي چارو اداره کښېباسي. هغه کسان چي دغه کارونه کوي، «برهمنیان» بلل کیږي، چي په وروسته کي روحاني مشران ځني جوړیږي. د «کشترا» ورڼه د جنګي او دفاعي چارو دنده احتواء کوي او د دې کار د اجراء دپاره چي کوم کسان انتخابیږي، «کشتریاګان» ور څخه جوړیږي. د «ویشا» ورڼه چي د څارویو روزنه، لاسي صنایع او د کرهڼي چاري شاملوي، هغې ته منسوب کسان د

«ویشیاګانو» په نامه یادیږي. د «سودرا» ورڼه چې د بل دپاره د چوپړ وهلو دنده ده، د هغه چا پر ذمه ور لویږي، چې مریان دي او «شودر» یا «سودرا» یې مریان نومیږي.
د دې خبرې یادونه په زړه پوري ده، چې د کندهار په سیمه کې ورهڼه یوه مروجه پښتو کلمه ده، چې عموماً په داسې مواردو کې ویل کېدلای سي: «پردل په څه ورهڼه اخته دی؟»، «کندل د هیڅ ورهڼې نه دی» او داسې نور. مفهوم یې کار، شغل، وظیفه او دنده ده، چې د سانسکریټ د «ورڼه» د کلمې مفهوم په څرګنده توګه ژوندی پکښې لیدل کیږي.
د ورڼې اجتماعي هویت په انګرېزي ژبه کې اوس د «Caste» په کلمه افاده کیږي. د «کاست» کلمه په پښتو کې چا طبقه، چا ډله او چا فرقه ترجمه کړې ده. خو څه رنګه چې اوس د تاریخي ماتریالیزم په اصطلاح طبقه مشخصه علمي معنی لري او هغه په انګرېزي کې په «Class» سره یادیږي، نو ځکه ما د «Caste» دپاره د «فرقې» لفظ غوره کړی دی. د کتاب په ترجمه کې، چیرې چې «Varna» راغلې ده، هغه مې د «ورڼه» په شکل راوړې ده، ځکه د پښتو د «ورهڼې» سره د شباهت په سبب او یا د خپل لغوي خصلت په خاطر په پښتو کې چنداني بېګانه نه معلومیږي، خو «Caste» مې د «فرقې» په لفظ ترجمه کړی دی. «فرقه» د مفرد په شکل، «فرقې» د جمع په شکل او «فرقوي» د صفت په شکل. د دې دپاره چې دغه خبره د لوستونکو هر وخت په یاد وي، نو مې دغه کلمه هر چیرې د قوسونو په منځ کې راوړې ده.
**وریترا [vritra]**: د بدیو، وچکالیو او د شر هویت، چې د ژوند وسایل چا ته نه ور کوي.

**ویدا** [veda]: دغه کلمه چې څېړونکي وايي معنی يې پوهنه ده، د هندو آريايانو د لرغوني مذهبي اثر د نامه په توګه استعمال ته لوېدلې ده. «سايانا» چې د څوارلسمې پېړۍ «ويدي» عالم او مفسر دی، د ويداګانو اثر د داسې کتاب په توګه تعريفوي، چې انسان ته دا پوهنه ور کوي، چې هغه د اړتيا وړ شيان لاس ته راوړي، چې «د خپلو ښاديو د پوره کولو او غمونو د نفي‌کولو دپاره يې لازم دي.»

د ويدا نوم چې زياتره د جمع په توګه د کتاب په متن کې راغلی دی، د ويداګانو په شکل مې استعمال کړی دی.

دغه اثر څلور بېلابېلې برخې لري، چې هره يوه يې د ځانته ويدا په نامه ياديږي. د دغو برخو نومونه دا دي:

۱- ريګ ويدا [Rigveda] يعنې د ثنا او صفت ويدا

۲- ساما ويدا [Samaveda] يعنې د سرودونو او آهنګونو ويدا

۳- ياجور ويدا [Yajurveda] يعنې د دوعاوو ويدا

۴- اتهروا ويدا [Atharvaveda] يعنې د طلسم او جادو ويدا

هره ويدا په خپل ځان کې دننه لوی او کوچني واحدونه لري، چې په خاصو نومونو سره پېژندل کيږي. ډېر کوچنی واحد په ويدا کې «Verse» يا «Rica» دی، چې اصله معنی يې بيت او په مقدسو کتابونو کې «آيت» کيږي، خو زموږ ليکوالو له پخوا څخه په سرود ترجمه کړی او رواج کړی دی.

يو شمېر سرودونه بيا په يو ځايي توګه يوه «سوکتا – sukta» جوړوي، چې زموږ په ليکنو کې بدلې يا سندرې بلل سوي دي. ما هم دغه د «سوکتا» لفظ استعمال کړی دی او د جمع شکل مې «سوکتاګاني» ليکلې دي. يو شمېر «سوکتاګاني» بيا په يو ځايي توګه يوه «سمهيتا – Samhita» جوړوي، چې دغه لفظ د

مجموعې یا کلکسیون په کلماتو ترجمه سوی دی. د جمع شکل یې ما «سمهیتاګاني» لیکلی دی.
د دغه پورتني تصنیف له مخي «ریګ‌ویدا» یوه «سمهیتا» لري، چي له ۱۰۲۸ «سوکتاګانو» څخه جوړه سوې ده. «یاجور ویدا» شپږ «سمهیتاګاني» لري، چي د هغو له جملې څخه څلور یې هغه برخه جوړوي، چي د «کریشنایاجور ویدا» یا «توریاجور ویدا» په نامه یادیږي او دوی یې هغه برخه جوړوي، چي «سوکلایاجور ویدا» یا «سپین‌یاجور ویدا» په نامه یادیږي. «ساما ویدا» فقط د «ریګ‌ویدا» یو نقل دی، چي ۱۵۴۹ سرودونه لري. «اتهروا ویدا» ۶۰۰۰ سرودونه لري یا ۷۳۱ «سوکتاګاني» لري.
آریایي هندوانو د لرغوني ټولنیز ژوند چاري په ویدي سرودونو یا «ریکاګانو» او هم هغو نورو آثارو کي ثبت کړي دي، چي تر ویداګانو وروسته منځ ته راغلي دي. تر ویدي اثر وروسته حماسیات او بیا نو «سوتراګاني»، «سمریتي‌ګاني» او نور آثار را پیدا سوي دي.
ویدي منترونه له ټاکلي لفظي اداګانو، وزمونو او حرکاتو سره یو ځای لااقل د څلورو زرو کالو په دوران کي له یوې خولې څخه بلي خولې ته د آریایي هندوانو د ټولني د «برهمنیانو» له خوا څخه را نقل کېده، څو چي بالآخره د کاغذ پر مخ ثبت سوه، تفسیر سوه او له نیستي کېدو څخه خوندي وساتل سول. تر میلاد دمخه د ۱۵۰۰ په شاوخوا کي دغه سرودونه د ټولي هندو ټولني دپاره مطلق ممذهبي مراسم وګرځېده. د «ریګ‌ویدا» ډېره زړه نسخه چي تر اوسه موندل سوې ده، د همدې سنې سره اړه لري.
پر اصلي ویداګانو سربېره، چي له سرودونو او سندرو څخه جوړ سوي دي، ځیني نور ضمایم او ملحقات هم سته، چي په نثر لیکل سوي دي او د ویداګانو

د شرحې او تفسير په توګه کار ور کوي. په دې لړ کې هره ويدا يوه «برهمنا» او هره «برهمنا» يوه «ارانيکا» او هره «ارانيکا» يو «اوپانيشاد» لري. په دې پسې چې نور ويدي تعلقات منځ ته راغلي دي، هغه تر دې نومو لاندې تصنيف سوي دي:

۱- شراواتا سوترا

۲- ګريهيا سوترا

۳- دهرما سوترا

۴- شلوا سوترا

په دغو ملحقاتو کې چې تر ويداګانو وروسته دي، ځيني مذهبي هدايات، روايات، د ژوندانه چارې او فلسفې بيانيږي.

د هندويي فرهنګ لرغوني آثار درو برخو ته وېشل سوي دي؛ يو د ويداګانو هغه واقعي سرودونه دي، چې عقيده داسې ده، چې د ريشي‌ګانو له خوا د مشاهدې او الهام په وسيله منځ ته راغلي دي او «دريشتي» نوميږي. په دې پسې هغه سرودونه دي، چې اورېدل سوي دي او دا بيا «شروتي» نوميږي. دريم هغه دي، چې د روايت په سلسله راغلي دي او د «سمريتي» په نامه يادېږي.

د درو ويداګانو په باره کې دا هم ويل سوي دي، چې «ريګ‌ويدا»، «ساما ويدا» او «ياجور ويدا» په ترتيب سره «ويسيا»، «برهمن» او «کشتريا» منځ ته راوړه.

**ويداتها** [vidatha]: اولسي اسامبلې، عمومي يا خلقي غونډه او يا جرګه.

**ويدانتا** [vedanta]: دا د هندوانو يو فلسفي سيستم دی، چې له ويداګانو څخه يې منشاء اخيستې ده.

**ويسيا** [vaisya]: هغه ځوک چې د «ويشا» ورنې ته منسوب وي.

**ویشا** [visha]: اولس، د عامو خلګو پرګنه، ټاټوبی، د مېشته کېدو ځایونه، استوګنځایونه، د اوسېدني محلونه او د یوه ټاټوبي اوسېدونکي معنی لري. د کتاب په متن کي «ویشا» د «ویسیاګانو» د ورېنې په شکل استعمال سوی دی.

**ویش‌پتي** [vishpati]: د «ویش» معنی ټاټوبی یا د اوسېدني محل او د مېشته کېدو ځای دی. په دې اساس نو د «ویش‌پتي» معنی د ټاټوبي یا محل مشر او خاوند دی.

**ویندیداد** [vendidad]: د پوهاند حبیبي صاحب په قول، دا د اوستا له پنځو برخو څخه دریمه برخه ده. د دې لفظ معنی یې د شباطینو دافع قانون ښوولې ده. استاد وایي، چي په دغه کتاب کي د اوداسه اداب او د استغفار او توبې اصول بیان سوي او دیني قوانین او احکام لري.

**هراپا** [harappa]: د هراپا تمدن په پنجاب کي د «برونزو» د دورې د تمدن له اساسي مرکزو څخه دی، چي زمانه یې د درې او یو نیم زر قبل المیلاد په منځ کي اټکل سوې ده. شوروي عالم میسون په خپله یوه مقاله کي، چي «ارکیالوجیکي آثار او د افغانستان لرغونی تاریخ» تر نامه لاندي یې کښلې ده، یو ځای وایي، چي د هراپا په تمدن پوري مربوط هغه ښارونه، چي د اباسین په غاړو کي پراته وه، مس او لاجورد له افغانستان څخه ورته راتله.

**هوانا** [havana]: د توزیع طرز یا د وېش طریقه، برخه او ونډه معنی لري.

**هوتا** [hota]: یو روحاني مامور دی، چي د هوتري «hotri» په نامه هم یادیږي.

**یاجامانا** [yajamana]: د هغه چا نوم دی، چي د خصوصي کهول د خاوند په توګه مشغولیت ولري.

**یجنا [yajna]**: دا کلمه په اوسني وخت کي د نمانځني او د ځینو مذهبي مراسمو د تجلیل په مفهوم استعمالیږي. د تاریخي ریښې په باره کي یې د کتاب د مؤلف څېړني داسي دي: د ایجنا لغت یوه کلمه نه ده، بلکي یوه جمله ده، چي له «یه»، «جه» او «نا» څخه جوړه سوې ده. د لومړي جزء معنی یې «یوه ځای ته را غونډېدل» او د دوهم جزء معنی یې «زېږول» او د دریم جزء معنی یې «دوی» دي. د ټولي جملې معنی داسي کیږي: «دوی سره را غونډیږي او زېږول کوي» یعني شیان او بچیان زېږوي. دې جملې نو د استعمال په دوران کي د یوه اسم «یجنا» شکل واخیست، چي په شیانو او انسانانو کي د اشتراکي تولید د تشکیل طرز افاده کوي او ویدا د دغه طرز پوهنه ده.

د ویدي روایت سره سم «یجنا» د «تریتا» په عصر کي هغه وخت را پیدا سوه، چي انسانان دې مرحلې ته ورسېده، چي اور کشف کړي، حیوانات اهلي کړي او په ټاټوبي کي مېشته سي.

په دې اساس نو «یجنا» د لرغوني آریایانو د هغه ډله‌ییز تولید طرز دی، چي د خصوصي ملکیت، طبقاتو او دولت تر راتلو دمخه یې د هغه په طریقه ژوند کاوه، خو کله چي دغه خبري په ټولنیز ژوند کي را پیدا سوې، نو «یجنا» خپل واقعي حالت بایلووی او صرف د یو رسم، د نمانځني د یو شکل او د یوې ټولنیزي خاطرې په توګه پاته سوه، چي لرغونی ژوند په سمبولیکه بڼه تمثیلوي. که څه هم د دې کتاب په زیاترو برخو کي د «یجنا» ذکر راغلی دی، خو په خاصه توګه په لومړي، په دریم او څلورم فصل کي د دې مؤسسې په باب زیاتي څېړني را غونډې سوي دي. د «یجنا» د مراسمو په جریاناتو کي په سمبولیکه توګه دا ډول کارونه تر سره کیږي، چي د لرګي د دوو ټوټو د موښلو په وسیله اور تولیدیږي، یوازي له لرګیو او وښو څخه کوډله جوړیږي، غواوي لوشل

کیږي، مستې مایه کیږي، جواري په ډېره کوټل کیږي، حیوانات وژل کیږي، پوست یې ایستل کیږي، ایشول کیږي او پخیږي. د ابتدایي میني، جنګ، بري او عبادت تمثیلي اجراآت سر ته رسیږي. د کتاب مؤلف وایي: که څوک د «یجنا» مراسم وڅېړي، نو دې نتیجې ته رسیږي، چې دغه د مراسمو په شکل د لرغوني آریایي ژوند تمثیل دی.

«یجنا» ډېر ډولونه لري، چې ځیني د «ستراګانو» او ځیني یې د «کراتوګانو» په نامه یادیږي. په زړه پوري خو لا دا ده، چې همدغه «یجنا» په اوستایي ادبیاتو کې د «یسنا» په مشابه کلمه یاده سوې ده.

**یوګا** [yoga]: دا د هندوانو یو فلسفي او تصوفي سیستم دی، چې د ریاضت هغه لاري او وسایل ښیي، چې له عقیدې سره سم روح د تصفیې په منظور د همدې لارو او وسایلو په ذریعه له زیاتو انتقالاتو څخه آزادي پیدا کولای سي. د دې ریاضت عامل ته «Yogi» یا په پښتو کې «جوګی» ویل کیږي.

**یوګا** [yuga]: معنی زمانه یا د زمانې دوره. هندو اساطیر ټوله زمانه پر څلورو عصرونو وېشي، چې هري برخي ته «یوګا» ویل کیږي. په دې حساب نو څلور تاریخي عصرونه یا «یوګاوي» سته، چې په ترتیب د «کریتا»، «تریتا»، «دواپار» او «کالي» په نومونو یادیږي.

## د دریم چاپ دپاره د لیکونکي مقدمه

له هغي زمانې راهیسي چي دا کتاب د لومړي ځل دپاره په ۱۹۴۹م. کال کي خپور سو، نو د هغو قضایاوو په ارتباط، چي دلته مطرح سوي دي، یو زیات شمېر پوښتني را پیدا سوي دي. دا امکان نه لري، چي پر هغو ټولو باندي دلته خبري وسي، ځکه دا کار یوه اوږده مباحثه ایجابوي. خو ځیني پوښتني کېدلای سي، چي هم ذکر سي او هم یې جوابونه وویل سي.

ځیني کسان دا پوښتنه کوي، چي آیا هغه خلگ چي په «ویدي» ادبیاتو کي یې موږ وینو، کوم مخصوص نژاد وو، چي آریایان بلل کېده او ایا دوی د نورو خلگو پر مځکه باندي یرغلونه کوله؟ که دوی آریایان وه، نو هغه نور خلگ بیا څوک وه؟

هغه خلگ چي په «ویدي» ادبیاتو کي ذکر کیږي، یعني هغه کسان چي د دې ادبیاتو ایجادوونکي دي، زموږ د زمانې په تاریخي ادبیاتو کي عموماً د آریایانو په حیث ښوول سوي دي. اینگلس هم د «هندو اروپایانو» او هم د «آریایانو» په نومونو ذکر کړي دي. دې ته ضرورت نه سته، چي د نامه په باره کي د کوم دوگماتیزم پر لاره رهي سو. اساسي مسئله د دوی هغه ټولنیز فورماسیون او د دوی د ټولنیز انکشاف مرحلې تشکیلوي، چي موږ یې په «ویدي» او نورو آثارو کي پیدا کولای سو.

هغه جنگونه چي موږ ته یې بیان په مخه را ځي، دوه ډوله دي: یو هغه جنگونه دي، چي د یوه توکم په دننه کي د قبیلو او گنی‌گانو تر منځ پېښ سوي وي، بل

بیا هغه جنګونه دي، چي د «هندو اروپايي» یا «آریایي» قبیلو له خوا د بېخي یو بل توکم، لکه د «نیشادایانو – Nishadas» یا «ناګایانو – Nagas» سره پېښ سوي دي. ځیني جنګېدونکي قبیلې د «یجنا - Yajna» مشترک مؤسسات لري، په داسي حال کي چي ځیني یې دغه اشتراک نه لري او بالکل یو له بله څخه بېګانه دي.

په دې ترتیب نو ټوله جنګونه «یرغلونه» نه بلل کېږي.

د «یرغل» مسئله د زیاترو اروپايي تاریخ پوهانو له هغو څرګندونو سره ارتباط نیسي، چي وایي، آریایان تر هند بهر له بله ځایه څخه راغلل او دوی پر هغو «دراویدیانو - Dravidians» باندي یرغل یووړ او مات یې کړل، چي دمخه په ټوله هند کي مېشته وه او د جنوب سیمو ته یې پسي واخیستل.

زه فکر نه کوم چي موضوع دونه ساده ده. موږ تر اوسه هم په وضاحت نه پوهیږو، چي آیا د «بېګانه آریایانو» تر راتګ دمخه دا «دراویدیان» وه، چي هند یې نیولی وو او پکښې اوسېدله؟ موږ په دې هم نه پوهیږو، چي د «موهینجو دارو – Mohenjo Daro» او «هراپا – Harappa» تمدنونه د «دراویدیانو» نمایندګي کوي او آیا ګویا دوی وه، چي آریایان پر راغلل او له منځه یې یووړل؟

بریتانوي تاریخ‌پوهانو موږ د زیاتو ټکو په برخه کي پر غلطه لار اچولي یو او موږ ته لازمه ده، چي د دې مسئلې په باره کي ډېره دقیقه څېړنه سر ته ورسوو. مثلاً دا خبره هم ذکر سوې ده، چي تر «دراویدیانو» دمخه هلته هغه څوک

اوسېده، چې «موندامن خمير – Mundamon Khmer» نومېده او دوی بيا په خپله په پخوا کې د «دراويديانو» په وسيله د ختيځ خوا ته شړل سوي وه.

زه په خپله د دې موضوعاتو په باره کې کوم نهايي نظريات اثبات ته نه رسوم، فقط په دې حاضر وخت کې د دغو خلگو، که آريايان وه يا «دراويديان» وه او يا «موندامن خميران» وه، د ټولنيزو فورماسيونو له انکشافه سره ډېره علاقه نيسم، چې په هغه کې البته جنگونو او يرغلونو ارو مرو يو نقش لوبولی دی.

په دې لړ کې يوه دا پوښتنه را ولاړېږي، چې آيا «دراويديان» په هغه وخت کې، چې له آريايانو سره په شخړو کې ونښته، د جگ او که د ټيټ تمدن خښتنان وه؟ آيا دوی د لومړني کمون له مرحلې څخه د مرئيتوب پرمختللي تمدن ته را جگ سوي وه او که نه؟

ځيني معلومات داسي دلالت کوي، چې «دراويدي» توکم ته منسوب خلگ (د هغي افادې سره سم چې درک يې عام سوی دی) د مرئيتوب مرحلې ته جگ سوي وه. خو له پخوا څخه پاته او موجود «دراويدي» ادبيات د دې دپاره کفايت نه کوي، چې په دغه موضوع کې ټاکلو نتايجو ته ورسيږي، نو ځکه د هند په تاريخ کې د ټولنيز انکشاف د مراحلو او د هغو د دورو په باره کې يو شمېر پوښتني موجوديت لري.

د دورو په باره کې زه دلته د بورژوازي تاريخپوهانو انتقاد په نظر کې نه نيسم، ځکه دوی د تاريخ هغه قوانين نه مني، چې مارکس کشف کړي دي. په دې باره کې نو زه يوازي د هغو پوښتنو په ارتباط بږغېږم، چې مارکسيستي لوستونکو منځ ته راوړي دي.

د لومړي کمون عصر کله پای ته ورسېدی او د مرئيتوب هغې څه وخت را شروع سو؟ که دا نه سي کېدلای، چي د کلونو په حساب اندازه سي، نو آيا د مذهبي-ادبي آثارو او پېښو په وسيله ټاکل کېدلای سي؟

ويدي آثار تر هغه ځايه چي په لاس کي سته، د ټولو درو سرو دورو؛ يعني وحشت، بربريت او تمدن په باره کي څرګندوني لري. په دې آثارو کي د «بابامشرۍ» يا بل ډول مرئيتوب د را پيدا کېدو او د طبقاتو او دولت د مباديو په باره کي خبري راغلي دي.

دا ويل کېدلای سي، چي د لومړني کمون دوره په پخوانيو «ويدي» اصولو سره پای ته رسېدلې وي او د مرئيتوب او تمدن دوره په وروسته «ويدي» اصولو او لومړنيو «سمريتي» ادبياتو او حماسو را پيل سوې وي.

د «مهابهاراتا – Mahabharata» د جګړې او د هغې د نتايجو په باب زما د څېړنو په ارتباط يو لړ پوښتني را پيدا سوي دي. د دغي برخي په باره کي زما څرګندوني دا غواړي، چي ځيني تغيرات او توضيحات پکښي را سي.

د دې جګړې د نتيجې د څېړلو په ترڅ کي يو ځای ما داسي ويلي دي، چي په دې پسي نو «مرئيتوب» کمزوری سو. همدا وخت مي د دغه پراګراف په وروستۍ برخه کي داسي ليکلي دي: «په دې کي شک نه سته، چي مرئيتوب ادامه درلوده او د مريانو د بادارانو دولتونه له نوي سره تنظيم سوه او بيا يې وده وکړه» (دوهم انګليسي چاپ، ۱۸۶ مخ). د دغه مطلب دپاره يو څه توضيحات ضروري دي:

د مهابهاراتا جګړه د زي «قومیت» د اړیکو د شکېدو او د پاخه طبقاتي دولت د را پیدا کېدو پیلامه وه. په دې جګړه کې قبیلوي ډموکراسۍګاني، نظامي اریستوکراسۍګاني او د مرئیتوب سیستمونه شامل وه. دا جګړه دونه پراخه او ورانوونکې وه، چې د مرئیتوب پر یوه پاخه مدنیت باندې د را بناء سوي تمدن وړاندې د یو څه زمانې دپاره له چټکۍ څخه ولوېدی، خو په عوض کې یې هغه غټې پاچهۍ منځ ته راوړې او جوړې یې کړې، چې په وروستني تاریخ کې موږ ور سره مخامخ کیږو، لکه «اوجاین – Ujjain»، «کاشي – Kashi»، «کوسالا – Kosala»، «ماګادها – Magadha» او نور.

څکه نو چیري چي دا فکر پیدا کیږي، چي د مهابهاراتا په جګړه پسي سم‌دستي د فیوډالیزم دوره را شروع کیږي، باید یوه تصحیح منځ ته راوړه سي. داسي یوه پوښتنه را پیدا کیږي، چي په هند کي د مرئیتوب ځان‌ته ممیزات څه شي وه؟ په تولید کي هغه څه نقش ولوباوه؟

داسي کسان به لږ وي، چي په هند کي د مرئیتوب پر موجودیت باندي یو مخیزه انکار وکړي. د روښانه تاریخي مدارکو په وړاندي، چي د هغو مریانو ډولونه[1] ښرګندوي، چي هغه وخت یې موجودیت درلودی او همدا رنګه د دوی د آزادولو په باب او په ملکیتي میراث کي د دوی د موقف په ارتباط مقررات روښانه کوي، دا د هر چا دپاره مشکله ده، چي ووایي مرئتوب په هند کي منځ ته نه دی راغلی.

١ د دغو او نورو ور پسې ښرګندونو په باره کې دوهمه ضمیمه وګورئ.

لکه دمخه چي وويل سوه، دا مرئيتوب د «روم» او «يونان» په شان «د کار مرئيتوب» نه وو، بلکي «کورنی مرئيتوب» وو. د دې خبري يوازنۍ معنی دا ده، چي هلته د توليد مسلط شکل داسي نه وو، چي د کرني توليد د لويي پيمانې په هغو فارمونو کي سر ته رسېدی، چي مالکيت يې په بادارانو اړه درلوده او د مريانو غټو ډلو کار پکښي کاوه، خو د دې په مقابل کي کورنی مرئيتوب نو دا معنی هم نه ور کوي، چي مريي يوازي په کهول کي د بادار «شخصي چوپړ» واهه. د دې خبري په اثبات کي کافي شواهد سته، چي مريان دې ته گمارل کېدل، چي د کهولي صنايعو په توليد کي برخه واخلي او پر فارمونو او حتی د لويي پيمانې پر زمينداريو باندي د «آزادو» بزگرانو او حتی استخدام سوي کارگرانو سره يو ځای کار وکړي. د مريانو مالکانو همدا رنگه خپل مريان د کار دپاره په نوکرۍ کي ور کول، څو د بادارانو دپاره عايدات راوړي.

د لويي پيمانې زميندارۍ چي د مريانو او استخدام سوي نوکرانو له خوا څخه کرل کېدې، په عمومي توگه ښاري مرکزو ته نژدې موندل کيږي او داسي ښکاري، چي د پاچهانو جايدادونه وي. د يو څو خصوصي زمينداړانو همدا رنگه ذکر کيږي، چي د هغو له جملې څخه ځيني يې حتی دينداره «برهمنيان» دي، خو په کليو کي د کرني توليد اساساً د مريانو په وسيله سر ته نه رسېدی. هلته د آزاد کهول جمعيت، چي «گريهاپتي – griha-pati» يا «کولاپتي – kola-pati» يې لارښوونه کوله، مشترکه مځکه يې په گډه کرله. د مريانو استخدام په لويه پيمانه د لاسي صنايعو په ښاري مرکزونو او تر يوې اندازې هم په کليو کي رواج درلودی.

دا د هندي مرئيتوب يوه خاصه مميزه ده، چې کهولي جمعيت له کورني مرئيتوب سره جار وتلې شبکه جوړه کړې وه او د اوږدې زمانې دپاره يې موجوديت درلودی. بې‌له دې څخه چې د مرئيتوب نور شکلونه نابابه کړي او له منځه يې يوسي.

کهولي جمعيت د نفوسو له ډېرښت او د توليد له انکشافه سره ژر منحل کيږي او کليوالي جمعيت ته وده کوي. د مريانو له ډلو څخه د کليوالي جمعيت «هينه‌جاتيان – heena jatis» جوړيږي او د کهولي جمعيت غړي د خپلې خوښې حرفې او يا ضرورت په اساس مختلف کسبونه غوره کوي او د بېلابيلو «فرقو - Castes» په توگه تشخص مومي.

په دې جريان کې نو «ورنې - Varnas» خپل اهميت بايلي او د نوي تشکيل په ساختمان؛ يعني کليوالي جمعيت کې د دوی ځای «فرقې» نيسي. د دې پروسې انکشاف په يوه بڼه نه دی، محلي ځمکني شرايط ډېر تاثير پکښې لري. په هند کې اقليمي او جغرافيايي شرايط؛ د هغه توده هوا، هلته د سابو زيات حاصل ور کول او پرېماني، د دې سبب سوه، چې کليوالي جمعيت د ځمکې د اشتراکي ملکيت پايښت او فرقوي نظام ته خاصه څېره ور په برخه کړي. **کليوالي جمعيت د خپل فرقوي نظام سره د هندي فيوډاليزم د ساختمان بنسټ دی.**

دغه پروسه ايجابوي، چې د هغو مشخصو شرايطو يوه دقيقه پلټنه او څېړنه سر ته ورسيږي، چې د دوی په اساس د هند په بېلابيلو برخو کې همدغه پروسه منځ ته راغله، ځکه نو په هند کې فرقوي او کليوالي جمعيتونه په داسي حال

کي، چي په بنيادي لحاظ په خپلو توليدي روابطو کي پر يوه قرار جريان لري، خو د ټينګتيا، د تغير د قابليت او د حقوقو او مکلفيتونو په مواردو کي د خپل انکشاف بېلابېل خصوصيات څرګندوي.

دا پوښتني مطرح کيږي، چي مرئيتوب‌لرونکو دولتونو څونه زمانه ادامه درلوده؟ زما په فکر د مرئيتوب دولتونه تر هغه وخته مخ پر غوړېدو وه، څو چي «بوديزم - Buddhism» منځ ته راتلی او وده يې کوله. ډېر احتمال لري، چي د «نندايانو - Nandas» (۴۱۳ق.م.) امپراطوري په دغه لاره کي هغه اخيره امپراطوري وه. (ځکه نو البته همدغه خبره ده، چي ټوله «پورانايي» روايات دا څرګندوي، چي واقعي «کشتريا کولا – Kshatriya Kula» واکمني په همدې توګه په «نندايانو» يعني «نندانتم کشترياکولم – Nandantam Kshatriya Kulam» سره پای ته ورسېده).

د نندايانو او د «اشوکا - Asoka» (۲۷۳ق.م.) د امپراطورۍ په تر منځ زمانه کي د هند د خلګو په اجتماعي- اقتصادي نظام کي خورا ستر تغيرات روان وه؛ هم مرئيتوب او هم کليوالي جمعيت دواړه تر بنيادي تغيراتو لاندي وه، هندي فيوډاليزم زيار ايستی، چي خپلي ريښې وځغلوي او خپور سي.

خو دلته بايد دا خبره ياد ته را وستل سي، چي د يوه نظام تله او د بل يوه راتله، په تېره بيا په هند کي د مرئيتوب او فيوډاليزم په ارتباط، هيڅ‌کله داسي څرګنده حدبندي نه لري، چي د ټاکلي کال يا د کومي پاچهي کورنۍ په وسيله سره بېل سي. د يو څه زمانې دپاره دوی همدا رنګه څنګ پر څنګ موجوديت لري او

دا معلومه ده، چي فيوډالي «سرفډم[1]» په خپل ځان کي دننه هم د مرئيتوب خصوصياتو ته ادامه ور کوي.

خو دا خبره يقيني ښکاري، چي بوديزم او «جينيزم - Jainism» تر ميلاد دمخه په پنځمه پېړۍ کي د مرئيتوب پر ضد ايډيالوجيکي پاڅونونه تمثيلوله. که څه هم دا موضوع په ډېر تفصيل سره په دې لنډه مقدمه کي نه سي څېړل کېدلای، خو بيا هم د دې دپاره چي د لوستونکو سره مرسته وسي، چي په دې باب کي زياتي څېړني وکړي، نو موږ د «جينيستي - Jainist» تفکر پر مبداء رڼا اچوو، چي هغه هم د بودايي مبداء په شان ده.

د «جينا - Jaina» د سيستم سره سم تر «ماهاوير جينا – Mahavir Jaina» وړاندي څليرويشت «تيرتهانگاران - Tirthankaras» وه. د هغه بيان له مخي چي په «سدهارمالانکارا - Saddharmalankara» کي راغلی دی، دا څرګندېږي، چي د دوی له جملې څخه په شپږو تنو کي څلور يې «تښتېدلي مريان» او دوه يې خوار سوي بزګران يا تقريباً د مريانو د سويې کسان وه. د يوه مريي نوم «پورنا کشياپ – Poorna Kashyap» وو، يعني پوره کشياپ وو. دی په دغه نامه ځکه وبلل سو، چي کله دی د خپلي مور د مالک په سرای کي وزېږېدی، نو د هغه مالک په سرای کي دی سلم مريی وو او د خپل بادار د سل کسيزه مريانو ډله يې ور پوره کړه. هغه نور درې مريان، چي ماټرياليستي او ماټرياليستيانو ته ور څېرمه ډلي يې جوړي کړې؛ «موکخالي ګوشال –

---

[1] هغه بزګر چي په مځکه پوري تړلي وي او له مځکي سره خرڅېږي او يا انتقالېږي، د «سرف – Serf» په نامه بلل کيږي، چي په زرعي مريي سره يې هم ترجمه کولای سو. دغه راز زرعي مرئيتوب ته «Serfdom» ويل کيږي، چي د منځنيو پېړيو په دوران کي يې په ټوله اروپا کي موجوديت درلودی.

«Mokkhali Go-shal»، «نيګانت نتپوتا – Niganth Natputta» او «اجيت کيسهاکامبالي پاکودها کتيايانا – Ajit Keshakambali Pakudha Katyayana» نومېدله.

بودا په خپله (چې په ۵۵۸ق.م. کې زېږېدلی او په ۴۷۸ق.م. کې مړ دی) له قبيلوي اشرافي طبقې څخه وو او د قبيلوي ډيموکراسۍ کلتور يې درلودی.

په دې ارتباط د اينګلس هغه خبرې په يادولو ارزي، چې په خپل هغه اثر کې يې څرګندي کړي دي، چې «فيورباخ او د آلمان د کلاسيکي فلسفې خاتمه» نوميږي. اينګلس وايي:

«تر کومه ځايه چې خبره له هغو درو نړيوالو مذاهبو سره اړه لري، چې تر اوسه منځ ته راغلي دي، لکه بوديزم، مسيحيت او اسلام، نو يوازې د همدې په مورد کې ستري تاريخي اوښتني له مذهبي اوښتنو سره يو ځای ملګري ليدل کيږي... صرف د دغو نړيوالو مذاهبو سره... موږ وينو، چې عمومي تاريخي نهضتونه يو مذهبي رنګ اخلي». (د مارکس-اينګلس غوره آثار، دوهم ټوک، **۳۴۴-۴۳۴۳** مخ)

هغه ستره تاريخي اوښتنه چې بوديزم ور سره ملګرې وو او اغېزه يې پر واچوله، له څه شي څخه عبارت وه؟ دغه تاريخي اوښتنه تر کومه ځايه چې په هند کې له بوديزم سره ارتباط نيسي، دا خبره وه، چې د مرئيتوب هغه سيستم کمزوری کېدی، چې له «اجاتاشترو - Ajatashatru» څخه تر اشوکا پورې د غټو پاچهي خاندانو د واکمنۍ له خوا څخه يې نمايندهګي کېدله. په دې لړ کې هغه ډېره غښتلې پاچهي داسې ښکاري، چې د «نندايانو» پاچهي وه. هغه لويې او په

دایمي توګه سمبالي نظامي قواوي چي «نندایانو» او د دوی معاصرانو ساتلې، دا ښکاره کوي، چي جګ مالیات پر خلګو حواله وه او واکمنو طبقاتو موکونه اخیستل او په چړچو کي غوټه وه. د دوی فتوحاتو په زرهاوو خلګ مرئیتوب ته مجبوره کړي وه، قبیلوي ډیموکراسي‌ګانی یې ورانی کړي وې او د هیواد پر لویو قطعاتو باندي یې د بهیري جمعیتونو بقایا له منځه وړې وه. د کلیو آزادو بزګرانو، وران‌سوو قبیله‌والو، په عذابونو اخته سوداګرو او د ښار اوسېدونکو ټولو دا غوښته، چي یو تحول منځ ته را سي. په ایډیالوجیکي لحاظ دغه تحول د بودیزم له لاري تبارز وکړ. په سیاسي لحاظ یې د «ماوریانو – Mauryas» په وسیله هغه امپراطوري را نسکوره کړه، اما بیرته یې دې ته زمینه مساعده کړه، چي یوه نوې امپراطوري له سره منځ ته راوړي، چي البته یو څه آسانتیاوي او تغیرات پکښې وي. دا په تاریخ کي هغه ستره اوښتنه وه، چي موږ یې باید په دقت سره تر کتني او څېړني لاندي ونیسو. هغه تاریخي سند، چي په دې موضوع کي موږ ته لاره ښوولای سي، تر ټولو لومړی او را دمخه هغه اثر دی، چي د «کاوتیلیا ارتها شسترا – Kautilya Artha Sastra» نومیږي. په دې پسي نو د بودایي ادبیاتو «جاتاکاوي - Jatakas»، یو څه هم «دهرما سوتراګاني – Dharma Sutras» او د اشوکا فرمانونه دي.

د مرئیتوب کمزوري کېدل او په فیوډالیزم سره ورو ورو د هغه ایسته کېدل، د یوې پروسې په توګه درې سوه کاله ادامه لري. د کلیو په اقتصادي بنسټ کي یې همدا پروسه ژور تحولات منځ ته راوړي.

د پخوا وختو لومړني کمون د کرني او مالداری خپل ثروتونه په ګډه تولیدوله او د محصولاتو په ګډه استهلاک کي یې برخه اخیسته.

د تولیدي قواوو له وړاندي تګه سره، د کار له وېشه سره او د طبقاتو له را پیدا کېدو سره د مرئیتوب سیستم منځ ته راغی. پر مشترکه مځکه باندي د بهیري کلیوال تولید نو په دې شروع کوي، چي د «ګنی‌والو» بزګرو له خوا اوس په داسي توګه سر ته رسیږي، چي مریان هم مرسته ور سره کوي، څه هم د کار ډېر برخه لا تر اوسه په خپله د آزادو بزګرانو په وسیله اجراء کیږي.

بهیري ټولنه چي په خپل ماهیت کي له مرئیتوب سره روغه نه سي کولای، نو ژر د مرئیتوب په وسیله خرابیږي او لومړنی بهیر له منځه ځي.

په ښارو کي را پورته کېدونکو اشراقي طبقاتو ثروتونه او مریان را غونډول، د مالونو سوداګري یې کوله او خپلي پاچهۍ او امپراطورۍ یې جوړولې. د پاچا صنایع او جایدادونه، د سوداګر سرای، کارخانې او د ښار په شاوخوا کي باغي مځکي ټوله د مریانو د ډلو د کار په وسیله چلېدلې. له آزادو کسبګرانو او حتی استخدام سوو کارګرانو څخه همدا رنګه استفاده کېدله.

تولید پر مخ تلی، نفوس ډېرېدی او امپراطوریو همدا رنګه وده ور سره کوله. یوې خوا ته آزاد بزګري کلي وه، چي یې د بهیري جمعیتونو په توګه مشترکه مځکه په لاس کي وه او یا یې د کهولي جمعیتونو په توګه د مشترک مالکیت په اساس انفرادي کرهڼه سر ته رسوله، خو بلي خوا ته هغه غټ امپراطوري دولتونه وه، چي سرونه یې درانه وه او پایې یې کمزوري وې. د دغو دوو تر منځ د مځکي پر مسئله شدید تضادونه او تخاصمات را پیدا سوه. دغه تخاصم خپل ځان په دوو پوښتنو کي څرګنداوه؛ یوه پوښتنه دا وه، چي آیا پاچا کولای سي، د کلیو مشترکه مځکه تصاحب کړي؟ او بله دا وه چي په ټوله تولید کي د دولت

ونډه باید څونه وي؟ دې خبرې نو دا معنی درلوده، چې د واکمني طبقې حقوق د «مازاد – Surplus Product[1]» او اجارې (بهرې) په ارتباط څه شي دي؟

د «دهرما - Dharma» ادبي ټوټې او تر «پوروا میمامسا – Poorva Mimamsa» را دې خوا ته تبصرې له دغې مسئلې سره ارتباط نیسي. کاوتیلیا زیار باسي، چې د استثمار د روابطو نظام پخواني حال ته وګرځوي او د مازاد او اجارې (بهرې) په نسبت حقوق د دقیقو مقرراتو په وسیله محدود کړي. پوروا میمامسا د «دنه - Dana» په ارتباط د پاچا د حقوقو مسئله څېړي او وایي، چې هغه دا حق نه لري، چې مځکه د «دنه» یعني سوغات په توګه ور کول سي. دا ولې؟ هغه یې سبب دا ښیي، چې مځکه مشترکه ده او انفرادي ملکیت نه بلل کیږي. «نه بهومي‌سیات سروان پراتي اویشش تاتیات – Na-Bhumi syat-sarv a-nprati-avishishtatyat» مځکه البته حتی په انفرادي ډول هم نه تر حدبندۍ لاندي راغلې وه او نه تصاحب سوې وه.

خو واکمن طبقات لږ لږ دغه وضعه له منځه وړې، مالیات او اجاره؛ یعني په مازاد کي خپله ونډه زیاتوي او مشترکي مځکي تر خپل تصاحب لاندي راولي. حقوق‌پوهان چې د استثماري طبقاتو په خدمت کي دي، بیا نو دا مسئله را وړاندي کوي، هغه څه چې مشترکه مځکه ده، آیا داسي نه ده، چې یو کلیوالي اشتراک دی او یو پاچهي اشتراک دی او په دې ترتیب نو آیا مځکي دوه ډوله مشترکي نه دي؛ چې یو ډول یې پاچا ور کولای سي او بل ډول یې نه سي ور

1 چې په اضافه تولید یا اضافي محصول سره ترجمه کیږي، ما په زیاترو مواردو کي د «مازاد» په کلمه راوړی دی.

کولای او داسي نور. دوی همدا رنگه دا پوښتنه منځ ته راوړي، چي دولت کومه ونډه له محصولاتو څخه د ماليې (اجارې) په توگه اخيستلای سي.

څه رنگه چي موږ په تاريخ کي وړاندي څو، نو وينو چي دولت يعني استثماري طبقات ورو ورو هغه اجاره زياتوي، چي د مؤلدينو له بېلابيلو قشرونو څخه را ټوليږي، په کرهڼه کي دا اجاره د محصول له يوه عشره (لسمي برخي) څخه يوه نيمي ته او حتی نقدي اجارې او سرېسر ماليات ته زياتيږي. د دې دپاره مبارزې چي مشترکه مځکه له لاس‌وهني څخه په امان وساتل سي او د دې دپاره مبارزې، چي اجارې او ماليات جگ ولاړ نه سي، تر «نندايانو» راهيسته او همدا رنگه ځيني وختونه تر هغو دمخه د امپراطوريو د را پورته کېدو او لوېدو اساس دی. (البته له دې څخه هغه پېښي استثناء دي، چي د خارجي تاړاک په اثر، لکه د «کوشانيانو - Kushanas» او «سيتيانو - Scythians» د تېري په سبب چي منځ ته راغلي دي.)

په دې پروسه کي توليدي قواوي همدا رنگه وده کوي، لاسي صنايع هم په غټه پيمانه انکشاف کوي او هم يې په مهارت کي زياتوب را ځي، د کرهڼي بېلابيلي څانگي را پيدا کيږي او هم يې په توليدي روابطو کي تغيرات را ځي.

پخوانی بهيري جمعيت چي کله غايب سو، نو يې ځای يوه داسي نوي جمعيت ته پرېښووی، چي مځکه يې په مشترک مالکيت کي وه، خو هغه يې د کهولي جمعيتونو په اساس د ځينو مراحلو په ترتيب او په ځينو سبمو کي کرله. کهولي جمعيت په وروسته کي ځای هغه کليوالي جمعيت ته پرېښووی، چي مځکه يې د انفرادي کهولونو په اساس کرله. د توليد د مهارتونو او افزارونو انکشاف،

چې له ټاکلو کورنیو سره یې ارتباط درلودی او د دوی کسبونو ته یې موروثي شکل ور کاوه، په دې جمعیتونو کې یې د کار موروثي وېش منځ ته را وستی او فرقوي سیستم یې وزېږاوه، چې له دې سره نو یو نوی کلیوالي جمعیت را پیدا سو، چې پر فرقه را بناء وو. دغه نو د هندي فیوډالیزم کلاسیک ساختمان وګرځېدی.

موږ باید ووایو، څه رنګه چې د څلورو «ورڼو» سیستم «ورڼه شرما دهرما – Varnasharma Dharma» د بربریت د وروستنیو مرحلو او همدا رنګه د مرئیتوب او تمدن د زماني حقوقي، اخلاقي حالت تمثیلوي، نو فرقوي سیستم «جاتي دهرما – Jati Dharma» بیا د هندي فیوډالیزم د تبارز او رشد څرګندوی بلل کیږي. دغه سیستم چې د پخواني کهولي جمعیتي کلي یا «ورڼه شرما» کلي پر ځای منځ ته راغی، د مرئیتوب بدل وو او د نوو تولیدي قواوو سره یې پوره مناسبت درلودی. ډېر احتمال سته، چې دغه سیستم خپل ژوند د «ماوریانو» سره را شروع کړ او وروسته د «ګوپتا - Gupta» د امپراطورۍ په ورځو کې، چې ۲۰۰ میلادي زمانه کې یې اټکل کیږي، وغوړېدی او د ټولو راتلونکو پېړیو دپاره د فیوډالي پاخه او بې‌تغیره کلک بنسټ په توګه ټینګ سو.

دلته یوه پوښتنه منځ ته راغلې ده او هغه دا چې، د هغو څرګندونو مفهوم څه شي دی، چې مارکس په خپلو مختلفو لیکنو کې د هند د «بېخي لرغونو» او «نه بېلېدونکو» کلیوالي جمعیتونو په نامه یاد کړی دی؟

زما په فکر د مارکس دغه يادوني په يو ميکانيکي او دوګماتيکي طريقه تفسير سوي دي او نو ځکه ضروري ده، چي دغه موضوع تر څېړني لاندي ونيول سي.

په هند کي د ارضي روابطو او کليوالي جمعيت د مسئلې په باب مارکس په ليکونو کي ذکر کړی دی. ده يو وخت او بل وخت د هند د تاريخ بېلابېل جهات د مختلفو زمانو په دوران کي مطالعه کوله. ده يو وخت داسي فکر کاوه، چي د مځکي خصوصي ملکيت په هند کي موجوديت نه درلودی. وروسته بيا څېړنو دا وښووله، چي په هند کي د مځکي خصوصي ملکيت د «کريشنا – Krishna» په ناوه کي موجود وو او دا مطلب مارکس په هغو ليکونو کي ذکر کړی دی، چي اينګلس ته يې ليکلي دي. همدا راز د بهير او د کليوالي جمعيت د انکشاف مسئله تر هغه وخته نهايي نتيجې ته نه وه رسېدلې، څو چي اينګلس دې ته اقدام کاوه، چي «د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء» وليکي.

هغه هندی کليوالي جمعيت، چي مارکس يې د هغو مؤلفانو په آثارو کي مومي، چي بيانونه يې د «کاپيټال» په لومړي جلد کي را اقتباسوي، نه د ابتدايي کمونيزم د بهيري جمعيت په شان او نه هم د کهولي جمعيت په شان دي. بهيري جمعيت د قومي قرابت پر اساس را بناء وو او د استثمار، چي استثمار سوي روابط يې نه درلوده، خو کليوالي جمعيت بيا يو سيمه‌ييز واحد وو، چي دا راز روابط پکښې وه.

اينګلس چي کله دا مسئله «د کورنۍ په منشاء» کي څېړي، نو لومړی ځل د دې انکشافاتو په باره کي څه نه وايي، خو د خپل کتاب په هغه نسخه کي، چي د

۱۸۹۱م. کال په زمانه کې یې تهیه کوي، د «کوالیوسکي - Kovalevsky» د اثر په استناد پر دغه مسئله باندې روښنا اچوي. له دې ځایه څخه نو سړی دا مشاهده کولای سي، چې حتی په هغه وخت کې چې مځکه د جمعیت په اشتراکي تصرف کې ده، نو د اشتراکي تصرف شکل او هغه تولید چې د جمعیتونو په وسیله سر ته رسیږي، درې ډوله لیدل کیږي:

یو هغه ډېر ابتدایي بهیري جمعیت دی، چې خاص پر قومي روابطو را بناء دی (کېدلای سي، چې دا یې «گنیوال» شکل وبولو).

دوهم ډول یې هغه کهولي جمعیت دی، چې د بابامشرۍ پر تعلق را بناء وي (کېدلای سي چې دا یې «کولاپتي» یا «گریهاپتي» شکل وبولو).

دریم ډول یې کلیوالي جمعیت دی، چې له انفرادي کهولونو څخه جوړیږي، دا جمعیت یو څه مځکه په مشترکه توگه او یو څه د انفرادي ټکانو (قطعاتو) په توگه تصرف کوي. کرهڼه او نور اقتصادي فعالیتونه د انفرادي کهولونو په اساس، چې د فرقو یعني «گرام پنچایت – Gram Panchayat» په شکل سره را ټول سوي وي، سر ته رسوي. دلته نو انفرادي او اشتراکي مالکیتونه څنگ پر څنگ موجودیت لري.

هغه کلیوالي جمعیت، چې مارکس پکښې بږغیږي، دغه دریم ډول دی. دا د ابتدایي کمونیزم په زمانه کې، چې هغه وخت ورڼه یا فرقه نه وه، موجودیت یې نه درلودی. دا جمعیت د طبقاتو، ورڼې او مرئیتوب د منځ ته راتلو په پخوانیو زمانو کې هم موجود نه وو. فقط د مرئیتوب د زوال پر بناء منځ ته راغی او د هندي فیوډالیزم یو فرقوي جمعیتي کلی ځني جوړ سو.

دغه کليوالي جمعيت نسبت نورو ته د توليد زيات مختلف روابط تمثيلوي.

په دې لنډ يادداښت کي موږ نه سو کولای د کليوالي جمعيت او هندي فيوډاليزم د رشد او انکشاف ټوله سلسله تعقيب کړو. د کليوالي جمعيت را پيدا کېدو، چي د فرقو په اساس د کار موروثي وېش ور سره ملګری وو، د ټولني توليدي قواوو ته يې انکشاف ور کړ. هره فرقه او فرقه‌ګۍ، چي په خپله حرفه کي يې تخصص درلودی، کليوالي جمعيت يې د لاسي صنايعو په انکشاف کي تر هغه ځايه چي ممکنه وه، جګي درجې ته ورساوه. د توليدي ظرفيت د رشد په اساس يې همدا رنګه په هغه مازاد کي زياتوب را وستی، چي د واکمنو طبقاتو او دولت له خوا څخه اخيستل کېدی. له دې مازاد څخه د اوبو د تهيې او آبيارۍ په عامه چارو کي او همدا رنګه د معمارۍ د هغو آبداتو، چي موږ ته را پاته سوي دي، په لګښتونو کي استفاده کېدله. د ګوپتا د امپراطورۍ بډای کلتور، غوړېدونکی هنر او ادبيات او د آبيارۍ پراخي شبکې (چي د کشمير د اوبو يوه شبکه يې د يوه ناملموس تعميراتي انجنير له خوا څخه جوړه سوې وه) او د منځنيو پېړيو لوی صنعت او تجارت دا ټوله د هغو توليدي قواوو برياليتوبونه وه، چي د کليوالي جمعيت په وسيله يې انکشاف کړی وو او د هغه جمعيت د کرهڼي، لاسي صنايعو او منځنيو پېړيو د پاچهيو په ښارو کي د لاسي صنايعو د مخصوصي پروژه‌بندۍ پر بناء منځ ته راغلي وه.

په عين زمان کي مارکس دې ټکي ته هم اشاره کوي، چي دغه جمعيتونه د پرمختګ په لاره کي خنډ وګرځېده او د خپل تاريخ په دوران کي يې رکود منځ ته را وستی. د مارکس دغه څرګندوني زموږ د تاريخ ټولو څېړونکو ته معلومي دي او دا ضرورت نه سته، چي دلته تکرار سي. خو د تاريخ د څېړونکو

به البته دا خوښه سي، چي په دغو کليوالي جمعيتونو کي د طبقاتي مبارزې د انکشاف يا په هندي فيوډالي روابطو کي د طبقاتو د مبارزې په ارتباط د څېړنو او کتنو لاره ومومي.

د دغو کليوالي جمعيتونو په باب د مارکس له تشريحاتو څخه ځيني خلگ د دې استدلال خوا ته تمايل لري، چي دغه په ځان پوره جمعيتونه داسي جوړ سوي وه، چي د دوی تر منځ دننه طبقاتي تضادونو موجوديت نه درلودی.

کله چي د کليوالي جعيتونو په مورد کي د مارکس هغه څرگندوني مطالعه کيږي، چي د هند په باب يې په خپلو مقالو کي ليکلي دي، نو دا ځني ښکاره کيږي، چي ده اساساً له دې ټکي سره علاقه درلوده، چي د توليد او انقلاب هغه نوي قواوي وښيي، چي د بريتانوي تسلط سره هلته ور داخلي سوې.

مارکس چي بيا کله دا موضوع په کاپيټال کي څېړي، نو يوازي د کار د هغه تقسيم له مسئلې سره تماس نيسي، چي د سرمايه‌داري توليد په وسيله په کارخانه کي د هغې ټولني د کار د تقسيم پر ځای منځ ته راغی، چي د کليوالي جمعيتونو په اساس جوړه سوې وه او په اقتصادي لحاظ يې پر خپل ځان اتکاء درلوده او په زرهاوو کلونه يې موجوديت ته ادامه ور کوله او نسبتاً د واکمن دولت له اوښتنو سره يې ارتباط نه ليدل کېدی.

په دغو دواړو ځايو کي مارکس موږ ته د هندي فيوډاليزم د ساختمان په باره کي دقيقه پوهنه را کوي، خو په دغو مواردو کي مارکس د موضوع له يوه او يا بل اړخ سره تماس نيسي. دغه وخت مارکس اراده نه درلوده، چي د موضوع جامع او هراړخيزه پلټنه سر ته ورسوي. په دې موضوع کي ده د موادو په را

غونډولو پیل کړی وو او په نیت کي یې وه، چي که ژوندی پاته سوی وای، د هند تاریخ موږ ته ولیکلی، ځکه نو داسي ښکاري، چي د دغو کلیوالي جمعیتونو په دننه کي د طبقاتي مبارزې د انکشاف مسئله او له یوې خوا د دوی او له بلي خوا د فیوډالي دولت تر منځ مبارزات هغه موضوعات دي، چي تر اوسه پاته دي او باید تر څېړني لاندي ونیول سي. د دې مطالعې دپاره موږ باید له ماوریانو څخه تر «مغولانو - Moghuls» او «مراتیانو – Marathas» کالو په دوران کي نه داخلي تضادونه منځ ته راوړه او نه یې هم خپل تر منځ او نه یې هم له هغه فیوډالي دولت سره تخاصماتو او مبارزاتو ته انکشاف ور کړ، چي دوی یې تر واکمنۍ لاندي وه، نو د دې مفهوم به په خپله له مارکسیزم څخه انکار وي. د دغو جمعیتونو په دننه کي د مبارزاتو او هم له دولت سره د دوی د مبارزاتو ماهیت نو په هغه وخت کي څه شي وو؟

په کلیوالي جمعیت کي هري فرقې او فرقوي کورنۍ خپله ټوټه مځکه درلوده، چي د کرني دپاره ورته ټاکل سوې وه. همدا رنګه یې د مشترکي مځکي، یعني هغي مځکي، چي ځنګلونه، د اوبو زېرمي، واښه او داسي نور یې شاملوله، له منابعو څخه استفاده کولای سوای (دغه مځکي د «دهرما» په ادبیاتو کي د «مهابهومي - Mahabhumi» په نامه یادي سوي دي). هري کورنۍ ته د کرني دپاره مځکه ور رسېدله، خو ځیني فرقې سربېره پر هغه چي مځکي یې درلودی، له خپلو ټاکلو لاسي کسبونو او کارونو، لکه د اودلو، تېل ایستلو، څرمن جوړولو، تنظیفاتو، پیره‌دارۍ او داسي نورو سره تړلي وې. کرهڼه او لاسي کسبونه په دغه ډول یو د بل سره ترکیب سوي وه. هري کسبکاري فرقې خپل پیداوار د دې دپاره تهیه کول، چي د نورو له پیداوارو سره یې مبادله کړي. تېل یې په څرمن،

د لرگي صنايع يې په اوسپنه او داسي نور يې په نورو يو د بل سره مبادله کوله. په دې ډول نو د هر يوه د کار پيداوارو په کلي او يا يو شمېر کليو کي دوران پيدا کاوه.

خو البته داسي فرقې هم هلته موجودي وې، چي کار يې نه کاوه او نو کوم شی يې هم نه توليداوه. دوی «برهمنيان - Brahmins» وه، چي ښوونه يې کوله، عبادت يې کاوه، موسمونه يې څارل او داسي نور. بل نو «کشتريا - Kshatriya» فرقې وې؛ دا فرقې يا هغه نظامي کورنۍ وې چي د دولت نوکري يې کوله يا مالياتي مامورين او محاسبين وه، چي په بېلابيلو ځايو کي په مختلفو نومو يادېدله. دوی نو د خپل کار په مقابل کي له کومه ځايه څخه معاشات اخيسته؟ د زيارکښو فرقو له کليوالي پيداوارو؛ يعني د دوی د محصولاتو د مازاد له برخي څخه دغه معاشات تهيه کېدله. دغو غيرمولدو فرقو د توليدوونکو فرقو په محصولاتو ژوند کاوه، يعني د هغي بهرې په عايداتو چلېدل، چي مؤلدينو دوی ته ور سپارله. په دې معنی نو دوی فيوډالي بهره اخيستونکي وه.

آيا دوی د مځکي د مالکيت پر اساس بهره اخيسته؟ يا، داسي نه وه. اما دوی دا حق درلودی، چي بهره واخلي.

آيا دا حق د دولت په زور ساتل کېدی؟ بلې، هو.

نوري فرقې په توليد کي له خپله مقامه سره تړلي وې او د ټاکلو لاسي صنايعو توليد او کرهڼه يې پر غاړه پرته وه او دا خبره، چي له خپلو محصولاتو څخه يوه برخه نورو ته ور کړي، هم تثبيت سوې او هم ور باندي په زور تحميل سوې وه. د زور د اجراء واکمن مقام دولت وو، چي د «دهرما» په اساس اداره کېدی

او انتظام يې د هغو «برهمني» او «کشتريايي» واکمنو مقاماتو له خوا څخه سر ته رسېدی، چي د دولتي مرکزو او کليوالي جمعيت واکمني يې په لاس کي وه.

آيا دغه روابط د «هيرارشي - Hierarchy» او شخصي تابعيت پر اساس را بناء وه، چي يوازي هغو ته د غاړي ايښوولو له لاري نورو کسانو کولای سوای، چي توليد او ژوند وکړي؟ هو، دغسي وه.

که به کله مؤلدين په خپلو مکلفيتونو کي پاته راتله، نو دې مؤلدينو؛ يعني بهره ور کوونکو فرقو ته جسماني مجازات ور کول کېدل.

دا د هغه کليوالي جمعيت مشخصات دي، چي څرګندي پېژندلي فيوډالي رابطې منځ ته راوړی وو. يو ډول موروثي سرفډم د دغو کليوالو جمعيتونو بنسټ جوړاوه. ناملموسي فرقې د دې جمعيت د واکمنو طبقاتو هغه زرعي مريانو (سرفانو) تشکيلولې، چي تر زيات استثمار لاندي وه.

دې رابطې د سياسي واکمنۍ په ساحه کي هم خپل ځان تمثيلاوه. دولت په واکمنو، غيرمؤلدو فرقو؛ يعني برهمني او کشتريايي ټولنو اړه درلوده، چي په هغو کي د مالياتي مامورينو فرقو؛ يعني «کايستها - Kayastha» هم ګډون درلودی.

په دې جمعيتونو کي دننه مبارزه د دې دپاره روانه وه، چي بهره اخيستونکي خورا زياته او ډېره بهره له مؤلدينو څخه لاس ته راوړي. د «بالي - Bali» او «بهګه - Bhaga» په باره کي قوانين پر همدغه موضوع ږغېږي. برهمن، کشتريا او مالياتي مامور تل تر تله دا کوښښ کاوه، چي له مؤلدو طبقاتو څخه په خپل

بهگه او بالي کي زياتوب راولي. دا چي واقعي مقدارونه يې څه ډول ټاکل سوي وه، د «دهرما» په ټولو ادبياتو کي توضيح سوي دي؛ حتى د «پاڼ» د بلگو، د «کوپړې» او «سيپارو» د دانو شمېر، چي بايد د بهگه په توگه ور کول سي، په دقيق ډول په زياترو تاريخي اسنادو کي ښوول سوي دي. له دغو مقرراتو څخه سرغړونه د دې موجب کېده، چي واکمنه فرقه د سرف فرقې ته مجازات ور کړي.

د کلي مبارزه له دولته سره، يعني هغه مبارزه چي کله به يوازي د مؤلدو فرقو له خوا څخه او کله به د ټوله کلي له خوا څخه د يوې متحدي جبهې په اساس پر کومه خاصه موضوع باندي د دولت په مقابل کي سر ته رسېده، همدا رنگه د هغه بالي او بهگه پر مسئله باندي را بناء کېده، چي بايد دولت، يعني پاچا ته ور کول سي. په دې مبارزه کي ډېر ځله داسي پېښېده، چي کله به موضوع په سوله‌ييزه توگه نه سواى حل کېدلاى، نو به وسله‌والو ښنتو ته خبره ورسېده يا به کليوالي جمعيت له يوه دولت څخه بل دولت ته مهاجرت وکړ او په دې هيله به وه، چي هلته يې د بهرې شرايط لږ څه سپک سي.

په کليوالي جمعيتونو کي دننه چي به کله غيرمؤلدو واکمنو فرقو خورا لوړې اجارې په زور اخيستې او زراعت او لاسي صنعت به يې ورانۍ ته رساوه او د لوړو مالياتو او د تجارت د تخريب په وسيله به يې پيسې را غونډولې يا به په دې وظيفي کي پاته راتله، چي کلي له لوټمارانو او يرغلمارانو څخه وساتي، نو به خلگو د احتجاج په توگه د جنس يا چوپړ په ډول د اجارې او بهرې له تاديې څخه ډډه کوله.

د دې راز ټولو پېښو په باره کي به په دې ډول له ماتمه ډکي څرګندوني کېدلې، چي هره فرقه د خپل «دهرما» د پر ځای کولو په چارو کي پاته راغلې ده. د دې بحران حل داسي ګڼل کېدی، چي هر څوک باید خپله فرقه وپېژني او «دهرما» ته غاړه کښېږدي او په دې ترتیب آرامي تأمین کړي. له لسمي پېړۍ څخه تر شپاړسمي پېړۍ پوري د هند په بېلابېلو برخو کي د روحانیونو ادبیات له دغي مسئلې څخه ډک دي.

د بالي او بهګه په تادیاتو او حقوقو کي تعدیلات ډېرو پوهانو څېړلي دي او په دې څېړنو کي د هندي فیوډالي بهره‌یي روابطو خصلت له ورا څخه څرګندیږي. خو صرف په خپلو طبقاتي نومونو په څرګنده توګه مشخص سوي نه دي. زیاتره تمایل داسي راغلی دی، چي هغه استثماري روابط افشاء نه سي، چي دا یې شکلونه وه او د دوی پر خلاف د هند په تاریخ کي جګړې او شخړي جاري وې.

د بالي او بهګه تر منځ د توپیر د مسئلې په باب باید یوه بله خبره هم یاده سي.

زموږ د تاریخ پروفیسران خورا زیات کوښښ کوي، چي د دغو دوو تر منځ توپیر همدا رنګه د نورو اجاري مالیاتو د توپیر په ډول وښیي. بالي د مازاد هغه ډېر لرغونی شکل دی، چي مؤلدوونکي ډلي نامؤلدي ډلي ته ور کاوه. دا هغه وخت منځ ته راغی، چي د بدني او دماغي کار منځ وېش را پیدا سو او په دې وسیله ځیني خلګ د ابتدایي کمون له خوا دې ته فارغه سوه، چي موسمونه، آسمانونه او نوري چاري د عمومي ټولنیز منفعت په خاطر وڅاري. دوی ته له هغي ونډې څخه د ژوند لوازم رسېده، چي د کمون له پیداوارو څخه دوی ته

ور پاتېدله؛ دا بالي وه. بالي د کمون هغو ډلو ته هم ور کول کېده، چې جنګيالان وه او يا يې د کمون مشري په غاړه درلوده. د هغه وخت په شرايطو کي دې تادياتو د اجارې (بهرې) شکل نه درلودی.

خو کله چې کمون ړنګ سو، طبقات او دولت منځ ته راغلل، د ښار او کلي، د زراعت او لاسي صنايعو تقسيماتو وده وکړه او ټينګ سوه، نو مازاد په دې شروع وکړه، چې په نوي شکل؛ يعني د بهګه په صورت کي واخيستل سي. دا د هغو اجاري مالياتو نوم وو، چې دولت ته ور کول کېدل، د هغې اجارې نوم وو، چې په غيرمؤلدو واکمنو (فرقو) پوري يې اختصاص درلودی او همدا رنګه د هغي مبادلې دپاره د نامه په توګه استعمالېدی، چې پرته د پيسو له استعماله څخه به د لاسي صنعت او زراعت تر منځ سر ته رسېدله. د مريانو او د هغو د څښتنانو تر منځ د مبادلې مسئله کورټ موجوده نه وه. کله چې فيوډالي کليوالي جمعيت منځ ته راغلی، نو بهګه د اجاري رابطې ثابت او کلاسيک شکل وګرځېدی. پخوانی بالي همدا رنګه د ضميمې په توګه ور سره ملګری سو.

دا چې څه رنګه د دولت او فيوډالي واکمنو (فرقو) تقاضاوي زياتي سوې او شخړو ته ورسېدې، داسي موضوع نه ده، چې دلته نوره هم تر څېړني لاندي نيول کېدلای سي. يوازي دې خبري ته اشاره کېدلای سي، چې که موږ بالي او بهګه په کليو کي دننه د فرقو تر منځ او هم د کليو او دولت تر منځ او ښاري شوراګانو (پورا سبهاګانو – Paura Sabhas) او د پاچا تر منځ په نظر کي ونيسو، نو په هندي فيوډاليزم کي د طبقاتي مبارزې د کلاوې سر پيدا کولای سو، خو البته دا اساس له ياده نه باسو، چې مبارزه د دې دپاره کېده، چې مشترکه مځکه د پاچا د تصرف له يرغلونو څخه محفوظه وساتي.

تر دې شرايطو لاندي نو څوک ستر پاچهان او د خلګو مشران بلل کيږي؟ هغه څوک ستر وه، چي د ړنګېدونکي «دهرما» ساتنه يې کوله، يعني د بالي او بهګه عادلانه او مناسب روابط يې ساتله او خلګ يې له دې څخه ژغورله، چي زيات استثمار نه سي او د بالي، بهګه ملاماتوونکي بارونه پر و نه لويږي او حتى د دوی په دفاع کي يې جنګونه کوله. روحانيونو د ايديالوجيکي تبليغاتو وظيفه اجراء کوله او اولسي جنګيالان د هغو استثمار سوو کسانو وسله‌وال مدافعان وه، چي يوازي غوښتنه يې د هندي فيوډاليزم په هغو شرايطو کي صرف دا خبره کېدلای سوه: «پرېږدی چي «دهرما» بيرته را ژوندی سي او هره فرقه خپله دنده اجراء کړي او خپل مناسب ځای ونيسي او په اجتاعي اورګانيزم کي ونډه واخلي»، که دغه تعادل خراب سي، نو دا به د نړی خاتمه وي.

د دې دپاره چي دغه خبري په دقيقه توګه روښانه سي، نو «سوکرانيتي - Sukraniti» په خپلو قوانينو کي حتى مجبوريت درلودی، چي د هغو بامعاشه رخصتيو او مريضی د رخصتيو د ورځو شمېر وښيي، چي دولت يې بايد خپلو مستخدمانو او مامورانو ته ور کړي. دا هغه راز مقررات وه، چي حتى اوسنيو کاپيټاليستي دولتونو هم په خپلو ابتدايي ورځو کي تر هغه وخته، چي کارګري طبقې پر سر سوک ور کاوه، په کار نه وه اچولي.

زموږ د تاريخ په دغه پړاو کي بايد سوداګر ته هم توجه واړوو، ځکه هغه د هندي فيوډاليزم په انکشاف کي خورا مهم مقام نيولی دی. ده زيار ايستی، چي د امکان تر حده د کليوالي جمعيت پيداوار په «مبادلوي مالونو - Commodities» واړوي. خو هر څونه چي د مؤلدي فرقې له پيداوارو څخه

مبادلوي مالونه جوړېده، هغونه د هغه چا تقاضا زياتېده، چې جنسي بهره يې اخيسته، ځکه دغه بهره يې پر سوداګر باندې په طلا او نورو شيانو مبادله کوله.

خو څونه چې د سواګرو له خوا د تجارتي مال دپاره تقاضا ډېرېده، هغونه په کليوالي جمعيت کې دننه د کار د تقسيم او پيداوارو د عنعنوي تناسب په چارو کې بې‌نظمي زياتېده. له دې څخه نو همدا رنګه په کليوالي جمعيت کې د ثروت د ښکاره نابرابريو او د ټولو ذاتي تضادونو د تشديد مورينه جوړېدله، ځکه نو د سوداګر فعاليتونه د هغه چا نه خوښېده، چې غوښته يې د کليوالي جمعيت اقتصاد په ارامه رشد او ادامه ومومي.

خو سره له دې هم سرمايې خپل نقش ولوباوه، موجوده سوه او وده يې وکړه.

که چا غوښتي وي په هند کې د منځنيو پېړيو د يوه مثالي سوداګر پانګوال هويت درک کړي، نو بايد په «مريچ چاکاتيکا - Mrichchakatika» کې مشهوره «چاروداتا - Charudatta» وګوري.

دغو جرياناتو نو ضرور هغې نقطې ته انکشاف وکړ، چې بورژوا طبقه يې وزېږوله او هغه بورژوازي انکشاف يې منځ ته راوستی، چې زموږ په تاريخ کې جريان لري. دا سلسله مو اوسني تاريخ ته دروي، چې زه نه سم کولای په دې ځای کې يې تر څېړنې لاندې ونيسم.

يو ډېر مهم جهت، چې زموږ د تاريخ پوهان يې بايد د هندي فيوډاليزم د څېړنې په دوران کې تر پاملرنې لاندې ونيسي، هغه لاره ده، چې د مرئيتوب تر ړنګېدو او د «نندايانو» د امپراطورۍ تر زوال وروسته فيوډاليزم د بېلابيلو مليتونو د تشکل

دپاره پرانیستله. د هند د ځینو اوسنیو ملیتونو، لکه «اندهرایانو - Andhras» او مراتیانو منځ ته راتلل او انکشاف داسې ښکاري، چې په دغه او را وروسته زمانو کې سر ته رسېدلی دی.

دا کوم تصادف نه دی، چې هندی فیوډالیزم، د نوي کلیوالي جمعیت او ملیتونو د مبادیو په دغه زمانه کې، چې دوی ټوله د مرئیتوب د سیستم او لویو امپراطوریو د ړنګېدو پر بناء منځ ته راتله، «پراکریتي - Prakrit» ژبې چې د امپراطوریو په دننه کې یې انکشاف کاوه، د تاریخ په صحنه کې را څرګندې سوې او ځانونه یې د پېژندلو ژبو په توګه تثبیت کړه. د دوی ګرامر او ادبیاتو لکه ځنګه چې یې «وراروچي - Vararuchi» او «ګونادهیا - Gunadhya» نمایندګې کوي، په مستقله او پیاوړې توګه یې وده وکړه. سانسکریټ شا ته ووهل سوه او د دربار ژبه یا د واکمنې منورې ډلې غیرعام فهمه ژبه ځنې جوړه سوه، چې د خپلو قوانینو او مذهبي احکامو د تدوین په برخه کې یې کار ځنې اخیستی.

داسې ښکاري، چې د ملیتونو رشد او د پراکریتي ژبو پېژندنې د هندي فیوډالیزم له انکشاف او ودې سره په یوه وخت کې جریان درلودی.

لومړنی پاچهي، چې پراکریت یې د سانسکریټ په مقابل کې د خپلې رسمي ژبې په توګه اعلام کړه، هغه «ستاوهانایان – Stavahanas» وه. دا هغه کورنۍ وه، چې د معلوماتو له مخې خپله منشاء یې له بزګرې جمعیتونو څخه اخیستې وه. دا نو یوه تشه بوالهوسي نه وه، چې هغه سیانه اشوکا هم خپل شاسانا س په پراکریتي ژبه کې وړاندې کړه.

د ملیتونو مسئله او د ژبپوهني مسئله زموږ د تاریخ په دغه مشهوره دوره کي د څېړني دپاره خورا غني مواد لري.

ما دا څو کرښي په دې هیله ولیکلې، چي زموږ مارکسیستي لوستونکي به ښایي د دې موضوع د زیاتي توضیح او څېړني دپاره فرصت لاس ته راوړي. د اوسنی وضع په حال کي، متاسفانه زه نه دا فرصت موندلای سم او نه دا انرژي، چي دغه مسایل نور هم تدوین کړم یا د هغه تاریخ، چي ما په نظر کي درلودی، نور جلدونه ولیکم.

**نوی ډهلی**

**نومبر، ۱۹۵۴**

**ش. اې. ډانګي**

# د لومړي چاپ دپاره مقدمه

د دې کتاب مسوده اساساً د «ییراوادا - Yeravada» په بندیخانه کي د ۱۹۴۲م. کال د اکټوبر له میاشتي څخه د ۱۹۴۳م. کال تر جنوری پوري په دغه زمانه کي منځ ته راغله. ځکه نو لوستونکي به ښایي د موضوع په څېړنه کي ځیني محدودیتونه ووینی.

ما و نه کړای سوای، چي دا موضوع په ټوله لازم تفصیل سره وڅېړم او ما و نه کړای سوه، له هغو ټولو معلوماتو څخه استفاده وکړم او یا یې را وړاندي کړم، چي په لرغوني سانسکریټ ادبیاتو کي په اصلي شکل موجود دي یا اوسنیو پوهانو له دغسي ادبیاتو څخه را خلاصه کړي دي. هیله لرم یو بل څوک، چي تر ما ښه مجهز وي، و به کړای سي، چي زموږ د کارګري طبقې دپاره دغه کار سر ته ورسوي.

ما په هغه وخت کي دا کتاب ولیکی، چي هیڅ مي اراده نه درلوده، چي دغه کتاب ولیکم. دا کتاب د هغه زیات شمېر پوښتنو په نتیجه کي منځ ته راغی، چي د «ییراوادا» په بندیخانه کي زما شاوخوا سیاسي بندیانو په هغه وخت کي له څخه پوښتلې او را څخه غوښته یې، چي جواب ورته ووایم.

د سټالینګراډ جګړه په موج کي وه، د جنګ، سوسیالیزم، طبقاتي مبارزې، د شوروي نظام تفوق او داسي نور مسایل د ورځي حاد مسایل وه. ولي جګړې پېښېږي؟ یو جنګ له بله څخه څه توپیر لري؟ طبقات څه شي دي؟ دولت څه شي دی؟ یو دولت له بله څخه په څه شي کي فرق لري؟ څه رنګه جنګونه د تل دپاره ختمېدلای سي؟ آیا بشریت به تل تر تله یوه دولت او حکومت ته

ضرورت لري؟ آیا د فقر مسئله به څه رنګه حل سي؟ او داسي نور او نور. د یوه لنډ وخت دپاره ما ته اجازه را کول سوه، چي د کانګریس د ګوند له بندیانو سره یو ځای سم. موږ خبري سره وکړې او ما ته څرګنده سوه، تر څو چي موضوع تر ریښې پوري و نه رسوم او د تاریخي ماټریالیزم له نقطه نظره په هندي ټولنه کي د طبقاتو او دولت د منځ ته راتلو یوه خلاصه دوی ته وړاندي نه کړم، تر هغو پوري به دوی قانع نه سي. دوی تنکي زلمیان وه او ډېره علاقه یې درلوده، چي څه زده کړي او په یو څه وپوهیږي.

خو سمدستي ځیني واقعات پېښ سوه او زموږ یو د بله ارتباط د انګرېزي بندیوانانو له خوا څخه وشلېدی.

کله چي له بنده را ایله سوم، نو اروپا ته ولاړم، چي د صنفي اتحادیو د نړۍوالي فدراسیون په کنګره کي ګډون وکړم او د کتاب کار را څخه پاته سو. ورځ په ورځ د کارګري طبقې د مبارزاتو غوښتنو په ډېر زور تبارز کاوه.

هغه وخت چي سردار پټیل د هند د حکومت داخلي غړی وو، د ۱۹۴۷م. کال د جنورۍ پر ۱۴ یې امر صادر کړ، چي د یوې نشریې د خپرېدو په ارتباط د کمونیستي ګوند دفترونه، صنفي اتحادیې، د کمونیستانو کورونه په ټولو کلیو کي تلاښي سي. دغه نشریه چي «Operation Asylum» نومېده، دا خبره یې افشاء کړې وه، چي د انګرېزي حکومت نظامي عملیاتي پلانونه د هندي اولس په مقابل کي جوړ سوي دي. د دغي تلاښۍ په دوران کي د دې کتاب مسوده او یادداښتونه پولیسو له ځانه سره یووړه او غالبه دا ده، چي د سانسکریټ پر اقتباسونو یې دا اشتباه وکړه، چي ښایي دا یوه شفري ژبه وي. خو له ښه مرغه

دا کاغذونه یې بیا وروسته بیرته را وسپارل او بالآخره نو سوال دا دی، چي آیا دا لازمه ده، چي څوک پر یوه داسي موضوع وخت مصرف کړي، ځکه دا حاضر اثر یوازي په لرغوني هند کي د کورنۍ، خصوصي ملکیت، طبقاتو او دولت له مبداء سره اړه لري؟

لوستونکي به ښایي ما وبخښي، که زه په جواب کي د لینن خبري را اقتباس کړم. په ۱۹۱۹م. کال کي، کله چي لینن د دولت په سویردلوف پوهنتون کي محصلانو ته وینا کوله، داسي یې وویل:

«دا مسئله دونه مرکبه ده او د بورژوازي عالمانو او لیکوالانو له خوا څخه دونه ګډوډې پکښې راغلې ده، چي هر چا غوښتي وي، دغه مسئله په جدي توګه مطالعه کړي او په مستقله توګه د هغې په باب کامل معلومات لاس ته راولي، نو باید څو ځله یې انتقاد کړي او بیا بیا پر را وګرځي او دا مسئله له بېلابیلو زاویو څخه تر غور لاندي ونیسي، څو چي د هغې په باب یوه روښانه او واضحه پوهه حاصله کړي. بیا به نو دا ورته آسانه وي، چي دې مسئلې ته رجوع وکړي، ځکه دا یوه اساسي او د ټولو سیاسیاتو یوه بنیادي مسئله ده او ځکه دا نه یوازي په دغسي طوفانو او انقلابي وخت کي، لکه دا اوس وخت، بلکي حتی په ډېرو آرامو وختونو کي به هم تاسي له دې مسئلې سره په هر اخبار کي د هري اقتصادي یا سیاسي مسئلې په ارتباط مخامخ کېږئ.» (د مارکس، اینګلس، مارکسیزم په اړه، مسکو، ۱۹۵۱، ۴۹۱ مخ)

د هغي ګډوډۍ په ارتباط چي د بورژوازي ساینس نمایندهګانو منځ ته راوړې ده، لینن داسي وایي:

«دغه مسئله تر نن ورځې پورې زياتره له مذهبي مسايلو سره ګډيږي؛ دا کار يوازې د مذهبي دکتورين نمايندګان (چې له دوی څخه يې توقع هم طبيعي خبره ده) نه کوي، بلکې حتی هغه خلګ يې هم کوي، چې ځانونه له مذهبي تمايلاتو څخه آزاد ګڼي. دوی زياترهد دولت مسئله د مذهب له مسايلو سره ګډوي او زيار باسي د ايډيالوجيکي فلسفي روش او استدلال په وسيله يو خورا مرکب دکتورين جوړ کړي، چې هغه دا ادعا کوي، چې دولت يو خدايي او مافوق الطبيعه شی دی؛ يعني يو خاص قدرت دی، چې د هغه په موجب انسان ژوند کوي او خلګو ته ور کړه کوي يا خلګو ته هغه شيان ور کولای سي، چې له ځانه سره يې لري او يو داسي شی دی، چې له انسانه څخه ماوراء، خو ده ته له دباندي څخه ور کول سوی دی. يعني يو قدرت دی، چې مبداء يې خدايي بلل کيږي. دا بايد وويل سي، چې دغه دکتورين د استثماري طبقاتو؛ زمينداراتو او سرمايه‌دارانو له منافعو سره دونه نژدې ارتباط لري، دونه يې د هغو آغاګانو، چې د بورژوازي طبقې نمايندګي کوي، په دودونو، نظرياتو او ساينس کي ژور نفوذ کړی دی، چې تاسي به د هغو له نښو سره په هر ځای کي مخامخ سئ او حتی په هغو نظرياتو کي به يې لا تاثير وګورئ، چې منشويکان او سوسياليستي انقلابيان (SR) يې د دولت په باره کي لري او په ډېره کرکه دا خبره ترديدوي، چې دوی د مذهبي تمايلاتو تر تاثير لاندي دي او ځان ډاډه بولي، چې دوی دولت په ډېره درسته طريقه مطالعه کولای سي. په دې مسئله کي چې دونه ګډوډې راغلې ده او پر له پسې پېچلې سوې ده، سبب يې دا دی، چې تر بل هر شي د واکمنو طبقاتو له منافعو سره ټکر کوي (او په دې لحاظ نو صرف د اقتصادي ساينس اساساتو ته ځان رسوي).» (همدغه لوړ کتاب، ۴۹۱-۴۹۳ مخونه)

زموږ منشويکان او سوسياليستان بايد دا خبره ياددابنت کړي!

د دې دپاره چي ځېړونکي دغه مسئله څرنګه وځېړي، لينن وايي:

«د دې دپاره چي د امکان په اندازه دغه مسئله په علمي ډول وځېړو، نو موږ بايد لا اقل د دولت د منځ ته راتلو او انکشاف د تاريخ پر سابقه باندي يو لنډ نظر وځغلوو. هغه څه چي په ټولنيز ساينس کي د پوره ډاډ وړ ګڼل کيږي او په واقعي ډول د دې مسئلې په څېړنه کي د صحيح روش د عادت د حاصلېدو دپاره ډېر لازم بلل کيږي او يو څوک له دې څخه ژغوري، چي د جزئياتو په لويه مجموعه او د مخالفو عقايدو د بېلابېلو ډولونو په ساحه کي لاړ ورکه نه کړي او د دې مسئلې د علمي څېړني دپاره خورا ډېر اهميت لري؛ دا خبره ده، چي بايد د هري مسئلې په اساس کي بنيادي تاريخي ارتباط هېر نه سي او هره مسئله بايد له دې نقطه‌نظره وپلټل سي، چي څه رنګه دغه ټاکلې پديده په تاريخ کي منځ ته راغله او د خپل انکشاف په سلسله تر کومو غټو مراحلو را تېره سوه او هم د هغې د انکشاف له نقطه نظره وپلټل سي، چي نن ورځ څه شي ځني جوړه سوې ده.» (هغه لوړ کتاب، ۴۹۳-۴۹۴ مخونه)

«زه اميد لرم چي د دولت د مسئلې په ارتباط به تاسي د اينګلس له هغه کتاب سره ځان اشناء کړئ، چي «د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء» نوميږي. دا د اوسني سوسياليزم له اصولي آثارو څخه يو اثر دی... (هغه لوړ کتاب، ۴۹۴ مخ)

همدا دليل دی، چي لوستونکي به وګوري، چي دغه کتاب د اينګلس نوموړی اثر د هند په تاريخ کي د هغې موضوع د څېړني په ارتباط په ډېر غور تعقيبوي،

چي متاسفانه اينګلس کافي منابع په واک کي نه درلوده، چي د خپل شانداره اثر د ليکلو په وخت کي ور باندي ورغيږي.

په دې مقدمه کي نه غواړم، هغه منابع ياد کړم، چي ما استفاده څني کړې ده يا له هغه زيات شمېر دوستانو څخه په تفصيل مننه وکړم، چي ما ته يې کتابونه تهيه کړي دي او داسي نور. دا به دوهم جلد ته پرېږدم، که چيري دا ممکنه سوه، چي هغه منځ ته را سي.

**ش. اې. ډانګې**

## سریزه

## د هند په تاریخ کې د څېړنې اوسنۍ لارې

هند د نړۍ د هغو هېوادو له جملې څخه یو هېواد دی، چې په ډېرو لرغونو زمانو کې یې د انساني تمدن مرکزونه جوړ کړي وه. هند د نړۍ د هغو اوو هېوادونو له جملې څخه دی، چې هلته د لومړي پلا دپاره خوراکي نباتات را پیدا سول[٤]، انسان هغه را واخیستل، و یې کرل او خپاره یې کړل.

دا پوښتنه تر اوسه نه ده حل سوې، چې لومړنی انسان چیري له څلوربولو څخه را بېل سو او داسي افزاراستعمالوونکی، د دوو لاسو خاوند، اجتماعي انسان څني جوړ سو، چې له وحشي طبیعت سره یې جګړه کړله، خپل پایښت ته یې ادامه ور کوله او د نړۍ پر مخ خپور سو. د لرغوني انسان د جمجمو او هډوکو بقایا، چې د انتروپولوجۍ پوهانو ته د پخواني انسان څرک په لاس ور کوي، په چین، جاوا، اروپا، افریقا او نورو ځایو کي موندل سوي دي. هغه کسان چي غوښتي یې وي هند ته په همدې وياړ کي ونډه ور کړي، نو ښایي د «سیوالیک[٥]» تپو ته رجوع وکړي، چي هلته پلټني موږ ته د نیم انسان، نیم حیوان برخه را کوي او زموږ دا ادعاء بشپړوي، چي هند د انساني مبداء او تمدن یوه لرغوني زانګو بلل کیږي. هندي تاریخ پوهان دې ټکي ته خاصه توجه کوي، چي زموږ د تمدن لرغونتوب او قدامت اثبات ته ورسوي.

هندي لیکوال او تاریخ پوهان د دې اثبات په سلسله کي په یو جنون اخته سوي دي، چي نه یوازي موږ لرغوني یو، بلکي هر هغه شی چي اوس په نړۍ کي د تمدن د یوې برخي په توګه موجودیت لري، یو وخت زموږ وو او موږ په

---

Cf. N. I. Vavilov, Science at Crossroads٤

Sivalik Hills- F. Boas Anthropology ٥

ساینس، فلسفه، سیاست او نورو کي په ټولو شیانو پوهېدو. که کانت په فلسفه کي غټ شخصیت وو، نو «سنکارا - Sankara» تر هغه لا غټ وو. که شکسپیر په ادبیاتو کي ستر وو، نو زموږ «کالیداسا - Kalidasa» تر هغه لا ستر وو. که تاسي په سیاست کي د روسو اجتماعي قرارداد درلودی، نو موږ هم هغه شان اثر درلودی. موږ طیارې درلودې، د اوسپني لاري مو درلودې، چاودېدونکي مواد مو درلوده او څه شي وه، چي موږ نه درلوده. ټوله شیان مو په هغه وخت کي درلوده، چي انګرېزانو او اروپائیانو د خرسانو پوستونه اغوستل.
دا وروستنۍ مفکوره زموږ د تاریخ پوهانو واقعي سایقه قوه وه. موږ پخوانۍ کلاوي جوړي کړي او خندقونه مو وکښل. زموږ «بهورجاپترا - Bhoorjapatras» او «پاپیري - Papyri» طومارونه وګورئ، چي د هغه خارجي دښمن په مقابل کي مو هم دفاعي وسایل تیارول، چي غوښتل یې موږ د منځه یوسي. خو د هند انګرېزي واکمنو بیا له تاریخ څخه دا استفاده کوله، چي د آزادۍ غوښتني د را پورته کېدونکي نهضت روحیه کمزورې کړي او د خلګو په قیادت کي دا روحي عارضه ور ننباسي، چي د نړۍ د تاریخ، د هغې د قدامت او د هغې د بریالیتوب په مقایسه هند او د هغه خلګ پر هیڅ ګڼل کیږي او هغه څه چي د هند له دغسي تاریخ څخه زده کېده، یوازي دا نتیجه وه، چي دا هیواد او د هغه خلګ په تاریخي لحاظ د دې دپاره پیدا سوي دي، چي تل تر تله د خارجي یرغلګرو له خوا نیول سوي او تر واکمنۍ یې لاندي وي. جغرافیایي موقعیت، اقلیمي شرایطو او کلتور ارو مرو په دغه سرنوشت محکوم کړي یو. د کمبریج د تاریخ د څانګي جدي او مسؤلو تاریخ پوهانو او هم د نورو آثارو[٦] لیکونکو د دغه تیزس تبلیغ کاوه او خپراوه یې. د دې تیزس په مقابل کي زموږ

[٦] Fraster, Introduction to Ancient History

تاریخ پوهان دې اثبات ته وجوړېده، چې د هند تاریخ په واقعیت کې تقریباً د موجوده انسان؛ یعني هغه آریایي انسان له نړیوال تاریخ سره را شروع کیږي، چې نن ورځ په دې خاوره کې مېشته دي او ځو زره کاله پخوا د شمالي قطب[۷] له سیمو څخه را خپور سو او په هند کې یې ټوله هغه ښه شیان تولید کړه، چې انسان کولای سوای او یا به یې له دې وروسته څخه وکړي. ده د خپل ځان د پوپنا کېدو مخه ونیوله. دغه راز تاریخ لیکنه، چې د مبارزې روحیه لري، بې له شکه د انګرېزي قدرت په خلاف مبارزه کې یې خپله فایده درلوده، خو څه رنګه چې دې تاریخ‌لیکنې هندي ناسیونالیست ته یوه ټاکلې روحیه ور کوله، همدا رنګه یې د تېرې زمانې په ارتباط د ارزښتونو یو غلط احساس هم ور کاوه او دی یې واداره کاوه، چې د تېرې زمانې هر شی ولمانځي؛ که څه هم په اوس وخت کې د هغه ګټورتوب ختم سوی وي او یا بالکل په یوه قطعي خنډ بدل سوی وي.

د تاریخ د څېړونکو ښایي د هغو ملیونهاوو کلماتو په لوستلو سات تېر سي، چې د مثال په توګه په دې باره کې د استدلال په ډول ویل سوي دي، چې آیا د «شیواجي - Shivaji» په لاس د «افضل خان» مرګ اخلاقي کار وو او که غیراخلاقي او آیا دا عادي قتل او وژل وه یا هغه ایز قتل وو، چې په جګړه کې پېښیږي. د «جایسوال - Jayaswal» هغه مشهور کتاب، چې «د هندو حکومت» په باره کې یې لیکلی دی، باعث یې دا وو، چې د انګرېز د واکمنې

---

Tilak, Arctic Home in Vedas۷

تیلاک وایي، چې د ده تیزسونو دا خبره ده ته په اثبات رسولې ده، چې: «د یخي د دورو تر منځ د آریایي تمدن او کلتور نوعیت باید تر هغه ډېر لوړ وي، لکه څنګه چې یې په عادي توګه ګمان کیږي. د دې دپاره هیڅ دلیل نه سته، چې ولي ابتدایي آریایان باید د کلتور او تمدن په برخه کې د مصر د ماقبل التاریخي اوسېدونکو سره په یوه درجه کې و نه بلل سي.»

طبقې هغه څرګندوني رد کړي، چې هند د پارلماني ډیموکراټیکو موسساتو دپاره مساعد نه دی او دا خبره اثبات ته ورسوي، چې لرغوني هند جمهوریتونه او «په خپله اداره کېدونکي ډموکراسي ګاني» درلودې. انګرېزان چي د یونان او روم د تمدن د وارثانو په توګه ږغېده، دا ادعاء یې کوله، چي په لرغوني تمدن کي یونان، روم، مصر، فلسطین لومړی مقام درلودی.
دوی دا نه منله، چي «مهابهاراتا» کوم مفهوم او یا واقعیت درلودلی دی یا د هندوانو «ویداګاني» یو تاریخي ریکارډ دی او یا زموږ تاریخ د یونانیانو تر هغې، چي د دوی سکندر د هند ځیني برخي ونیولې، ها خوا ته اوښتلای سي. زموږ منورین ډېر ځورېدله، موږ د Prisse طومارونه نه درلودل، چي خپل قدامت په ثابت کړو، د غزې غوندي اهرامونه مو نه درلودل، چي واقعي ستر ریکارډ جوړوي او هم مو د «اخناتون - Akhnaton» او «توتانخامین - Tutankhamen» مومیایي آثار نه درلوده، لکه د اور او بابل چي زموږ تاریخي سابقه بیان کړي. د یو بېګانه قدرت ارکیالوجیکي شعبې په دې کار کي علاقه نه درلوده، چي زموږ تاریخي آثار کشف سي. د دولت او د هیواد د بډایانو له مرستي څخه پرته په مستقله توګه زموږ تاریخ پوهانو زیار ایستی، چي خپل ځان ته تاریخي آثار را ټول کړي. د پاچهانو مسي قابونه، چي برهمنیانو ته یې سوغاتونه افاده کوله، د کندنکارۍ ډبرین آثار، سکې او لیکني؛ لکه د اشوکا پر ځلو باندي. داسي مدارک د تاریخ پوهانو له خوا څخه را ټول سوه، چي تېره زمانه روښانه کړي. په مذهبي تدریسي کتابو کي نجومي مشاهداتو تاریخي

حافظه حتی تر میلاد دمخه ۳۰۰۰ یا ۴۰۰۰ کالو ته ورسوله. خو د تاریخ په مورد کي اعتبار نه ور کول کېدی.[۸]

څو چي بالآخره یو واقعي ښار، یعني «موهینجودارو» په سیند کي د حفریاتو په وسیله کشف سو او دې پېښي نو حتی اروپایي استادان د دې خبري منلو ته را وستل، چي ووایي، دلته تمدن تر میلاد دمخه ۳۰۰۰ کالو ته رسېدلای سي. موږ نو تر مصریانو، یونانیانو، رومیانو، کلدانیانو او نورو لږ قدیم نه یو! نو موږ یو پخوانی هیواد یو، یو پخوانی اولس یو، د تاریخ او سترو خاطراتو هوښیاري لرو او موږ کولای سو، چي ژوند وکړو، مقابله وکړو، وپائیږو او وړاندي ولاړ سو.

دا له امکانه وتلې ده، چي زموږ د تاریخي ادبیاتو د رشد یوه کتنه سر ته ورسول سي او زموږ د زیات شمېر منورینو بې‌حسابه فداکاری بیان سي او زموږ د تاریخي سابقې یو مرتب داستان منځ ته را سي. د «تیلاک»، «راجوید - Rajwade»، «رانید - Ranade»، «جایسوال»، «پایوګي - Paogi»، «کونتي - Kunti»، «بهاندرکار - Bhandarkar»، «کیلکار - Kelkar» او زیاتو نورو کسانو آثارو د «یو څو اروپائیانو په شمول هم» چي فهرست یې دلته ناممکن دی، په دې مورد کي ډېر کار سر ته ورساوه، چي د هند د تاریخ عمومي کرښي یې وټاکلې. ځیني اومه مواد چاپ هم سوه، خو د دغو موادو زیاته برخه د یوه مقصد دپاره را وړاندي کېده او هغه دا چي د هند د تاریخ په باره کي له هغه نظره سره مقابله وسي، چي اروپایي (انګرېزي) لیکوال ور کړی وو. په دې

۸ د تیلاک د «اوراین - Orion» په نامه اثر وګورئ. همدا رنګه د «دیکسیټ – Dixit» هغه اثر وګورئ، چي «Vedanga Jyotish» نومیږي. هغو مباحثاتو ته مراجعه وکړئ، چي د بهارت د جګړې او د ویداګانو د نېټې په باره کي د ډېرو مؤلفانو له خوا څخه سر ته رسېدلي دي. اروپایي لیکوالو د ویداګانو دپاره هغه بېخي قدیمه نېټه ۱۵۰۰ق.م. او د بهارت د جګړې دپاره ۱۰۰۰ق.م. ټاکلې ده. له بله پلوه بیا د سومري، مصري او نورو لرغونو تمدنو دپاره ۶۰۰۰ او ۴۰۰۰ق.م. تر منځ زمانه ټاکل سوې ده.

ترتيب نو د تاريخ ليکنه د ملي مبارزې يوه وسله وه او د نونسمي پېړۍ په دوران کې زموږ ليکوالو په هدفي ډول دغه وسله په کار اچوله.
تاريخ نو د دوی په نظر کې د هغسي مړو واقعاتو يا حقايقو ساده کشف نه ګڼل کېدی، چې په پخوا کې نه وه موندل سوي او که موندل سوي وه، نو بيا صحيح استفاده نه څني کېدل. تاريخ د حقايقو يو داسي بې‌فايدې کشف نه بلل کېدی، چې هيڅ د علاقې وړ نه وي. دا هغسي حقايق وه، لکه يو اردو غوندي چې په جګړه کې د دفاع دپاره تر صف‌بندۍ لاندي را ځي. په دې کې شک نه سته، چې دا حقايق وه، خو په داسي توګه مطرح کېدل، چې له دښمنه سره جګړه په وسي.
افضل خان ووژل سو، دا يو حقيقت وو، خو خبره دا وه، چې دا حقيقت په خپل مورد کې په صحيح توګه تشريح سي او د انګرېزانو په شان هغسي دلايل و نه ويل سي، چې «شيوا جي» يو خاين سړی وو او نو ټوله مراتيان خاينان وه او د دوی اخلاقي اصول ناکاره وه. د «اشوکا» څلی يو حقيقت وو او دا هغه عصر را ښيي، چې دوه زره کاله پخوا موږ دغسي عالي فضايل تبليغوله او په يوه دغسي پاچهۍ کې مو ژوند کاوه. او پنځه زره کاله پخوا «موهينجودارو» حمامونه، تعميراتي خښتي او يو ښار درلودی. نو دا مه واياست، چې موږ دمخه تر هغه چې تاسي (انګرېزان) را سئ، موږ ته ښوونه وکړئ؛ تمدن مو نه درلودی او يا مو هغه بې له تاسو څخه بيا منځ ته نه سوای را وستلای.
د نولسمي پېړۍ په آواخرو او د شلمي پېړۍ په اوايلو کې د تاريخ ليکنه زموږ د پوهانو يوه آيډيالوجيکي وسله وه، چې په هغه مبارزه کې يې کار څني اخيستی، چې هندي ناسيوناليزم د امپرياليستي قدرت په مقابل کې سر ته رسوله.

دې تاريخ ليکني د قدامت، د نسبي سلسلې، د عقل د لرغوني استعدادونو پر اساس د خپلواکۍ غوښتنه کوله او خپلو لوستونکو ته يې دا الهام ور باخښه، چې د يرغلګرو سره مبارزه وکړي او د هغو په وړاندي بې‌زړه نه سي او لکه موږ چې د پخواني تاريخ په دوران کي وو، هغه شان په خپل پايښت او بري باندي ډاډه ولرئ.

د تاريخ دغسي يو نظر پرته له دې چې د خارجي يرغلګرو په مقابل کي يوه خاصه روحيه او ډاډ منځ ته راوړي، بل کوم لوري ته يې لارښوونه نه کوله.

دلته نو يو ځوک بايد دا پوښتنه وکړي: دغو منورينو د چا نمايندګي کوله او چا ته يې دا زيار ايستی، چې دغه روحيه او ډاډ ور کړي؟

دا د تاريخ يو حقيقت دی، چې د لومړي نړيوال جنګ د را وروسته زمانې د بحران تر وخته پوري لا د خلګو ستري پرګني د انګرېزي قدرت په مقابل کي د انقلابي غورځنګونو مرحلې ته نه وې را رسېدلي. هغه منورين چې ملي نهضت يې رهبري کاوه، د ۱۹۰۵م. کال د بحران تر وخته لا پرګنو ته نه وه ورغلي، چې د مبارزې فکر يې زړه ته ورولي او د دغه مقصد دپاره دوی ته شعارونه ور کړي. د وړې بورژوا طبقې قيادت او د ليبرال بورژوا طبقې منسوبينو، چې د خپلو تاريخي ليکنو په وسيله يې څرګندوني کولې، فقط د تحت الحمايه دريځ (Dominion Status) په باب يې خپل مرامونه تدوينوله؛ يعني خپله دا ادعاء او خپل دا اهليت يې ښکاره کړی، چې د واکمني امپرياليستي بورژوا طبقې دريځ ته ور جګ سي، چې د هغو سره يو شان ته برابر اقتصاد، پارلماني ډموکراسي او داسي نور ولري.

د هندي تاريخ دغه راز تعبيرونه چې د منځ ته راتلونکي بورژوا طبقې او د هغې د منورينو له خوا څخه د دې مطلب دپاره په کار اچول کېده، چې په تاريخي

ډول خپله طبقه او خپل ملي هدفونه اثبات ته ورسوي او را وړاندي يې کړي؛ په ډېر وضاحت د دغي زمانې د هغو يو شمېر آثارو او ليکوالو له مخي څخه څرگنديږي، چي د همدغه وخت نمايندهگي کوي. د هند بورژوا طبقه لا تر اوسه د خپلو اهدافو په نسبت يوه واحد درک ته نه وه رسېدلې او همدې سطحي ته يې وده نه وه کړې. د دې طبقې کمزوري، تضادونه او متضاد سياسي مرامونه د دوی په تاريخي ليکنو کي هغه وخت را سربېره سوه، چي اساسي مسئله، يعني د انگرېزي قوت په مقابل کي د سياسي مبارزې د مېتودونو او مرام مسئله منځ ته راغله. هري ډلي د نن ورځي د خواری او ځوړتيا په مقايسه د هند د قدامت، نسبي سلسلې، د هغه د لرغوني ثروت او پوهي په باره کي پر تاريخي نتايجو باندي اتفاق سره درلودی. خو کله چي دا مسئله منځ ته راغله، چي د کومي تاريخي دورې له جبهخانې څخه کومي اجتماعي او سياسي وسلې موږ بايد په اوسنۍ مبارزه کي تر استفادې لاندي ونيسو، نو بورژوا طبقه او د هغې منورين پر بېلو ډلو سره ووېشل سول او يو د بله جلا سوه. د لرغوني تاريخ په باره کي د دوی ظاهري يووالی ټوټه ټوټه سو. تاريخي حقايق، شخصيتونه او دورې له سره تر نوي درک لاندي راغلې او ليکني ور باندي پيل سوې.

لومړی دا چي: د امپرياليزم په مقابل کي د مبارزې پرابلم ته د هري بورژوازي ډلي د خپل خاص تقرب په اساس د هغې له سياسي مرام سره سمي ليکني کېدلې او دوهم دا چي: د هيواد د ميليونهاوو استثمار سوو کسانو په نسبت، چي هغوی هم د خارجي امپرياليستي بورژوا طبقې او هم د ملي بورژوا طبقې لاس تړلي مريان وه، د استثماري طبقې د سلوک سره سم، چي په هند کي له زمينداره بورژوا ترکيب څخه جوړه سوې وه، دغه راز ليکني سر ته رسېدې.

د انګرېزي تسلط سره د مبارزې د مېتود او مرام د پيدا کولو پرابلم دا مسئله منځ ته راوړه، چې انګرېزان ولي په دې بريالي سوه، چې مغولان او په تېره بيا هغه مراتيان مات کړي، چې يوازي د همدوی سره بايد انګرېزان دې ته مجبوره سوي واى، چې د هند د نيولو دپاره نهايي سخت جنګونه سر ته ورسوي. تر انګرېزانو دمخه د هند غښتلي فاتحان مغولان وه، چې مراتيان د «شيوا جي» په قيادت بريالي سوه، هغوی ته ماتي ور کړي. نو مراتيان بيا ولي د انګرېز په مقابل کي ناکامه سوه؟ ولي دوی د مغولانو په مقابل کي کاميابه سوه؟ د دغو دوو پوښتنو جوابونه نو ښايي د دې دپاره کافي ګڼل کېده، چې له دې نوي فاتح څخه د آزادۍ د لاس ته راوړلو نوي لاري او وسايل وښيي. د تاريخ ليکوال نو په ډېر قوت او طاقت په دې مسايلو کي ور غوته سوه. د مراتيانو-مغولانو روابط لا تر اوسه د انسانانو په اذهانو کي تازه وه او د اجتماعي واقعيت يوه برخه يې جوړوله، چې د منځنۍ طبقې منورينو او بورژوا ناسيوناليست مطبوعاتو ډېره توجه د دې پرابلم مباحثاتو ته واړوله.

د موادو قلت او د خارجي واکمنانو ممانعت حتى تاريخي څېړني تر ډېري اندازې له انکشاف څخه را ګرځولي وې. واکمنو مقاماتو له دې څخه ډډه کوله، چې د «مراتا» د دربارونو د اسنادو آرشيفونه د تاريخ د څېړونکو د مطالعې دپاره پرانيځي. د مراتيانو او مغولاتو پر کنډوالو باندي پاته شاهانه کورنياني، چې نوو باداراو ته وفاداري وې او له دې څخه ډارېدې، چې خپله ناروا واکمني به له لاسه ور کړي، له دې څخه يې انکار کاوه، چې د خپلو اسنادو آرشيفونه پرانيځي. غټو فيوډالي زميندارانو او خانداني اشرافو له تاريخ پوهانو څخه ډډه کوله. څه رنګه چې دغه درې سره ډلي له دې څخه ببرېدې، چې په خپلو الماريو کي يې سکليټونه ودرول سي، له دې څخه يې هم ډار کاوه، چې خلګ

د دوی د تېري زمانې په اسرارو وپوهيږي. خو سره له دې هم د څېړونکو د کار ادامې دا نتيجه ور کړه، چي يو څه مواد تهيه سي. بيا نو واقعي لانجې او شخړې شروع سوې.

ډېره زمانه پخوا تر هغه چي هندي ليکوال د کوم تاريخ په باره کي ورغيږي، انگرېزي ليکوالو له هغو موادو څخه په استفاده چي د دوی د اشغال او لوټمارۍ په دوران کي په مخه ورتله، وختي لا د هندي تاريخ په باره کي ځيني آثار منځ ته راوړي وه. «الفينسټون - Elphinstone»، «گرانټ ډف – Grant Duff»، «بريگز - Briggs»، «تاډ - Todd»، «مورلينډ – Moreland» او نورو خپل آثار ليکلي وه، چي د هغو په اساس نړۍ وختي لا د هندي تاريخ په باره کي معلومات حاصل کړي وه.

هندي ليکوال چي تر دوی وروسته را پيدا سوه، مجبوره وه، و دې ته شروع وکړي، چي د هندي واقعاتو او تاريخ په باره کي د هغو له تحريفياتو، غلطو تعبيراتو او ادراکاتو سره مجادله وکړي. خو کله چي خبره دې ځای ته ورسېده، چي د خپل نظر ټکي را وړاندي کړي، نو نتايج يې نه له گډوډۍ څخه او نه له ډېري غوړه‌مالۍ څخه خلاص سوه. دوی ځيني داسي نتايجو ته لارښوونه وکړه، چي ليبرال بورژوا طبقې وروسته زيار وايستی، چي د راتلونکي دپاره له هغو څخه د خپل مرام په توگه استفاده وکړي.

که هغه څو جلدي تحقيقاتي خيروني يوې خوا ته پريږدو او يوازي يو شمېر هغه آثار را واخلو، چي د نورو نماينده‌گي کوي، نو مور په آسانۍ سره هغه نظر مشاهده کولای سو، چي بورژوازي منورينو له هندي تاريخ څخه واخيستی او داسي گومان کېدی، چي دا نظر به د نوي دښمن سره په راتلونکو جگړو کي دوی ته لارښوونه کوي.

«ایم. جي. رانید» چې د بمبئي د ستري محکمې رئیس وو، هغه کتاب یې ولیکی، چې «د مرانا د قدرت ظهور» نومېدی او هلته یې زیار وایستی، هغه عوامل وښیي، چې د «شیوا جي» تر مشرۍ لاندې یې د مراتا پاڅون بري ته ورساوه. په ۱۹۱۸م. کال کې د «پیشوایانو - Peshwas» د سقوط د سلمې کالیزې په مناسبت د لیبرالي مکتب مشهور مقاله لیکونکي او عالم «این. سي. کیلکار» په دې نامه لیکنه تهیه کړه، چې «مراتیان او انګرېزان» نومېږي او په هغه کې یې کوښښ وکړ، هغه برې تحلیل کړي، چې انګرېزانو د مراتیانو په مقابل کې لاس ته راوړ. «وي. کې. راجوید» په «پاني‌پت» کې د مراتیانو د ماتې، د «شیوا جي» د پاڅون د سوقیاتي قواوو، د فرقوي شخړو او د مراتي دربارو د شخصي دسیسو او د انګرېزانو د نظامي مهماتو او تکنیکي چارو او نورو د څېړنو پر موادو باندې څو جلده آثار ولیکل. میجر «باسو - Basu» «په هند کې د مسیحي قدرت ظهور» په نامه کتاب ولیکی. همدا رنګه د ۱۸۵۷م. کال د خپلواکۍ د جګړې په باره کې یو شمېر آثار منځ ته راغله. هغه نتایج چې له دې ټیپیک لیکوالو څخه هر یو ور ورسېدی، ښایي موږ ته هغه طریقه را وښیي، چې تاریخ په څه ترتیب د هیواد د را پاڅېدونکو منورینو تر درک باندې راتلی او دا هغه نتایج وه، چې د راتلونکو جګړو دپاره یې لاره ښووله.

رانید د شپاړسي او اولسمي پېړیو روحانیون او د هغو ډلي د مراتیانو د پاڅون اساسي محرکین بولي او هم د دوی مذهبي جذبه او د هندوانو د ټولني پر فاسد سوي رایج روحانیت باندې حمله د دې پاڅون په عواملو کې شمېري. ده مذهب ته د تاریخ د محرکي قوې په سترګه کتله او د دغي زمانې د «بهکتي - Bhakti» مکتبونه یې د هغه اروپایي ریفورمېشن له نهضت سره یو شی بلل، چې د کاتولیزم په مقابل کې را پیدا سو او ور پسې یې په اروپا کې نوي دولتونه

او ټولنه منځ ته راغله. البته په هند کي دا لازمه وه، چي له دې پروسې سره د یوه دغسي نابالغه مشر لکه «شیوا جي» غوندي له خوا څخه مرسته وسي. «راجوید» او نورو هم مذهب محرکه قوه ګڼله، خو د شخصیتونو (لکه رامداس یا شیواجي او نورو) په نسبت یې، چي هغوی د یوه ملت د دغه سردوباره ژوند ممثلان او نماینده‌ګان وه، اختلاف سره درلودی. د مراتیانو خاص نبوغ چي مظهر یې هغه شی وو، چي ده «مهاراشترا دهرما – Maharashtra Dharma» باله، همدا رنګه د تاریخ د محرکو قواوو له جملې څخه ګڼل کېدی. خو کله چي خبره دې ټکي ته راغله، چي د انګرېزانو له خوا څخه د ماتي دلایل کشف سي، نو عجیبه خو دا ده، چي دلته د مذهب ناکامي د زوال عمده علت نه بلل کېدی. امکان لري د دې خبري سبب دا وو، چي انګرېزان په دې عقیده نه وه، چي د هغو مسیحي‌توب او د دوی د خدای توفیق هغه قوه وه، چي دوی یې په حرکت را وستل او هند یې د دوی په لمن کي ور واچاوه.
کیلکار بیا وایي، اصلي عوامل دا وه، چي هغه پیوندوونکي عنصر موجودیت نه درلودی، چي ملي وطن‌پرستي نومیږي او له هغه انفرادي جداییتوبه سره زیاته مینه موجوده وه، چي د مراتیانو ممیزه یې تشکیلوله. انګرېزانو بیا بالعکس د دې مقابل خواص درلوده او نو ځکه بری یې وګاټه. خو د دې خبري په تشریح کي چا زیار و نه ایستی، چي د اولسمي او اتلسمي پېړیو په دوران کي ولي هغه فضایل د انګرېزانو په منځ کي را څرګند سوه، چي په ښکاره توګه د دوی خپل تاریخ موږ ته را ښیي، چي دا فضایل یې په پخوا کي نه درلوده. د «باسو» پنډ اثر چي په تحمیلي سبک لیکل سوی دی، د انګرېزانو بری دې ته منسوبوي، چي په هند کي صداقت پر یوه مخ درک نه درلودی، له خیانت او فساد څخه زیاته استفاده کېده او دا هغه مسایل وه، چي له بده مرغه هندي واکمنانو مقابله

نه سوای ور سره کولای. په دې ډول نو د تاریخ ټوله حرکت د انسانانو د افکارو؛ یعني د سیاست‌مدارانو او مشرانو د فضایلو او رذائیلو په وسیله اداره کېدی. میلیونونه زیارکښ خلګ او د پېړیو په دوران کې د دوی تاریخي مارش له یوه مخه ټوله د تمایلاتو او تعصباتو؛ یعني د قهرمانانو، «ګوروګانو - Gurus» او تاریخ د «اوتارانو - Avatars» د اخلاقي افکارو او مذهبي عقایدو تابع معلومېدی. ځینو کسانو بیا د تاریخ محرکي قواوي په نادرو شخصیتونو کې لټولې او ځینو بیا د دغه یا هغه فرقې او نژاد په ذاتي مشخصاتو کې ګڼلې.
خو دا چې څه رنګه دغه افکار، ارزښتونه، اخلاق او عقاید د مځکې پر مخ منځ ته راغله، وده یې وکړه او غایب سوه او بیا بیرته له سره را وزېږېده او ولې په یوه هیواد کې د افکارو یوې سلسلې په بل هیواد کې کټ مټ هماغه شان افکار مغلوب کړه، ټوله داسي پېښې د چانس، تصادف او قسمت خبري ګڼل کېدې. نو ټولنه په نهایت کې داسي شی بلل کېده، چې امید نه کېږي، تر پلان لاندي را سي او خپل حاضر یا آینده حالت تر کنټرول لاندي راولي.
زموږ هغه تاریخ پوهان چې دغه لاره یې پالله، صرف د خپلو خارجي استادانو تقلید یې کاوه او د هغوی د زده‌کړې په محصولاتو روزل سوي او د هغو په نظریاتو یې دماغونه ډک وه. دوی د «کارلایل»، «بورکه»، «بینتام»، «ګرین» او «هیګل» پیروان او شاګردان وه. د تاریخ په باره کې هغه ایډیالیستي او فاتالیستي نظریات، چې د بورژوا طبقې دغو فیلسوفانو د خپل هیواد د تاریخ په نسبت په کار اچولې وه، زموږ تاریخ‌پوهانو را واخیسته او کټ مټ یې په هغو شکلونو زموږ د تاریخ په مورد کې په کار واچول. د هند دغو عالمانو له دې څخه نفرت نه کاوه، چې د خپلو فاتحانو د مکتبونو له جملې څخه د تاریخ بورژوازي ساینس ومني، ځکه د هند ټولنه په خپله اوس د ټوټه کېدو په حال کې وه او د

فاتحو امپرياليستي هيوادو د بورژوا طبقې له فکره سره سم په نوي طرز جوړېدله.
لکه څنګه چې مو وړاندي وويله، د انګرېزانو زمانې ته ور څېرمه، دمخنيو جرياناتو دا نتيجه و نه ښندله، چې منځ‌ته راتلونکې بورژوا طبقه او د هغې منورينو ته يو سياسي او اجتماعي مرام په لاس ور کړي. هغه کسان چې د هر شي ملامتيا به يې پر پرګنو باندي په دې عقيده وه، چې د دوی د خرافاتو او محدودو فرقوي احساساتو تدبيرونه د هيواد د بيا سمون دپاره اساسي شرايط ګڼل کيږي. هغه کسان چې فيوډالي نفاق او بېلتون يې د ماتي علت ګاڼه، د داسي متحدي ملي وطن‌پرستۍ غوښتنه يې کوله، چې د فيوډالي خانداني افتخاراتو او منافعو تر حدودو اوچته وي. خو پرګنې مړې ختمې ګڼل کېدې، چې د فهرمان، قايد يا د تاريخ د «اواتار» د افکارو او اعمالو په وسيله قالب ته لويږي او ژوند پيدا کوي او پرته له دې چې اعتماد، اطاعت او پيروي وکړي، بل نقش نه لري.
حتی فرقوي ډله‌ييزي شخړي د تاريخ له مخي په اثبات رسېدې. غيربرهمني ګوند ادعاء کوله، چې برياليي مراتيانو هغه وخت ماته وخوړه، چې برهمنانو يعني «پيشوايانو» يې مشري کوله، نو ځکه هر سياسي قيادت چې برهمنيانو لاس پکښي درلودی، تر بدګمانۍ لاندي راغی. «کايسيتهايانو - Kayasthas» له برهمينانو سره جنګ کاوه او برهمينانو د دوی په مقابل کې د سانسکريټ له فيلالوجۍ څخه د يوې وسلې په توګه استفاده کوله. کړېدلو او ځپلو فرقو (Scheduled Castes) چې خپل مرام تدوين کاوه، نو يې هغه د «ګوريګان –

«Koregon[9]» په جګړه کې له خپله نقشه څخه را شروع کاوه او د «منوسمریتي» یعنې د هندو د فیوډالي نظام د اجتماعي – سیاسي کود په غندنه یې پای ته رساوه.
تېر تاریخ نو په دغه ترتیب د دې مقصد دپاره لوستل کېدی، چې د سیاسي ګوندو د مرام د جاري شعارونو سره مرسته وکړي او اثبات ته یې ورسوي. د تېر تاریخ فتوحات او ماتې داسې ګومان کېدې، چې له جاري حالته سره مرسته کوي. له دې څخه نو ښکاري، چې تاریخ څه رنګه د بورژوازي منورینو له خوا څخه د خپل مطلب دپاره او په یوه خاصه متمایله طریقه مطالعه کېدی او په دې تاریخ کې په میلیونهاوو پرګنو، پرته له دې چې د دغه یا هغه قهرمان دپاره زیار وباسي او جنګ وکړي، بل نقش نه درلودی.
خو د تېر تاریخ په څانګه کې زموږ بورژوازي فیلسوفانو او د معاصر تاریخ بورژوازي مشرۍ ته ژر ور معلومه سوه، چې دوی یو او بل ته ډېر کومک نه سي رسولای. د دې دوران سیاسي او اجتماعي واقعیتونه؛ یعنې غورځنګونه بالکل په تاریخ کې نوي جریانونه وه، چې د پخوانۍ زمانې تجربې هغه نه سوای تشریح کولای. «بابر» او «اکبر»، «شیوا جي» او «پیشوایانو»، د شپاړسي او اولسمي پېړۍ د وختو روحانیونو او «سادهوګانو - Sadhus» د دوی سیاست او ټولنې، د «ویکتوریا»، «پامرستون»، «چرچل» او «وای. ایم. سي. اې - YMCA» (Young Men's Christian Association)، «تیلاک» او «ګاندي» یا د نولسمي او شلمي پېړۍ د «مارکس»، «لنین» او «ستالین» سره کومه مشترکه وجه

9 ګوریګان د هغه ځای نوم دی، چې هلته «پیشوایان» له انګرېزانو سره وجنګېده او ماته یې وخوړه. د انګرېزانو د «مهر – Mahar» لواوې په دې جګړه کې یوه غټه قوه وه او په دې جګړه کې د انګرېزانو بری همدې قوې ته منسوبیږي.

نه درلوده، نو تاریخ چیري کولای سوای، چي د بخار د انجن او ټیلیگراف، نړیوال بازار او بحران، اعتصابونو او انقلاب په وړاندي د خپلو جوړوونکو سره مرسته وکړي؟

رشتیاني زړه‌ورو پروفیسرانو داسي چا ته ضرورت نه درلودی، چي زیار یې ایستی د بانکي چارو پوهنه او د ګټي نرخ په «ریګویدا» کي کشف کړي، د پارلماني رایي ور کولو چاري په «بودا ویهاراس – Buddha Viharas» کي، د «کارتل - Cartel[10]» او اتحادیو خبري په «چانکیه - Chanakya» کي او داسي نور په نورو کي وپلټي. خو اجتماعي، سیاسي واقعیت پر دغسي کوښښونو باندي خندله. زموږ د دوران خورا غټ جهان شموله کاپیټالیستي صنعتي انقلاب داسي شی وو، چي په تاریخ کي هیڅ چیري پخوا چا اورېدلی نه وو؛ په ټوله نړۍ کي د بورژوا طبقې تلاښ، چي بازارونه ونیسي، اومه مواد لاس ته راوړي، سرمایه ولګوي او ستري ګټي په جیب کي واچوي؛ نړۍ ته یې د لومړي پلا دپاره د یوه واحد هویت بڼه ور کړه.

اوسني امپریالیزم او د هغه فتوحاتو بالکل د «سکندر»، «بابر»، «چنګېز خان» او مراتیانو له هغې څخه توپیر درلودی. د لرغونو او منځنیو پېړیو زیارکښو پرګنو همدا رنګه زموږ د دوران د نړیوالي پرولتاري طبقې د پیاوړو فعالیتونو خوب هم نه سوای لیدلای، چي له هغې څخه به واکمنه طبقه جوړه سي او نړیواله ټولنه به د تحول په اساس د خوارۍ له حالته را وباسي او تل تر تله به د پرېمانۍ په حالت کي ژوند کوي.

بالکل، نوي قواوي، نوي طبقات او نوي خلګ منځ ته راغله، چي د هغو د لاربښووني او د هغو د پېژندني دپاره د هندي او خارجي بورژوازي مؤرخانو د

10 کارتل د نرخونو او تولید د کنټرول یو انحصاراتي اتحادیه ده.

تاریخ ساینس کوم قوانین نه سوای تهیه کولای. هغه سیاسي تاریخ چي زړو مؤلفانو مطالعه کاوه، د لومړي نړی‌وال جنګ تر بحران وروسته، چي هند د نړی‌وال انقلاب مدار ته را کښېوتی او د هغه هیواد زیارکښو پرګنو د ډموکراټیک انقلاب بیرغ پورته کړ، نور یې نو په ملي- سیاسي مبارزاتو کي د یوې ژوندۍ لارښوونکي موضوع په توګه کار نه سوای ور کولای او خاتمه یې وموندله.

د هغو آثارو په مقایسه، چي د نولسمي پېړۍ په اواخرو او د شلمي پېړۍ په اوایلو کي خورا ډېر منځ ته راغله، د تېرو شلو کلو په دوران کي د هند د تاریخ په باب کوم مهم اثر منځ ته نه دی راغلی.

د دې پر ځای چي د تاریخ په باره کي یوه صریحه علمي او انقلابي پوهه ولري، ړانده خلګ په داسي حال کي چي صرف سراسیمه وه او د تاریخ مذبذب اجمالي معلومات او د هند د تېر عظمت په باره کي د حسرت احساسات ور کول سوي وه، په دې فکر وه، چي دوی یو نظر حاصل کړی دی.

د تاریخ په باره کي د کار جریان پر یوه مخ خاتمه نه وه موندلې. ځیني تاریخ پوهان او تاریخي مؤسسات موجود وه، چي د څېړني او تشریح په باب د موادو د را ټولولو په وظیفه لګیا وه. خو دې ضرورت، چي د تېر تاریخ له مخي څخه د امپریالیزم په مقابل کي د مبارزې الهام او مرام لاس ته راوړل سي، د محرکي قوې په توګه یې خاتمه پیدا کړې وه. هغه ملي تحریک چي بورژوا طبقې رهبري کاوه، د «اساسي قانون پر اساس د غوښتنو» خپل سیاسي مرام یې منځ ته راوړی وو او هم یې د آزادۍ خپل اقتصادي مرام جوړ کړی وو، چي «ملي صنعت» ته په خپله د امپریالیزم سره د اشتراک په سلسله انکشاف ور کړي. په

دې ساحه کې نو ایرلنډي، امریکایي او انګرېزي تاریخ پوهان د «اشوکا» تر فرمانو او د «اکبر» یا «پیشوا» تر دفتر هغه تحریک ته ډېر په کار ورتله.
بې‌وزله څېړونکي عالمان چې د حکومت له حمایې یا د خپلې نوي بورژوا طبقې له توجه څخه محروم وه، په ډېر تکلیف یې د ژوند چاري مخ ته وهلې.
خو سیاسي تاریخ که په خپل نفوذ کې کمزوره سوی وو، اما نوو اوضاعو چې د امپریالیزم له بحرانو او له بورژوازي ناسیونالیزم څخه یې انکشاف را کړی وو، په تاریخي څېړنو کې یې دا ایجابوله، چې یو بل لوری په مخه واخیستل سي.
دا نو اوس اجتماعي تاریخ وو، چې په اجتماعي اقتصاد او سیاسیاتو کې یې د طبقاتي روابطو پوښتنه، یعني د اجتماعي انقلاب دپاره د کُلي نهضت هغه پوښتنه منځ ته راوړله، چې د بورژوا طبقې او د هغې د منورینو توجه یې ځان ته اړوله.[11]
سیاسي تاریخ چې د امپریالیزم سره یې مقابله کوله، خپله وظیفه یې سر ته رسولې وه، یعني د یو داسي عمومي ملي شعار منځ ته راوړل وه، چې د تاریخ د انګرېزي او اروپایي فیلسوفانو د ایډیالیستي وسایلو په ذریعه د هغه د تدوین کار ډېر آسانه وو. هند یوه لرغونې مځکه وه، چې د پېړیو په دوران کې یې خپل یو بډای اقتصاد، خپل قهرمانان او پاچهان، خپلي جګړې او خپل اساسي قوانین درلودل. دا هیواد باید دغه شیان بیا هم ولري.

۱۱ په هند کې نژاد او فرقه د دولت منشاء، د ازدواج تاریخ، په لرغوني هند کې تعلیم، بانکداري، قانون او مالیات، د مهابهاراتا په وختونو کې ټولنیز تشکیل، لرغونې سوداګري او صنایع، د عربو او هندوانو تر منځ کلتوري اړیکي او داسي نور آثار وګورئ، چې د زیات شمېر داسي مؤلفانو له خوا څخه کښل سوي دي، لکه:
Beniprasad, Dutta, Churye, Altekar, Bhargava, Rajwade, Ghosa, Vaidya, Fick

هند زيار ايستی، چي خپل نوي صنايع او زراعت، خپل نوی کلتور او ملي‌توب ودان کړي. امپرياليستي واکمنه طبقه بايد د دې هيواد مخه و نه نيسي. خو څه رنګه چي هغه يې مخه نيولې وه، نو بايد وه، چي په نوې طريقه مبارزه ور سره وسي.

نوې طريقه دا وه، چي د دې هيواد ټوله خلګ چي له مشترک دښمن يعني انګرېزي يرغلګر سره مخامخ کيږي، بايد سره متحد سي، تر هغو پوري چي خارجي امپرياليستي واکمني را نسکوره نه سي، هيڅ‌څوک د نېکمرغۍ څښتن کېدلای نه سي. هر سړي او په دې خاوره کي هري علاقه‌مندۍ دا حق درلودی، چي د انګرېز ضد سي او نو ځکه انګرېز بايد ووځي. له دې جهته نو ټوله منافع او ټوله خلګ بايد يو هدف او يو شعار ولري: يعني ملي آزادي چي امپرياليستان را نسکوره کړي! کله چي آزادي تر لاسه کړي، نو ټوله خلګ يعني کارګران، بزګران، منځنۍ طبقه، سرمايه‌داران، زمينداران او د دې مځکي هر وګړی به زموږ تر خپلي ډموکراسۍ لاندي خوښ او آزاد وي.

خو د دې دپاره چي له دغه بې‌رحمه دښمن څخه آزادي لاس ته راوړل سي، نو بايد داسي قواوي موجودي وي، چي ځان جګړې ته ور واچوي او د خپل سر او مال قربانۍ ته حاضر سي. خو دغسي قواوي نو چيري وې؟ منورينو او بورژوا طبقې دا استدلال کاوه، چي هر هندی د مذهب، فرقې، جنس، طبقې او کار و کسب له توپيره پرته ضدامپرياليستي او آزادي‌خوښوونکی دی او هم بايد وي او نو ځکه فداکارۍ ته چمتو دی. په دغه دليل نو د پرنسيپ له مخي د دې هيواد هر اوسېدونکی يو انقلابي قدرت ګڼل کېدی، ځکه خارجي امپرياليزم هر چا ته زيان رسولی وو او د هر يوه په تاوان وو.

د هند زیارکښو پرګنو د یو څه وخت دپاره دغه استدلال مانه، چې ملي‌توب تر ټولو طبقاتي منافعو یا فرقوي منافعو یا کوم بل محدود شخصي منفعت لوړوالی لري. خو په څرګنده توګه دا د ملي‌توب او د آزادۍ د نهضت یو غلط تصویر وو. ټوله طبقات او ټوله منافع انقلابي نه وه، په حقیقت کي ځیني داسي کسان موجود وه، چې د ملي آزادۍ د حاصلېدو سره یې خپل منافع له لاسه ور کول او نو ځکه سره له هغه چې هندیان وه، خو په دې کي یې علاقه نه درلوده، چې ضدامپریالیست سي. داسي منافع هم موجود وه، چې د انګرېزي یرغلګر په مقابل کي یې مبارزه کوله، خو کله چې به کارګرانو یا بزګرانو دا غوښتنه را وړاندي کړه، چې د هندیانو په توګه، د کارخانې د څښتن په شان یا تر هغه علاوه دوی دا حق لري، چې د خپل کار په سویه، چې سر ته یې رسوي او د هغه ثروت مناسب چې تولید یې کوي، یو سم ژوند وکړي. نو سم‌دستي دې پخوانیو وطن‌دوستانو د انګرېز سرنیزو ته د استفادې دپاره ور دانګله، چې د هغو په وسیله «قانون او نظم» وساتي. په دې وخت کي نو د دوی وطن‌دوستي چیري وه او ګټه یې په کوم ځای کي وه، آیا د خپلو ګټو په ساتلو کي او که د ملي آزادۍ په ساتلو کي؟

**کارګري میلیوني پرګنو ته تاریخي تجربې او واقعي ژوند ورو ورو دا ور وښووله، چې هغه اجتماعي اورګانیزم چې ملت نومیږي، یو متوازن اورګانیزم نه دی، چې پر یوه وروروليۍ او یوه منفعت را بناء وي؛ دا اورګانیزم له داخلي تخاصماتو او تضادونو څخه ډک دی.**

آیا دا تضادونه پر څه شي را بناء وه او له کومي منبع څخه را پاڅېدله؛ مذهب، فرقه او که ښوونه او روزنه؟ نه، دوی د دغه ډول تضادو له یوه څخه لا هم نه ګڼل کېدله. دوی نوي تضادونه وه، چې پر طبقاتي تقسیماتو را بناء وه. ټولنه له

هغو طبقاتو څخه جوړه وه، چې د دغو طبقاتو څېره هغه نقش ور ټاکله، چې دوی د ثروت د تولید او توزیع په پروسه کې درلودی او هغه ثروت چې د ټوله ملت موجودیت ور باندې را بناء وو. د دغو طبقاتو له جملې څخه ځینو؛ لکه زمینداران چې د انګرېزانو له تسلطه سره را پیدا سوه، خپلې ګټې یې د امپریالیزم سره د یووالي له لارې لاس ته راوړلې. د ځینو یعنې بورژوا طبقې بیا ګټه په دې کې وه، چې د امپریالیزم سره مخالفت وکړي، ځکه امپریالیزم د هغې مخه نیولې وه، چې رشد وکړي او زیارکښې پرګنې په بشپړه توګه استثمار کړي. داسې طبقات هم هلته موجود وه، چې د هغو ګټه په دې کې وه، چې هم د انګرېزي او هم د هندي بورژوا طبقاتو سره مخالفت وکړي، ځکه دوی تر دوه جوغه لاندې وه. دوی په واقعې صورت تر هغو پورې آزادي نه سوای حاصلولای، څو چې استثمار یو مخیزه پای ته و نه رسول سي. په دې ډول نو کارګران او بزګران یوازنې انقلابي طبقات وه. د ښارو د لویو صنایعو کارګري طبقې د دغه حقیقت په درک شروع کړې وه. ملي بورژوا طبقه چې یوازې یې له دې سره علاقه درلوده، چې د کار ټولې ګټې د خپل ځان دپاره تصرف کړي او د هغې انګرېزي بورژوا طبقې په شان، چې د دې د رشد مخه یې نیولې وه، غټه سي، له دغې نوې منځ ته راتلونکې طبقې څخه ډارېدله.

نو ځکه کارګري طبقې د ملي آزادۍ په جبهه کې د آزادۍ د یو مشخص تصویر، د خپل ژوند د حقوقو او د خپلې هر اړخیزې آزادۍ غوښتنه کوله او د دې خبرې د پوهېدو تقاضا یې کوله، چې ولې ځینې طبقات د خپل هیواد د زیارکښانو په اقتصادي استثمار کې له خارجیانو سره لاس یو کوي او حتی له خارجي سرنیزو څخه دا استفاده کوي، چې تر استثمار لاندې خلګ وټکوي. آیا ملي بورژوا طبقه چې کله د ملي آزادۍ په جبهه کې درېږي او هغه له

انقلابي رشده څخه را ګرځوي، يوازي د ګټو د خپلي ونډي دپاره معامله کوي؟ آيا ملي مبارزه نو د طبقاتي مبارزې يو جهت دی؟ آيا ملي مبارزه نو د طبقاتي مبارزې يوه پروسه ده؟ آيا ټوله ملي- سياسي مبارزات يو طبقاتي اساس لري؟ کارګري طبقې له بورژوازي منورينو او له خپلي مشرتابه څخه، چي د دې په منځ کي تازه را پيدا کېده؛ يعني له کمونيستانو څخه د دې پوښتنو د جواب غوښتنه کوله.

**د اروپا په قاره کي، چي هلته بورژوا طبقې او خلګو ملي آزادي درلوده، همدغه پوښتنه په مختلفو شکلونو منځ ته راغلې وه. کله چي فيوډالي باداران او پاچهان را نسکوره سوه، اتوکراسي ړنګه سوه، د توليد سترو قدرتونو انکشاف وکړ، بې‌سابقې ثروت ماشينان وځرخول، ډموکراسۍ رای‌ګيري حاکمه کړه او دا پرېکړه يې وکړه، چي څوک بايد د دولت واک په لاس کي واخلي، نو بيا دا څه رنګه پېښه سوه، چي د بېکارۍ بحران د خلګو مېلمه سو او د پرېمانۍ په منځ کي زيارکښان او ګرده ټولنه د بډايانو په استثناء د کاختۍ او نيستۍ په مصيبت ولړل سول؟ له دې حالته څخه نو د وتلو لاره کومه وه؟** په دې پسي نو نوي تاريخ‌پوهان او د تاريخ فيلسوفان را پيدا سوه، چي د کارګري طبقې دپاره يې جواب وموندی. دوی د موضوع ريښې ته ځان ورساوه او پوښتنه يې داسي مطرح کړه: څه رنګه بشري ټولنه منځ ته را ځي او له يوې دورې څخه بلي ته رشد کوي؟ د دې ټولني د منځ ته راتلو او رشد، د دې د تکاملاتو او انقلاباتو محرکه قوه څه شي ده؟ بورژوازي ساينس نه وو بريالی سوی، چي جواب تهيه کړي. هغه ساينس وختي لا ويلي وه، د خوار او بډای، د حاکم او محکوم، د زورور او کمزوري، د لارښود او د هغه د مقتديانو، د قهرمان او د هغه د پيروانو مسئله يوه داسي خبره ده، چي له ابده

څخه موجوده ده او هم به تل تر تله موجوده وي. دا د انسان سرنوشت دی، د پیدایښت ابتدایي ګناه یا د څښتن اراده ده.
کارګري طبقې د دغي نتیجې له منلو څخه ډډه وکړه. مارکس او اینګلس د ټولنیز رشد تاریخ تر تحلیل لاندي ونیوی او هغه قوانین یې وموندل، چي د تاریخ انکشاف اداره کوي او د تاریخي ماټریالیزم مشهور قوانین او د تاریخ د ډیالیکټیکي او ماټریالیستي پوهني اساسات یې منځ ته راوړه.
د دغي تیورۍ سره سم نو د ټولني انکشاف او هغه حالت چي انسان خپل ځان پکښي ویني یا د ځانو دپاره شیان پکښي جوړوي، د دغه یا هغه انسان، د قهرمان یا «اواتار» له ښو یا بدو افکارو څخه او هم د طبیعي جغرافیایي چارپیریالونو یا له مافوق الطبیعه ارادې څخه منځ ته نه را ځي. تاریخ نه تر مخ ټاکل سوی (مقدر) میکانیکي حرکت دی او نه هم د اوبو د څرخ په شان په یوه دایره کي حرکت کوي، چي د تل تر تله زحمت‌کښه تاریخي بوده، چي انسان نومیږي، پر لاس باندي ډکیږي او خالي کیږي. انسان د دې دپاره چي ژوند وکړي، لازمه ده، د طبیعت سره وجنګیږي او تر ټولو لومړی باید د غذا، پناهګاه، کالو او نورو نورو دپاره هلي ځلي وکړي. دا یې ابتدایي فعالیت دی، له دې جهته نو د ده حالت، د تولیدي قواوو، افزارونو، د تولید د آلاتو په وسیله چي دی یې منځ ته راوړی، ټاکل کیږي؛ انسان د یوه ټولنیز انسان په توګه منځ ته را ځي او د ده اجتماعي ساختمان یعني له بله سره د ده روابط په بنیادي لحاظ د تولید د قواوو له خوا ټاکل کیږي. دا روابط د تولید روابط دي او یوه ټاکلې ټولنه په ټاکلي دوران کي د هغې د تولیدي طرز له مخي پېژندل کیږي او د همدغي مشخصې په وجه یې له نورو څخه حدود ټاکل کیږي. دغه نو د ټولني سیاسي ساختمان، اخلاق، فلسفه، میلانات، هنر او نور ور ټاکي. د دغو ټولو شیانو مبداء په هغه

بنسټ کي ده، چي د یوې ټولني د تولید طرز بلل کیږي. خو د دې خبرې معنا نو دا نه ده، چي دا شیان کله منځ ته را سي، نو په خپله پر بنسټ باندي اغېزه نه کوي او یا مستقل نقش او ارزښت نه لري. دوی دا کارونه کوي؛ دوی مرسته کوي، چي د ټولني په ساختمان کي تحول، تغیر او تعدیل را وستل سي، خو په دې شرط چي بنسټ یعني تولیدي قواوو دونه رشد کړی وي، چي د تغیر دپاره لازم وي.

«د تولیدي روابطو پنځه عمده ډولونه تاریخ ته څرګند دي: ابتدایي کموني، د مرئیتوب، فیوډالي، کاپیټالیستي او سوسیالیستي»[۱۲]، له هري دورې څخه تر هغې بلي پوري انسان د ژوند او تفکر په ساحه کي یوې جګي مرحلې ته پرمختګ کړی دی. له هري یوې څخه تر هغې بلي پوري انسان مجبوره وو، چي د انقلاب په وسیله پرمختګ وکړي. په لومړۍ مرحله کي ټولنه طبقاتو ته نه وه وېشلې، خصوصي ملکیت نه وو پکښې، طبقاتي مبارزات یې نه درلوده، بډای او خوار نه وو پکښې؛ دولت، پاچهان، په دننه کي داخلي جنګونه یې نه درلوده، اما قبیلوي جنګونه یې په کافي اندازه درلوده. کله چي د تولید افزارونو وده وکړه، خصوصي ملکیت او طبقات منځ ته راغله. له دغه وخته راهیسي نو ټوله تاریخ د طبقاتي مبارزاتو تاریخ دی، چي دا سلسله د مرئیتوب ټولني، فیوډالي ټولني، کاپیټالیستي ټولني او په آخر کي سوسیالیستي ټولني ته را ورسېده، چي هلته بالآخره د تولیدي قواوو او ټولنیز ثروت د ډېر اوچت انکشاف پر بنسټ باندي طبقات پای ته رسیږي. بیا نو تاریخ د ړندې طبقاتي مبارزې په توګه خاتمه مومي او انسان د خپل سرنوشت بشپړه کالخوایي په لاس کي اخلي. د تولید اوسني افزارونه دغه امکانات برابروي او هم دا کار حتمي ګرځوي.

۱۲ د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند تاریخ (بلشویکان)، لنډ کورس، مسکو، ۱۹۴۵، ۱۲۳ مخ

د آخرنۍ مرحلې دپاره مبارزه د نولسمې پېړۍ په آواخرو کې پیل سوه او هغه طبقه، چې په تولید کې د خپل نقش په وسیله به دغه تاریخي وظیفه سر ته ورسوي، کارگره طبقه ده.

مارکسیزم دا نظریه باطله کړه، چې تاریخ د تصادفاتو او افکارو یوه نامرتبه مجموعه ده او تاریخ یې په ساینس واړاوه، چې د اثبات وړ قانون لري او انسان ته دا شعور ور کوي، چې خپل موجودیت او آینده تر پلان لاندې راولي او د خوارۍ قسمت او فلاکت ته خاتمه ور کړي.

له دې تیورۍ سره سم نو، چیرې چې قواوې خپل لازم رشد ته ورسېدې، د اروپا کارگرې طبقې په یو شمېر هیوادو کې انقلاب سر ته ورساوه، شوروي اتحاد او سوسیالیزم یې تاسیس کړ او د زیارکښ بشریت دپاره یې لاره وښووله.

له دې تیورۍ سره سم نو، په دې حاضر دوران کې د اروپایي، امریکایي او نورو ملتونو له خوا څخه د هند او داسې نورو هیوادو فتوحات د هغو هیوادونو د بورژوا طبقاتو د منافعو په خاطر فتوحات دي، چې دوی بازارونو ته، د سرمایې صادرولو ته او د استثمار نوو ساحو ته اړتیا لري. کوچنۍ سرمایه چې د کار د استثمارولو په وسیله او په مارکېټ کې د رقابت له لارې د خپلو طبقاتي ورونو د تاواني کېدو په ذریعه چاغیږي، خپل ځان متمرکز کوي، تخنیک په یوه مرکز کې را غونډوي، سترو نړۍوالو انحصاراتو ته وده کوي او مستعمرات نیسي. د یوې مستعمرې کاپیټالیستي فتح، که هغه مستعمره له پخوا څخه یو سرمایه‌داري هیواد نه وي، نو بیا هلته همدغه کاپیټالیستي روابط منځ ته راوړي، هلته یوه ملي بورژوا طبقه را پیدا کوي، چې د انحصاراتي امپریالیستي فاتح سره په رقابت کې مخامخ کیږي او «د ګټې په نړۍ کې د ژوند د زمینې» غوښتنه کوي. له دې سره یو ځای نو همدا رنګه کارګره طبقه او زیارکښې پرګنې د ژوند کولو دپاره د

خپل حق غوښتنه کوي، نو ملي بورژوا طبقه له خلکو څخه لیرې کیږي، د امپریالیزم کمپ ته ور ځي، له هغو سره معامله کوي او د خپلو خلکو په مقابل کې دریږي؛ یعني د دوی د هغو پاڅونو مخه نیسي، چې غواړي له مرئیتوب څخه واقعي آزادۍ ته او له استثماره څخه سوسیالیزم ځان را وباسي.
کله چې د یوه هیواد کارګره طبقه د خپل تاریخي نقش شعور ومومي او په دې پیل وکړي، چې د نوي ایډیالوجۍ په وسیله تشکل پیدا کړي، نو بورژوا طبقه سربېره پر هغه چې په زور یې مخه را ګرځوي، دا کوښښ هم کوي، چې په هره ممکنه وسیله د خپلې ایډیالوجۍ په ذریعه کارګره طبقه فاسده کړي. له دغو وسایلو څخه یوه هم دا ده، چې کارګره طبقه فاسده کړي. له دغو وسایلو څخه یوه هم دا ده، چې کارګر ته غلط تاریخ ور وښیي او د تاریخ په باره کې داسې یو تصویر ور کړي، چې دی د بورژوا طبقې په لکۍ پورې وتړي او په ده کې دا عقیده را پیدا کړي او د دې خبرې په دفاع کې یې ودروي، چې بورژوازي ټولنیز نظام خورا ښه نظام، یو حتمي نظام، یو ابدي، دایمي د څښتن له خوا عطا سوی، ډېر اخلاقي او نېکمرغه نظام دی. بورژا طبقه د تاریخ او راتلونکي ټولنې په باب کمونیستي نظریه تخیلي، غیرواقعي، غیراخلاقي، غیرطبیعي او ضدانساني او تخریبي نظریه بولي.
د دې دپاره چې دغه کار سر ته ورسوي، نو بورژوازي منورین بیا په تاریخ کې غوټه کیږي او را پاڅېدونکي کارګر د اجتماعي رشد په ایډیالیستي او میتافزیکي تصویر سره تر مقناطیسي خوب لاندې راولي او د اجتماعي انکشاف ډیالیکټیکي ماټریالیستي تصویر ردوي.
دا کار بورژوا طبقې او د هغې منورینو د هندي تاریخ په نسبت هغه وخت شروع کړ، چې تر ۱۹۲۰- ۱۹۳۰ وروسته د هند کارګره طبقه د اجتماعي سیاسي

مبارزاتو په صحنه کې له خپله بيرغه سره، له خپلو شعارو سره، له خپل گوند او پروگرام سره، چې د ملي بورژوا طبقې له هغې سره يې منفات درلودی، ميدان ته راغله او دا پوښتنه يې منځ ته راوړه، چې په واقعي توگه ملت چا جوړ کړی دی او په واقعي توگه آزادي او ډموکراسي د چا دپاره په نظر کې ده؟

**د بورژوا طبقې د ايډيالوجيکي دلايلو له جملې څخه يو دليل، چې په هند کې د را پاڅېدونکي کمونيستي نهضت په مقابل کې استفاده ځنې کېده، دا وو، چې په اروپا او نورو هيوادو کې، چې جريانات هر ډول وه، خو هند او د هغه کلتور، د هغه خلگ او تاريخ، په خپل ځان کې يو خاص حالت لري، چې د مارکسيزم - لېننيزم د قوانينو له يوه سره هم سر نه خوري.**

دوی نو د «ويداگانو»، «سمريتي‌گانو»، «اوپانيشادانو»، حماسو او «پوراناگانو» په نکل کې غوټه سوه او د خپلي تيورئ د اثبات په منظور يې د فرقو غښتلي سيستمونه، پر تختونو باندي روحاني پاچهان، په ځنگلو کې شاهانه روحانيون نظر ته را وړاندي کړه، چې په زرهاوو کلونه يې پايښت کړی دی او بل هيڅ‌چيري يې مثال نه سته. دوی نو مخ کمونيستانو ته را وگرځاوه او پوښتنه يې وکړه: دا ټوله شيان نو ستاسي د تاريخي ماټرياليزم له قانون سره چيري سر خوړلای سي؟ هند ابتدايي کمونيزم نه درلودی، اشتراکي ملکيت او «ادي‌مشري» هلته نه وه، کمونونه يې نه درلوده او نه يې هم داسي تاريخ درلودی، چې دا شيان ړنگ سوه او خصوصي ملکيت، دولت، طبقات او طبقاتي جنگونه، مرئيتوب او فيوډاليزم، لکه تاسي چې نومونه پر ايښي دي، را پيدا سوه او د هند په تاريخ کي په خپل روڼ منځ ته راغله. هوکې، موږ اوس کاپيټاليزم لرو، چې دا د انگرېزانو او د دوی د ماشينانو لعنتي سوغات دی، خو

زموږ کاپيټاليزم خپل ځانته ممتازه هندي ښېګڼه هم لري. نو ځکه موږ ضرورت نه لرو، چې ارو مرو د طبقاتي مبارزې او انقلاب له لارې سوسياليزم ته ورسيږو. موږ به د خپل ځان يوه نوې لاره، يعني د «ګاندهي سوسياليزم» ولرو او ستاسي د کمونيزم او ستاسي د تاريخي ماټرياليزم قانون به په آينده کي هم هغسي درواغ کړي، لکه څه رنګه چې د هند مخصوص سرنوشت هغه په تېره زمانه کي درواغ کړه.

اوس نو تاريخ؛ يعني د هند اجتماعي- سياسي تاريخ د دغه مقصد دپاره څېړل کيږي او ليکل کيږي، څو چې طبقاتي مبارزه رد کړي او تر استثمار لاندي طبقات دې ته واداره کړي، چې پر ځان باندي استثمار او فلاکت د طبقاتي سولي، همکارۍ او معنوي لوړتيا د تسلی پر اساس وزغمي.

**د اروپا او امريکا بورژوا طبقې خورا زيات کوښښ وکړ، چې د تاريخ د مارکسيستي نظريې مخه ونيسي او دا کار يې وار د واره په دې ډول کاوه، چي صرف هغه يې غلطه بلله، خو په دې کار کي چې برياليتوب ته و نه رسېده، نو يې تلاښ وکړ، چې منحرفه توګه هغه وښيي او تخريب يې کړي. د بورژوا طبقې د ټولنيز نظام دايمي تکراري بحرانونو د هغې طبقې منورين مجبوره کړل، دا خبره په رسميت وپېژني، چې د انسان او ټولني په ژوند کي اجتماعي- اقتصادي فعاليت حاکميت لري. په شوروي اتحاد کي د بحران غيابت او په ټوله نړۍ کي د خلګو پر اذهانو باندي د هغه تاثير بورژوا طبقه مجبوره کړه، چې طبقاتي مبارزه او سوسياليزم د تاريخ د خپلي فلسفې د يو جزء په توګه همدا رنګه ومني. خو دوی يې په دې منظور مني، چې هغه تخريب کړي او په دې ترتيب نو ماتي ور کړي. دوی مني چې طبقاتي مبارزه موجوده ده او سوسياليزم تر کاپيټاليزم ښه**

**دی، خو دا تردیدوي، چې د طبقاتي مبارزې منطقي نتیجه دا ده، چې له بورژوا طبقې سره مقابله وسي، هغه را نسکوره سي او کارګره طبقه د واکمنې طبقې په توګه منځ ته را سي؛ یعنې د استثماري طبقاتو په مقابل کې پرولتاري دیکتاتوري او د زیارکښو خلګو دپاره بشپړه ډموکراسي قایمه سي، چې یوازې له همدې لارې د تولید افزارونه، مځکې او کارخانې د ټولنې په واک کې ور کول کېدلای سي او د سوسیالیزم نظام او د آرامۍ او پرېمانۍ یوه بې‌طبقې ټولنه جوړېدلای سي.**

دوی د طبقاتي مبارزې دغه سیاسي او اقتصادي نتایج نه مني او دا خبره تردیدوي، چې دا د تاریخ د ډیالیکټیک حتمي نتایج دي. دوی اوس د کارګرو هدفونه د دې دپاره مني، چې و دغې طبقې ته ور ننوځي او هغه په عمل، په ستراتیژۍ او تاکتیک کې خلع سلاح کړي، څو چې خپل طبقاتي حاکمیت د هغو له حملې څخه په امان وساتي. دوی د هند تاریخ ته مخ را اړوي او وایي: زموږ تاریخي تحولات د روحاني عقیدې له لارې، د سولې په وسیله او هغو طبقاتو له خوا سر ته رسېدلي دي، چې حاضر سوي دي، له شرارتونو او سرانۍ څخه ډډه وکړي. هندیان داسې نه دي لکه روسان، فرانسویان یا داسې نور، چې د سوسیالیزم او ډموکراسۍ لوري ته د هغوی د مبارزاتو تجربې، تاسې له خپلې خوښې سره سم را اقتباس کړئ. نو ځکه د پرولتاري دولت او پرولتاري ډموکراسۍ د تأسیس تر ټکي پوري د طبقاتي مبارزې مرتب انکشاف د هندي شرایطو دپاره لازم نه دی. د دې دپاره چې دغه خبره اثبات ته ورسوي، نو دوی کارګر او بزګر ته د هندو او مسلمان د تېرې زمانې د ځلانده خوشاله نکلونو پر اساس ور نژدې کیږي او د هغه له اوسنۍ ناپوهۍ او ایډیالوجۍ څخه دا استفاده کوي، چې د خپلې آیندې په باره کې یې دوکه ور کړي.

په دې ترتيب نو تر انګرېزي دوران وروسته يو پلا بيا له تاريخ څخه د واکمني طبقې له خوا د خپلو ځاني محدودو طبقاتي منافعو او متمايلو اهدافو دپاره کار اخيستل کيږي.
په تېره زمانه کي بورژوا طبقې د خپلو طبقاتي منافعو دپاره د ملت په نامه د انګرېزانو په مقابل کي له تاريخ څخه استفاده کوله او دا طبقه د ټولو خلګو او د دوی د منافعو د قهرماني طبقې په توګه ښکارېدله. څه رنګه چي د را پاڅېدونکي کارګري طبقې نهضت دا تهديد منځ ته راوړی دی، چي بورژوا طبقه افشاء کوي، چي د خپلو طبقاتي منافعو د تامين دپاره د خلګو له منافعو سره خيانت کوي، نو بورژوا طبقه بيا له تاريخ څخه اوس استفاده کوي، چي د اجتماعي انقلاب په مقابل کي خپل ځان په وساتي او کارګره طبقه د اجتماعي انکشاف د يوې غلطي تيورئ په وسيله په ايډيالوجيکي لحاظ خلع سلاح کړي.
موږ همدا اوس يوازي د هند د معاصر تاريخ د سياسي واقعاتو او د هغوی د ارزيابئ له بحث سره سر و کار نه لرو. موږ دا خبره ښکاره کوو، چي څه رنګه د سياسي او اجتماعي اوضاعو له بدلون سره تاريخ داسي عياريږي، چي د اجتماعي پرمختګ په عوض کي، چي د تاريخ رشتيانی نقش دی، هغه د ارتجاع دپاره استخداميږي. د تاريخ دوران کي انسان له وحشت څخه تمدن ته را جګ سوی دی او دا نو د تاريخ د فلسفې وظيفه ده، چي هغه قانون کشف کړي، چي د پېړيو په دوران کي يې د انسان دغه اجتماعي انکشاف اداره کړی دی، څو چي دی وکړای سي نور هم جګ سي او د ځان دپاره يوه ښه دنيا جوړه کړي. هند اوس په يو داسي دوره کي قرار لري، چي د هغه کارګره طبقه د هندي او نړۍوالي ټولني په نسبت له يوه جدي مسؤليت سره مخامخ ده. د دې دپاره چي د دغه مسؤليت تر عهده ووځي، نو کارګره طبقه دمخه تر هغه

چي د تاريخ بورژوازي نظر په خلګو کي ژور نفوذ وکړي، بايد له هغه سره غوڅه مقاطعه وکړي.

څه رنګه چي تر اوسه پوري هندی تاريخ د تاريخي ماټرياليزم له نقطه نظره څخه په جدي توګه مطرح سوی نه دی، نو د دغسي يو نظر جدي ترديد هم منځ ته نه دی راغلی. دا خبره په عمومي صورت معلومه ده، چي مارکسيستان د هند د تاريخ په باره کي خپل ځان ته نظريات لري او هغه د تاريخي ماټرياليزم، د طبقاتي مبارزې او داسي نورو په اساس څېړي. خو دغه خبره دې ته نه ده منسوبه، چي په دغه باب کوم تحقيقي اثر د کوم مارکسيست له خوا څخه د هند د تاريخ په باره کي تهيه سوی دی، بلکي په عمومي توګه د مارکسيزم د نظرياتو د خپرېدو او په هندي تاريخ کي د اوسنيو انکشافاتو په باب د ځينو اثارو د نشرېدو په سبب را پيدا سوې ده.

د بورژوا طبقې له واکمنۍ سره د هندي تاريخ د نوو تحريفاتو تهديد ډېر جدي سوی دی. د تېرو څو کلو په دوران کي بورژوازي عالمانو په غيرمستقيم ډول کوښښ کړی دی، چي پر تاريخ خارداره سيم را وګرځوي او له هر ډول ماټرياليستي حملاتو څخه يې په امان کي وساتي. خو د دوی بدمرغي ده، چي په خپله د هند لرغونتوب، د هغه د اجتماعي اورګانيزم پاته کليوالي جمعيتونو، د هغو دوامداره پايښت، د هغه ژوندي خاطراتو او پاته آثارو د دغو تاريخپوهانو د څرګندونو بطلان اثبات ته رسولی دی.

دغسي بډای شفاهي آثار، چي د اجتماعي تشکيل تحولات او انقلابونه انعکاسوي، لکه څنګه چي د هندوانو په منځ کي موجود دي، په نړۍ کي بل هيڅ‌چيري نه موندل کيږي (د موضوع د څېړلو او پوهېدلو په کار کي د آسانتيا په خاطر زه د هند لرغونی تاريخ د هندوانو د تاريخ په حيث يادوم). دا آثار په

داسي صراحت او ځيني وختونه په داسي بې‌رحمانه صراحت بيان کوي، چي د هند د بورژوا طبقې د هندوانو مشرتابه مجبوره کيږي، چي د هغو حقيقت ترديد کړي او يوه افسانه او يا له افسانې څخه را پيدا سوی يو محصول يې وګڼي. بې‌شمېره تمايلات، واقعات، مثالونه، روايات او قوانين چي د هندو ټولني په مذهبي – اجتماعي ادبياتو کي خوندي پاته سوي دي، بورژوازي تاريخ پوهان يې په تشريح کي هېښ پاته کيږي. د ازدواج قوانين او له هغو ازدواجونو څخه، چي «عجيب ازدواجونه» ښکاري، د محترمو هيروګانو او مقدسو مشرانو وار د واره را پيدا کېده؛ د ملکيت او ميراث، د ملکيت د اشتراکی حقوقو او د پاچهانو د سلوک قوانين، د دولت، خصوصي ملکيت او کورنی د پيدايښت تيوري، چي د هندوانو په «مقدسو کتابو» کي يې بيانونه راغلي دي، بورژوازي تاريخ پوهان تر دې اندازې هېښ پاته کوي، چي له دې آثارو څخه زيات شمېر يې نه مني او هغه صرف افسانې او يا تمثيلي نکلونه بولي. ډېر عالمان چي کله داسي له اجتماعي حقايقو (له تشو اساطيرو) سره مخامخ سوه، چي د دوی د توقع سره سم يې له بورژوازي خيالاتو سره مطابقت نه کاوه، نو يې ټوله «مهابهارت» د افسانې يا تمثيلي نکل په توګه وباله. دا زما ټينګه عقيده ده، چي د هندو د اساطيرو او مذهبي اجتماعي قوانينو او تمايلاتو لويه ذخيره که د تاريخي ماټرياليزم پر اساس ولوستل سي او وچونل سي، نو به د هند د لرغوني تاريخ يو مرتب او معقول تصوير ځني را ووځي، که څه هم هغه به د هندو د اصولي مذهبي مسلک يا بورژوازي فلسفې خوښ نه وي. دا به نو بيا ښکاره سي، چي د تاريخي ماټرياليزم قانون، يعني دا قانون چي توليدي قواوي او توليدي روابط د پېړيو په دوران کي د انسان تاريخ ټاکي، د هند دپاره هم په تېره، هم په اوسنی او هم په راتلونکې زمانه کي اعتبار ولري.

د ځېړني او پوهېدني دپاره خورا ډېره مشکله دوره هغه د ابتدايي کمونيزم او د هغه د ړنګېدو دوره ده، چې ور پسې خصوصي ملکيت، طبقات او طبقاتي مبارزات، د کورنۍ او دولت پيدايښت منځ ته راغله او د مرئيتوب دورې ته ګام واخيستل سو. له دغه حالت څخه هغه آسيايي فيوډاليزم ته انتقال، چې د مشهوره ختيځ کليوالي جمعيت او فرقو پر اساس بناء وو، نسبتاً په آسانۍ سره تشريح کېدلای سي. دمخه تر هغه چې د دغو دورو د يو جامع تصوير د را وړاندي کېدو امکان پيدا سي، لازمه ده، چې د تاريخي ماتړياليزم يوه ډېره عميقه پوهنه منځ ته را سي او د مارکسيستي پوهانو له خوا څخه يو پراخ تحقيقاتي کار سر ته ورسول سي. د دغي پخوانۍ دورې په باب، لکه څنګه چې د هندوانو په مذهبي کتابو کي تصوير سوې ده، ډېري مشکلي ځېړني د هغو بورژوازي عالمانو له خوا څخه سر ته رسېدلي دي، چې دوی زيار ايستلی دی، د رسوماتو او اساطيرو په نسبت هغه طريقه، چې دوی يې «سوسيولوجيکي نقطه‌نظر» بولي، په دې منظور په کار واچوي، څو موږ ته د هغې دورې د اجتماعي اورګانيزم په باره کي يوه مفکوره را کړي. خو فقط لکه څنګه چي بورژوازي عالمان د «يونانيانو»، «روميانو»، او «تيوتونانو - Teutons» (جرمني اقوام) په مورد کي بريالي نه سوه، څو چې مارکس او اينګلس هغه تاريخي مواد را واخيستل او تاريخ يې پر خپلو پښو باندي ودراوه؛ دغه رنګه دوی د هند په باره کي هم برياليتوب ته نه دي رسېدلي.

حتی دغه کوښښونه چي لرغونو آثارو ته يوه سوسيولوجيکي کتنه وسي، د هندو د اصولي مسلک او د هندي بورژوا طبقې (که هندوان وه او که مسلمانان) له خوا يې مخه نيول کېده، ځکه ځيني اجتماعي حقايق د اخلاقي اصولو او اخلاقياتو په باب د دوی له روانو افکارو سره منافي وه او نو ځکه يې پر دې

اعتراض کاوه، چي دغه راز منافي شيان د دوی د تېر تاريخ د يو جزء په توگه بيانيږي. دوی دا شرم نه سوای زعملای، چي دغسي شيانو يو وخت د دوی په تاريخ کي موجوديت درلودی. کله چي مشهور مؤرخ «راجويد» دې ته شروع وکړه، چي د هندوانو تر منځ د کورنۍ او ازدواج د انکشاف په موضوع کي خپل ستر اثر وليکي او په دې کار کي د «ويدي»، «بهارت» او «پورانا» له متونو څخه او د اروپايي ليکوالو له هغو څېړنو څخه استفاده وکړي، چي د بومي قبيلو په منځ کي، چي تر اوسه لا هم ژوندي پاته دي، سر ته يې رسولي دي؛ نو په «مهاراشترا» کي د هندو «مراتي» مطبوعاتو او د هندو د اصولي مسلک مراکزو د خپروونکي او ليکونکي په مقابل کي احتجاج وکړ. دا اثر هيڅ بشپړېدو ته و نه رسېدی او يو کال وروسته هغه مؤلف مړ سو. دی نه مارکسيست، نه ماټرياليسټ او نه هم يو بېدينه سړی وو. دی په خپله يو اصولي هندو وو، خو تاريخي حقايق او عقايد يې تر هر څه حتی د ځښتن تر مصؤنيت پورته گڼله[۱۳].
د «ويدي» متونو پوهېده تر هغو نيمگړي پاتيږي، تر څو چي د مذهبي مراسمو کلمات، د مذهبي مراسمو په اعمالو سره تمثيل نه سي او دا هغه کار دی، چي يوازي «برهمينان» د عنعنې له مخي په پوهيږي او د دوی شمېر هم خورا لږ دی او په بېړه د مړيني پر خوا روان دي. دا يوه مشکله وظيفه ده، چي هغه کسان ،چي منابع يې په لاس کي سته، دې ته ترغيب سي، چي دغه مواد يو ځای سره را غونډ کړي.
تر دغو شرايطو لاندي لکه په حاضر وخت چي موجوديت لري، دا ناممکنه ده، چي د هند د تاريخ يو بشپړ او کامل تصوير د ډيالکټيکي او ماټرياليسټي

۱۳ د لرغوني هند د «گنيسمگهاگانو» او جمهوريتونو په باره کي، چي د «جايسوال» مشهور اثر غلا سو او د هغه په خپرېدو کي ورانکاری وسو، دا نکل هم د تاريخ ټولو څېړونکو ته معلوم دی.

میتود په وسیله وښوول سي. خو ځیني پراخ حدود طرحه کېدلای سي. د دې کار دپاره په موجودو خپرونو کي کافي مواد پیدا کېدلای سي.
په دې جلد کي زه د آریایانو تر منځ د ابتدایي کمونیزم د دورې، د هغه د ړنګېدو، د خصوصي ملکیت، طبقاتو، مرئیتوب او دولت په باره کي ږغېږم.

## لومړی فصل

### آریایي انسان له کومه راځي؟

نن ورځ چې کله موږ د هندي تاریخ په باره کې بږغیږو، نو لومړی د یوه داسي هیواد تصور کوو، چې ټاکلي سرحدونه لري، هند نومیږي او هم له دې تصوره سره یو ځای د هر مذهب، فرقې، شغل یا فلسفې ټوله خلګ چې هلته اوسي، په فکر کې را ګرځوو. د هند عنعنوي سرحدونه او د هغه هیواد خلګ لکه څنګه چې مو د انګریزي واکمني طبقې سره د مخامخ کېدو په وخت کې پېژندلي دي، نن ورځ د پاکستان او هندوستان د تجزیې په سبب هغه پخواني غوندي موجودیت نه لري. خو حتی په دې اوس وخت کې لا هم د هند تاریخ هغه پخوانۍ مفکوره نه افاده کوي؛ یعني هغه هند چې په شمال، شرق او غرب کې درو، غرونو او کښته په شرق، غرب او جنوب کې هندي سمندر احاطه کړی دی. د اوسني هند تاریخ په عنعنوي توګه د انګریزانو د دورې د «پلاسي - Plassey» د جګړې سره را شروع کیږي. تر دغه دمخه یا د هغه سره څنګ پر څنګ دوی د مراتیانو په باره کې بږغیږي، تر هغه دمخه د مغولانو تاړاکونه او د مسلمانانو راتګ دی، چې په عمومي توګه د ۱۰۰۰ میلادي پیړۍ له وخته را پیل کیږي. په دغو ټولو دورو کې موږ د هند تر مفهوم لاندي تقریباً هغه ټوله جغرافیایي ساحې را کښیباسو، چې نن ورځ په دې هیواد پوري اړه لري. خو یو مرکزي قدرت، چې تقریباً ټوله هیواد اداره کړي، د اتلسمي پیړۍ د مغولي او مراتي دولتونو تر وخته یې عملي واقعیت نه درلودی. یوازي د دغو دولتونو په وخت کې خلګو کولای سوای، چې په واقعي توګه د واحد هندوستان په باره کې خبري وکړي. انګریزانو د خپل سیاسي ساختمان او کاپیټالیستي اقتصاد په

وسيله دغه تصور او احساس په واقعيت سره واړاوه، که څه هم يو محدود واقعيت وو، چي له نورو داسي تضادو څخه ډک وو، چي ضرورت نه سته، د هغو په باب وړغيږو.

کله چي د لرغوني دورې په دننه کي موږ کتنه کوو او هلته داسي ټکي ته رسيږو، چي د يو شمېر خلګو په باره کي ږغيږو او کورټ د يوه هيواد په مورد کي خبري نه کوو، نو په جغرافيايي او سياسي لحاظ د واحد هند د دغه اوسني تصوير موجوديت تقريباً نه ليدل کيږي. دا نو هغه ټکي دي، چي هلته موږ بايد د ابتدايي تاريخ په باره کي خبري وکړو او په دې وخت کي انسانان د «ګڼې ګانو» او «قبيلو» په توګه ژوند کوي، له يوه ځايه بل ته کوچيږي او حتی ګاهي د کومي خاوري ادعا کوي، خو ډېر ځله بيا کورټ داسي ادعاء ور سره نه وي. دوی د اتنيکي ډلو په شکل ژوند کوي، خو د پلاني يا پلاني هيواد د اهاليو يا اوسېدونکو په توګه نه پېژندل کيږي. د يونانيانو او روميانو تاريخ هغه شان لکه نن چي په پوهيږو، له لومړي سره څخه د ايټاليې او يونان تاريخ دی.

خو د هند لرغونی تاريخ تر کومه ځايه چي نن ورځ موږ ته را معلوم دی، اساساً د آريايي قبيلو او اولس تاريخ دی، چي په وروسته کي د هغو له داستانه څخه د يوه هيواد په حيث د هند تاريخ را جوړيږي. ټوله تاريخپوهان، په استثناء د يوه يا دوو کسانو، پر دې عقيده اتفاق لري، چي آريايان له يوه مشترک ټاټوبي څخه، چي يو چيري د هند تر ساحې دباندي واقع وو، د هند خاوري ته راغلي دي.

د آريايي نژاد څانګي د لوېديځ پر لور اروپا، کوچنۍ آسيا او نورو خواوو ته ولاړې او ځيني يې د هماليا د غرو په سلسله د پنجاب او کشمير له لاري هند ته راغلې.

دغه مشترک ټاټوبی چیري وو؟ ځیني په دې عقیده دي، چې دا ټاټوبی د اوسنۍ سایبیریا شمالي قطب ته نژدې یو چیري واقع وو. «تیلاک» او ځیني بیا وایي، د «ولګا» په سیمو کې د «کسپین» بحیرې ته نژدې یو ځای وو، چې دوی یې د آریایي اساطیري‌پوهنې (میتولوجۍ) په «کشیاپا موني – Kashyapa Muni» کې څرک پیدا کوي. ځیني کسان دغه د یوه مشترک ټاټوبي تیوري ګردسره کوره نه مني. خو په اروپا او آسیا کې د ژبو د بېلابیلو آریایي ډلو د ډېرو لرغونو اساسي کلماتو په شهادت او همدا رنګه د لرغونو اساطیرو، چې اساساً د لرغوني مشترک ژوند او تفکر بنیادي آثار تشکیلوي، د شباهت له مخې دا تیوري ثابتیږي، چې آریایان له یوه مشترک ټاټوبي څخه را خپاره سوي دي. ولې دوی ته لازمه سوه، چې تیت او خپاره سي؟ ځیني عقیده لري، چې طبیعي ناوړه پېښې، لکه طوفانونه د دې کار سبب وه، لکه څنګه چې لرغوني یهودیانو، مسیحیانو، یونانیانو، رومیانو او هندو آریایانو په اساطیرو کې انعکاس کوي.

له طوفانونو څخه پرته، په خپله د اجتماعي رشد ضرورت؛ یعني دا چې د غذا او څرځایونو دپاره د کوچیانو هلې ځلې زیاتېدې او جنګېدونکو قبیلو یو او بل له ځایه پسې اخیستل، همدا رنګه د دغو خپرېدو سبب وو.

دا کار څه وخت سر ته ورسېدی؟ د ځینو عالمانو له بیانه سره سم، تر میلاد دمخه د ۶۰۰۰ او ۴۰۰۰ کلونو په منځ کې کوم وخت سر ته رسېدلی دی. د دغو تاریخونو په باره کې خورا زیاتې بېلابیلې رایې موجودې دي. زموږ دا خوښه ده، چې دقیقه پوهنه ولرو، خو د حاضرو معلوماتو له مخې یې لاس ته نه سو را وستلای.

سربېره پر دې، د ابتدایي تاریخ یا ماقبل التاریخ نامعلومه دوره دونه وسعت لري، چې صرف د زرهاوو یا زیاتو کلونو په اندازه یې څوک اټکل کولای سي او تر

هغه په کمه يې نه سي کولای. په دې باره کې موږ هغه شان مشخص نه سو ږغېدلای، لکه دا چې «شيوا جي» په کومه نېټه وزېږېدی او يا د «سټالينګراډ» جګړه په کوم تاريخ پېښه سوه.

انسان پېژندونکي موږ ته وايي، چې انسان پنځه سوه زره کاله پخوا له «ابتدايي-انساني- حيوان – Proto-man-animal» څخه تکامل را وکی. دوی د تکامل سلسله د هغو لرغونو سکليټونو او هډوکو له مخې تدوينوي، چې په بېلابېلو ځايو کې مونده سوي دي. دغه حيوان چې البته په تودو ځنګلو کې يې ژوند کاوه، مجبوره سو د طبيعي آفاتو يا تحولاتو له جهته هغه ځنګلونه پرېږدي. کله چې د پايښت په منظور د مځکې غولي ته راغی، نو ضرورت د ده بدن دې حالت ته ورساوه، چې د شا پر پښو په استقامت ودرېږي او د مخ پښې يې د لاسو په توګه دې ته ايله سي، چې دفاع په وکړي، کار په وکړي، غذا په وخوري او داسي نور. د لاسو په ذريعه ده زيار و ايستی، چې افزارونه جوړ کړي. د سمو درېدو په وسيله چې لاسونو د افزارو د جوړولو په کار کې خپل مهارت حاصلاوه او افزارونو د ده د پايښت او رشد استعداد زياتاوه، نو ده د خپل دماغ په ظرفيت کې ډېرښت راوستی، خبرو ته يې انکشاف ور کړ او په دې ترتيب نو «ابتدايي- انساني- حيوان» چې په خپله «چمپانزي» يا «ګوريلا» نه وو، بلکې هغو ته ورته يو حيوان وو، هغه کامل انسان ته يې وده وکړه، چې اوس د مځکې پر مخ مېشته دی. پخواني ډولونه له منځه تللي او ورک سوي دي او موږ يوازې دلته، هلته د دوی هډوکي لرو، چې له انساني پېژندونکو سره د تکامل د سلسلې د بياجوړښت په کار کې مرسته کوي.

د دغه وخت او په تاريخ کې د آريايانو د را پيدا کېدو د وخت تر منځ په زرهاوو کلونه تېر سوه. تر اوسه موږ مواد نه لرو، چې دغه نکل وليکو. هغه

آریایان چې بیان یې د هندوانو په آثارو کې مومو، بې له شکه د وحشت په هغه مرحله کې دي، چې وروسته به یې موږ په مفهوم باندي ورږغیږو. خو دوی د ډېر لرغوني وحشت د دورې تر انسان خورا زیات وړاندي تللي وه. سره له دې هم د دغې مرحلې ځیني خاطراتو ته په هغو اساطیرو کې اشارې سوي دي، چې د دغې دورې یادونه یې ساتلې دي.

کوم آریایان چې غواړو دلته یې تر څېړني لاندي ونیسو، هغه څوک دي، چې په مرکزي آسیا کې جنگونه کوي، توسعه پیدا کوي او د هند لوري ته وړاندي را ځي او بالآخره هند نیسي او پکښې مېشته کیږي. موږ به زیار وباسو، چې له وحشت څخه تر تمدن پوري د دوی پرمختګ وڅېړو او روښانه یې کړو.

دمخه تر هغه چې د آریایانو د راتګ موضوع تر څېړني لاندي ونیسو، یوه پوښتنه چې په په دې مرحله کې منځ ته را ځي، باید تصفیې ته ورسول سي. آیا پخوا تر هغه چې آریایان دلته را سي، په هند کې د کوم بل نژاد او یا ډلو خلګ مېشته وه او د هغو تمدن څه راز وو؟ که آریایان له دوی سره وجنګېده، نو هغه خلګو ته څه ور پېښه سوه، چې ماته یې وخوړه؟ د دې خبرې مفهوم دا دی، چې: آیا هند تر آریایانو دمخه کوم تاریخ لري او که نه؟

هو، هندی تاریخ یوه ماقبل آریایي دوره هم لري. خو کوم مستقل مدارک یې نه پیدا کیږي. هغه ډېر څه چې د ماقبل آریایي وګړو په باره کې معلوم دي، له هغو څرګندونو څخه را ټولیږي، چې آریایانو د خپلو اسلافو او مخالفانو په باره کې ویلي دي. هغه آثار چې د پنجاب په «هراپه» او د سیند په «موهینجو دارو» کې د حفریاتو په وسیله لاس ته راغلي دي؛ ویل کیږي، چې په هند کې د ماقبل آریایي تمدن بقایا دي. خو تر اوسه د دوی مدارک په کافي اندازه نه دي

تشریح سوي، چي موږ ته هغه راز معلومات را کړي، چي یوه تاریخي شرحه یې وبللای سو.
ځیني کسان عقیده لري، چي په هند کي تر آریایانو دمخه هغه خلګ مېشته وه، چي دوی یې «دراویدیان - Dravidians» بولي او دوی د تولید په خپلو مادي وسایلو کي تر آریایانو ډېر وړاندي وه او داسي ښکاري، چي خورا سخته جګړه یې وکړه، خو بالآخره مات سوه او د جنوب او شرق خوا ته وشړل سوه. له دغو «دراویدیانو» څخه چي ماته یې خوړلې وه، ځیني یې تر مرئیتوب لاندي راغله او ځیني یې په یو ډول مدغم سوه. «دراویدیانو» د خپلي ژبې اساسي ساختمان ژوندی وساتی. عقیده داسي ده، چي «اندهاریان - Andhras»، «تامیلان - Tamils»، «ملایان - Malayalis»، «تودایان - Todas»، «کاناډیګان - Kannadigas» د پخوانیو «دراویدیانو» اخلاف دي، چي د وروستني تاریخ په دوران کي په دې کي پاته را نهغله، چي پر آریایي کلتور باندي خپل تاثیرات واچوي. خو په دې جلد کي به دغه مسئله تر څېړني لاندي ونیسو.
دلته دا خبره همدا رنګه باید یاده سي، چي یو بل مکتب لا هم سته او هغه دا عقیده لري، چي حتی تر «دراویدیانو» دمخه په هند کي یو بل توکم خلګ وه، چي ماقبل «دراویدي» بلل کېږي. یا خو دوی له دراویدیانو سره څنګ پر څنګ ژوند کاوه او یا خو د «دراویدیانو» له خوا څخه دوی ماته خوړلې وه او شړل سوي وه. د دغه توکم بقایا څوک دي؟ ګمان کېږي، چي د خلګو د «مونخمیر - MonKher» ډله د دوی بقایا وي، چي اوس په مرکزي ولایاتو او بنګالي سیمو کي اوسي او د دوی له نسل څخه «موندایان - Mundas»، «ناګایان - Nagas»، «سنتالیان - Santals» او نور منځ ته راغلي دي. د شړلو په سلسله دوی ختیځو خواوو ته ولاړه. دوی هغه څوک دي، چي انسان

پېژندونکي يې د ماقبل التاريخ هغه «پولينشيايي» ګروپ بولي، چي ملايا، اندونيزيا، هند و چين او حتی استراليا ته خپاره سوه. په هغو سيمو کي ډېري ابتدايي قبيلې د «مونخمير» له اوس څخه دي، چي دا اولس تر آريايانو او دراويدانو دمخه وو او آريايان همدا رنګه مجبوره وه، چي د دوی سره د مځکي پر سر وجنګيږي.[١٤]

اوس به موږ آريايانو ته را وګرځو او هغه شان به يې وګورو، لکه څنګه چي دوی موږ ته په خپلو ټاټوبو کي را معلوميږي او د خپلو ګنی‌ګانو په شکل انکشاف کوي او هم په جغرافيايي او هم په کلتوري لحاظ له يوه ځايه بل ته مهاجرت کوي او وړاندي ځي. هغه څه چي موږ به يې د دوی په باره کي مشاهده کوو، اوس به نو پر هغو آريايي مدارکو بنا وي، چي په خپله يې همدا مدارک موږ ته بيان کوي. خو صرف موږ به دوی ته کټ مټ هغسي نه ګورو، لکه دوی چي د خپل تخيل پر بنا خپل ځان ته کتله، بلکي زموږ د ټولنيز ساينس د ليد په اساس به يې تر کتني لاندي نيسو.

څه رنګه چي موږ غواړو د دوی په تاريخ کي د دوی د مدارکو له لاري پلټني وکړو، نو دا ضروري ده، چي په دغه مرحله کي د دوی په باره کي يوه مفکوره ولرو.

د آريايانو مدارک ځان ته خاص غوندي مدارک دي. د مځکي پر مخ هيڅ ابتدايي اولس د تاريخ داسي ليکلي مدارک نه لري، چي دا وښيي، چي همدغه

---

١٤ د «دراويدي» په باره کي لومړی ګُلي څېړنه د «کالډويل» په هغه اثر کي مونده کيږي، چي «د دراويدي ژبي مقايسوي ګرامر» نوميږي او په ١٨٥٦م. کي خپور سوی دی. د «ماقبل آريايي او ماقبل‌دراويدي» په باره کي د مقالاتو هغه مجموعه وګورئ، چي تر همدې عنوان لاندي (ډاکټر پي. سي. بګچي – د کلکتې پوهنتون، ١٩٢٩) ترجمه کړې ده. په دې کي هغه مقالې سته، چي «جوليوس بلاک»، «سيوان ليوي» او «پريزي لوسکي» ليکلي دي. همدا رنګه د «Gatha Saptasati» ليکنه وګورئ.

اولس به ابتدايي حالته څخه تمدن ته را پورته سو، تر نن ورځې پايښت لري او هم يې خپل لرغوني ټولنيز خاطرات له ځانه سره په دې ترتيب تر اوسه ساتلي دي. البته له دې حکمه څخه يونانيان تر يوې اندازې پورې استثناء دي. مصري تاريخ د اهرامو په هيروغليف، د دوی د باچهانو په قبرو او د «پاپيري» په طومارو کي لوستل کيږي. سومري او اشوري او د دوی له لاري د «هيتايتانو - Hittites» تاريخ د ختې پر لوحو باندي د دوی د مشهورو مېخي خطو له مخي لوستل کيږي، چي هغه لوحې د منځني ختيځ په حفرياتو کي د کيندنو په سلسله لاس ته راغلي دي. يونان ته د هومر په سلسله، چي تر ميلاد دمخه ۱۰۰۰ کلو يا زياتو ته رسيږي او هم د «ايواني - Ionian» او نورو آثارو د تازه حفرياتو له مخي څخه تقرب کېدلای سي.

هندو آريايي د لرغوني ټولنيز ژوند خپله خاطره په «ويدي» سرودونو يا ريکاګانو او نورو هغو ادبياتو کي ثبت کړې ده، چي په دوی پسي وروسته راغلي دي. تر ويدي اثر وروسته حماسيات را ځي او بيا نو د سوتراګانو، سمريتي‌ګانو او نورو نسبتاً معاصره دوره را پيدا کيږي. دغه ويدي «منترونه - Mantras» له ټاکلو لفظي اداګانو، وزمونو او حرکاتو سره يو ځای لا اقل د څلورو زرو کالو په دوران کي له يوې خولې څخه بلي خولې ته د هندو د آريايي ټولني د برهمنيانو له خوا څخه را رسېدله، څو چي بالآخره دوی د کاغذه پر مخ ثبت سوه، تفسير سوه او له نېستي کېدو څخه خوني وساتل سوه. په دې کي شک نه سته، چي دوی ساتل کېده، زده کېده او له يوه نسله بل نسل ته پاتېده، خو دا کار د بشريت يا تاريخ د ګتي په نيت سر ته نه رسېدی. تر ميلاد دمخه د ۱۵۰۰ پېړۍ په شاوخوا کي دغه سرودونه د ټولني هندو جامعې دپاره مطلق مذهبي مراسم وګرځېده او دوی د تاريخ په دغه مرحله کي د برهمني

ډلي دپاره د ډوډۍ د پيدا کولو منبع سوه، ځکه نو حتی تر هغه وروسته چي اجتماعي واقعيت يې نور نه انعکاساوه، خو بيا يې هم د پېړيو په دوران کي ادامه پيدا کړه. خو خاصه مميزه يې دا نه ده، چي مراسم ژوندي ساتل کېده، بلکي دا وه، چي په هند کي هندو آريايي دا بخت درلودی، چي تر دوه زره کاله زيات يې په داسي حالت کي ژوند کاوه، چي خپل اساسي ټولنيز تشکيل يې، سره له هغه چي د سر په سطحه کي يې تحولات راتله، بې‌له قطع کېدو څخه تقريباً ادامه درلوده. ده د زيات شمېر يرغلونو او تاړاکونو په منځ کي پايښت کاوه، څو چي په ميليونهاوو هندوان او ټوله وګړي، چي د تاريخ په دوران کي له دوی سره ګډ سوي يا په دوی کي منحل سوي وه، د کاپيټاليزم اوسني عصر او صنعتي انقلاب ته ور تسليم سوه، چي پر له راوړل سي، له ځايه وښورول سي، له خپله پخواني موجوديته څخه په بشپړه توګه تغير وخوري.
هغه اجتماعي انقلاب چي اوس يې تر آزموينې وځي، له هغو انقلابو سره، چي پخوا يې ليدلي دي، هيڅ شباهت نه لري؛ نو ځکه د دوی اجتماعي- مذهبي مراسمو او خاطراتو چي وکړای سوه تر پخوانيو انقلابونو ژوندي را تېر سي او وپايېږي، نور نو په داسي حالت کي نه دي، چي د پخوا په شان پايښت وکړي او ژوندي پاته سي. ځکه نو د پخواني شکل په توګه د دوی نېستي کېده اورمرو حتمي دي. مؤرخ بايد هغه په چاپي صورت د کاغذ پر مخ ثبت کړي. ټولنه، فرقې او هغه خبري او مصلحتونه، چي خلګو په شفاهي صورت را رسولي دي، اوس د ابد دپاره د ورکېدو په حال کي دي، ځکه د نوي سوسياليستي ټولني په يوه عالي او غني ژوند کي نور پايېدلای نه سي. تاريخ دغه نقش (چي خپل آثار ثبت کړي – مترجم) هغه چا ته و نه سپاره، چي په ما قبل التاريخي زمانه

کې د هغو هندي آريايانو معاصر وه، چې څو زره کاله پخوا يې د ولګا په سيمه کې له نورو څخه د خپلې ملګرۍ سلسله را وشکوله.
هغه ادبيات چې د دوی په اساس به موږ ماقبل التاريخي يا د ابتدايي کمون دوره تر کتنې لاندې ونيسو، څلور «ويداګاني» او بل د «مهابهاراتا» حماسه ده، خو اساساً هغه لومړی اثر ډېر اهميت لري.
څلور ويداګاني چې «ريګويدا»، «ياجور ويدا»، «ساماويدا» او «اتهروا ويدا» نوميږي، په خپل ماهيت، يعني په اصله موضوع او حتی شکل کې سره يو شی دي. په اصل کې د لرغونو رواياتو سره سم «ويداګاني» صرف درې دي، چې «ريک»، «ياجور» او «ساما» نوميږي. دې مقدس تثليث ته څلورمه «ويدا» په وروسته زمانه کې ور زياته سوې ده. «ساما ويدا» که څه هم په بېله توګه ذکر سوې ده، خو پرته له دې چې د «ريګويدا» کاپي وبلل سي، بل شی نه ده او په داسې آهنګ او وزم ويل کيږي، چې بايد د «ريګويدا» تغزل او حرکات پکښې وپالي. د دې خبرې معنا دا ده، چې ګواکې د «ريک» په موزيکال آهنګ ويل کيږي.
په مراسمو يعني د هغه دود په اجراء کې چې «يجنا» يا قرباني نوميږي، دغه ويدي سرودونو يوه وظيفه درلوده. له برهمني روايت سره سم هره «ويدا» په «يجنا» کې د يوه خاص موظف وګړي له خوا د تغزل په صورت کې ويل کېدله. د مؤرخ دپاره دا ټکی مهم نه دی، چې چا کوم سرود ووايه او کله چې يې هغه وايه، نو د خاصو مراسمو په وخت کې يې څه رنګه حرکات اجراء کړه. مهم ټکی دا دی، چې د هغه سړي وظيفه څه وه، يعني دا خبره را وښيي، چې دغه وظيفه، په هغه وخت کې چې دغه دودونه لا د مراسمو په بڼه نه وه اوښتي، د ټوله «يجنا» په پروسه کې څه راز يوه وظيفه وه. سرود چې هر راز وو، آيا هلته

په اجتماعي لحاظ کوم داسي مفید عمل وو، چي له ده څخه يې دا انتظار کېدی، چي په دې پروسه کي يې اجراء کړي؟ د «يجنا» مراسم لکه څنګه چي هغو برهمنيانو ته معلوم دي، چي نن ورځ ښايي د دوی شمېر په ټوله هند کي د يوه درجن تر شمېر اضافه نه سي، يوه داسي پروسه ده، چي په هغه کي تقريباً ټوله ابتدايي اجتماعي ژوند بايد له نوي سره ايجاد سي. تاسي بايد د لرګي د دوو ټوټو د موښلو په وسيله اور توليد کړئ، يوه ګورنډه (کلبه) جوړه کړئ، چي په هغه کي پرته له مخصوصو لرګو او وښو، له اوسپني څخه هيڅ کار وا نه خيستل سي، غواوي ولوشئ، مستې جوړي کړئ، جواري په ډبره (حتی نه په ډبرينه ميچن) وکوټئ، حيوانات ووژنئ او پوست يې وکاږئ، دوی وايشوئ او پاخه يې کړئ، سندري ووایاست او وناڅئ، په ابتدايي توګه مينه وکړئ، جنګ وکړئ او بری وګټئ، عبادت وکړئ او داسي نور. که څوک د «يجنا» مراسم مطالعه کړي، نو دې نتيجې ته رسيږي، چي دغه د مراسمو په شکل د ابتدايي آريايي ژوند تمثيل دی. د دغو ويدي سرودونو يا ويدايي «سوکتاګانو»، لکه څنګه چي په دغه نامه پېژندل کيږي، اصله موضوع دا ده، چي د ټولو دغو کارونو د کولو بيان کوي، د نړۍ، انسان او حيوان د پيدايښت نکلونه را په زړه کوي، د ګهيځ د ښکلو ستاينو سندري وايي، د هغه ستر ثروت ثنا وايي، چي خلګو ته د مشرانو (يعني د نم) له خوا ور کول کيږي، چيغي وهي، چي رنځور ته شفا ور کړي، خبيثه ارواح وډاروي او داسي نور. ټوله عالمان دا مني، چي «يجنا» يا ويدي مراسم په اصل کي واقعي آريايي ژوند د تاريخ په يوه ټاکلې مرحله کي انعکاسوي.

په کومو شکلونو چي نن ورځ موږ ته «ويدي» سرودونه په لاس را ځي، ښايي داسي تشريح سي، چي د برهمني مراسمو د بېلا بيلو مکتبو مختلفي نسخې او

مجموعې ګڼل کيږي. د ريګويدا مجموعه يوازې د يوې نسخې يا يوې «سمهيتا» په توګه، چې په دغه نامه ياديږي او (۲۸. ر ۱) سوکتاګاني لري، مونده کيږي. «ياجور ويدا» شپږ «سمهيتاګاني» لري، چې د هغو له جملې څخه څلور يې هغه برخه جوړوي، چې د «کريشنا ياجور ويدا» يا «توريا جورويدا» په توګه او دوی يې هغه برخه جوړوي، چې د سپين يا «سوکلايا جورويدا» په توګه پيژندل کيږي. «ساما ويدا» فقط د «ريک» يو نقل دی، چې ۱۵۴۹ سرودونه لري. «اتهروا ويدا» ۶۰۰۰ سرودونه يا ۷۳۱ سوکتاګاني لري (يوه سوکتا لکه يو قطعه بند غوندې يو شمېر سرودونه يا «ريکاګاني» په هغه کې موجودې وي).

د هغو مواردو په پرتله چې په نورو ادبياتو کې موږ ته په لاس را ځي، د دې څلورو «ويداګانو» سرودونه د زمانې په لحاظ ډېر لرغوني دي. حتی د دوی په منځ کې هم ځيني نسبت نورو ته قديم دي. د آريايي انکشاف په يوه ټاکلې مرحله کې دا جريان پای ته ورسېدی، چې نوې «ريکاګاني» يا ويدي سرودونه منځ ته را سي يا ايجاد سي. هغه څه چې موجود وه، د هغه چا د مقدس ميراث په توګه واوښته، چې ور سره مونده کېدله. دا چې دغه کار نو په اجتماعي تاريخ کې په واقعي توګه څه مفهوم لري، وروسته به يې وګورو.

خو هره ويدا د دغو ډېرو لرغونو سرودونو سره يو برهمنا لري، چې د هغې ضميمه دي. هر «برهمنا» يو «ارانياکا» او هر «ارانياکا» يو «اوپانيشاد» لري. څه رنګه چې «سمهيتاګاني» يا د ويدا څانګې په شمېر زياتې دي، نو ځکه د «برهمناګانو»، «ارانياکاګانو» او «اوپانيشادانو» شمېر هم زيات دی. د «برهمنا» او «ارانياکا» اصلي موضوع روايات، نکلونه، مرموز سوالونه او مرموز جوابونه تشکيلوي. «برهمناګاني» په نثر ليکل کيږي او تر ډېري اندازې د هغو موادو منبع ده، چې پر لرغوني اجتماعي تشکيل او مبارزاتو باندې رڼا اچوي.

«اوپانیشادان» د فلسفې په باره کې بیانونه لري، چې د هندویي تاریخ او فلسفې ټولو لوستونکو ته اوس ډېر ښه څرګند دي. «اوپانیشادان» نسبتاً د ویداګانو نوي (اوسني) ضمایم دي او په واقعي توګه د هغو جز نه ګڼل کیږي، که څه هم دوی تر دغه یا هغه ویدا لاندي تصنیف سوي دي.

همدا رنګه د ویدا هره «سمهیتا» خپلې «سوتراګاني» لري او دا «سوتراګاني» بیا بېلابیلې مقولې لري، لکه «شراوتا»، «ګریهیا»، «دهرما» او «شلوا». کله چې موږ دغو ټکو ته را ځو، نو موږ د وخته لا د ویدا له مبدی او د هغې له ټولنې څخه را لیري سوي یو، ځکه دلته موږ له قوانینو، مجازاتو، کورني مراسمو، ملکیت او ټولو داسې موضوعاتو سره مخامخ کیږو، چې په یوه داسې ټولنه اړه لري، چې د قبیلوي ټولنې په توګه یې موجودیت پای ته رسېدلی دی.

موږ دغه ادبیات، مراسم، روایات، نکلونه او نور او نور را اخلو او د «یجنا» ټوله حرکات چې اساسي او لرغوني چاري تمثیلوي، یو ځای کوو. پخوا تر دې د ویدي ادبیاتو د زیات شمېر لویو عالمانو له خوا څخه په دې کار کې زیار ایستل سوی دی.[۱۵] دوی ټوله لازم اجتماعي معلومات را غونډ کړي او ثبت ته یې رسولي دي. خو څه رنګه چې ماهیت د دوی له نظره لوېدلی دی، نو ځکه په دې نه دي بریالي سوي، چې موږ ته د لرغوني آریایي کمون یو تصویر را وړاندې کړي. رشتیا هم په دې سبب چې دغو عالمانو د تاریخي ماټریالیزم تیوري نه درلوده او یوازې یې د نولسمې پېړۍ د تاریخ‌پوهانو له بورژوازي سوسیولوجیکي مېتود څخه کار اخیستی، نو یوه مشکل ته ورسېده، چې هلته یې باید دا کار نه وای کړی، اما څه رنګه چې دوی له مسایلو سره یو اجتماعي برخورد کاوه او د مذهبي تشریفاتو په اساس یې هغو ته نه کتله، نو یې دا کار

۱۵ موږ دې ته ضرورت نه لرو، چې د دوی نومونه دلته فهرست کړو. په وروسته بیانو کې به د دوی ذکر وسي.

وکړای سو، چې ګټور مادي حقايق زموږ د څېړني دپاره وچونې، که موږ د پوهېدلي کيلي په لاس کي ولرو، نو اساساً د دې حقايقو له مخي څخه په آسانۍ سره د آريايي کمون په انکشاف پوهېدلای سو.
هغه خبري چې په ويدي متونو کي د «برهمناګانو» په شمول او په تېره بيا همدا رنګه د «مهابهاراتا» په تاريخي موادو کي د بې معنا مراسمو او کله کله د بې معنا نکلونو په شان ليدل کيږي، د پوهېدو کيلي يې دا ده، چې څوک په دې وپوهيږي، چې «يجنا» څه شي وه. اجتماعي خاطرات، روايات او مذهبي مراسم ټوله دا عقيده انعکاسوي، چې دا غبرګوليان، يعني «برهمان» او «يجنا» د آريايي نظر له پلوه ټوله د جهان ابتداء او د ټوله موجوديت انتها ګڼل کيږي. که موږ دغه خبره په پام کي ونيسو او له «برهمان» او انسان سره د «يجنا» رابطه د ويداګانو، برهمناګانو او مهابهاراتا د آثارو په مرسته تر پوهني لاندي راولو، نو به ابتدايي آرين په خپل رشتياني شکل ومومو. بيا به نو د هغو خبرو له مخي څخه، چې په ويداګانو کي د «برهمان» او «يجنا» په باب کاملاً بې معنا ږغونه راته ايسي، موږ وکړای سو، چې ځيني تاريخي معلومات را ټول کړو. له دې جهته نو را سئ، «يجنا» تر تحليل لاندي راولو او له نوي سره يې جوړه کړو او د آريايي انسان هغه مبداء وګورو، لکه څنګه چې د ده د «يجنا» په خپل ريکارډ کي ثبت سوې ده او هغه ستر «برهمان» تر پلټني لاندي راولو، چې د هغه په وجود کي دی ژوند کوي.

# دوهم فصل

## د کلتور ماقبل التاریخي مرحلې

د تاریخ هر درسي کتاب موږ ته د انسان د کلتور او تمدن په باره کي بیان کوي او دا راته وایي، چي دی څه رنګه ژوند کوي، څه رنګه فکر کوي او څه رنګه د خپل ژوند دپاره ضروري شیان تولیدوي او هر کله د هغو افزارو په باره کي رغیږي، چي په ټاکلې مرحله کي د ده له خوا څخه د خپلو ضروریاتو د تولید دپاره استعمال سوي دي. دا ترتیب تقریباً په اتفاق سره د ټولو انسان پېژندونکو او اجتماعي تاریخ پوهانو له خوا څخه؛ په تېره بیا چي د لرغونو ټولنو سره سر او کار لري، منلي تعامل په توګه رعایت کیږي. دوی موږ ته وایي، چي انسان یا د ښکار او کب نیولو وسلې استعمالولې یا یې د «یوِي» «هل» درلودی او کرهڼه یې سر ته رسوله. دوی حتی اجتماعي تاریخ د تولید د افزارو سره مطابق تصنیفوي، لکه د انسان د «ډبري عصر»، «د برونزو عصر»، «د اوسپني عصر» او داسي نور.[16] د تاریخ نکلونه یې چي هر ډول وي، خو له دې حقیقته ځان نه سي ژغورلای، چي د اجتماعي انسان په ژوند کي د تولید افزار هغه شی دي، چي د ده د ژوند کیلي ګڼل کیږي. خو تر دې په ها خوا به نو بورژوا مؤرخ تېر نه سي.

مارکسیستان عقیده لري، چي په یوه ټاکلې دوره کي هغه تولیدي قواوي چي د ټولني په واک کي پرتې وي، د ټاکونکي عامل په توګه بلل کیږي. دمخه تر هغه چي انسان فکر او یا کوم بل فعالیت وکړای سي، دی باید د ژوند کولو دپاره له طبیعته سره د مبارزې اساسي او لومړنی فعالیت وکړي؛ یعني ډوډۍ، کور، کالي

---

۱٦ د «کارل مارکس» کاپیټال، مسکو، ۱۹۵۴، ۱۸۰ مخ حاشیه

او داسي نور تولید کړي. هغه افزارونه چي دی یې د دغه کار دپاره عیارولای سي او هغه شمېر خلګ چي د دغه کار دپاره را ټولېدلای سي او یو ځای کېدلای سي او همدا رنګه د دوی مهارتونه ټوله سره په مجموعي توګه د هغې ټولني تولیدي قواوي جوړوي. بیا نو له ټاکلي جغرافیایي او طبیعي چاپېریال څخه یو مزید مرستندوی عامل جوړېدلای سي، خو پرته له دې کوم بل شی نه سي کېدلای.

د دغو تولیدي قواوو پر اساس او د دوی له ماهیته سره سم اجتماعي اورګانیزم جوړیږي. دا چي انسانان به څه رنګه یو د بل سره او د تولید له افزارو سره خپل روابط یعني تولیدي روابط تنظیم کړي، په تولیدي قواوو پوري اړه لري. د ابتدایي زمانې ښکاریانو د ډبري له تبره سره نه سوای کولای، چي کاپیټالیستي روابط یا ټولنه ولري او هم د مزدوری ګټندویان او سرمایه‌داران د بخار له انجن سره نه سي کولای، چي ابتدایي کموني روابط ولري.

له یوې مرحلې څخه بلي ته په اوښتلو کي انقلابي عامل د تولید افزارونه دي. د تولید د افزارونو ممیزه دا ده، چي هیڅ کله توقف نه کوي او د انسان د اجتماعي تولیدي فعالیت او د بشري ټولني د اړتیاوو په نسبت تل تر تله تحول کوي او تر تغیر لاندي وي.

هغه تغیرات چي د تولید په افزارونو او تولیدي قواوو کي را ځي، د ټولني په ساختمان کي د انقلابي تحولاتو کیلي ګڼل کیږي.

د وحشت له مرحلې څخه بربریت ته او بیا تمدن ته د انسان د انکشاف غټ مشخصات او مرحلې په هغه لنډیز کي، چي اینګلس یې موږ ته بیانوي، ډېر ښه ارایه کېدلای سي.

د دغه لنډيز په وړاندي به موږ وکړای سو، چي آريايان په خپل تاريخ کي وڅارو.

وحشت

۱- کښتنۍ مرحله: بشري ذات د وړکتوب په حالت کي دی. انسان تر اوسه لا په خپل لومړني ټاټوبي کي ژوند کاوه، چي هغه په استوايي تودو يا استوايي سيمو ته په نژدې نيمو تودو ځنګلو کي واقع وو. لږ تر لږه د اوسېدوني يوه برخه يې په درختو کي وه. دغه دليل وو، چي د لويو ځيرونکو حيواناتو په مقابل کي يې هم خپل پايښت ته ادامه ور کولای سوای. مېوو، مندکو او ريښو ده ته د غذايي موادو په توګه کار ور کاوه. د دې دورې ستر موفقيت دا وو، چي د ملفوظو خبرو ترتيب منځ ته راغی. هغه خلګ چي په تاريخي دوره کي دننه پېژندل سوي دي، د دوی له جملې څخه هيڅ څوک په دغه شاني ابتدايي حالت کي نه دي ليدل سوي. که څه هم دغي ابتدايي دورې به ښايي په زرو کلونه دوام کړی وي، خو د ثبوت دپاره يې هيڅ مستقيم شاهد نه لرو، اما که دا خبره ومنو، چي انسان له حيواني کورنۍ څخه را وتلی دی، نو بيا د دغي انتقالي مرحلې منل ارو مرو حتمي دي.

۲- منځنۍ مرحله: دا مرحله په دې ټکي شروع کيږي، چي انسان د غذا دپاره له ماهي څخه (چي تر دې نامه لاندي چونګاښان، ماهيان او د اوبو نور ژوي هم شاملوو) کار واخيستی او اور يې د خپل ژوند دپاره استخدام کړی. ماهی او اور دواړه يو او بل سره پوره کوي، ځکه د اور په استعمال سره د ماهي غذا پوره د استفادې وړ ګرځي. دغي نوي غذا نو البته انسان د محل او موسم له قيده څخه آزاد کی، چي رودونه او سواحل يې پسي را واخيستل، نو انسان وکړای سوای، چي حتی په خپل وحشي حالت کي د مځکي د مخ پر ډېره

برخه باندې سره تیت سي. د ډبرې د پخواني عصر (چې په نامه پیلیولیتیک ورته وايي) هغه کچه او ناتوړلي ډبرين آلات چې په کُلي یا غالب ډول په دغه دوره پورې اړه لري او په ټولو قارو کي پاشلي دي، د دغو مهاجرتونو نخښه ده. دا چې انسانانو نوي سيمي اشغال کړې او د اکتشاف دپاره يو نه ختمېدونکی فعال حرکت هم پکښي غونځېدی او دا خبره ور سره وه، چې د اصطکاک په وسیله یې د اور د پیدا کولو پر فن باندې برى پيدا کړی وو، نو دې عواملو د غذا نوي مواد دوی ته مهیا کړه، لکه اوږديني ريښې او پوڅکۍ (ټیوبر)، چې یا به په پوړندو کي پخېدلې او يا د پخلنگ په غارو (یعني مځکني تنورانو) کي او تر هغه وروسته چې لومړۍ وسله؛ یعني سوټی او نیزه یې اختراع کړه، نو په غذا کي يې کله کله د ښکار غوښې هم اضافه سوې. خو صرف ښکاري خلگ (لکه څنگه چې په کتابو کي تمثيلېږي)، يعني داسي څوک چې خاص په ښکار پايي، هیڅ کله یې موجوديت نه دی کړی، ځکه د ښکار حاصلات ببخي بې‌دوامه دي او د دې قابليت نه لري، چې دغسي موجوديت ممکن کړي. د غذايي موادو منابع چې هر کله يې ثابت او یقيني حالت نه درلودی، نتیجه يې داسي ښکاري، چې په دې مرحله کي آدم‌خوري منځ ته راغله او د ډېر وخت دپاره پاته سوه، تر نن ورځي پوري استراليا‌والا او زيات شمېر «پولينيشيا‌والا» د وحشت په دغه منځنۍ مرحله کي پاته دي.

۳- پورتنۍ مرحله: دا مرحله د غشي او لېندۍ په را وتلو (اختراع) سره شروع کيږي. د دې آلاتو په وسيله نو د وحشي حيواناتو د ښکار غوښې په غذايي موادو کي په منظم ډول شاملي سوې او ښکار یو عادي شغل وگرځېدی. لېندۍ، د هغې تناو او غشی یوه ډېره پرله پېچلې او مرکبه آله ده، د دې آلې اختراع دا غوښته، چې بايد تر منځ ته راتلو دمخه یې اوږدې تجربې يو ځای

سوي وي، ذهني قواوي تېزي موندلې وي او بالنتيجه په همدې وخت کي له یوې سلسلې نورو اختراعاتو سره هم شناخت پیدا سوی وي. که موږ هغه اولسونه د مقایسې په توګه وګورو، چي که څه هم د غشي او لېندۍ سره آشنا دي، خو د کلالۍ په فن (چي مورګان يې د راوتلو له وخته د بربریت دورې ته د انتقال تاریخ ټاکي) لا نه پوهیږي، نو وینو چي حتی په دغه وختنۍ مرحله کي د کلیو اوسېده شروع سوي دي او د ژوندون د وسایلو په تولید کي پوره مهارت منځ ته راغلی دی. د دې وسایلو په لړ کي نو له لرګي څخه لوښي او سامانونه جوړېده، (بې‌له دستګاه څخه) يوازي په ګوتو له تارو څخه اودني کېدلې، له نلانو یا بوریایي موادو څخه ټوکرۍ تیارېدلې او د توږلي ډبري (نیولیتیک) افزارونه تهیه کېدله. تر ډېره حده د ډبري تېشې او اور دا امکانات برابر کړي وه، چي د ونې د تنې نس وکاږي او کښتۍ ځني تیاره کړي. په ځینو ځایو کي د لرګي له تیرانو او تختو څخه هم د ګورو په جوړلو کي کار اخیستل کېدی. د مثال په توګه دغه ټول پرمختګونه د شمال غربي امریکې د هغو هندیانو په منځ کي پیدا کیږي، چي که څه هم دوی د غشي او لېندۍ سره آشنا دي، لاکن په کلالي کورټ نه پوهیږي. د وحشت په دوره کي غشي او لېنده داسي مهمه وسله وه، لکه د بربریت په دوره کي چي د اوسپني توده او لکه د تمدن په دوره کي چي توده وسله ګڼل کیږي؛ یعني قاطعه وسله وه.

بربریت

۱- کښتنۍ مرحله: دا مرحله له هغې نېټې څخه را پیل کیږي، چي کلالي را ووتله. د کلالۍ مبداء یقیناً په زیاترو ځایو کي او غالباً هر چیري په دې ډول وه، چي ټوکریو یا د لرګي لوښو ته به د دې دپاره د خټو استر ور کول کېدی،

چي د اور په مقابل کي وساتل سي او له دې لاري نو ژر دا کشف سوه، چي په قالب کي شکل سوي ختې بې‌له دې څخه چي بل لوښی دننه پکښې وي، يوازي هم د اورني لوښي کار ور کولای سي.
تر دغه ټکي پوري د تکامل جريان په عمومي توگه د ټولو اولسونو تر منځ پرته له دې چي محل يې کومه اغېزه ولري، د يوې ټاکلي دورې دپاره يو راز گڼلای سو. خو د بربريت له راتلو سره نو موږ يوې داسي مرحلې ته رسيږو، چي هلته د دوو لويو قارو د طبيعي منابعو تفاوت په دې شروع کوي، چي خپلي اغېزې ښکاره کړي. د بربريت د دورې بارز خصوصيت دا دی، چي په دې زمانه کي د حيواناتو اهلي کول او د هغو د نسل ډېرول او د نباتاتو کرل رواج مومي. اوس نو په ختيځه نيمه کره کي (چي په نامه زړه دنيا بلل سوې ده) تقريباً ټوله هغه حيوانات پيدا کېده، چي د اهلي کېدو وړ وه او هم يې پرته له يوه شي نوري ټولي هغه غلې درلودې، چي کرهنه يې کېدلای سوای. لاکن په لوېديځه نيمه کره، يعني امريکا کي بيا د اهلي کېدونکو حيواناتو له جملې څخه يوازي يو تي‌لرونکی حيوان پيدا کېدی، چي «لاما» نومېدی او دا هم صرف د جنوب په يوه سيمه کي. د کرلو دپاره يې فقط يو شی درلودی او هغه هم ډېر ښه شی، چي جواري وه. د دغو مختلفو طبيعي شرايطو اثر دا وو، چي سر له اوسه څخه نو د هري نيمي کرې وگړو خپله خاصه لاره واخيسته او هغه نښې، چي د انکشاف بېلابيلي مرحلې په ټاکل کيږي، په دې دوو برخو کي تفاوت سره لري.
۲- منځنۍ مرحله: دا مرحله په ختيځ کي د حيواناتو په اهلي کولو را نښلي، خو په لوېديځ کي يې بيا شروع له دې ځايه وه، چي د آب‌ياری په وسيله د خوراکي نباتاتو کرهنه را پيدا سوه او د ټاټوبو په جوړولو کي د ډبري او اومو خښتو (چي په لمر وچېدې) استعمال منځ ته راغی. په ختيځ کي د بربريت منځنۍ مرحله

د هغو حيواناتو په اهلي کېدو را شروع سوه، چي هم يې شيدې کولې او هم يې غوښي د خوراک وې. خو نباتي کرهڼه بيا داسي څرګنديږي، چي په دې دوره کي تر خورا ډېري وروستۍ زمانې پوري چا نه پېژنده. د حيواناتو اهلي کېده او د نسلي روزني له لاري د دوی ډېرېده او د لويو رمو او ګلو جوړول د هغه توپير علت معلوميږي، چي آريايانو او ساميانو د بربريانو له پړګنو سره درلودی. اوس لا هم د اروپايي او آسيايي آريايانو په منځ کي د څارويو نومونه مشترک دي، خو د کرهڼي وړ نباتاتو نومونه يې بيا کورټ دغه شان نه دي.
په مناسبو ځايو کي د رمو جوړولو کار چوپاني ژوند ته لارښوونه وکړه. ساميانو دغه ژوند د فرات او دجلې په واښه لرونکو ورشوګانو کي را شروع کی او آريايانو د هند په څړځايو او د اوکسوس (امو دريا)، جاخار تيز (سير دريا)، دون او دنيپر په ناوو کي. د حيواناتو د اهلي کولو کار ښايي وار د واره د دغسي څړځايونو په سرحدو کي را شروع سوی وي. په دې ترتيب نو وروستنيو نسلو ته ور معلوميږي، چي چوپاني اولسونه په هغو سيمو کي منځ ته راغلي دي، چي د بشر لومړنی ټاټوبی خو ښځي نه سي کېدلای، بلکي دا سيمي تقريباً د دوی د وحشي اجدادو د اوسېدني دپاره هم مناسبي نه وې او نه هم حتی د بربريت د کښتنی مرحلې خلګو استوګه پکښي کولای سوای. له بله پلوه بيا دا د منځنۍ مرحلې بربريان، چي يو پلا پر چوپاني ژوند واوښته، نو بيا يې په خوا او خاطر کي لا نه ور ګرځېده، چي په خپله خوښه دا اوبه لرونکي شنه څړ ځايونه پريږدي او هغه ځنګلي سيمو ته ور ستانه سي، چي د دوی د اجدادو ټاټوبی وو. حتی کله چي آريايان او ساميان مجبوره سوه، چي د شمال او غرب خوا ته نور هم وړاندي ولاړ سي، نو دوی ته ناممکنه ښکاره سوه، چي د غربي آسيا او اروپا په ځنګلي سيمو کي واړوي. څو چي هلته يې د غلو د کرني په

وسیله وګرځي سوه، چي پر دغه نامساعده محٔکه باندي مالونه ماړه کړي او په تېره بیا ژمی هلته وباسي. دا خبره تر احتمال قوي ده، چي د غلو کرهڼه دلته وار د واره د دې اړتیا له مخي را شروع سوه، چي د مالو (څارویو) دپاره خوراکه په لاس څني راوړل سي او صرف په وروسته کي یې د انساني تغذیې دپاره هم اهمیت پیدا کړی.

دا چي آریایانو او سامیانو ته د غذا دپاره غوښي او شیدې ډېري وې او په زیاته بیا دا چي دغه غذاوي د بچیانو په وده کي ګټور تاثیرات لري، نو ښایي دغه سببونه وه، چي د دې دوو نژادو انکشاف تر نورو واوښتی او ډېره ارتقاء یې په برخه سوه. رښتیا هم د نوي مکسیکو، پویبلو هندیان چي تقریباً یوازي سابه خوري، د دوی دماغ تر هغو هندیانو ډېر کوچنی دی، چي د بربریت په کښتنۍ مرحله کي وه او د غوښو او کبانو له غذاوو څخه یې پوره استفاده کوله. په هر حال، په دغه مرحله کي آدم‌خوري ورو ورو کمیږي او صرف د یوه مذهبي یا جادویي رسم (چي په دغه مورد کي یې تقریباً له مذهبه سره یو برابر حیثیت درلودی) په شاني پاتیږي.

۳- پورتنۍ مرحله: دا مرحله د اومې اوسپني په ویلي کېدو پیل کیږي او د الفبایي لیکني د اختراع او له دې لیکني څخه د ادبي آثارو د ثبتولو په کار کي د استفادې په سلسله د تمدن مرحلې ته را تېریږي. دغه مرحله لکه دمخه چي مو یاده کړه، یوازي په ختیځه نیمه کره کي په آزادانه صورت طی سوه. د دې مرحلې په دوران کي تولیدات دونه پر مخ ولاړه، چي د ټولو تېرو مرحلو تر مجموعي تولیداتو یې اندازه ډېره وه. د یونانیانو د قهرمانۍ د عصر وختونه او د ایټالوي قبیلو هغه زمانې، چي د «روم» تر تاسیس لږ څه دمخه وې او د جرمنیانو

د «ټاسيټوس» وختونه او د «نارمنيانو» د سمندري داړه‌مارۍ ورځي، له دغې مرحلې سره تعلق لري.
تر ټولو غټه خبره دا ده، چې په دې مرحله کې موږ ته د لومړي پلا دپاره داسي «هل» په مخه را ځي، چي د اوسپني سپاره ور لوېدلي وي او د حيواناتو په وسيله کشيږي او په پراخه پيمانه د مځکي د کرهنې امکان برابروي او د هغې زمانې د شرايطو په حساب د ژوندون په وسايلو کي يو عملي نامحدود زياتوب منځ ته را ځي. په دغه لړ کي دا هم وينو، چي ځنګلونه وهل کيږي، د کرهنې او څړ دپاره مځکه ځني تياريږي، چي دغه کار هم په پراخه پيمانه د اوسپني بې کهې (تېشې) او بې له کوم څخه امکان نه درلودی، خو له دې سره يو ځای د وګړو په ډېرښت کي همدا رنګه چټکي راغله او په کوچنيو ځايو کي ګڼ نفوس را پيدا سوه. تر کرني دمخه صرف بېخي استثنايي حالاتو کولای سوای، چي نيم ميليون خلګ تر يوه مرکزي مشرتوب لاندي سره را غونډ کړي، خو د ټولو احتمالاتو سره دغسي غونډېده هم هيڅ‌کله نه دي پېښ سوي.
د هومر په اشعارو کي په زياته بيا په «ايلياډ» کي موږ وينو، چي هلته د بربريت پورتنۍ مرحله په خپل اوج کي ده. له اوسپني څخه ښه جوړ سوي آلات؛ د پښ بنۍ، مېچن، څرخ، د شرابو او روغنياتو جوړول، فلزي کارونه، چي د آرت درجې ته يې ځای رساوه، ګاډياني او دوه اربه‌ييزه جنګي عرادې، له الوارو او تختو څخه د کښتيو جوړول، د يو فن په حيث د معمارۍ ابتداء، د برجانو او کلاوو سره دېوال لرونکي ښارونه، هومري حماسيات او ګرده اساطيري پوهنه- دغه ټوله شيان هغه مهم ميراثونه دي، چي يونانيانو له بربريت څخه تمدن ته د انتقال په حالت کي له ځانه سره راوړه. که موږ له دغه جريانه سره د جرمنيانو هغه حالات مقايسه کړو، چي سيزار او حتی ټاسيټوس يې بيان کړی دی او د

دوی د کلتور د هغې مرحلې په وره کې وه، چې د هومر د وختو یونانیانو له هغې څخه د وتلو او بلې عالي مرحلې ته د داخلېدلو تیاري نیوله، نو له دې مقایسې څخه به موږ ته څرګنده سي، چې د بربریت په پورتنۍ مرحله کې د تولید انکشاف خورا ډېر پر مخ تللی وو.

د بشري تکامل تصویر د وحشت او بربریت په سلسله د تمدن تر مبادیو پورې، چې د مورګان د ترتیب مطابق دلته ما طرح کړی دی، البته د نوو او مستندو منظرو له پلوه ډېر غني دی.

دا منظرې مستندي دي، ځکه په مستقیم ډول د تولید له مخې څخه را اخیسته سوي دي. خو سره له دې به دا تصویر کمزوری او پیکه ښکاره سي، چې د هغه تصویره سره مقایسه سي، چې زموږ د دې سلسلې په آخر کې به ځان په خپله څرګند کړي. صرف هغه وخت به نو ممکنه سي، چې له بربریت څخه تر تمدن پورې انتقال او هم د دوی تر منځ د اساسي مغایرت او فرق یوه پوره منظره تصویر سي.

د اوس دستې دپاره موږ کولای سو، چې د مورګان دورې په لاندې توګه تعمیم کړو:

وحشت: یعني هغه دوره چې انسان دا قدرت پکښې پیدا کی، چې د استفادې دپاره تیار طبیعي پیداوار په ځان پورې اختصاص کړي. کوم شیان چې انسان په دې دوره کې جوړ کړه، زیاتره یې هغه آلات وه، چې دغه د اختصاصولو کار ځان ته آسانه کړي.

بربریت: یعني هغه دوره چې په دې کې د څارویو د نسل د روزلو او د مځکې د کرهنې پوهنه لاس ته راوړه سوه او د بشري فعالیت په وسیله د طبیعت د تولیدي ظرفیت د زیاتولو لارې او چارې زده سوې.

تمدن: یعني هغه دوره چي په دې کي له طبیعي پیداوارو څخه د زیاتي استفادې او په اصلي مفهوم د صنایعو او فنونو پوهنه لاس ته راوړه سوه.[۱۷]

**تمدن**

کله چي بشري ټولنه د تمدن دورې ته داخله سوه، نو د دې مفهوم دا دی، چي ابتدایي کمون پای ته ورسېدی. د بربریت او تمدن تر منځ بارز مغایرت د اینګلس له خوا څخه په لنډه توګه بیان سوی دی. دی وایي: تمدن د ټولني د انکشاف هغه مرحله ده، چي دلته د کار تقسیم او د هغه په نتیجه کي د افرادو تر منځ مبادله او د مالونو تولید، چي دا دواړه سره یو ځای کوي، خپل بشپړ انکشاف ته رسیږي او تر دې آنه را رسېدلې ټولنه انقلابي ګرځوي.[۱۸]

مبادله او د مالونو تولید د دې سبب سوه، چي خصوصي ملکیت، د بډای او خوار توپیرونه، طبقات، د یوې طبقې له خوا د بلي استثمار، مرئیتوب، پر ښځه باندي د نر تفوق، د ښار او کلي په منځ کي کلک تضاد او بالآخره دولت منځ ته راوړي، چي د استثماري طبقې د اورګان په حیث دا کار ځني اخیستل کیږي، چي محکومه او تر استثمار لاندي طبقه د هغه په وسیله تر حاکمیت لاندي وساتل سي.

تمدن چي دغه اصول خپل اساس وګرځول، نو له دې لاري څخه یې هغه کارونه بشپړ کړل، چي پخوانۍ بهیري ټولني په هیڅ توګه نه سوای کولای، چي سر ته یې ورسوي. خو دغه کارونه یې په دې وسیله انجام کړه، چي د انسان له ډېرو ټیټو غرایزو او میلاناتو څخه یې کار واخیست او هم یې د دې غرایزو د انکشاف دپاره د انسان نور ټوله ملکات قرباني کړه. وچه سرابښي ده، چي د

۱۷ د اینګلس اثر: د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء

۱۸ د اینګلس لوړ اثر

تمدن د منځ ته راتلو له لومړۍ ورځې څخه بیا تر نن زمانې پورې ده ته حرکت ور کوي او ثروت، هغه هم ډېر ثروت او بیا هم ثروت، د ټولنې ثروت نه، بلکې د دغه خسیس فرد ثروت د ده یوازنی او قاطع هدف ګڼل کیږي. دا چې دې هدف ته د رسېدو په دوران کې ساینس زیاته ترقي وکړه او د هنر د انتهایي برم مکررې دورې پکښې منځ ته راغلې؛ دا صرف په دې سبب وو، چې د ثروت په را غونډولو کې د اوسنۍ زمانې زیات بریالیتوبونه د ساینس او هنر د دغسې انکشاف په پرته سر ته نه سوای رسېدلای. [19]

نو کله چې موږ د لرغوني آریایي انسان تاریخ پلټو، باید وار د واره د تولید هغه افزارونه وګورو، چې د ده په واک کې وه او پر دې خبره باندې علم راولو، چې څه رنګه یې د هغو په وسیله تولید کاوه. دغه کار به نو ضرور د ده د تشکیل ساختمان؛ یعني د ده تولیدي روابط او بیا د ده ایډیالوجي، اخلاق، کورني روابط او داسې نور موږ ته را وښیي.

۱۹ د اینګلس لوړ اثر

## دریم فصل

## یجنا؛ د آریایي کمون د ډله‌ییز تولید طرز

ویدي ادبیات او د مهابهاراتا حماسه د نړۍ د پیدایښت او د دې مځکې پر مخ د انسان د پخواني ژوند په باب له نکلو څخه ډک دی. له هغو تشو تصوراتو او تخیلاتو پرته، چي د وحشت په حالت کي له انسانانو څخه نشئت را کوي، ویدي روایات د دوی د اجدادو د پخواني حالت، د دوی د ژوند د طرز، کار کولو او ډېرښت کولو ثبت یا خاطره ژوندۍ ساتي. هندو آریایي په یوه وروستنۍ مرحله کي د اجتماعي آریایي انکشاف، د انسانانو او ټوله پیدایښت په باب خپله ځانته تیوري منځ ته راوړه. ده یو داسي سیستم منځ ته را وستی، چي انکشاف تصویر کړي او دا سیستم یې «یوګاګاني» او «من‌ون‌تاراګاني» باله. دې سیستم یوازي تخیلي یا تش تصوري شکل نه درلودی، دې سیستم د هغو اجتماعي تغیراتو جوهر احتوا کاوه، چي اجتماعي خاطرې یې آریایي انسان ته روایت کړی وو او ده هغه تغیرات د وحشي یا بربري تخیل په بڼه ترسیم کړي وه. انسان په هغه مرحله کي ټولو پدیدو او د خپل چارپېریال هر شي ته ژوند، پوهه او یا شعور ور کوي. دې نړۍ ته د خپل ځان په شکل ګوري، تر اوسه یې لا د خپل نو (ناف) رشته له طبیعته څخه نه ده شکولې او تر اوسه لا تر ډېري اندازې د طبیعت جزء ګڼل کیږي. په دې ډول نو لمر، سپوږمۍ، ستورو، موسمونو، درختو، ډبرو، رودونو، مځکي او داسي ټولو شیانو ته د قدرتونو، خدایانو، ارباب‌الانواعو او نورو په بڼه شخصیت ور کول کیږي. مړي که څه هم ښخ سي، وسوځل سي او له منځه ولاړ سي، خو ده ته هغه ژوندی ایسي او اوس لا هم د ده سره کښېني او خپله ډوډۍ خوري. د دغي ټولي

پسمانۍ تر شا، چې هغه د ساینس د نه موجودیت او پر طبیعت او ټولنه باندي د نه تسلط په وجه ارو مرو هغه شان تخیلات او ایډیالوجي زېږوي، چې د ټولو ابتدایي اولسونو تر منځ پیدا کېږي، همدا رنگه هلته د اجتماعي ژوند د تولید د طرز ټاکونکی عامل موجودیت لري، چې هغه د تولیدي قواوو او تولیدي روابطو سطحه گټل کېږي. اساطیر او اساطیري پوهنه ضرور دغه روابط تمثیلوي، چې په حقیقت کي د دغو اساطیرو ماهیت تشکیلوي.
تاریخ یا په اصل کي ټولي نړۍ ته د هندویي سیستم د کتني غټ خصوصیت دا دی، چې تاریخ ثابت نه گڼي، بلکي داسي یې بولي، چې تل تر تله حرکت کوي او تغیر خوري. دغه تغیرات له غټو منازعاتو او آفاتو سره ملگري وي، څو چې یوه نوې مرحله را رسیږي او د یو څه وخت دپاره استقرار پیدا کوي. دغه تغیرات اساساً پر انسان او د ده پر اجتماعي ژوند باندي تر داسي اندازې اغېزه اچوي، چې د یوې دورې مشخصات بالکل په یوه بله دوره کي د هغو په ضد تبدیلیږي، بې له دې چې دغه موضوع دلته په تفصیل تر څېړني لاندي ونیسو، مور دا خبره یادولای سو، چې د تغیر او تاریخ په باره کي د ده ډاینامیک نظریه بالآخره له خپله ټوله ارزښته څخه را تجرید کیږي او د دایروي حرکاتو په یوه میکانیکي دوگماتیک دایره اوړي، چې دمخه لا څښتن په تقدیر کي ټاکلې ده. خو پخوا تر هغه چې هندو مؤرخ دې دوگماتیک مرحلې ته ورسیږي، ده په صحیح توگه هغه تغیرات ثبتوله، چې اجتماعي خاطرې ده ته بیانوله.
ټوله زمانه یعني ټولنیز تاریخ څلورو «یوگاگانو» ته وېشل کیږي، چې د «کریتا»، «تریتا»، «دواپار» او «کالي» په نومو یاد سوي دي. بشري یا آریایي ټولني د «کریتا» په عصر شروع وکړه او په هغه پسي تر دوو پړاوو را تېره سوه او د

مهابهاراتا د جګړې له پای ته رسېدو سره د «کالي» عصر ته داخله سوه، چي تر اوسه یې لا هم خاتمه نه ده موندلې.
په دې ترتیب نو د هندو مؤرخ له نظره سره سم، بشري ټولنه یا خو د ده خپله ټولنه د انکشاف تر څلورو ټاکلو دورو را تېره سوې ده، چي د هري یوې ځانته حدود څرګند دي. د دې څلورو له جملې څخه هره یوه د اجتماعي تشکیل خپل ځان ته قوانین لري، چي له هغه څخه مطلب د تولید او د ثروت د توزیع قوانین، د اجتماعي روابطو قوانین، د ازدواج او کورنۍ قوانین، د اخلاقو، عبادت او نورو قوانین دي.
هغه ټکی چي هندو ادبیات غواړي تاکید ور باندي وکړي، دا دی، چي په «یوګا» کي له هره تغیره سره هغه څه چي په انسان کي تغیر کوي، «دهرما» بلل کیږي. «دهرما» نو څه شي دی؟ د ده د ژوند طرز او د ده د هستۍ قانون دی. دا هستي اساساً له څه شي سره اړه لري؟ د ثروت له تولید او د خپل مثل له تولید؛ یعني له جنس یا ازدواج سره اړه لري، دی دغه «ارتها» او «کاما» بولي.
هندو ایډیالیستان چي هر راز وعظونه کوي، خو د دوی لرغوني اجداد مادي واقعیت ته د اجتماعي هستۍ او د انسان د ژوند د بنسټ په توګه ارزښت ور کوي.
د تاریخ هندو فیلسوفان د اجتماعي انکشاف څلور «یوګاګاني» څنګه تشریح کوي؟
«ایتار» یا «برهمنا» دوی داسي تشریح کوي:
«کریتا» په کښت کي وده کوي.
«تریتا» تم کیږي.
«دواپار» ورو ورو حرکت کوي.

«کالي» یا بیده دي یا استراحت کوي.

څه رنګه چي د لومړیو درو او څلورم (کالي) تر منځ حدبندي ډېره څرګنده ده او لیکوالو ته معاصره موضوع ده، نو هغه په مختلفو آثارو کي په ډېر دقت او په خورا زیات تفصیل سره څېړل سوې ده، چي موږ به یې په وروسته کي وګورو.

ویداګاني د دغو عصرونو په دوران کي د انسان انکشاف څه رنګه تشریح کوي؟ آیا دوی په ټولنه کي د تولیدي افزارو او تولیدي روابطو تغیرات تر څېړني لاندي نیسي؟ ویدي لیکوال د دغو پوښتنو په جواب کي اجتماعي انکشاف څه رنګه تشریح کوي؟

ټوله ویدي ادبیات په یوه غوښتنه او د هغې غوښتني د پوره کېدو دپاره د تدابیرو په څرګندونو ډک دي. دا غوښتنه له ثروت څخه عبارت ده، چي اساسي معنا یې غذا او ډېر انسانان دي (بشري قوه)؛ یعني «دهنم»[۲۰] او «پراجا». لومړی یعني دهنم د تولید خپل افزار، خپل اقتصادي تولیدي فعالیت او د هغه د یوې ضمیمې په توګه. دوهم یعني پراجا تشریح کوي. ټولي ویدي سمهیتاګاني د دغو دوو مسئلو په باره کي پرېمانه مواد لري.

د غذا دپاره مبارزه یوه ډېره سخته مبارزه وه. د کچه ډبرینو افزارو سره دا تړلې وه، چي باید وضع دغسي وي. د لالهانده وحشي، څپڅپانده ژوند، چي اطمیناني غذا نه ور رسېده، نه یې کور معلوم وو، نه یې اور معلوم وو، د طبیعت او وحشي حیواناتو په مقابل کي یې ځان نه سوای ساتلای، د آریایي په خاطره کي یې یوه لړزه او وېره را پیدا کړه. د ټولنو درستي ډلي د غذا د تلاښ په مبارزه

---

Dhanam۲۰

کي تلف کېدلې او ځيني وختونه به انسانانو دا فکر کاوه، چي په دې جګړه کي به ټوله له منځه ولاړ سي. دا ډار د ويدي فيلسوف له خوا څخه د ده په خپل ترتيب بيانيږي. د غذا، د پايښت، د پيدايښت يا د مثل د توليد دپاره د ده مبارزه د پيداکوونکي يعني «پراجاپتي» د کوښښونو سره برابره وه، ځکه ويل کيږي، چي هغه همدا رنګه د دغه پرابلم سره مخامخ سوی دی. پراجاپتي يعني پيدا کوونکی. د نړۍ د پيدا کولو په کار کي زياتي ناکامۍ وزغملې او په خپله تر داسي تهديد لاندي راغی، چي د غذا د نېستۍ په سبب له منځه ولاړ سي.
خو بيا نو شيدې پيدا سوې او پراجاپتي ته ور کول سوې او ده ته يې ژوند وباخښه. بيا نو ده يوولس انتخابي حيوانات کباب کړه او و يې خوړل[۲۱]. په دې ترتيب نو نړۍ وزېږېده او ژوندۍ پاته سوه. که دا د خدای، يعني د پيدا کوونکي حال وو، نو د انسان حالت خو تاسي تصور کولای سئ!
له دې جهته نو آريايي خدايان له خپل مشر «اندرا» څخه غواړي، چي د ډبري او هډوکي د وسلې، يعني د «وجره» او «استهي»، چي د «دادهيچي» تېره هډوکي دي، په ذريعه سخته جګړه وکړي او د «وريترا» په مقابل کي او «ويشواروپا» په مقابل کي، چي هغو د ژوندانه وسايل هيڅ چا ته نه ور کوله، وجنګيږي.
انسانان په زرهاوو کلونه د کريتا د عصر د وحشت په شرايطو کي د مځکي پر مخ شاوخوا ګرځېده، دوی ډېرو سيمو ته ولاړه او له هري سيمي څخه بلي ته يا د غذا د نېستۍ يا د ناروغۍ له کبله يا د دښمنو ګاونډيانو په اثر او يا داسي نورو عواملو په سبب کوچېدله. د دې حالاتو په باب يو ډېر لرغونی يادداښت په وينداد کي موندل کيږي، چي هغه شپاړس سيمي بيانوي، چي پخوانی آريايي انسان دمخه تر هغه چي مېشته سي، د مجبوريت له مخي هلته لالهانده

۲۱ ريګويدا: ۳-۹-۱- ۱، ۲-۵

ګرځېدی. د ویندیداد د مهاجرت نکلونه یوازې د وحشت دوره نه بیانوي، بلکې د وروستنیو دورو ذکر هم کوي، اما د «کالي» د عصر یا تمدن په باره کې څه نه وایي. تر دغو شرایطو لاندې نو دا خبري منځ ته نه سوای راتلای، چې خصوصي ملکیت ولرل سي، مریان استخدام سي، یو دولت جوړ سي یا په لنډه توګه داسي ټولنه نه سوای تشکیل کېدلای، چې پر استثماروونکو او استثمار سوو طبقاتو باندې را بناء وي. هر څه چې تولید کېده او یا نیول کېده، باید وو، چې د ډله‌ییز کار په وسیله سر ته ورسیږي او په ګډه توګه مصرف سي. انسان په فردي توګه دا قدرت نه درلودی، چې د طبیعت په مقابل کې وجنګیږي او ژوندی پاته سي.

د افزارو د تکامل په لړ کې ور پسې مرحله دا وه، چې انسان اور کشف کړ او د حیواناتو د اهلي کېدو په فن وپوهېدی. پخوانی وحشي په دې نه پوهېدی، چې اور څه رنګه تولید کړي یا حیوان څه رنګه اهلي کړي. د اور او د اهلي کېدو کشف د دې سبب سو، چې د انسان په اجتماعي تشکیل او ژوندون کې یې یو انقلاب منځ ته را وستی.

خو دا پرمختګونه مستقیماً د انسان دپاره د آزادۍ نوي وسایل وګرځېده.[۲۲] اور یقیناً په ځنګلو او هم په هغه جریان کې مشاهده سوی وو، چې د اوریځو له خوا به ټکې (الماسک) پر ونو را ولوېدې او هغه به یې سره چاودلې. انسان دې پېښې ته د طبیعت د یوې خطرناکه ورانوونکې قوې په سترګه کتله، چې هر شی به یې په ډېر خښم سره سوځاوه.[۲۳]

۲۲ د کار هغه نقش چې له اېپ څخه تر انسانه پورې د انتقال په جریان کې یې ولوباوه. (د اینګلس اثر)
۲۳ ریګویدا، ۱- ۱۴۳- ۵، ٦٥-۴. ریګویدا: ۵- ۲- ۸، ۱۰- ۳۲-٦. ریګویدا: ۵- ۱۱-٦.

خو اصله خبره دا وه، چې اور په ارادي توگه تولید سي او د یوې داسي قوې یا وسیلې په توگه د انسان په خدمت کي کار ځني واخیستل سي، چې تر اداري لاندي وي. تر کومه ځایه چې دا خبره په آریایي پوري اړه لري، نو لیدل کیږي، چې دا کار د «انگیراگانو» د واحد یا د «انگیراگانو» د بهیر له خوا سر ته رسېدلی دی. «انگیراگاني» د آریایانو د هغو «پراواراگانو» له جملې څخه یو واحد دی، چې اجدادي اشتراک لري. د ریگویدا په یو شمېر ځایو کي دا بیان راغلی دی، چې د اور کشف د «انگیراگانو» له خوا څخه سر ته ورسېدی.

آریایانو بالآخره دا وسیله لاس ته را وسته، چې سمدستي د دوی په ژوند کي د یو ستر انقلاب سبب وگرځېده. دا انقلاب دونه ستر وو، چې ټوله وروستنی آریایي ژوند اور ته منسوبیږي. پر هغه باندي شاوخوا را گرځي او پر هغه باندي سره را ټولیږي. پیدایښت، موجودیت، رشد، ثروت، خوښي او داسي ټوله شیان له اور (اگني) څخه نشئت را کوي. د اور په نتیجه کي دوه خورا ډېر حیاتي تحولات د څارویو د ثروت د تولید او د نفوسو (پراجا – پشاوه) په برخه کي را څرگند سوه.

د اور په وسیله دا زمینه مساعده سوه، چې د ښکار او کبانو محصولات، چې کله پر اور باندي کباب او پاخه سي، نو په اسانۍ سره هضمېدلای سي، ځکه نو ستر خدای (اگني) «اماد» نومیږي، چې د اومې غذا خوړونکی دی او «کراویاد» نومیږي، چې د مړو غوښو خوړونکی دی. اور نو وحشي حیوانات، دښمن دېبان او پېریانان دفع کوله.[٢٤] [٢٥] له ده څخه دا استفاده کېدلای سوای،

---

٢٤ ریگویدا: ٣٠- ١٥- ١، ١٠٨

٢٥ یادداښت: تقریباً دو دېرش کاله پخوا (یعني ١٣٣٢ل.) په کندهار کي ما له یوه مشهور تعویذگر څخه، چې د پېریانانو د تسخیر نکلونه یې هر چیري خپاره وه، دا خبره واورېده، چې پېریانان پر څراغ باندي نه را ځي. په دغه سبب به هغه تعویذگر هر کله د خپل خوب په خونه کي د برق یو کوچنوټی گروپ لگاوه؛ ځکه پرته له

چي د لرګي د سورسيوکي (نيم‌سوخته) په شکل د وسلې يا د مشعلونو په توګه د هغو وحشي حيواناتو[٢٦] او هغو دښمنانو په مقابل کي ور وغورځول سي، چي تر اوسه يې لا دغسي اختراع په واک کي نه درلوده. اور انسان له جوي ناملايماتو څخه خوندي ساتي او د شپې په تاريکه کي يې، چي د سايبريا په سختو مناطقو کي خورا اوږدې او سړې کېدلې، د حرکت او ليدني امکانات يې برابروله.
له اور سره يو ځای د حيواناتو د اهلي کېدو فن منځ ته راغلی، چي د غذا د ثابتي تهيې ډېر حاد پرابلم يې حل ته ورساوه.[٢٧] د ښکار او کب نيولو له لاري د غذا تهيې داسي څپڅپانده حالت درلودی، چي انسان مجبوره سو آدم‌خورۍ ته لاس واچوي. خو کله چي اور (اګني) له آسمانو څخه د انسان کور ته راغی او له څارويو څخه د ده داسي اهلي کورنۍ ملګري جوړېدای سوه، چي دی په غوښو او شيدو مړوي او ده ته د کالو دپاره، د تودېدو او نورو استفادو دپاره پوستونه او وړۍ تهيه کوي او ده ته هډوکي او ښکران سرښته کوي، چي خپل ګټور افزارونه ځني جوړ کړي، نو له دې سره ژوند يو مخيزه يوه نوي او لوړ عصر ته ټوپ وواهه. «يوګا» يا دوره نو واوښته او بدله سوه.
د دې ټوله تحول مشر بيا هم هغه اګني وو، چي په وروسته زمانه کي د اومو موادو د ويلولو امکانات برابروي او په دې ډول نو- خو البته په وروسته زمانه کي، نه اوس- د يو بل انقلاب سبب کيږي. له دې جهته نو ريګويدا اور د انسان

روڼا څخه ده تصور کاوه، چي په تاريکه کي د پېريانانو له خوا ده ته تکليف ور کول کيږي او تر حملې لاندي يې را ځي. (مترجم)
٢٦ ريګويدا: ٣- ١٥- ١
٢٧ ريګويدا: ٦- ٢٩- ٢، ٥- ٢٩- ٧، ١- ٥٨- ٥ او نور.

د ټاټوبي مشر او ساتندوی بولي. دی «ويش‌پتي» دی او د «ويش» معنی ټاټوبی دی. دی د بشريت ډېر پخوانی او ډېر غټ ملګری دی، چي د خدايانو له خوا څخه د انسان د ګټي دپاره را استول سوی دی. په حقيقت کي خدايانو غذا يوازي د ده په وسيله حاصلوله.
په حرارت باندي د ميکانيکي حرکت د تبديلېدو عملي کشف دونه ډېر پخوانی دی، چي د بشري تاريخ له ابتداء څخه يې نېټه را نيول کېدلای سي. د افزارونو د جوړېدو او د حيواناتو د اهلي کېدو په لار کي چي هر راز کشفيات تر دغه دمخه سر ته رسېدلي وي، خو د اصطکاک په وسيله د اور توليدول د انسانانو هغه لومړنی اقدام دی، چي د طبيعت يوه بې‌ژونده قوه يې په خپل خدمت کي وګمارله. د عاميانه خرافاتو له مخي څخه نن ورځ لا هم دا څرګنديږي، چي دغه غټ پرمختګ تقريباً په بې‌اندازې توګه څونه خپل تاثير د بشريت پر دماغ باندي واچاوه. د برونزو او اوسپني د رواجېدو تر زمانې ډېر وروسته لا د ډبري د چاقو کشف، چي لومړی افزار دی، هر کله نمانځل کيږي او ټوله مذهبي قرباني د ډبري په چاقوګانو سره اجراء کيږي. د يهودي افسانو له بيانه سره سم «جوشوا – Joshua» امر وکړ، چي هغه انسانان چي په دښتو کي وزيږي، بايد د ډبري په چاقوګانو سنت (ختنه) سي. «سلتيانو» او جرمنيانو له ډبرينو چاقوګانو څخه خاص په خپلو بشري قربانيو کي کار اخيستی. خو داسي ټولي خبري ډېره زمانه پخوا هېري ته وسپارل سوې. اما د اصطکاک په وسيله د اور توليدولو په نسبت وضعه بل راز وه. تر هغي زمانې ډېر وروسته لا چي د اور د توليد نوري طريقې هم پېژندل سوي وې، خو بيا هم هر مقدس اور د اولسو د اکثريت تر منځ بايد وو، چي د اصطکاک په وسيله لاس ته راوړل سي. حتی نن ورځ د اروپايي هيوادو د اکثريت عاميانه خرافات دا ټينګار کوي، چي هغه

اور چې خارق العاده قدرتونه لري (لکه زموږ د جرمنیانو هغه لوی اور چې د وبايي ناروغيو په مقابل کي لګول کيږي) بايد صرف د اصطکاک په وسيله ولګول سي. په دې ډول نو زموږ تر زمانې پوري لا د بشريت هغه مطلوبه خاطره په نيمه لا شعوري توګه په عاميانه خرافاتو او د کافرانو د اساطيري خاطراتو په پاته آثارو کي لا ژوندۍ ده، چې د لومړي پلا دپاره يې پر طبيعت باندي ستر برى لاس ته را وستی. د دې خاطرې د ژوند مراسم د نړۍ د ډېرو تعليم‌یافته خلګو په منځ کي لمانځل کيږي.[28]

آريايي انسان نو په دې ترتيب خپل ټوله نوی ژوند د اور او څاوريو پر شاوخوا باندي جوړ کړ او نوې ټولنه يې د توليد د نوو افزارونو په وسيله د توليدي قواوو د يوې نوي سطحي پر بناء باندي تياره کړه. د توليد يو داسي طرز وجود ته راغی، چې د لومړي پلا دپاره يې د بې‌ثباتۍ د پخواني عصر، د لالهانده ګرځېدو، د ورانېدو او ړنګېدو، د خلفت او خالق د ناکامه کېدو، په مقايسه ډېر ثروت توليد کړ او پرېماني يې را وسته. دې نوي طرز او د توليد نوو قواوو انسان له وحشت څخه بربريت، د «کريتا» له عصر څخه د «تريتا» عصر ته، له لالهانده حالت څخه د مېشته‌کېدو حالت، د لوږي او کله کله آدم‌خورۍ له حالته څخه د غذا د اطميناني موجوديت حالت ته، د طبيعت په مقابل کي د عاجزۍ له حالته څخه د قوت او رشد حالت ته وخېژاوه. دی چې لالهانده ګرځېدی او ساه يې شړله، اوس په ډاډه توګه ځايي سو او د خوښۍ، موسکا او سندرو په وسيله يې خپلي خوشالۍ کولې.

۲۸ ف. اينګلس، د طبيعت ډيالکټيک

ده د تولید دغه نوی طرز، دغه نوی ټولنیز تشکیل او دغه نوی فن، چې لاس ته يې راوړی وو، څه شي يې باله؟
ویدي روایات وایي، چې د اور له را پیدا کېدو سره، د حیواناتو له اهلي کېدو سره او د ټاټوبو (ویشاګانو یا وراجاګانو) له جوړېدو سره «یجنا» وجود ته راغله.
«برهمان» چې خالق وو، هغه «یجنا» چې د «کریتا» په عصر کې يې موجودیت نه درلودی، د «تریتا» په عصر کې يې انسان ته ور کړه. روایت وایي، چې «یجنا» د «برهمان» هغه ستر سوغات وو، چې انسان ته يې ور کړ او دی يې له یوې «یوګا» څخه بلې ته وخېژاوه.
«یجنا» د تولید هغه نوی طرز دی، چې آریایي ټولنه د اور له کشفه سره هغه ته را داخلیږي.
د «یجنا» پر طرز باندې د انسان نوی موجودیت د «برهمان» نېکمرغۍ او انکشاف ته منجر کیږي. کله چې «یجنا» اجراء کیږي، نو «برهمان»، پیدایښت ګویا په دې شروع کوي، چې وجود ته را سي. دی نه تر «یجنا» دباندې او نه هم له هغې څخه بېل ژوند کولای سي. «یجنا» د هغه د موجودیت طرز دی. په دې ترتیب نو پخوانی «برهمان» او «یجنا» په لاندې صورت تعریف کولای سو:
«برهمان» د آریایي انسان کمون دی او «یجنا» د هغه کمون د تولید طرز دی.
«برهمان یجنا» نو ابتدایي کمون دی، د ډلهییز تولید له طرزه سره. ویداګاني د تولید د دغه طرز، د ستر برهمان د ژوند د دغې طریقې، یعني د کمون پوهنه ده. د آریایي هندو روایات نو په دې طریقه د تاریخ ثبت (ریکارډ) ساتي او دا نو د آریایي تاریخ د پخوانۍ دورې او د هغه د ابتدایي کمونیزم د دورې د پوهېدو دپاره کیلي ده.

تاریخي ماټریالیزم وایي، چې ابتدایي کمونیزم پر اجتماعي انسان باندي د تولیدي قواوو د خورا زیاتي پسمانی، د تولید د نېستی نه د تولید د پرېمانی له خوا تحمیل سوی وو. که کوم شی هلته تولیږي، نو دا یوازي د ډله‌ییز کار په وسیله امکان پیدا کوي. خصوصي تولید، خصوصي مصرف، خصوصي کهولونه یوه داسي خبره ده، چې امکان نه لري. د انسانانو یو له بله روابط د دغه ضرورت له خوا اداره کیږي. د ابتدایي کمون غټه مشخصه هم دغه ده. آیا د تولید د «یجنا» طرز دغه مشخصات منځ ته راوړي، آیا «برهمان» یعني ابتدایي کمون، د هغه ژوند، کلتور او ایډیالوجي د هغه اخلاقیات او اخلاقي اصول د ابتدایي کمونیزم یا ډله‌ییز ژوند، چې د ټولو ابتدایي اولسونو په تاریخ کي لیدل سوي دي، مشخصات تمثیلوي؟ آیا د «یجنا» طرز او دا «برهمان» موږ ته د ابتدایي کمونیزم هغه اساسي خصوصیات را ښیي، چې مورګان ذکر کړي دي او مارکس او اینګلس تشریح کړي دي او تر یوې اندازې حتی د هغو بورژوازي عالمانو له خوا څخه منل سوي دي، چې د تاریخي ماټریالیزم تیوري هم نه مني؟ هو! را ښیي یې. راسئ دا خبره وګورو، چې څه رنګه یې را ښیي.

د ابتدایي کمون، د هغه د تولید د طرز او د ژوند اساسي خصوصیات دا دي: کار او مصرف په ډله‌ییزه توګه دی، خصوصي ملکیت نه سته، د کار تقسیم نه دی را پیل سوی، خو وروسته د تولیدي قواوو له انکشاف سره را څرګندیږي. طبقات نه سته، اجتماعي تشکیل یو بهیري تشکیل دی، چې پر «ادې‌مشری» را بناء او د هغه ټوله غړي یو د بل سره قومي خپلوان دي. هغه شان خصوصي کورنیاني او ازدواجونه لکه څنګه چې وروستني تمدن ته ور معلوم دي، وجود ته نه دي راغلي، ټوله وظایف د درست کمون له خوا څخه په انتخابي توګه اجراء کیږي، نه دولت سته او نه د هغه لښکري، پولیس او مالیات نه سته، چې

د توليد روابط يا د تمليک روابط په زور تحميل کړي او نه هم دولتي قانون او د زور دستګاه سته، چې هغه په جبري توګه نافذ کړي.
کله چې دغه خبري منځ ته را ځي، نو کمون ړنګيږي او ډله‌ييز اصالت غائبيږي.
ويدي ادبيات چې کله د هندو آريايي ټولني بېلابيلي يجناګاني بيانوي، نو دغه ټوله مشخصات په خپل ځان‌ته طريقه سره ذکر کوي. ويدي «سمهيتاګاني» د بېلابيلو دورو د آثارو او خاطراتو يوه مجموعه ده. دوی يجناګاني د يوه داسي عامل په توګه بيانوي، چې کله خدايان هغه اجراء کوي او په دوی کي دننه او هم د دوی په وسيله ژوند کوي، نو د ژوندانه ټوله چاري اداره کوي. دوی همدا رنګه داسي «يجناګاني» ذکر کوي، چې په اوس کي هغه مراسم تشکيلوي، چې د بډايو کسانو او باچهانو يا د خوارو کهولي مشرانو له خوا څخه د «روحاني برهمنيانو» په مرسته اجراء کيږي، چې خدايان خوښ کړي او د دوی مقاصد تر سره کړي. دا زموږ وظيفه ده، چې ډېره پخوانۍ «يجنا» چې د توليد او ژوند واقعي ابتدايي طرز تمثيلوي، له وروستنيو مراسمو څخه را وچوړو، يعني ژوندۍ «يجنا» ګواکي له مړه دود څخه را بېله کړو.
د ويدي ادبياتو عالمانو دغه چوڼل تر يوې اندازې پوري اجراء کړي دي، خو دا ورته مشکله ښکاره سوې ده، چې د هغو ځای په تاريخ کي وټاکي. خو ډېر لوی اختلال طبعاً د هغي ډېري مبهمي «يجنا» په نسبت موجود دی، چې ويل کيږي، د خدايانو له خوا اجراء سوې ده. دا ځکه مبهمه ده، چې په هغه ادبياتو کي په يوه داسي طريقه ذکر کيږي او پر دې ټکي دلالت کوي، چې کله ويدي مراسم په کوډ کي تدوين کېده، نو د دې موجوديت رواج نه درلودی. دا مبهمه «يجنا» «سترا» او «کراتو» ده. دا «ستراګاني» او «کراتوګاني» په هغه وخت کي چې دوی موجوديت درلودی، څه شي وې او د دوی مشخصات څه‌شي وه؟

«ستراګاني» او «کراتوګاني» هغه وخت په پوره برم کې وې، چې خدايانو «يجناګاني» سر ته رسولې، وروسته آريايانو په ندرت سره دوی تقليدولې، خو دې ته يې ادامه ور کوله، چې خپلې «يجناګاني» له دغې پخوانۍ «يجنا» څخه را اقتباس کړي. د آريايانو په «ميتولوجۍ» کې خدايان د دوی لرغوني اجداد دي، لکه څنګه چې همدا راز طبيعي پديدو ته شخصيت ور کول کېږي، دوی لږ او ډېر يو له بل څخه پېژندل کېدلای سي. «سترا» چې د خدايانو له خوا اجراء کېږي، د پخوانيو آريايانو د کار ډلهييز شکل دی.
د «سترا» ډېره غټه مشخصه دا ده، چې په هغې کې ټوله ګډون کوونکي «ريتويجايان» او «ياجايامانايان» دي. د دې نو معنا څه ده؟ په وروستني «يجنايي» مراسمو کې اجراء کوونکي خلګ د «ريتويجايانو» بېلابېلو ډلو ته وېشل کېږي، چې هغه بيا د يوه خصوصي کهول د خاوند په توګه مصروفيت لري او «ياجامانا» نومېږي او د «يجنا» د مراسمو د نمانځني دپاره تاديات کوي.
په «سترا» کې دغسې نه وه، دا بيا په پخوانۍ طريقه د وظيفې يوه ډلهييزه اجراء وه، چې هلته په ډلهييز کار کې ټوله بېله دې څخه چې توپير يا د کار وېش ولري، په ګډه يې برخه اخيسته. د «ريتويجايانو» ۱۷ ډلو ته د کار تقسيم، چې په وروستنۍ آريايي ټولنه کې ليدل کېږي، تر اوسه يې هلته موجوديت نه وو موندلی.
د سترا دوهمه مشخصه د وروستنيو «يجناګانو» پر خلاف، هغه «يجناپهال» يعني د کار جريان دی، چې په هغه کې ګډ يا ډلهييز محصول باندې په ډلهييزه او مساوي توګه توزيع او په ډلهييزه توګه مصرف سي او دا جريان د «ساماکهيا» په مراسمو کې په سمبوليک ډول تمثيل کېږي، يعني د سوما شېره له يوه واحد لوښي څخه چښل کېږي. د «سوماياګا يجنا» په «اګنيستوما» کې دغه

«ساماګهیا»، په کومه بله «یجنا» کې نه اجراء کیږي او نو ځکه په «سترا» کې یوه عمیقه مشخصوونکې معنا لري.
دریمه مشخصه دا ده، چې په «سترا» کې ټوله ګډون کوونکي له یوې «ګوترا» څخه دي، یعنې د وینې ګډ روابط لري، خو د نورو «یجناګانو» په مورد کې خبره داسې نه ده. د دې مفهوم دا دی، چې کمون صرف د وینو روابطو یا قومي خپلوانو تشکیلاوه او د هغه په ټولۍ کې غیرقومي وجود نه درلودی. دمخه تر هغه چې د ډله‌ییزې «سترا» کار یا ټولنیزه دنده پیل سي، ټولو خپل لاسونه سره یو ځای کول او ژمنه یې کوله، چې د مقصد دپاره بې‌له سرغړونې په یوه زړه همکاري وکړي. دغه رسم نو «تانونا پاترا پراچار – Tanoona Patraprachar» نومېدی.
هر کمونې کار داسې یو څوک غواړي، چې هغه دې ته وزګاروي، چې د پلان سره د کار جریان تر انسجام او ادارې لاندې وساتي، نو ځکه څلورمه مشخصه یې دا وه، چې وګړي د موقتي وظیفوي دندو دپاره هغه وخت انتخابېدله، چې د کار ډولونه زیات او تولیدي قواو وده وکړه او له دې څخه «پراوارانا-ویدهي» یعنې د انتخابېدلو عمل منځ ته راغی. کله چې به کار پای ته ورسېدی، نو دغه مؤظف کسان بیرته د کمون په اشتراکیت کې منحل کېدله.
د «سترا» پنځمه مشخصه دا وه، چې هم نر او هم ښځو په «سترا یجنا» یعنې په کار کې ګډون کاوه. خو دې دود په وروستنیو «یجناګانو» کې موجودیت نه درلودی.
د سترا د کار یا د «سترا یجنا» دغه ټوله مشخصات دا څرګندوي، چې د پخوانیو آریایانو تر منځ ابتدایي کمون وجود درلودی.

ځيني ويدي عالمان به ښايي دا پوښتنه وکړي، چي آيا «ستراګاني» يوازي د خصوصي کهول د خاوند «يجناګاني» نه وې، چي وروستني ويدي روايات، لکه څنګه چي په «سوتراګانو» کي راغلي دي، له داسي بيانو څخه ډک دي؟ د پورتنيو مشخصاتو له مخي دا پوښتنه ترديديږي، ځکه د هغو له جملې څخه لومړۍ، دريمه، څلورمه او پنځمه مشخصه هيڅ کله د خصوصي کهول په «يجنا» کي نه سي موندل کېدلای. ځيني به ښايي دا پوښتنه وکړي، چي آيا «سوتراګاني» به فقط ځيني خاص مراسم نه وي، چي په خاصو وختو کي پر ځای کيږي؟ تيلاک په خپل هغه اثر کي، چي «په ويداګانو کي د شمالي قطب ټاټوبی» نوميږي، دغو ستراګانو ته توجه اړولې ده او دوی خورا لرغونې «يجنا» بولي او عقيده لري، چي دا د ورځنيو «يجناګانو» دپاره يو جمعي نوم وو، چي د آرياپانو له خوا په يو شمېر ورځو او مياشتو کي تکرارېدلې. «تيلاک» دوی د ابتدايي کمون د ژوند ډله‌ييز طرز نه بولي، خو تقريباً د ټولو هغو ويدي عالمانو له مباحثاتو څخه، چي د «يجنا» د مسئلې په باره کي يې کوم اجتماعي نقطه‌نظر درلودلی وي، دا روښانه ده، چي «سترا» د کمون د ورځنيو فعاليتونو يوه غونډه مجموعه وه، چي د کموني ژوند د اړتياوو د پوره کېدو او د مثل د توليد دپاره سر ته رسېدله. په همدغه سبب د «سترا» دغه کلمه منځ ته راغله، چي د سانسکريټ په ژبه کي د «مقارنت»، «يوځانيتوب» او «اشتراکيت» مفهوم افاده کوي.

راسئ چي د «تريراترا کراتو» مشهوره قضيه را وړاندي کړو، چي د هغې په اجراء سره خدايانو ستر ثروت لاس ته را وستی. دغه «کراتو» موږ ته دا ثابتوي، چي د ډېرو لرغونو زمانو آريايانو څه رنګه توليد کاوه او څه رنګه يې د خپلي مالدارۍ ثروت ته پرورښت ور کاوه. د «اکهياييکا» افسانه يا د «يجنا» قصه موږ

ته وایي، چې دا څه رنگه منځ ته راغله او د هغې د کار طرز څه ډول وو. د «تریراترا کراتو» اختصاصیت دا دی، چې دا د درو «کراتوگانو» یو ترکیب دی، چې یو واحد ځنې جوړ سوی دی او په ډله‌ییزه توگه سر ته رسیږي. د دې د پیدایښت په باره کې نکل داسي دی: د خدایانو تر منځ درې خدایي کموني ټولۍ (دیواگنۍگاني – Deva Ganas) وې، چې «واسو - Vasu»، «رودرا - Rudra» او «ادیتیا - Aditya» نومېدې.

«پراچاپتي» دغه درې ډله‌ییزي ټولۍ پیدا کړې. «اکهیاییکا» د «گنۍ» او «سمگها» لفظ د دوی دپاره استعمالوي. ده هري ټولۍ ته «اور» ور کړ او له دوی څخه یې وغوښته، چې د هغه نمانځنه (عبادت) وکړي. دوی ټولو په ډله‌ییزه توگه یو کال د دغه اور نمانځنه کوله او یوه غوا یې تولید کړه. «پراجاپتي» چې د دوی له زیاتو کوښښونو څخه خوښ او خوشاله سو، نو دا غوا یې د «واسو» د گنۍ ډله‌ییزي ټولۍ ته د تولید دپاره ور کړه. دوی نو د روزني په سلسله ۳۳۳ غواوي له هغې څخه لاس ته را وستلې. «پراجاپتي» هغه لومړنۍ غوا له «واسو» څخه واخیسته او «رودراگانو» ته یې ور کړه، چې هغو هم ۳۳۳ غواوي لاس ته ځني راوړې. «ادیتیاگانو» هم دغه پروسه تکرار کړه. بیا نو دوی دغه ۹۹۹ غواوي د هغي لومړنۍ غوا سره یو ځای کړې او د ۱۰۰۰ غواوو یوه «یجنا» یې جوړه کړه، چې د «دکشینا - Dakshina» یا (د وروستنیو مفسرانو له بیانه سره سم) د سوغات په توگه ور کول سوه.

دغه پورتنۍ «اکهیاییکا» موږ ته د آریایي بهیر د پخواني ډله‌ییز تولید د طرز ټوله اساسات په یوه ساده او روښانه توگه را ښیي. لومړۍ مشخصه یې دا ده، چې هغه څوک چې «کراتو» اجراء کوي، د «اگني –سمگها» خدایان دي، یعني هغه کسان دي، چې په لرغوني ډموکراټیک ابتدایي کمون یا بهیري تشکیل

کي ژوند کوي. دوهم دا چي پر درو اګنيانو (اورونو) باندي د دوی د ټولو ډله‌ييزو کوښښونو په نتيجه کي يوه غوا را پيدا سوه او دغه پېښه دا ټکی تائيدوي، چي د پيداوارو انفرادي توزيع يا انفرادي نمانځني امکان نه درلودی. درې ګنی‌ګاني په داسي حال کي چي له غوا څخه، لکه څنګه چي په قصه کي راغلي دي، د زيات ثروت يوه منبع جوړيږي، نه سي کولای، هغه يوه غوا سره ووېشي. دريم دا چي کله د «ګني- سمګهاګانو» ثروت ډېرښت کوي، نو د پيداوارو يو ډول مساوات له هغې يکرنګی څخه معلوميږي، چي د غواوو د ګلې په شمېر او په روڼ ټولو ګنی‌ګانو ته د هغې لومړنی يوې غوا د ور کولو په برخه کي ليدل کيږي. څلورم دا چي د ثروت ټوله توليد او حاصل د ټولو د درې ګنی‌ګانو په ډله‌ييزه ټولی کي سر يو ځای کيږي او په ډله‌ييزه توګه په ګډه مصرف کيږي او دا هغه چاري دي، چي «يجنا» بلل کيږي. د توليد او توزيع د پخواني ډله‌ييزه «يجنايي» طرز دغسي ډېر روښانه تشريح تر دې اضافه نه سي پيدا کېدلای.

راسئ اوس دا وګورو، چي د «يجنا» د طرز سره سم، څه ډول ورځنی کار د ټوله کمون له خوا څخه سر ته رسېدی. د «سترا» د کار غټ فعاليتونه په آسانی سره د «سومايا‌ګا» د «اګنيستوما» د «شادانګا کراتو» او «ديواسترا» له مخي څخه استنباط کېدلای سي.

ابتدايي کمون يو ډېر وړوکی واحد وو، کټ مټ لکه هغه کوچنوټی د کوډلو ټاټوبی، چي موږ يې د قبيلوي «پولينيشيايانو» يا حتی نن ورځ په ځينو هندي کليو کي وينو. د کمون غټ ثروت يعني څاروي مخصوصاً په ډبرينو محوطو کي، چي کله کله به خورا لويي جوړېدې، چي ګرده ټاټوبی احاطه کړي، ساتل کېدله. دغه محوطې «اشما وراجا - Ashmavraja» نومېدلې، چي د لرغوني

اروپا د ډېریو احاطو سره مقایسه کېدلای سي. ستر مرکزي اور، چي د «سامیدهـ - Samidh» د سونګ لرګي پکښي سوځول کېده، د ژوند مرکز وو. دا مرکز له لرګو څخه په جوړ سوي یو مربع شکله ساختمان کي واقع وو، چي مساحت یې ۳٦ په ۴۸ فوټه کي وو او د کمون د یوه عمومي پخلنځای په توګه یې هم کار ور کاوه. فقط هغه ته څرمه یو کموني سرای جوړ سوی وو، چي هلته د شیدو، مستو او غوړو لوښي، غله‌جات او داسي نور ساتل کېدله. یو مخصوص ساختمان د «سوما» د وښو د ذخیرې دپاره بناء کېدی، چي هلته یې شېره (جوس) وباسي او د تحمیر دپاره یې آماده کړي او هلته د «سوما» د څښلو دپاره مخصوص لوښي، چي «ګراهان - Grahas» نومېدله، خوندي وساتي. دا د کمون مشروب وو، د عمومي غونډې ځای په نښه ټاکلی ځای وو او د ناستي ځایونه له هغي ختیځ څخه جوړ سوي وه، چي له یو ور څرمه ځایه څخه، چي «چتوال - Chatval» نومېدی، د کیندلو په وسیله را ایستل سوې وي. د ناستي پر دې ځایو باندي یې واښه یا «بارهي - Barhi» د کښېناستو دپاره غوړوله. ټوله پر دغه مستطیل غولي یعني «مهاویدي - Mahavedi» باندي سره را ټولېده، چي د خپلي ورځي کار وکړي، خوراک وکړي او له هغو شیانو څخه استفاده وکړي، چي د خدای (اګني) په مرسته لاس ته راغلي وي.

داسي معلومېده، چي د غړو شمېر دونه زیات وو، چي د خپلو ټولو الحاقیو سره یې د مځکي یوه داسي مستطیله ټوټه ایجابوله، چي شرقي- غربي اوږدوالی یې تقریباً ۱۰۸ فوټه او شمالي- جنوبي اړخ یې په ختیځ نهایت کي ۷۲ فوټه او په لوېدیځ نهایت کي ۹۰ فوټه وي. دې ته څرمه هغه ځای معلوم وو، چي فضله‌جات هلته وغورځول سي.

هر سهار دا د «هوتا - Hota» دنده وه، چي خدايانو ته ور بږغ کړي او خلگ غونډېدو ته را وبولي.
بيا نو وظايف ټاکل کېدله. ځيني دباندي تلله، چي د سوما واښه راوړي او له هغه څخه د کوټلو په ذريعه شېره وباسي. ځيني تلل، چي واښه پرې کړي، څو د ناستي د ځايو دپاره استفاده ځني وسي يا د اودلو له لاري کالي او د سر لباس ځني جوړ سي او هغه واښه تهيه کړي، چي د څارويو د تړلو دپاره رسۍ ځني تياري سي او هغه واښه راوړي، چي په سرايو کي د هوارولو استفاده ځني وسي. ځيني تلل چي د اور دپاره لرگي پرې کړي. «دوهيتا - Duhita» غواوي او مېږي لوشلې، «شميتا - Shamita» حيوانات د خوړو دپاره ټوټه کول، هغه يې پوستول او د پخېدو دپاره يې پر اور ايښوول. غله د لرگيو په ظروفو کي او يا پر ډبرو باندي کوټل کېدله. د اوړه کېدو ميچن تر اوسه لا نه وه اختراع سوې. لوښي لازمه وه، چي له خاوري څخه جوړ سي. د اومو معدني فلزاتو ويلېده لا تر اوسه نه وه اختراع سوي. ټوکرۍگاني له نلانو، لرگيو او يا وښو څخه جوړېدلې. انتخاب سوي «گريهاپتي» نر او ښځو ته خپل وظايف ور ښوولە. د کارونو بېلابيلو «ادهواريوگانو - Adhwaryus» په کار کي ښوونه کوله او برخه يې اخيسته. «برهمان» نظارت کاوه او دلته هلته يې اشتباهاتو ته گوته نيوله. «اودگاتا - Udgata» د سندرو لارښوونه کوله، چي ډېره خوښي جوړه کړي او په هغه آهنگ (ريدم) کي يې مرسته کوله، چي هر ډلەييز کار يې ايجاب کاوه.
کار سپک نه وو، خو ستومانه کوونکی هم نه وو. دا خورا ډېره سخته وه، چي کله تاسي وگورئ، چي غله د مېچني له نېستۍ څخه نه سوای اوړه کېدلای او واښه بايد وو، چي د آس د پښتۍ د هډوکو په وسيله، چي څنډې يې تېره سوي وې، ورېبل سي. توره نه وه، چي حيوانات په حلال سي او نه چاقو وو، چي

دوی په پوست سي، ځکه د فلز ویلېده نه وه اختراع سوي او له دې سببه نو باید وو، چي په سوټي یا خفه ووژل سي او بیا د هډوکو په ذریعه پوست سي. له دغه څخه نو د تولید د افزارو د پسمانۍ او په همدې لحاظ د «یجنا» د کار او د هغه د کمون پسماني څرګندیږي.

ټوله شیان چي تولید کېده، د استفادې او مصرف دپاره د «دهرما» له حکمه سره سم «مهاویدي» ته راتله. تر هغه وروسته چي د خدایانو او «پتیارانو - Pitaras» ونډه (یعني «هاوي» چي بې له هغې څخه دوی ژوند نه سوای کولای او دا البته په هغه مورد کي، چي کله یجنا د انسان په ارتباط تطبیق سوه) به ور کول سوه، نو هغه پاته برخه، یعني «هوتاشیشا - Hutashesha» د ټولو د مصرف دپاره ټاکل سوې وه. ورځنۍ «هوانا» یوازي د هغي غذا د توزیع طریقه وه، چي په ډله‌ییزه توګه تولید کېده او ټوله کمون ته ور وېشل کېده او په دې ترتیب یې نو د «یجنا» یوه لازمه برخه جوړوله.

د «سوما» د نشاط بخښونکي مشروب په ذریعه ټوله کار شروع کېدی او سره خپرېدی. له دې سره د پخوا اوړو «پورو داشایاوي - Purodashas»، د اوربشو او ورجو نینې، چي له مستو او شیدو سره ګډي وې، هم یو ځای کېدلې. د ورځي ډېره درنه او خوندوره غذا د غوښو مېله وه او آریایانو په دې موضوع کي د هیڅ شي په نسبت تردد نه درلودی. هیڅ داسي جاري دود نه وو، چي له غوښو څخه ډډه وکړي او البته وزګړي، پسه او هوسۍ ډېر عمومیت درلودی. غوا او غویی هم خوړل کېده، خو په دې سبب چي ډېر ارزښت یې درلودی، نو دوی ته لږ روڼ ور رسېدی. چي ښه به ماړه سوه او ښه به نشه سوه، نو په پخوانیو وختو کي دوی د اور پر شاوخوا باندي نر او ښځي ګډ بیدېده او یا به له خپلو انتخابي جوړو سره خپلو کورنو ته تله، چي له دې څخه وروسته په

کموني کهول کي جوړه‌يي کورنۍ منځ ته راغله. انسان خوشاله وو او همدا رنګه «اګني» خوښ وو. په دې ترتیب نو «برهمان» يعني کمو ژوند کاوه، کار يې کاوه، ساتېرى يې کاوه او ډېر ښت يې کاوه.

## څلورم فصل

## يجنا، برهمان او ويدا

دلته به دا خبره بې‌مورده نه وي، چې د «يجنا» د کلمې معنی او د هغې اشتقاق ته لږ څه توجه واړول سي. د «يجنا» لغت يوه کلمه نه ده، بلکي يوه جمله ده، چې «يا»، «جا» او «نا» څخه جوړه سوې ده. د «يا» يا «يي – I» د ريښې معنی «تلل، يو ځای سره را غونډېدل» ده. «جا» معنی «زېږول» ده. «نا»، «ان» او «انت» د کلمې د آخر هغه صرفي اجزاء دي، چې د فعل د جمع غايب افاده کوي. په دې ترتيب نو د دې کلماتو له يو ځای کېدو څخه يوه جمله جوړيږي، چې معنا يې داسي کيږي: «دوی را غونډيږي او زېږوي». څه شي؟ شيان او کوچنيان. همدغه شان د «ياجوس» يا «ياجور» کلمه په «ياجور ويدا» کي يوه جمله ده. دا له «ياج» او «وس» يا «ور» څخه جوړه سوې ده. په دې ترتيب نو «ور» همدا رنګه د کلمې د آخريو ضميري غوندي جزء دی، چې جمع غايب افاده کوي او ټوله معنا يې نو بيا داسي کيږي: «دوی سره را غونډيږي او زېږوي». وروسته دې جملې د يوه اسم «يجنا» شکل واخيستی، چې په شيانو او انسانانو کي د اشتراکي توليد د تشکيل طرز افاده کوي او «ويدا» د دغه طرز پوهنه ده.

«يجنا» نو په دې ترتيب د لرغوني آرين د ډله‌ييز توليد طرز دی، چې د خصوصي ملکيت، طبقاتو او دولت تر انکشاف دمخه د هغه په اساس ژوند کوي. سمدستي له هغه سره، چې دا خبري منځ ته را ځي، نو پخوانی «سترا» او «کراتو» خپل موجوديت له لاسه ور کوي او «يجنا» نو صرف د يو رسم، د نمانځني د يو شکل او د يوې ټولنيزي خاطرې په توګه ژوندي پاتيږي.

وروستني آریایان «یجنا» ته دا عقیده په میراث اخلي، چي دا «یجنا» ده، چي تر هغې لاندي د دوی ټولنه غوړېدلې ده. دا «یجنا» او ابتدایي کمون وو، چي د طبقاتو او «فرقو» وروستنی ټولنه ځني را وزېږېدله. اجتماعي واقعیت د خپلي ټولي ایډیالوجی او عقایدو سره د اجتماعي میراث یو جزء وګرځېدی. نو کله چي دا واقعیت غایب سو، د هغه ایډیالوجي د یوه رسم په توګه ژوندی پاته سوه او نوو طبقاتو چي له هغې ایډیالوجی څخه استفاده کوله، نو له دغو مراسمو او پاته عقایدو څخه یې یوه داسي وسله جوړه کړه، چي د هغو خلګو پر پرګنو باندي خپل قدرت په ټینګ کړي، چي اوس دوی په نوي اقتصاد او نوي ټولنیز نظام کي استثماروله. بیا نو خلګ دې عقیدې ته ورسېده، چي که د لرغونو آریایانو د «یجنا» یوه ټاکلې پروسه د مراسمو په توګه تقلید سي، نو به کټ مټ او په صحیح ډول د سعادت هغه پخواني نتایج ور باندي را بناء سي. د «یجنا» مراسم د «یجنا» د واقعیت د یو تقلید په شان وګرځېده. موږ به په وروسته کي وګورو، چي دا څه رنګه پېښه سوه. خو هغه ټکی چي باید دلته تأکید پر وسي، دا دی، چي ټوله ویدي عالمان، اروپایي دي که هندي، سره له هغه چي په دې عقیده وه، چي د «یجنا» د مراسمو ځیني برخي د آریایانو د پخواني ژوند شرایط تمثیلوي[۲۹]، خو دا یې و نه کړای سول، چي «ستراګاني» او «کراتوګاني» او د آریایانو هغه خاص ژوند وښیي، چي په وروستنیو مراسمو

۲۹ کونتي یو بشپړ فصل په دې باره کي لیکلی دی، چي «سومایاګا» په څه ډول د آریایانو د مهاجرتو نمایندهګي کوي او زیات عمده حقیقت، چي دی استفاده ځني کوي، د نن ورځي د «یجنا» په مراسمو کي هغه «pandat» دی، چي اګني (اور) پکښې ایښوول کېږي او پر څلورو اربو باندي جوړېږي او هغه (yupa) (یوپا د لرګي یو تیر دی، چي خیراتي حیوانات تر وژلو دمخه پوري تړل کېږي) ده، چي په مځکه کي نه ښخېږي، بلکي یوه پسور-وره قاعده لري، چي پر هغه باندي دا «یوپا» درېدلای سي او په آسانۍ له یوه ځایه بل ته انتقالېدلای سي.

او د «يجنا» د سيستم په ډېرو نورو شيانو کي موندل کيږي، لکه څنګه چي يې د «ګوتراګانو» او «پراواراګانو» په موضوع سد نه رسېدی او د اختلال سره مخامخ وه (چي د هغو په باره کي به وروسته ليکنه وسي). د دوی ناکامي د دوی له دې نظره څخه منشاء اخيسته، چي «يجنا» اساساً د خدايانو يا مخالفو طبيعي قواوو نمانځنه ده، چي صرف يو څه برخي يې صرف په سمبوليک شکل ځيني ټولنيز فعاليتونه او شرايط تمثيلوي. که د ښو په رېبلو کي له هډوکي څخه کار اخيستل کيږي او د غلې په کوټلو کي له ډبري څخه، نو دوی دا نتيجه اخيسته، چي هلته د اوسپني چاقو او د ميده کولو مېچن نه وه. په دغه اساس نو «يجنا» او د هغې حاکميت پر آريايي انسان او د ده دا مفکوره چي «يجنا» د ژوند او ثروت اصلي مبداء ده او دا چي د خپل ټوله ژوند او تفکر هستي يې يوازي په «يجنا» ډکه ده او پرته له «يجنا» څخه بل شی نه سته پکښي، پرته له دې په بله خبره سره نه سواى تشريح کېدلای، چي هغه بربري په دغه ترتيب ماوراء الطبيعه قواوو ته عقيده درلوده. دا چي د هډوکي او ډبري افزارونه، د اور او د حيواناتو د اهلي کېدو يو نوی کشف، د دې سبب کيږي، چي اجتماعي انقلاب راولي او انسان د توليد يوه نوي ډله‌ييز طرز ته انکشاف ور کوي او دغه (د اور او حيواناتو د اهلي کېدو) دوه کشفيات پر کمون باندي په ژوره توګه اغېزه اچوي او نو ځکه انسان د هغه په ايډيالوجی ډکيږي او دا جريان هم طبعاً دغسي سر ته رسيږي، البته نه سوای کېدلای، چي په دغه ترتيب زموږ د ويدي تاريخ پوهانو سد په ورسيږي. يوازي هغه وخت چي «يجنا» د توليد د يوه طرز په توګه په نظر کي ونيول سي، نو بيا کولای سو، چي د ده پخواني تاريخ ته يو مفهوم ور کړو او تر درک لاندي يې راولو. د انسان د دې انکشاف تاريخ چي له وحشته بربريت او بيا تمدن ته په سر رسېدلی دی، واقعي مفهوم لري؛ که څه

هم د مافوق الطبیعه له بې معنی خبرو سره مخلوط دی. ټولنیز ژوند د تخیل او عبادتي مراسمو پر تشو افسانو باندي نه سي جوړېدلای. دا زموږ وظیفه ده، چي ټولنیز ژوند ته د افسانو او مراسمو په ګردله (غبار) کي ورسیږو.
بل شی چي زموږ د عالمانو په درک کي خنډونه پیدا کوي، هغه شی دی، چي «برهمان» نومیږي. د «یجنا» په پروسه کي، د پیدایښت او اجتماعي رشد په نکلو کي، «برهمان» هر کله مخ ته را ځي، خو له دې څخه ډېر کوي، چي د تاریخ پوهانو له خوا څخه ونیول سي او تثبیت سي.
دوی ډېر ښه ویني، چي د ویدي آرین دغه «برهمان» بالکل د «اوپانیشادي» فیلسوفانو له «برهمان» څخه توپیر لري. «ویدي» بربري چي په خپل ابتدایي کمون کي تر اوسه لا له اجتماعي تضاد، طبقاتي مبارزاتو او استثمار سره نه وو مخامخ سوی، نو له دې څخه ډېر لیري وو، چي ایډیالیستي فلسفې ته انکشاف ور کړي او د وروستنی «اوپانیشادي» دورې مخصوصه فلسفه منځ ته راوړي. «اوپانیشادي» «برهمان» لومړنی عقل، شعور یا روح دی، چي نړۍ د هغه څرګندوی ده. دغه «برهمان» له صفاتو څخه مجرد «نیرګونا - Nirguna» دی، په داسي حال کي چي ویدي برهمان په عیني توګه واقعیت لرونکی، په صفاتو متصف «ساګونا - Saguna» دی. لومړی «برهمان یوازي د مراقبې د هغو باطني جریاناتو په وسیله تحقق پیدا کولای سي، چي موږ یې د «یوګا - Yoga» یا «ویدانتا - Vedanta» په فلسفه کي مومو، خو ویدي برهمان یو عیني واقعیت دی، چي بالکل د انسان د مادي فعالیتونو له لاري پېژندل کیږي. ویدي برهمان ژوند کوي، خوراک کوي، نڅا کوي، خوښي کوي او وده کوي، «اوپانیشادي برهمان» تر حواسو پورته او حتی تر عقل هاخوا ته دی، چي احساسات او میلانات نه لري او هغه ته خوراک، څښنګ او ساتېری کړلی «تابو - Taboo»

دی او یوازي د همدغي ګړني او لوړي له لاري هغه ته نژدېوالی کېدلای سي او ویدي آرین چي کله روغ رمټ، وده کوونکی او فعال موجود وو، نو یوه غیرموجود، ذهني، بېاحساسه، نتلي، «اوداسین - Udaseen» برهمان ته یې اړتیا نه درلوده. د ویدي آرین په نظر کي «برهمان» په ډلهییز کمون او د کایناتو په نړۍ کي ژوند کاوه او له همدې جهته نو دی په خپله د هغه یو جزء بلل کېدی. د ویدي آرین په نظر کي «برهمان» په خپله کمون او د هغه له غړو څخه عبارت وو او د بربري په شان ده سپوږمۍ، آسمانونه او ټوله شیان په کمون پوري مربوط ګڼله، چي هغه کمون د اګني (اور) په نسبت البته د هر شي مرکز وو.
دغه خبري ویدي عالمانو په ادبیاتو کي لیدلي دي، خو څه رنګه چي د ایدیالیستي فلسفې تر اغېزې لاندي دي، نو غواړي له دغه «برهمان» څخه یو مرموز شی جوړ کړي. «هاګ»، «اګیلینګ»، «هیليبراندت»، «کیتکار»، «تیلاک» او ټولو پر دغه «برهمان» څو کرته دورې ووهلې او په دې کي بریالي نه سوه، چي «برهمان» تشخیص کړي، لکه څنګه چي د «یجنا» په تشخیص کي پاته راغله. «هاګ» د «برهمان» ټولي معناوي، چي د مشهور مفسر «سایانا - Sayana» له خوا څخه تهیه سوي دي، را غونډوي او په دې ډول یې فهرست ترتیبوي: «برهمان» دا معناوي ور کوي: الف: غذا یا د غذا هدیه.[۳۰] ب: د

---

۳۰ د سایانا په تعقیب دغه عالمان پر غلطه لار تللي دي. د «ریګویدا» په هغه فصل کي، چي د «Brahmanaspati» ستاینه را ځي، سایانا د برهمان کلمه په غذا ترجمه کوي، چي دا غلطه ده. «راجوید» دغه خبره ځېړي او عقیده لري، چي په حقیقت کي د دې کلمې معنی نه «د غذا مشر» او نه «د ثناء مشر» دی، بلکي «د برهمان مشر»، «ریشيګان» دي، تر راجوید چي را تېر سو، نو لیدلای سو، چي معنا یې «د یجنا د کمون د غړو مشر دی...»

په Radhamadhave Champoo چي راجوید لیکلی دی، دغه مباحثات وګورئ.

«ساماني»[۳۱] سندرغاړي سرود. ج: جادويي فورمول. د: سر ته رسېدلي مراسم. هـ: يو سرود او خيراتي فديه. و: د «هوتري - Hotri» مجتهد تلاوت. ز: او ستر. په دغو ټولو معناگانو کي د ايدياليستي فيلسوف دپاره هيڅ شی نه سته او دوی ټوله مستقيماً د کمون او د هغه له چارو سره اړه لري او يا له هغه څخه نشئت را کوي. «هيلي براندت» دې نتيجې ته را ځي، چي په ريگ‌ويدا کي د «برهمان» په باب داسي خبري کيږي، لکه نوی شی «چي تر اوسه يې موجوديت نه درلودی» او «پلرونو څخه نوی منځ ته را ځي». دا شی د خيرات له ږغه سره را پاڅي او کله چي د «سوما» شېره ايستل کيږي او د «هوانا» د مراسمو په اجراء کي د ثناء سندري ويل کيږي، نو په واقعي توگه وجود ته په راتلو پيل کوي او حتی په جگړه کي د خدايانو په مرسته پايښت کوي او «سوما» د ده ساتندی بلل کيږي.[۳۲] «هيلي‌براندت» د دغو خبرو په استناد د «هاگ» هغه گمان اثبات ته رسوي، چي «برهمان» يو مرموز قدرت افاده کوي، چي د بېلابيلو مراسمو د نمانځني په سلسله را احضاريږي او د يوې جاويي قوې په توگه يې تعريفوي، چي هغه د ثنايي سندرو، سرودونو او خيراتي فديو له منظمي همکارۍ څخه نشئت را کوي.[۳۳]

۳۱ Saman (سامان) د يوې لويي مېلې نوم دی، چي ټولو نرو، ښځو، لويانو او کوچنيانو به برخه پکښي اخيستل. دا نوم په ريگويدا کي راغلی دی.

۳۲ ريگ‌ويدا: ۱۱۱۱-۷- ۱۰۷۳- ۹۰۹۶، ۲۷- ۳۲۰۵، ۲۰۴۷، ۱۱۷- ۹۰۹۲، ۲۷- ۳۰۵۲ او نور.

۳۳ داس‌گوپتا د فلسفې د تاريخ په لومړي جلد او ۲۰- ۲۳ مخونو کي (د ۱۹۳۲ چاپ) را اقتباس کړی دی.
مارکس د کار پر جريان باندي د همکارۍ د اغېزو په باب داسي وايي: پرته له هغه نوي قدرته چي د ډېرو قواوو له يو ځای کېدو څخه د واحدي قوې په بڼه منځ ته را ځي، صرف ټولنيز تماس هم حيواني روحيات په زياترو صنايعو کي پر غيرت او حرکت را ولي، چي د هر کارکوونکي وگړي د کار طاقت او ظرفيت لوړ بيايي. (کاپيټال، لومړی جلد، ۳۲۶ مخ)

له دې څخه نو هر څوک پوهېدلای سي، چي ویدي آرین چي په هر عمل او د خپل ژوند په هر نسج کي یې د کمون د موجودیت احساس کاوه، نو هغه وخت چي په ګډه یې کار کاوه، سندري یې ویلې او مشروبات یې چښل، یعني کله چي په یجنا کي وو، خپل ډلهییز موجودیت، احساس او شعور یې د کلي «برهمان» په توګه تمثیلاوه، چي هغه کمون وو او پرته له کمون څخه بل شی نه ګڼل کېدی. ده ته د انکشاف په هغه مرحله کي، چي پکښي واقع وو، دا یوه مرموزه قوه وه او داسي ورته ایسېده، چي په «یجنا» کي را پاڅي او د هغې په بلنه منځ ته را ځي او په «یجنا» کي ژوند کوي. په ډلهییز کار کي د حیواني روحیاتو نشاط او حرکت بربري ته یوه مرموزه جادویي پدیده ایسېدله. خو زموږ دپاره هیڅ د دې خبري دلیل نه سته، چي ولي باید هغه ته د یو رمز په توګه وګورو، هېڅ ورته پاته سو.

«یجنا» چي د اور د کشف او د حیواناتو له اهلي کېدو څخه را وپاڅېده، نو یې د آریایي کمون د ثروت، سعادت او رشد خوا ته لارښوونه وکړه او هغه یې له نېستي کېدو څخه وژغوری. څکه نو په آریایي ټولنه کي هر شی د «اګني» پر شاخوا باندي تمرکز کاوه او «یجنا» پر «اګني» باندي را بناء وه. په دې ډول نو کله چي په وروسته کي انسان مخ ته ولاړی او د اوسپني ویلېده یې اختراع کړه او یو لور (داس) یې جوړ کی، نو د آرین مذهبي مراسمو، چي هدف یې دا وو، چي د خپلو نیکهګانو په توګه د خدای د خوښۍ دپاره هغه څه وکړي، چي هغو به کول او ثروت لاس ته راوړي، چي نیکهګانو به یې راوړی، د خپلو نیکهګانو عملونه یې تقلیدول او د هغو سرودونه یې ویل او د «یجنا» دپاره یې واښه په نوي آهني لور نه رېبل، بلکي د پخوا په شان یې د آس د پوښتۍ په هډوکو رېبل. کمون له منځ ولاړی او همدا رنګه د پوښتۍ د هډوکي استعمال

نابابه سو، خو که څه هم هغه کمون او «يجنا» نه تمثيل کېده، لاکن تشريفات يې د يو سمبوليک رسم په توګه تمثيل کېدلای سوای.
هغه پخواني سرودونه رډغول کېدلای سي، خو پخوانی ډلهييز او په واقعي توګه خوشاله «برهمان» ته بيا ژوند نه سي ور کول کېدای. «يجنا» چي په هغه وخت کي يو اجتماعي واقعيت وو، يوه افسانه ځني جوړه سوه، خو داسي افسانه چي له واقعيت څخه يې منشاء اخيستې وه او د هغې ټولني له اولادو څخه په ميراث را رسېدلې وه، چي هغو ته «يجنا» واقعيت درلودی او دا اولادونه، چي تر اوسه يې لا د پخوانۍ ايډيالوجۍ او تعاملاتو ځيني بقايا را اخيستي وه، سرودونو او مراسمو ته يې د دې ساده عقيدې په اساس ادامه ور کړه، چي د هغو تقليد به دوی ته خوښي را ولي او ثروت به په لاس ور کړي.
نو ځکه د آريايانو وروستنيو نسلونو ويدي سرودونه په هغه ترتيب، لکه څنګه چي يې د تاريخ په دوران کي انکشاف کړی وو، را ټول کړه، چي له کمون څخه رانيولې بيا د هغه تر هلو ځلو او ړنګېدو پوري د آريايي ټولني د انکشاف بېلابېلي مرحلې تمثيلوي او له دوی څخه يې خپل مراسم تيار کړه. دوی له پخوانۍ «يجنا» څخه د اجتماعي اورګانيزم د هغو مطلقو نوو قوانينو د تثبيت او تصويب دپاره د يوه سند په توګه کار واخيستی، چي بالکل يې د «يجنا» له قانون سره منافات درلودی. دا خبره د هغه تاريخي ضرورت په توګه پېښه سوه، چي ماهيت به يې وروسته تر څېړني لاندي ونيسو. خو هغه څه چي موږ دلته اړه ور سره لرو، دا نقطه ده، چي موجودي «ويدا سمهيتاګاني» د هغې زمانې مجموعې دي، چي د واقعي «يجنا» موجوديت پای ته رسېدلی وو. دا وخت طبقاتي مبارزې او تضادونه را پيدا سوي وه او يوه نوې ټولنه له وختي څخه لا

د پخوانی ټولني په دننه کي را زېږېدلې وه، خو طبقاتي دولت لا تر اوسه بری نه وو موندلی او خپله واکمني يې نه وه قايمه کړې.
نو ځکه په دې مرحله کي له «ويدا سمهيتاګانو» څخه په خپله يوه قوه جوړيږي، چي په پخوا کي يې دا حيثيت نه درلودی. د پخواني آرين په نظر کي، چي واقعاً يې په «يجنا» کي ژوند کاوه، داسي کوم شي موجوديت نه درلودی، چي د يوې مقدسي «ويدا» په توګه وګڼل سي. ده په خپله نوي سرودونه يا منترونه جوړوله، ځکه د ده د خپل ځان خلاق فعاليتونه او بيانونه، د خپلي تجربې انتقال او سندري د ده د خپل ځان پيداوار وه او نو د دې سرودونو په باره کي کوم مرموز شی نه وو. له دې جهته نو په پخواني «ويدا» کي موږ دا ذکر وينو، چي د «اندرا» نمانځنه کيږي او «يجنا» د نوو سرودونو په وسيله اجراء کيږي. د نوو سرودونو منځ ته راتله پر يوه مخ په وروستنيو «يجناګانو»، يعني مراسمو کي پای ته رسيږي او بيا نو داسي کار د مقدساتو ډېر غټ کفر او سپکاوی ګڼل کېدی، چي په موجودو سرودونو کي تغير را وستل سي. دا خبره بېخي طبيعي ده. دغه پخواني سرودونه او تعاملات طبقاتي ټولني ته ډېر مقدس ګرځېدلي وه او همداسي له «ويداګانو» څخه د مذهبي مراسمو يو اساسي کتاب جوړ سو، چي بايد نه هغه ته څه ور زيات سي او نه هم تغير پکښي را وستل سي.
«ويداګاني» چي د لرغونو آريايانو له «يجنا» څخه را پاته سوي وې، د يوې داسي وسيلې په سترګه ورته کتل کېده، چي ثروت او بالکل واقعي مادي ثروت توليدوي. د څوارلسمي پېړۍ «سايانا» (چي يو ويدي عالم دی. مترجم) ويداګاني د يوه داسي کتاب په توګه تعريفوي، چي انسان ته دا پوهنه ور کوي، چي هغه د اړتيا شيان لاس ته راوړي، چي «د خپلو ښاديو د پوره کېدو او د خپلو غمونو د نفي کېدو» دپاره يې لازم وي. د دغي کلمې معنا په «ريګويدا»

کي «ثروت» دی، چي د شیرم صرفي گردان په اساس د «وید» له ریښې څخه، چي معنا یې په لاس راوړل یا تولیدول دي، اخیستل سوې ده. که «وید» ثروت تهیه کوي، نو سړی باید په دې پوه سي، چي هغه څه رنگه تهیه کوي او دغه پوهېدل یا پوهنه همدا رنگه «وید» کیږي. پوهنه یا پوهېدل که د ثروت د تهیه کېدو یوه وسیله نه وي، نو نه معنی، نه ارزښت او نه هم وظیفه لري. په دې اساس نو بیا د دوهم صرفي گردان له مخې، «ویدا» د «وید» له ریښې څخه را وځي، چي «پوهېدل» معنی ور کوي او «پوهنه» (جنا یا Jnana) څني جوړیږي. د څه شي پوهنه؟ د تهیه کولو، تولیدولو او په لاس راوړلو. څه شي؟ لرغونو خلکو بې له تردده دا جواب وایه، چي (پراجاپاشو ادیه – اولاد او حیوانات).
د ستر یعني «برهمان» لرغونی کمون د رشد خاطره وایي، چي د «یجنا» دغه طریقه، دغه پوهنه له دوی سره د «پیدایښت» له زمانې څخه ملگرې وه او د دوی د ژوند له ابتداء څخه یې استقرار وموندی، ځکه ژوند د هغې په وسیله را پیل کیږي. نو ځکه هیڅ انسان دا جریان و نه لیدی، چي «ویداگاني» اختراع کېدلې او نه هم په یقیني توگه د وروستۍ زمانې هغي طبقاتي ټولني ولیدی، چي دغه ازلي عقیده یې د «ویداگانو» په باره کي ترویج کړه.
په دې اساس نو «ویداگاني» داسي وبلل سوې، چي ابتداء نه لري؛ «انادي - Anadi» تل تر تله ادامه لري. «نیتیا - Nitya» او د هیڅ عادي انسان ایجاد نه بلل کیږي. «آپاوروشیا - Apaurusheya»[٣٤] انسان بې له مادي ثروته ژوند نه سوای کولای او ثروت باید وو، چي سمدستي د انسان سره بلکي حتی تر هغه

٣٤ اپاوروشیا د «پوروشا – Purusha» تر زیږېدو دمخه د را پیدا سوي معنا هم ور کولای سي. «پوروشا» هغه وروستنی طبقاتي ټولنه ده، چي په «پوروشا سوکتا» کي څېړل سوې او تشریح سوې ده.

دمخه موجود وي او نو ځکه ویداګاني هم دغسي وې. وروستنیو آریایانو په دغه ترتیب سره استدلال کاوه.
نه پخوانیو او نه وروستنیو آریایانو له ویداګانو څخه په دې مفهوم کوم رمز جوړاوه، چي په هغه کي ایډیالیسټ فیلسوف له روح څخه او د هستۍ په نسبت د هغه له رابطې څخه یو سرې شی جوړوي او د ژوند له اسارته څخه د روح د آزادۍ مسئله منځ ته راوړي.
آریایي مؤلفان موږ ته په دې بیان کي رشتیا وایي، چي هغه څه چي د ویداګانو په توګه پېژندل سوي دي، واقعاً دوو برخو ته وېشل کیږي: یوه برخه یې واقعیت او بله برخه یې یوه افسانه ده، چي د واقعیت یو کوچنوټی څرک هم پکښې لیدل کیږي. دغه افسانه له واقعیت سره وروسته په خالصه افسانه اوړي، ځکه داسي چوکاټ ته لویږي، چي بالکل یو متضاد او متناقض واقعیت د پخوا زمانې د مقدس واقعیت د استناد په حواله ثبوت ته رسوي. دغه بیان نو په دې ترتیب موږ ته کیږي، چي ټوله هندویي فرهنګ درو برخو ته وېشلی دی. د ویداګانو واقعي سرودونه حقیقتاً د ریشي‌ګانو -چي وروسته د «منترا درشتاګانو» په نامه وبلل سوه- له خوا څخه مشاهده کېده او ورته الهام کېده. له مشاهدې «دریشتي» څخه سمعي یا شروتي ته ورسېده. شروتي‌ګاني افسانه له واقعیت سره ښیي او بیا نو په آخر کي سمریتي راغلی، یعني فقط هغه چي په یادیږي. که څوک د هندو روایاتو او مذهبي فرهنګ دغه درې مرحلې او په وروسته کي یې قانون په ځیر تر کتني لاندي ونیسي، نو دا لیدلای سي، چي دوی څه ډول د آریایانو د تحول کوونکي اجتماعي اورګانیزم له انعکاساتو څخه پرته بل شی نه بلل کیږي. دوی د آریایانو هغه تحولات انعکاسوي، چي له ابتدایي کمون (منترا دریشتي یعني د «ویداګانو له مشاهدې) څخه بیا یوې داسي ټولني ته تر

اوچتېدو پورې جریان لري، چې په دننه کې له طبقاتي تضادو او خپل تجزیه کېدو څخه ډکه ده، اما دا جریانونه یې تر اوسه لا بشپړېدو ته نه دي رسېدلي (یعني هغه ټولنه چې د شراوت دهرما: سمعي ویداگانو له خوا اداره کیږي) او بیا نو اساسي طبقاتي دولت او د کمون یو مخیزه ړنگېده تمثیلوي، چې له هغه سره «سمریتي» قانون منځ ته را ځي، چې د «ویدا یجنا» او د هغې له ټولني سره هیڅ مشترکه وجه نه لري.
په دې مرحله کې ښایي لوستونکي دا پوښتنه منځ ته راوړي: آیا ټوله «ویدي یجنا» د خپلو مراسمو، روایاتو او اساطیرو په واسطه اجتماعي- طبیعي واقعیت، البته په یوه تخیلي شکل انعکاسوي او یا د دغې مجموعې کومه برخه خوشي وچ چټیات دي، چې هیڅ معنا نه لري؟ د دې دپاره چې دغې پوښتني ته جواب وویل سي او خبري ډېري اوږدې نه سي، زموږ دپاره ډېره ښه دا ده، چې د «اینگلس» بیان دلته را نقل کړو. دی وایي:
«خو ټوله مذاهب د انسانانو په اذهانو کې د هغو خارجي قواوو تخیلي انعکاس دی، چې د دوی ژوند کنټرولوي او پرته له دې بل شی نه گڼل کیږي. دا هغه راز یو انعکاس دی، چې په هغه کې مځکنۍ قواوي د مافوق طبیعي قواوو شکل اخلي. د تاریخ په ابتدایي وختو کې د طبیعت قواوي وې، چې د لومړي ځل دپاره په دې توگه انعکاس سوې او د نور تکامل په دوران کې د بېلابیلو اولسونو تر منځ د راز راز او رنگارنگ هویتونو په بڼه مجسمي سوې. مقایسوي میتولوجي د دغي لومړۍ پروسې سلسله، لا اقل د هندو اروپایي ملتونو په مورد کې تر خپلي مبدا پورې په هندي ویداگانو رسولې ده او د هغې تکامل یې په تفصیلي توگه د هندویانو، پارسیانو، یونانیانو، جرمنیانو او تر کومه ځایه چې

مواد پيدا کيږي، همدا رنگه د سلتيانو، ليتوانيانو او سلاويانو تر منځ څرګند کړی دی.»[۳۵]

خو د طبيعت د قواوو د انعکاس دغه لومړی پروسه ژر د اجتماعي قواوو د پروسې له انعکاس سره يو ځای کيږي. اينګلس وايي:

«خو ډېره زمانه نه تېريږي، چې د طبيعت له قواوو سره اړخ پر اړخ اجتماعي قواوي په دې شروع کوي، چې فعالي سي. دا قواوي خپل ځانونه انسان ته کټ مټ هغسي بيګانه او په وار د واره کي ناقابل توضيح ښکاره کوي، لکه په خپله د طبيعت قواوي او د هغو په شان پر دوی باندي د څرګند جبر په اساس حاکميت لري. تخيلي هويتونه چي په لومړي سر کي يوازي د طبيعت مرموزي قواوي انعکاسوي، په دې نقطه کي اجتماعي نسبتونه هم کسبوي او د تاريخ د قواوو نماينده‌ګان ور څخه جوړيږي.»[۳۶]

د ويدي ادبياتو په تحليل کي تر اوسه د بورژوازي عالمانو له خوا څخه پر لومړی پروسه باندي زيات تأکيد سوی دی، چي دوهمه پروسه له نظره واچوي. د ميتولوجی د خدايانو د اجتماعي نسبتونو او د دوی د کارونو يو سم تحليل، چي موږ به يې دلته سر ته ورسوو، هيله کيږي، چي کوم وخت له خپل تخيلي شکل څخه را وايستل سي، نو به موږ ته د ابتدايي کموني ټولني تصوير په لاس را کړي.

اينګلس دغه خبره په خپله زمانه کي هغه وخت ياده کړې ده، چي و يې ويل:

«مقايسوي ميتولوجي له دغه دوه اړخيزه خصلت څخه نظر اړوي، چي په وروستنی مرحله کي د خدايانو له خوا کسب سوی دی. دا ميتولوجي يوازي د

۳۵ ف. اينګلس: انټي ډيورينګ

۳۶ د اينګلس لوړ اثر

طبيعت د قواوو د انعکاساتو په توګه د دوی خصلت ته توجه کوي، که څه هم دا خبره په دې دوه اړخيزه خصلت کي پرته ده، چي د ميتولوجيکانو د هغه ګډوډی بنسټ جوړوي، چي وروسته دوی ته ور ننوځي.»[۳۷]

زياتره اروپايي او هندي ليکوال د ويداګانو په باره کي د دغي «يو اړخيزي توجه» په نسبت د اشتباهاتو په ستونزو اخته کيږي. موږ کوښښ کوو، د هغو اساطيرو او خدايانو په وسيله، چي په ويدي ادبياتو کي موندل کيږي، د آريايي کموني ژوند اجتماعي ساختمان ته ورسيږو، څکه لکه مارکس چي وايي: «ټوله ميتولوجي هم په تخيل کي او هم د هغه په وسيله د طبيعت پر قواوو تسلط پيدا کوي، تر حاکميت لاندي يې راولي او هغه ته شکل ور کوي.» د تخيل دغه کار چي د ژوند د ټولنيزو اړتياوو په نتيجه کي منځ ته را ځي، همدا رنګه موږ ته د ټولني هغه شکل را ښکاره کوي، چي دغه کار هلته خپله وظيفه اجراء کوي او په دې ترتيب نو زموږ سره مرسته کوي، چي ابتدايي آريايي کمونونه د هغو د ړنګېدو تر ټکي پوري وپېژنو.

په همدې ترڅ کي دا خبره بايد په ياد کي وساتل سي، چي د «يجناګانو»، خدايانو، اساطيرو او جادو ټوله مواد داسي نه سي ثابتېدلای، چي کومه مثبته معنا دي ولري. د دوی له جملې څخه ځيني خالص چټيات دي، اينګلس داسي څرګندوي:

«تر کومه ځايه چي خبره د ايډيالوجی په هغو ساحاتو اړه لري، چي تر اوسه لا هم په هوا، مذهب، فلسفه او نورو کي خورا جګ پروازونه کوي، دغه ساحات د هغو شيانو، چي موږ يې بايد نن ورڅ چټيات وبولو، يوه ماقبل التاريخي

۳۷ د اينګلس لوړ اثر

ذخيره لري، چي لا په تاريخي دوره کي موندل کيږي او تر استفادې لاندي را ځي. د طبيعت، د انسان د خپل موجوديت، ارواحانو، د جادويي قواوو او نورو په باره کي دغه رنګارنګ غلط نظريات تر ډېره حده يو منفي اقتصادي بنسټ لري. خو د ماقبل التاريخي دورې ټيټ اقتصادي انکشاف د طبيعت په باره کي د غلطو نظرياتو په وسيله تکميل کيږي او همدا رنګه دا غلط نظريات تر يوې اندازې د هغه د موجوديت شرط او حتی سبب ګڼل کيږي. او حتی که څه هم اقتصادي ضرورت هغه غټه سائقه قوه وه، چي د طبيعت مترقي پوهنه يې منځ ته را وسته او هر کله همدغسي جريان لري، خو دا کار به نو يقيناً پر تبحر بناء وي، چي څوک تلاښ کوي، د ټولو دغو ابتدايي چټياتو دپاره اقتصادي علتونه پيدا کړي.»[۳۸] موږ به دا چټيات يوې خوا ته پريږدو او کوښښ به وکړو، چي بربري ابتدايي آرين هغه شان را استنباط کړو، لکه څنګه چي يې په خپل کمون کي ژوند کاوه او په ګډه يې د «سترا» او «کراتو» په کار کي ګډون کاوه.

۳۸ د مارکس، اينګلس غوره [منتخب] آثار، دوهم جلد، ۴۴۹- ۴۴۸ مخ (مسکو، ۱۹۴۹)

## پنځم فصل

### ګنی، ګوترا؛ د آريايي کمون اجتماعي- اقتصادي او قومي سازمان

د اور د کشفېدو او د حيواناتو د اهلي کېدو سره د کمون ژوند د نابودېدو له هغه ورځني تهديده څخه خلاص سو، چي هر کله به د طبيعت د قواوو په خلاف مبارزه کي ور سره مخامخ وو، خو د توليدي قواوو پسماني که څه هم په ورځنۍ توګه لږ سوه، اما اوس يې لا هم د خوارۍ ژوند او سخت کار پر خلګو باندي تحميل کړی وو، نو ځکه هغه څه جي د «سترا» له کاره څخه حاصلېدله، د سم‌دستي مصرف دپاره وه. د توليد افزارو نو لا تر اوسه دې ټکي ته انکشاف نه وو کړی، چي د فرد کار دونه ظرفيت پيدا کړي، چي مازاد توليد کړي؛ يعني تر هغه بېخي اقل حد چي ژوند له مرګه څخه په را ګرځي، لږ څه زيات توليد کړي، ځکه دوی دا خبره نه وه کشف کړې، چي بشري کار دا ظرفيت لري، چي تر مصرف زيات توليد وکړي. ابتدايي کمون د خپل تخنيکي مهارت په وسيله دې ته تحقق نه وو ور کړی، چي د انسان د کار قوه دا ظرفيت لري، چي يو مازاد توليد کړي او يو تن کولای سي، چي بې‌له کار کولو څخه د بل يوه په هم‌هغه مازاد ژوند وکړي. خو د ښاريو د روزني او نورو اختراعاتو د انکشاف په وسيله دغه حالت ژر تحول ته مخه کړې وه. خو په دې مرحله کي حتی داسي يوه مفکوره منځ ته نه راتله، چي يو تن د بل يوه په کار ژوند وکړي، ځکه توليدي قواوو دغسي يوه فکر ته کورټ اجازه نه ور کوله. په پخوانيو مرحلو کي د توليد د افزارو د پسمانۍ يوه بله نتيجه دا وه، چي نه مازاد توليد کېدی او نه په توليد کي تنوع منځ ته راتله او هر څه چي توليد کېده، مستقيماً په مصرف رسېدله. د محصولات د مبادلې مسئله هلته نه وه. په دې

ترتیب نو مؤلدینو پر خپلو پیداوارو کنټرول درلودی او هغه له دوی سره پاته وه. مؤلدین له خپلو پیداوارو څخه د مبادلې په سبب نه بېلېده او نو ځکه دوی تر اوسه لا بازار، پیسې او داسي نورو اسرارو ته انکشاف نه وو ور کړی. «مهاویدي» چي د تولیدولو یا ټولولو ټاټوبی وو او «اګني» خدای د دې ټاټوبي مرکز وو، چي محوطې او څرځایونه یې درلوده، دا ټوله د کوچني ابتدایي کمون نړۍ وه. تر دې دایرې دباندي ژوند ټوله خصومت او مصیبت وو.
د تولید وسایل په دې مرحله کي دونه بیرته پاته وه، چي په کمون کي یې د کار هر ډول وېش ناممکن ګرځولی وو. خو د کار هغه جزیي تقسیم، چي موږ یې د ډېري پخوا زمانې د «سترا» په کار کي مشاهده کوو، موقتي بڼه یې درلوده او د یوه ثابت دایمي اقتصادي مفاد حالت ته یې وده نه وه کړې. نو ځکه هلته په ابتدایي کمون کي «ورڼه‌ییز» تقسیم یا فرقوي- طبقاتي تقسیم موجود نه وو. ټوله کمون له هغه څخه جوړ سوی وو، چي کله ناکله «ویشاګان» یعني د یوه ټاټوبي اوسېدونکي بلل کیږي. د کار دایمي تقسیم له دې سببه هم منځ ته نه سوای راتلای، چي هغه جمعیت د دغسي یو تقسیم په نسبت ډېر وړوکی وو. په ټولنه کي د کار د تقسیم دپاره لازمه ده، چي نفوسو په کافي اندازه ډېرښت کړی وي، ځکه نو د «سترا» ټولني یا پخوانیو «ګنی‌ګانو» د فرقو او د درو یا څلورو «ورڼه‌ګانو» هغه مسئله نه درلوده، چي په هر صورت ژر منځ ته راغله.
دا چي د آریایي ټولني د انشاف په یوه ټاکلې مرحله کي دغه «ورڼه‌ګاني» را پیدا کیږي او دا چي په لومړي سر کي یې دغسي تقسیمات نه درلوده، یوه داسي خبره ده، چي د هر چا خوا منل کیږي.
نو ځکه موږ دې ته اړ نه یو، چي د دغه ټکي د اثبات په باره کي وخت تېر کړو. دا خبره هم دا رنګه منل کیږي او رشتیا هم ډېره روښانه خبره ده، چي

«ورنه‌ګاني» په ټولنه کې د کار د تقسیم په توګه منځ ته راغلې. دا چې دغه کار څه رنګه سر ته ورسېدی، موږ به یې وروسته هغه وخت وګورو، چې د کار د تقسیم مرحلې ته ورسیږو.
دلته باید دا خبره یاده سي، چې د اور د کشف او د حیواناتو د اهلي کېدو تر منځ آریایي ټولني یو څه وخت ونیوی. خو د حیواناتو له اهلي کېدو څخه بیا تر هغه ټکي پوري، چې په ټولنیز سازمان کې مبادلې، د کار تقسیم، «ورنه‌ګانو» او ور سره ټولو لازمو تغیراتو انکشاف کاوه، پرمختګ ډېر ګړندی وو او آریایي کمون په ډېره چټکۍ تحول کاوه.
موږ د «سترا» په کار کې، چې په ډله‌ییزه توګه یې تولید او مصرف کاوه، ولیده چې ابتدایي کمون د اور پر شاوخوا را ګرځېدلی وو. دوی د هغه راز غټو کهولونو په ډول ژوند او کار کاوه، لکه تر اوسه چې لا د هند په ځینو کلیو کې لیدل کیږي، خو البته په دې تفاوت چې دلته د بابامشرۍ واکمني نه سته او هلته د اوس په شان کارونو زیاته تنوع او ډېر ډولونه نه درلوده. په کار کې یوازنی تفاوت د نرو او ښځو تر منځ موجود وو. نارینه‌وو ښکارونه یا جنګونه یا د ځارویو روزنه کوله، خو ښځو د کهول انتظام په غاړه درلودی، پخلنګ یې کاوه، لوشل یې کول او د ټاټوبي په شاوخوا کې یې غله کرله. خو د دواړو کار ټولنیز کار وو، په ډله‌ییز صورت سر ته رسېدی او مخ ته وهل کېدی او نو ځکه خصوصي کهول نه وو او نه هم د نرو او ښځو په منځ کې د مقام توپیر لیدل کېدی.
په دې سبب چې جمعیت وړوکی وو، په کار کې تنوع نه وه او د کار تقسیم موجودیت نه درلودی، پیداوار نه سره مبادله کېده او ټولنه د استثمارچي او استثمار سوي، د بډای او خوار طبقاتو ته نه وه وېشل سوې، نو دې شرایطو یو

داسي واکمن ساطمان نه ایجاباوه، چي پر ټولنه لوړ او حاکم وي او په ظاهره د ټولو په ګټه وي، خو په واقعیت کي د استثمارچیانو منافع تامینوي او نو ځکه موجودیت یې هم نه درلودی. هلته دولت یعني د طبقاتي واکمنۍ اورګان نه وو، اردو نه وو، پولیس نه وو او مالیات نه وه. ټولني دغه راز وسایلو ته اړتیا نه درلوده. هغه وخت نو د داخلي انتظام او خارجي دفاع په موضوع کي د کمون اصول څه راز وه؟ دغه پوښتنه په خپله لرغونو هندي آریایي لیکوالو منځ ته راوړې ده او جواب یې ور کړی دی.
دا ممیزه ویدي عالمانو یاده کړې ده او هم په روښانه توګه د هر لوستونکي له خوا څخه لیدل کېدای سي، چي پخواني ویدي ادبیات د کمون د داخلي سازمان، د هغه د غړو د ځانګړي سلوک، له جمعیته سره د هغو د رابطې، په دې روابطو کي د خاطرکاریو او مجازاتو، د هغي قوې په باب چي دغه مجازات تطبیق کړي، د پیسو او نورو شیانو په باب، چي د دغي قوې د ساتني دپاره لازم وي، هیڅ راز پوښتنه نه را وړاندي کوي.
ټولي خبري زیاره د «پیدایښت»، د نړۍ د مبدا، د انسان او «اګني» او د څارویو د ثروت پر مسئله را څرخي، یوازي په وروستنیو «برهمناګانو» کي داسي ده، چي د واکمنۍ، اخلاقي اصولو او سلوک پوښتني منځ ته را ځي. په پخوانیو ویدي ادبیاتو کي د «پیدایښت» پر موضوع سربېره همدا رنګه د شخړو، جګړو او د دوی د نتیجو مسئله څېړل کیږي. او کله ناکله د اخلاقي اصولو یوازنۍ مسئله، یعني د جنسي روابطو پوښتنه منځ ته را ځي. د قوي خپلوۍ او دولت، د حاکم او محکوم، د افرادو د حقوقو او وظایفو مسئله نو په همدې ترتیب د کومي منازعې او مباحثې موضوع نه تشکیلوي.

نو ځکه د دغو کمونو داخلي سازمان د دوی هغه خصوصيت، چي له وروستنی آريايي ټولني څخه يې بېلوي، د وروستنيو ليکوالو له خوا څخه هغه وخت بيانيږي، چي دغه کمونونه ړنگيږي او ځای طبقاتي دولت ته پريږدي او د جگړو نوي ډولونه منځ ته را ځي، يعني کله چي داخلي جگړې تبارز کوي او د داخلي سازمان نوي مسايل؛ يعني د دولتي قوې، ماليات، قانون او اخلاقو مسايل، د ټولني سره مخامخ کيږي. پر ويدي ادبياتو سربېره په حماسي آثارو، په تېره بيا په «مهابهاراتا» او «سمريتي‌گانو» کي دغه خبري عمده موضوع تشکيلوي. د دوی له مقايسو مباحثو څخه، چي هلته د زاړه او نوي تر منځ توپيرونه څېړي، موږ دا معلومات حاصلوو، چي څه رنگه دغو پخوانيو کمونو د خپل داخلي ساختمان په نسبت هغه وظيفه اجراء کوله، چي ډېره ساده وه او په بشپړه توگه يې د هغې دورې د توليدي قواوو مرحلې ته جواب وايه.

د دغو کمونو سازمان لکه څنگه چي دمخه يې د «تريراترا - Triratra» په روايت کي بيان راغی، د «گنی» يو سازمان وو. د «گنی» سازمان د اينگلس په الفاظو کي د خلگو «د خودکاره وسله‌وال سازمان» په توگه تعريف کېدلای سي، چي د قوې کوم مخصوص ماشين، يعني دولت يې نه درلودی، چي د هغه چاري اداره کړي، ځکه هغه متضادو متخاصمو طبقاتو ته، چي پر خصوصي ملکيت را بناء وې، نه وو وېشل سوی. عامه رايي او طبيعي ضرورت د کمون هر يو غړی دې ته گماری، چي خپله ډله‌ييزه اجتماعي دنده سر ته ورسوي. په وظيفه کي جزيي غفلت فقط د عامه ترټني په وسيله تصحيح کېدی. ډېر غټ جرم لکه د «گنی» د يوه غړي له خوا څخه د بل يوه وژنه يا يو بل داسي جرم، له «گنی» څخه په اخراج مجازات کېدی، چي دې جزا د وحشت په هغو شرايطو کي واقعاً له مرگه سره برابري درلوده. څه رنگه چي هلته اردو يا دفتري

نظام نه وو، چې کوم قانون نافذ کړي، نو هلته مالیاتو هم موجودیت نه درلود، د خلګو له خوا ټخخه انتخاب سوي مامور ته، که څه هم مستقیماً یې تولید سر ته نه رساوه، خو د ډله‌ییز کار په پروسه کې یې ګډون کاوه او ده ته له ډله‌ییزو عوایدو څخه، کټ مټ هغه شان لکه زړو او وړو ته، د ژوند اړتیاوي سرښته کېدلې.

د «ګنی» غړیتوب څه رنګه ټاکل کېدی؟ د طبقاتي ټولني او اوسني سوسیالیزم په اساس خو غړیتوب داسي ټاکل کیږي، چي یو څوک په یوه ټاکلي هیواد کي ټاټوبی ولري او د هغه هیواد دولت ته تابع وي. د «ګنی» په قانون کي داسي نه وه. د «ګنی» حدود د یو ارضي سازمان یا دولت سره یو شان‌ته نه وه، د هغې غړیتوب د قومي خپلوی یا ویني د اړیکي په وسیله ټاکل کېدی.

نو ځکه د «یجنا» د تولیدي طرز پخوانی ویدي ټولنه یو «ګنی‌وال» بهیري سازمان وو، چي په هغه کي ټوله غړي د ویني په اړیکي سره تړلي وه او په ډېرو پخواني، مرحلو کي یې کار او ملکیت ډله‌ییز شکل درلودی، چي هلته د طبقاتو یا فرقو تقسیم نه وو، دولت موجودیت نه درلودی، پاچا نه وو، استثمارچیان او تر استثمار لاندي کسان نه لیدل کېده؛ دا د خلګو یو خودکاره وسله‌وال سازمان وو.

د وروستنی زمانې هندویي متون په دغه طریقه سره «ګنی‌ګاني» موږ ته را پېژني. پخوانیو ویدي خدایانو او انسانانو ټولو په «ګنی‌ګانو» کي ژوند کاوه.

په وروستنیو زمانو کي د دولت او پاچهی، او همدا رنګه د «ورڼه» د تقسیماتو او داخلي جګړو منځ ته راتله، د تېري زمانې له حالاتو سره دونه شدید منافات درلودی، چي هر چا دا وغوښته، په دې پوه سي، چي څه رنګه او ولي دا شیان را پیدا سوه. جوابونه موږ ته صحیح دلایل په لاس نه را کوي، خو د هغوی

لوري ته مو بيايي. په «مهابهاراتا» کي له زاړه بابا «پاترپارک – Patriarch) «بهيشما - Bhishma» څخه هر کله هغه وخت د تېري زمانې په باب پوښتني کيږي، چي ي، نوی تعامل له هغه پېژندلي دودو سره سمون نه خوري، چي په عنعنوي توگه را رسېدلي وي. د «پانډاوانو - Pandavas» سرخېل، يعني د «مهابهاراتا» په جنگ کي د بريالۍ ډلي مشر، چي هغه ډلي له «کاوراوانو - Kauravas» سره جگړه وکړه او دواړو ډلو په يوه قوميت (زيي) پوري اړه درلوده، له «بهيشما» څخه د پاچهۍ د مبدا په باره کي يوه پوښتنه وکړه: «دا څه رنگه خبره ده، چي يو سوجه انسان چي کټ مټ د بل انسان غوندي سترگي او لاسونه لري او همهغسي فاني کيږي، له ده څخه يو پاچا جوړيږي او پر داسي انسانانو باندي حاکم کېدلای سي، چي هر يو يې تر ده ډېر هوښيار او غښتلی وي؟ څه شي دي، چي ده ته دا حيثيت او صلاحيت ور کوي؟

«بهيشما» په جواب کي د دولت د مبدا په باب هغه شان، لکه دی چي پوهيږي، موږ ته قصه بيانوي. هغه ډېره مهمه خبره، چي دی يې د پاچهۍ يا دولت د مبدا د بيانولو په ترڅ کي څرگندوي، دا ده، چي يو وخت داسي زمانه وه، چي په هغې کي دولت يا پاچهۍ وجود نه درلودی.

(«راجان - Rajan» چي دلته د «بهيشما» په خبرو کي ذکر سوی دی، په واقعي توگه د دولت معنی ور کوي)، په «کريتايوگا» کي يا تر هغه پخوا نه پاچهي وه، نه پاچا وو، نه مجازات ور کوونکی وو او نه څوک تر مجازاتو لاندي وو (نه دولت وو او نه استثمار). په خپله د هستۍ د قانون په موجب خلگو يو او بل حمايه کوله. په يو بل ځای کي دی وايي: «د دوی سرغړوني د عامه ترټني په وسيله اصلاح کېدلې»، کله چي دی د «گنۍ» د سازمانو په نسبت خطرات څېړي، نو داخلي سيالۍ، سراښۍ (چي شتمنۍ را غونډې کړي) او په خپل

يووالي کې نفاق د غټو خطرونو په توګه يادوي. د دوی د يو له بله تعلق مميزه داسې يادوي، چې څه رنګه چې «دوی په فرقه او په مبداء يا وينه کې سره يو شی دي، نو که دوی خپل تر منځو جنګيږي، دا د «ګنی» د اصولو خاتمه ده او له ډېرو مهمو سرغړونو څخه يوه دا ده، چې دوی د ويني د تعلق او د هغه د مکلفيتونو د اصل پېژندني او رعايت ته خاتمه ور کوي». ټوله ليکوال چې د «ګنی» هغه مميزه څېړي، چې همدا رنګه د «کريتايوګا» مميزه ده، داسې وايي چې هلته انسانانو د «ستا او زما» تر منځ فرق نه کاوه. دا تش يوه افسانه نه وه، بلکې يو واقعيت وو، چې د ابتدايي دورې له اشتراکيت څخه يې منشاء اخيسته. رشتيا هم «کاوتيليا» چې د امپراطوري پاچهی او د غښتلي شاهي ديکتاتوری ستر سازمان ور کوونکی دی، وايي چې په يوه «ګنی» کې، چې چيري «ويراجيا - Vairajya»[٣٩] (بيان يې په ايتاريا برهمنا کې راغلی دی) موجوديت لري، هلته «هيڅوک د زما احساس نه لري» او ځکه نو دی داسې فکر کوي، لکه د سوسياليزم په نسبت چې يې اوسنی بورژوا طبقه کوي، چې د يوه دغسې دولت يو غړی به خپل حکومت او هيواد خرڅ کړي، خو هيڅوک به د هيواد د حکومت د مسؤل په توګه احساس نه کوي. د ابتدايي ډموکراسی دغه ريښه کښونکي، په داسې حال کې چې هغې ته يې د يو منحط نظام په توګه ناوړې ويلي، خو اوس لا هم دوی ډارېده، چې هغه د خپل داخلي پيوستون «اتحاد» په سبب د دښمن په مقابل کې ډېره غښتلې ده. د دوی خپلي خبري نه سر کيدې او څه رنګه چې د طبقاتي دولت او خصوصي ملکيت په طبقاتي ليد کې

---

٣٩ دغه ټوله سرودونه د داخلي وظايفو په موضوع کې د ابتدايي کمون اساسي مشخصات خلاصه کوي. «اراجک – arajak» يا هغه دولت چې پاچا و نه لري، په داسې توګه تشريح سوی دی، چې هلته هيڅ‌څوک د شتمنی مالک نه ګڼل کيږي.

ډوبېدله، نو يې نه سوای کولای، په دې وپوهيږي، چي «گنی» څه ډول ژوند کولای سوای. خو دې ژوند کاوه او ډېر ښه ژوند يې کاوه او ځيني لکه «بهيشما» غوندي مجبوره سوه، چي دا حقيقت هم ومني.

دا خبره چي د «گنی» سازمان او «زيي» سره يو شی دی، په خپله د «گنی» د کلمې په ريښه‌يي معنا کي پرته ده، چي هغه د هندو آريايانو په منځ کي دمخه تر هغه چي له خپله لومړني ټاټوبي څخه را ليري سي، په عامه توگه مروجه وه. «گنی» يعني هغه اجتماعي- اقتصادي سازمان چي د مهابهاراتا او ويداگانو په وسيله ښوول سوی دی (او وروسته بيا د سمريتي په دوره کي د يو ډول سياسي سازمان په توگه تشريح سوی دی) د سانسکريټ د «جان - Jan» له ريښې څخه راغلی دی، چي معنی يې زېږول او توليدول دي. دا هم اقتصادي او هم جنسي دواړه معناوي لري. د «جان» او «گنی» ريښه کټ مټ هغه د «يجنا» ريښه ده، چي دمخه موږ تر نظر تېره کړه. نو ځکه آريايانو د دغو ټولو درو معناگانو يا روابطو دپاره، چي د دوی اجتماعي، اقتصادي او جنسي سازمان وښيي، همدغه يوه واحده ريښه درلوده. د «يجنا» د توليدي طرز دپاره لازمه وه، چي د «گنی» له يو سازمانه سره تړلی وي، چي هغه بيا په خپل روڼ د ماهيت له مخي پرته له قومي خپلوانو «جانا» له بل چا څخه نه جوړېده او دا هغه خپلوان وه، چي د (اگني) او د ژوند د «يجنايي» طرز پر شاوخوا باندي زېږېدلي وه او هغه نارينه او ښځي يې شاملولې، چي په گډه يې ژوند او روزي توليدوله. اينگلس چي په دې باره کي د «مورگان» په حواله ليکنه کوي، داسي وايي:

«د Gens لاتيني کلمه چي مورگان يې د کانسنگويني «Consanguinei» پښې دپاره د يو عام نامه په شان استعمالوي، داسي کلمه ده، لکه د دې مرادفه يوناني «جينوس – Genos» غوندي، چي له مشترکي آريايي ريښې «گن – Gan»

ځخه مشتق سوې ده (او په جرمني کي چي د قاعدې سره سم آريايي «ګ – g» په «ک – k» اوښتی دی، نو هلته دا کلمه د «کن – kan» په صورت ليدل کيږي»، چي معنی يې زېږول دي.
«جنز»، «جينوس» او د سانسکريټ «جاناس» او د پورتنۍ قاعدې سره مطابق د «ګوتي – Gothic» ژبي «کونت – kunt»، د پخواني «ناردي – Nordie» او «انګلوساکسون – Anglo-Saxon» «کين – kyn»، د انګرېزي «کين – kin» او د منځنۍ پاس جرمني «کوني – Kunne» ګرده په يوه شان او مساوي ډول د «زيي» او «نسب» معنا افاده کوي. خو په لاتيني کي د «جنز» کلمه او په يوناني کي د «جينوس» کلمه (او زه دا پر زياتوم، چي په سانسکريټ کي «ګنی»، ګوتراش – اې. ډانګي) خاص د هغو کانسنګوينټي پښو دپاره استعماليږي، چي دوی په يوه مشترک نسبي اصل وياړي (چي هغه دلته له يوه مشترک نارينه يعني نيکه ځخه را نيول کيږي) او د ځينو اجتماعي او مذهبي مؤسساتو په سلسله بيا دا پښې يو د بل سره تړل کيږي او يو مخصوص جمعيت جوړوي.»[٤٠]
دا خبره چي د آريايانو ډېر پخوانی سازمان پر قوميت را بناء وو او دا چي همدغه قوميت د ټولو ور پسې ملتونو بنسټ وو، هر کله په ثابت ډول د دوی له خوا ځخه په بېلابيلو طريقو ځرګنديږي. هغه مشهوره لس قبيلې، چي تقريباً د هند پر نيه سيمه او تر هغه دباندي خپرې سوې، ويل کيږي، چي قومياني قبيلې وې: د «يادو - Yadu»، «توروآسو - Turvasu»، «دروهيو - Druhyu»، «انو - Anu» او «پورو - Puru» پنځه قبيلې د يوه پلار، چي «يایاتي - Yayati» نوميږي، د اولادو په توګه ښوول کيږي، چي د هغه له دوو ماينو «ديواياني - Devayani» او «شرميستها - Sharmistha» ځخه را پيدا سوي دي. د هند د

---

٤٠ ف. اينګلس: د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء

شرق او جنوب شرق پنځه قبیلې، چي «اګنا - Agna»، «ونګا - Vanga»، «کالینګا - Kalinga»، «پوندرا - Pundra» او «سومها - Sumha» نومیږي، ویل کیږي، چي د «بلي - Bali» اولاده ده او د یوه ړانده حکیم په وسیله، چي «دیرګاتاماسِ - Deerghatamas» نومېدی، د ده په ماینه وزیږول سوه. هغه خبره چي تاکید ور باندي کیږي، دا ده چي دغو خلګو له خپلو اجتماعي- اقتصادي روابطو سره همدا رنګه قومي روابط درلوده.

په دې ترتیب نو د «ګنی» نظام د ابتدایي اشتراکیت په اساس د خلګو سازمان دی، چي هلته تولیدي پیوند په عین زمان کي قومي پیوند دی.

دغه حقایق مور ته حتی د ویني د ډېرو اساسي تعلقاتو په نومو تمثیلیږي. د کمون په فعالیتو کي قومي رابطه او اقتصادي وظیفوي رابطه د مور، لور، پلار، مېړه او ماینې په نومو کي سره یو شی دي.

مور: ما-ترو Ma-tru داسي څوک وه، چي دنده یې د برخو وېشنه وه. ریښه: «ما» معنی تولو ته د خوړو، غوښو او نورو اندازه کول او وېشل او هغه څوک چي کوچنیان زېږوي، یعني څوک چي ډېر ژوند ور کوي.

کمون یعني برهمان د خوړو او مور په وسیله خپل مثل زېږاوه او ژوند یې کاوه.

پلار: پي-پا-ترو Pi-Pa-Tru هغه څوک، چي دنده یې ښکار کول او د حفاظت دپاره پاملرنه وه. ریښه: «پا» معنی حفاظت کول.

د لور «دوهي-ترو Duhi-tru» وظیفه وه، چي باید څاروي ولوشي. ریښه: «دُوه» معنی لوشل. او د موره سره د غذا د سرښتې په کار کي دغه وظیفه خورا ډېره مهمه وه. د «پتي - Pati» او «پتني - Patni» جنسي روابط چي په خپل روڼ پلار او مور ځني جوړیږي، همدا رنګه دا وظیفه افاده کوي، چي سره یو ځای کیږي او ټاټوبی ودانوي. دا کلمه له «ستایي - Stayi» څخه را اخیسته کیږي،

چې معنا يې يو ځای خوځي کول او يو ځای را غونډېدل دي. نو نتيجه څه شي سوه؟ البته نتيجه ټاټوبی او په وروسته کې سرای يا ځانګړې کورنۍ سوه. «پاستريو - Pastryu»، «ستري - Stree» او «پتني» ټوله د هغو نرو او مادو معنا ور کوي، چې د کمون غونډه يې جوړه کړې وي. دا کلمه البته حتی د آريايانو تر هغه تصميم دمخه را پيدا سوې وه، چې يې وغوښته، د نر او مادې دپاره د جنسي نقش له مخې داسي مختلف کلمات پيدا کړي، چې له اجتماعي-اقتصادي نقش څخه يې فرق ولري. ځکه نو د «ګريهاپتي» کلمې د خصوصي کهول تر ظهور دمخه هم نر او هم ماده (پانيني وايي: ګريهاپتي- ستري) دواړه افاده کوله.

**په وروستنيو زمانو کي دا جريان پای ته ورسېدی، چې اقتصادي نقش او رابطه د قوميت له خوا اداره سي. کله چې ابتدايي کمون ړنګ سو، نو پلار او مور هم په دې ډول ور سره ړنګ سوه، چې دوی نو بايد سرای جوړ نه کړي يا د حفاظت وظيفه اجراء نه کړي او د غذا برخي و نه ويشي. فيوډالي زميندار، د سرای خاوند سرمايه‌دار او پوليس دغه وظايف په لاس کي واخيسته، په داسي حال کي چې مور، لور، پلار او زوی په نړۍ کي کښتو او کارخانو ته را وايستل سوه، چې خپله غذا او «پاستيام - Pastyam» لکه څنګه چې کولای سي، هغسي لاس ته راولي. لاکن د شاقه‌کار او د پيداوارو د پرېمانۍ سره هغه لاس ته نه سي راوړلای.**

د آريايي ټولۍ د سازماني بنسټ يو بل نوم «ګوترا» وو. په داسي حال کي چې د «ګنۍ» نوم د توليد او مولدينو «جانا» پر عمل باندي خپل ځان را بناء کړی وو، د «ګوترا» نوم بيا د ثروت او غذا پر غټه منبع، يعني غواوو (سانسکريټ: ګو) باندي خپل ځان را بناء کړی وو. په داسي حال کي چې دلته بيا دغه تشکيل

اساسي اقتصادي محتوا لري، نو د «گوترا» اورگانیزم او د هغه په ضمن کي را پیدا سوي تعلقاتو، چي د هندوانو تر منځ یې اساساً د جنسي یا کورني تعلقاتو د یو بنسټ په توگه پایښت درلودی، د هندو عالمانو تر منځ د اختلاف او مباحثې یوه موضوع ځني جوړه سوه. د ازدواج هندویي قانون د یوې «گوترا» د وگړو تر منځ ازدواج منعه بولي. ټوله «گوتراگاني» تر نهو غټو تقسیماتو لاندي، چي «پراواراگان» نومیږي، توحید او تصنیف کیږي. (د ځینو عالمانو له بیان سره سم د واحدو پراواراگانو تر منځ ازدواج په خاصه توگه ممانعت نه لري)، خو ویدي عالمان دا خبره یادوي، چي په واحده «گوترا» کي د ازدواج دغه ممانعت په ویداگانو یا په پخواني تاریخ کي نه موندل کیږي. دا خبره په ډېره وروسته زمانه کي منځ ته راغله. اما دوی نه سي کولای، چي موږ ته یې علت ووایي. دا وظایف نو په ناامیدۍ سره د دوی له خوا څخه پرېښوول کیږي. د «گوترا- پراوارا» گډوډۍ نو دوی ته حل کېدونکې نه معلومیږي.

خو آریایي گنۍواله «جانا» او «گوترا» کټ مټ یو شی وي او د دوی د اقتصادي او ازدواجي رابطې بنسټ یې تشکیلاوه. د «گنۍ» اقتصاد له قومي غړو څخه جوړېدی او قومي خپلوانو گډ ډلهییز اقتصاد درلودی. هر شی چي تر کمون یا «گنۍ» دباندي وو، هغه خصمانه او غیردوستانه وو. یو غیرقومي څوک دښمن وو او نو ځکه یې نه سوای کولای، چي په کمون کي وي او نه یې سوای کولای د «یجنا» په طرز کي گډون وکړي. هر څوک چي په «یجنا» کي نه وي، هغه خارجي دی، چي باید نابود سي او د ده ثروت ضبط او تصرف سي. څوک نه سي کولای، چي په دښمنانو کي قومي ولري. یوازي «گوترا» هر شی وه. په دې وجه نو د ژوند او روزۍ د تولیدولو دپاره بنسټ او حد «گوترا» تشکیلاوه، ځکه نو ازدواج باید وو، چي په «گوترا» کي وي.

د ابتدايي آريايانو د «يجنا» ټولني په لومړي سر کي دا فکر نه سواى کولاى، چي تر «گوترا» دباندي له خپل ځاني اور (اگني) څخه گوښه واده وکړي. آريايي انسان ته هم د وحشت او هم د بربريت په خپلو شرايطو کي لازمه سوه، د ژوند او مشاهدې د سلهاوو کلو له تجربې څخه زده‌کړه وکړي او په دې وپوهيږي، چي په خپلو کي دننه تناسل يا صلبي قرابت د «گوترا» د رشد دپاره زيان لري او د هغه د حل په توگه په خپلو کي يو ځاى کېدو ته د «زنا» نوم اختراع کړي. د قومي خپلوانو تر منځ د ازدواجي ممانعتو په باب زموږ د ننني ورځي ادراکات صرف د تاريخ د زرهاوو کلونو په دوران کي منځ ته راغلي دي. آريايي انسان په خپل ابتدايي حالت کي په خپله «گوترا» کي دننه ازدواج کاوه او بيا نو په وروسته تاريخ کي، چي کله ده وده وکړه او په شيمر، ساحه، پوهنه او اقتصاد کي يې پراختيا راغله، نو يې د هغه دمخه ونيوله. گنى، گوترا يا قوميت او اقتصادي رابطه، د جنسي رابطې مسئله يعني په ابتدايي کمون کي د ازدواج مسئله منځ ته راولي. په دې سلسله کي د توليدي قواوو ښځي ابتدايي حالت همدا رنگه د پخوانۍ آريايي ټولني د غړو جنسي روابط ټاکي.
په دې مورد کي د «يجنا» د ټولني اخلاقي اصولو او اخلاقو د وروستنيو هندي ټولنو، زموږ د عصر يا د اوسنۍ سوسياليستي ټولني له هغې څخه بالکل فرق درلودى.

# شپږم فصل

## ابتدايي کموني ازدواج

د ازدواج د موسسې د انکشاف بحث، لکه څنګه چي يې نن ورځ په بورژوازي ټولنه کي وينو او هم هغه اخلاق او اخلاقي اصول، چي بورژوا طبقه د ورځي او د شپې لوړه په کوي، خو په عمل کي يې هيڅ کله نه مراعاتوي، هر کله يې په هر هيواد کي خورا هيجاني اختلافي مباحثات را پارولي دي.

د طلاق، تعدد ازدواج، وحدتي ازدواج، «ملکيتي ازدواج» او عشقي ازدواج مسايلو او همدغه شان نورو موضوعاتو د هند په دغه ګړندۍ بدلېدونکې ټولنه کي طوفان را پاڅولی دی او منورين دې ته ګماري، چي د نر او ښځي تر منځ روابط له دې مخي څخه وګوري، چي هغه دوه جهتونه لري؛ يو يې اجتماعي جهت دی، چي د سړي او ښځي په حيث او د اجتماعي واحدونو په حيث ليدل کيږي او هغه بل يې طبيعي جهت دی، چي د نر او مادې په توګه مشاهده کيږي. د ازدواج د موسسې تاريخپوهانو زيار ايستلی دی، چي وحدتي ازدواج، تعدد زوجات يا تعدد ازواج په دې وسيله استنباط او استخراج کړي، چي د انسان جنسي روابط د ځينو حيواني انواعو، لکه بيزوګانو يا هوسيانو او نورو د جنسي روابطو سره د مقايسې په توګه وګوري. داسي کوښښونه په کُلي توګه د خندا وړ دي، ځکه هيڅ حيوان کله يو اجتماعي سازمان نه دی تشکيل کړی (او کله يوه ټولنه نه بلل کيږي)، انسان فقط يو حيوان نه دی، ځکه په خپله د دې حقيقت په وجه چي د طبيعت پر قواوو باندي پرمختيايي کنټرول قايموي او په دې وسيله چي د توليد خپلو افزارو ته انکشاف ور کوي، نو خپل ځان داسي مقام ته خېژوي، چي له حيواني نړۍ څخه ځان را باسي، انسان ځني

جوړېږي او بشري ټولنه ودانوي. ځکه نو د انسان جنسي روابط د نر او مادې په توګه بېخي له لومړي سره څخه د ټولني په شرایطو متصف دي او دوی په یوه واحد وخت کي هم طبیعي جنسي روابط او هم اجتماعي روابط دي.
څه رنګه چي هم طبیعت او هم انسان دواړه تحول او انکشاف کوي، نو دوی تاریخ لري، دوی ثابت ټاکلي شیان نه دي، چي د ټولو زمانو دپاره پر یوه قرار پاته وي. نو ځکه دوی باید په تاریخي ډول وکتل سي. هغه څه چي د سړي او ښځي د روابطو په موضوع کي اخلاقي اصول او یا اخلاق بلل کیږي، د ځښتن یا سوچ طبیعت له خوا څخه نه دي تعین سوي او د ټولو دورو دپاره یو شان نه دي، بلکي بدلون مومي او له ټیټي سطحي څخه جګي سطحي ته انکشاف کوي.
دا خبره چي دغه روابط د ګردو ټولنو دپاره یو راز نه دي او هم د واحدي ټولني دپاره په ټولو زمانو کي یو شان نه دي، همدا رنګه د بورژوازي منورینو له خوا څخه منل کیږي. خو کله چي څوک وغواړي، هغه قانون پیدا کړي، چي دغه تحول اداره کوي او دا معلومه کړي، چي جګه او ټیټه مرحله څه شي ده، نو دا منورین شدید اختلاف او مباحثې کوي. په هند کي بورژوا طبقه او د هغې منورین، لکه نور ټوله واکمن طبقات، عقیده لري، چي دغه موجود روابط د همېشه په شان ډېر جګ او ډېر ښه روابط دي.
نو ځکه کله چي موږ د تاریخ په موضوع کي د خپلو څېړنو په سلسله د آریایانو د ټولنیز ژوند او تاریخ دغه پړاو ته را رسیږو، نو په یوه داسي ساحه کي ګام ایږدو، چي حتی د ملکیت تر مسئلې لا ډېر غټ طوفان را پیدا کوي. کله چي دا موضوع د لومړي پلا دپاره په اروپا کي د نونسمي پېړۍ په منځنیو کلونو کي تر څېړني لاندي ونیول سوه او تاریخپوهانو په بېلابېلو قبیلوي ټولنو کي د

ازدواج بېلابېل شکلونه او په ځينو معاصرو دودونو کي د هغو شکلونو پاته نښي او آثار وموندله، نو هغه يې د بيرته پاته خلګو تر منځ د عجيبو خيالاتو او تصادفاتو په توګه وبلل او رد يې کړل. کله چي «باخوفين» دا ثابته کړه، چي په لرغونې ټولنه کي «ادې‌مشري» له «جمعيتي ازدواجه» څخه منځ ته راغله او په لومړي سر کي يې د هري اجتماعي ډلي تر منځ رواج درلودی، نو خلګو د ده د څرګندونو په مقابل کي احتجاج وکړ. کله چي «مورګان»، مارکس او اينګلس د کورنۍ د مبداء تيوری ته د تاريخي ماټرياليزم پر اساس د انسان د اجتماعي اقتصادي روابطو د انعکاس په توګه انکشاف ور کړ او دا تيوري يې منځ ته راوړه، چي د انسان د توليد د طرز هره اجتماعي دوره د کورنۍ شکل ټاکي، نو بورژوازي اروپا «مارکسيزم» ته سپکي سپوري وويلې او هغه يې متهم کړ، چي د ښځو «د ملي کېدو» غوښتنه کوي. دلته هم د هندي بورژوا منورينو له جملې څخه ځينو د دغه راز اتهاماتو زيار ايستلی دی. خو سړی صرف دا خبره کولای سي، چي دغه چټي خبره بالکل يوازي د هغي بورژوا طبقې دپاره يوه طبيعي نتيجه ده، چي ښځه همدا رنګه يو ملکيت ګڼي. کارګره طبقه پر دغسي نتايجو باندي خاندي.

د هندوانو د بورژوا طبقې منوره ډله او د دې طبقې د ټولني مذهبي متعصبين بايد هغه آخر څوک وبلل سي، چي مارکسيزم ته ډبري ور غورځوي، ځکه په خپله هغه ارباب الانواع، چي له دوی څخه غوښتل کيږي، چي بايد هره ورځ يې نمانځنه وکړي، داسي جنسي روابط يې درلوده، چي د هغو روابطو له نقطه نظره چي نن ورځ اخلاقي ګڼل کيږي، هغه بالکل «غيراخلاقي» وه. د هندو مقدس تاريخ د خپلو ارباب الانواعو او قهرمانانو تر منځ د ازدواجي يا جنسي روابطو هر هغه شکل ثبتوي، چي د هند د اوسنيو ټولنيزو اخلاقي اصولو کرکه

او نفرت څني کيږي. لنډه دا چې دا موضوع بايد په تاريخي ډول وڅېړل سي، څو دغه څېړنه زموږ سره مرسته وکړي، چي د اجتماعي سازمان يو اوچت شکل ته ورسيږو، چي هغه به نه داسي وي، لکه د بربري عصر د ابتدايي کمون په شان او نه به هم داسي وي، لکه د بورژوازي تمدن د طبقاتي مرئيتوب په راز.

په خپله لرغوني هندو ليکوال، چي د پخواني عصر واقعيت ته ور څرمه دي او له دې سره چنداني علاقه نه لري، چي د خپل عصر پر اجتماعي- طبقاتي روابطو او يا د تېري زمانې پر خاطراتو باندي د درواغو پرده وغوړوي، نو دا زيار نه باسي، چي يا د ملکيتي روابطو او يا د جنسي روابطو په موضوعاتو کي نامناسب حقايق پټ کړي. دوی دا خبره مني، چي د دوی د ټولني جنسي روابط بالکل د پخوانۍ ټولني له جنسي روابطو څخه توپير لري. د دوی د خپلي عادي طريقې سره سم وايي، چي څلورو «يوګاګانو» د اولادو د زېږولو دپاره څلور ډوله مختلف جنسي روابط درلوده. کټ مټ هغه شان لکه د ثروت د توليدولو دپاره چي يې مختلف اجتماعي- اقتصادي روابط درلوده. لوی بابا «بهيشما» د څلورو «يوګاګانو» جنسي روابط د څلورو نومو، لکه: «سامکالپا - Samkalpa»، «سامسپارشا - Samsparsha»، «مايتهونا - Maithuna» او «دوندوا - Dwandwa» په توګه مشخص کوي، چي هغه په ترتيب سره د «کريتا»، «تريتا»، «دواپار» او «کالي» دپاره اعتبار لري. که موږ د هغو لرغونو قبيلوي اولسونو تر منځ، چي حتی تر اوسه لا موجوديت لري، د ازدواج د انکشاف په باب خپلي پوهني ته مراجعه وکړو، نو دغه څلور مرحلې تشخيصولای سو. سامکالپا روابط بشپړ ايله روابط دي، چي د هغه چا تر منځ قايميږي، چي غوښتي يې وي او هيڅ راز ټولنيز او يا شخصي خنډ وضع سوی نه وي. سامسپارشا هغه روابط دي، چي کله ازدواج د بېخي تېرونو خپلوانو په

دننه کي منعه کیږي او د واحدي «گوترا» د غړو تر منځ ناروا کیږي، خو بېلابیلي «گوتراگاني» د «گوترایي» جمعیت په طریقه یو د بل سره د ازدواج په حالت کي اوسي. «مایتهونا» د طبیعي ازدواج وروستۍ مرحله ده. دا د جمعیتي ازدواج خاتمه ده. او دا جوړه‌یي کورنۍ تر هغه وخته دوام کوي، څو چي دې جوړې غوښتي وي، چي نور په را گډه نه سي. دوندوا د «کالي» د عصر د وحدتي ازدواج جوړه ده، چي هلته ښځه د سړي تابع ده او سړی د خصوصي ملکیت او د هغه د انحصار د حقوقو په قوت د ښځي سره په تضاد کي را ځي.

دا خبره چي د ازدواج موجود شکل لرغونی نه دی او د تکامل د یوې مرحلې په توگه منځ ته راغلی دی او دغه اوسني رشد ته را رسېدلی دی، د هندوانو په ټولو روایتي ادبیاتو کي منل کیږي. کله چي «پانډو - Pandu» هغه ناجوړه پاچا، له خپلو ماینوگانو «کونتي - Kunti» او «مادري - Madri» څخه وغوښته، چي د نورو سره په دې خاطر پرېوزي، څو اولادونه یې وسي، نو ده د لرغوني زمانې د تعامل په باره کي، چي هغه وخت د وحدتي ازدواج جوړو هیڅ موجودیت نه درلودی، هغې «کونتي» ته اوږده بیان وکړ، چي زړه یې نه غوښتی، دغه کار ته اقدام وکړي. کله چي «سوریا - Surya» د خپل نجلتوب د وختو په رابطه «کونتي» ته راغله او دې ورته د آزادۍ او طبیعي میني پخوانۍ هڅه څرگنده کړه، اما بالکل په دوه زړه کي وه، چي په دې نړۍ کي، چي په بېړه د تغیر په جریان کي ده او د نوو ارزښتونو زمزمه کوي، دغه کار به څه عواقب منځ ته راوړي، نو «سوریا» د دې اندېښنې په دې وسیله تسکین کړې، چي بیا یې ورته د لرغوني تعامل نکلونه را وړاندي کړل. د «بهیشما» مور همدغه کار وکړ او کله چي د «بهیشما» ورور بې‌اولاده مړ سو، نو دې له خپلي مېروره څخه وغوښته، چي د نورو خلگو سره مکلفیت پر ځای کړي، چي اولاد وزېږوي، څو ملکیت

او سلطنت په میراث یوسي. سره له دې هم «مهابهاراتا»، «پوراناگاني» او ویداگاني پرله پسې په مکرره توگه دا یادوي، چې د «کالي» د عصر ازدواج او کورنۍ؛ یعني چې ښځه په هغه وحدتي ازدواج مقیده وي، چې وحدت یې یوازې پر دې باندې تحمیل وي او کوچنیان یې د پلار په نامه پېژندل کیږي او د پخوا په شان مور ته یې نسبت نه کیږي او کورنۍ پر همدغسې ازدواج را بناء وي، بالکل یو نوی شی دی او یوه نوې اجتماعي اختراع ده، چې ځینې اړتیاوې پوره کوي او طبیعي امر نه بلل کیږي.[41]

لرغونې اجتماعي- طبیعي رابطه او کورنۍ نو بیا څه رنگه وه؟

آریایي انسان هم د نورو ټولو وحشي خلگو په شان د یوې اوږدې زمانې په دوران کې دې ته ملتفت سو، چې د ایله روابطو یا په خپلو کې د تناسل د شرایطو ناوړې اغېزې مشاهده کړي. د نارینه او ښځو وړوکې اجتماعي ټولۍ، چې د وحشي طبیعت په مقابل کې یو ځای سره را غونډه وه، په ډله‌ییزه توگه یې ژوند او کار کاوه او په خپلو کې دننه یې سره زېږوله. آریایي انسان لکه څنگه چې په اقتصاد کې وو، هغه رنگه په جنسي چارو کې یو وحشي پاته وو، یعني نیم انسان او نیم حیوان وو، چې له طبیعته څخه را وتی او د هغه سره یې مقابله کوله او زیار یې ایستی، چې هغه درک کړي او پر هغه باندې غلبه پیدا کړي. د نر او مادې تر منځ له روابطو څخه کرکه، چې په هغه وخت کې منځ ته را ځي، چې له دوی څخه زوی، مور، پلار او لور یا ورور او خور جوړیږي، په دې پخواني حالت کې لا ده ته نه وه معلومه.

ځکه نو دغه روابط چې اوس له محرماتو سره د زنا د جرم په توگه گڼل کیږي، هغه وخت یې ممانعت نه درلودی. په ټولنیزو دودونو کې د دغو روابطو پاته

41 په مهابهاراتا کې سر تر پایه دغه راز ډېر بیانونه څو ځایه په متفرق ډول راغلي دي.

نښې نن ورځ هيڅ چيري نه موندل کيږي، خو آريايي ميتولوجي د يوې دغسي مرحلې موجوديت هغه وخت ښکاره کوي، چې د خپلو زياتو ارباب الانواعو او د خپلو «پراجاپتي ګانو» د زوکړې او رشد بيان کوي او د «پيدايښت» په باره کې بږغيږي. دا مثالونه وحشت نه را پاروي، خو صرف داسي تعبيريږي، چې وايي، دا روا وه، ځکه په خدايانو يې اه درلوده. «ايتاريابرهمنا» چې کله د «پيدايښت» په تشريح پيل کوي، نو مورږ ته وايي، چې لومړنی پيدا کوونکی «پراجاپتي» د دغه مقصد دپاره له خپلې لور سره ازدواج وکړ. «ماتسيا - Matsya» او «وايوپوراناګاني – Vayu Puranas» همدغه خبره د پيدا کوونکي «برهما» په باره کې وايي، خو وروسته چې دغسي روابط منع کيږي، نو «پراجاپتي» داسي ښکاري، چې دې کار ته اصرار کوي، اما مجبوره دی، چې بايد محتاط واوسي، نو ځکه د يوې هوسۍ په بڼه کيږي او خپلې لور «ډيوس - Dyus»[42] ته ور ځي، چې هغې همدغه شان د يوې «روهيتا - Rohita» هوسۍ بڼه پر خپل مخ وغوړوله. خو خدايان چې ډېره بيداره معلوميږي، نو دمخه تر هغه چې «پراجاپتي» دا چاره سر ته ورسوي، د يوه غشي په وسيله ويشتل کيږي. «ريګويدا» په دې باندې ډېره نه غمجنه کيږي او مورږ ته ډاډ را کوي، چې دی د واړو ګناهګارانو په آسمانو کې د ستورو د هغې ډلې په توګه ځای پيدا کړی، چې ښکاريان نوميږي.[43] « » حتی که دا د يو تمثيلي حکايت په توګه تعبير سي، چې نجومي پديدې تشريح کوي، نو دې تخيلي ترسيم يا ايديالوجۍ ته مراجعه پرته له دې بل دليل نه سي درلودلای، چې عملاً يې د انسانانو په اذهانو کې د ژوند د واقعي حقايقو د يو انعکاس په توګه موجوديت درلودی.

---

٤٢ د آسمان او روڼا رب النوع ده.

٤٣ ايتاريا برهمنا: ٣- ٣٣، ٥- ٢٣

«هري ومشا - Harivamsha» همدا رنګه له دې بابه مشهوري پېښې بيانوي. «شتاروپا - Shatarupa» چې د «ويشيشتها - Vishishtha» پراجاپتي لور وه، نو کله چې بلوغ ته ورسېده، د ده ماينه سوه (۲ فصل). «منو» له خپلي لور «ايلا - Ila» سره (۱۰ فصل) او «جاهنو - Jahnu» له خپلي لور «جاهناوي-ګنګا – Jahnavi-Ganga» سره واده وکړ (۲۷ فصل). «هري‌ومشا» په دې لړ کې تر دغه لا ډېري پرله‌پېچلي پېښې ثبت کړي دي. دلته لس «پراچيتاګان - Prachetas» ورونه وه، چې يو زوی يې درلودی، چې «سوما» نومېدی. «سوما» يوه لور درلوده، چې «مريشا - Marisha» نومېدله. ټولو لسو ورونو او «سوما» يو ځای له «مريشا» څخه يو زوی پيدا کړی، چې «دکشا پراجاپتي – Daksha Prajapati» نومېدی. دغه «دکشا» وروسته اووه‌ويشت لوڼې پيدا کړې او هغه يې د اولادو د پيدايښت دپاره خپل پلار «سوما» ته ور کړې. «دکشا» همدا رنګه د «برهما» د زوی په توګه ښوول سوی دی، چې هغه خپله لور نيکه ته ور کړه او په نتيجه کې يې هغه مشهور «نارادا - Narada» را پيدا سو.

کله چې دغه ډول تاريخ د اجتماعي حافظې له مخې د لرغونو ليکوالو «وياسا - Vyasa» او «ويشامپايانا - Vaishampayana» له خوا «جاناميجايا - Janamejaya» پاچا ته ټکي په ټکي بيانېدی، نو هغه حيرت وکړ او و يې پوښتله، چې دې څه رنګه امکان پيدا کولای سوای. دې متحير پاچا ته سوړ جواب ور کول سو، چې دغه تاريخي رشتيا دی. «پوراتان اتيهاس – Puratan Itihas» (MBH) او دا «دهرما» وو، يعني د ليري لرغوني زمانې د ټولنيز سازمان طرز وو او نو ځکه هغه وخت يې امکان هم درلودی.

دغسي يو اورګانيزم هغه مختلف قومي واحدونه نه پېژنده، چې د ټاکلو جنسي ممانعتو په نتيجه کې منځ ته راغله. خو دغه ايله‌والی د اولادو د رشد دپاره

زيانمن وګڼل سو. ځکه نو لومړی ممانعت چې فکر يې وسو او په کار واچول سو، دا وو، چې د مور و پلار او اولادو تر منځ د ازدواجي رابطې مخه ونيول سوه او دې ممانعت نو «کانسنګويني کورنۍ» منځ ته راوړه. دلته نو ازدواجي ګروپونه له پښتنو سره مطابق تنظيم کيږي؛ «ټوله نيکه‌ګان او اناګاني له يوه مخه يو له بله سره مړونه او مايني دي. کټ مټ همدغه ترتيب د دوی د اولادونو يعني پلرونو او مېندو تر منځ روان دی. دلته نو ورور او خور، نارينه او ښځې، تربرونه او ترلي‌ګاني يو د بله سره مړونه او مايني دي».[٤٤]

دوهمه مرحله دا وه، چې د ورور او خور تر منځ ازدواجي ممانعت منځ ته راغی. دا پرمختګ خورا ډېر مشکل وو، ځکه د دواړو خواوو سن يو د بل سره بېخي برابر وو. دا پرمختګ ورو ورو په سر ورسېدی او وار د واره په دې ترتيب را شروع سو، چې د مور په خوا کي له طبيعي خوره سره ممانعت منځ ته راغی. دا چې دغه پرمختګ څونه مشکل وو، له هغې خبرې څخه معلوميږي، چې وروسته په ريګويدا کي «يامي - Yami»، چې د «ياما - Yama» خور وه، له ده څخه مينه غواړي او د ځان دپاره اولاد غواړي، خو دی انکار کوي او وايي، چې د خدايانو ستر پيره‌دار «وارونا - Varuna» به مونږ ويني او راته په قهر به سي. «يامي» استدلال کوي، چې د دې برعکس خدايان به له دې چاري سره موافقه وکړي.

په ريګويدا کي د دې ډرامې خاتمه ورکيږي، خو حتی که نتيجه داسي فرض سي، چې ياما بالآخره انکار کوي، نو له دې څخه هغه ستونزه څرګنديږي، چې پخواني دود منازعه ور سره کوله.

٤٤ اينګلس: د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء.

«تایتتیريیا برهمنا – Taittiriya Brahmana» دا بیان کوي، چې څه رنګه «سیتا ساویتري – Sita Savitri»، چې د «پراجاپتي» لور وه، له خپل ورور «سوما» څخه مینه غواړي، خو هغه یې له دې څخه نه غواړي، بلکې له خپلې بلې خور «شراد دها - Shraddha» څخه یې غواړي. دا نو له پلاره څخه مشوره غواړي او هغه دې ته تعویذ ور کوي او نو په دې بریالي کیږي، چې «سوما» لاس ته راوړي.[45] د «مهابهاراتا»، «اديپروا – Adi Parva» او «هريومشا»، چې کله له «برهمان» څخه رانیولې د کورنۍ مبداء څېړي، نو وایي، چې «دکشا»، د «برهما» زوی، چې د ده د پښې له ښې بتې څخه زېږېدلی وو، له هغې «دکشا» سره یې واده وکړ، چې د ده د پښې له کیڼې بتې څخه زېږېدلې وه او د ده خور کېدله. دوی شپېته لوڼې پیدا کړې. «دکشا» دوه وروڼه درلوده، چې «مریچي - Marichi» او «دهرما» نومېدله. «دهرما» د خپل ورور له لسو لوڼو سره واده وکړ. د «مریچي» زوی «کشیاپا - Kashyapa» د «دکشا» له دیرلسو لوڼو سره، چې د ده ترلي‌ګاني وې، واده وکړ. دغه راز روابط همدا رنګه په خپلو کې د تناسل د مخنیوي په دلیل بند سوه. د ازدواجي ممانعت دغه دوهم قید هغه سازمان منځ ته را وستی، چې د «ګنی- ګوترا» په توګه پېژندل کیږي او هلته غړي یو د بل سره ازدواج نه سي کولای، بلکې مجبوره دي، چې مړونه او ناویاني تر خپلې دایرې دباندې ولټوي. چیرې چې پخوا قومي ازدواج معمول وو[46]، اوس هغه منعه سو. په دې ترتیب نو «ساګوترا - Sagotra» (په ګوترا کې دننه) ازدواج بند سو. ګوترا نو د ابتدایي کمون هغه جنسي اورګانیزم دی، چې په هغه کې ټوله

٤٥ تایتتیريیا برهمنا: ۳- ۱، ۹- ۹

٤٦ په مهابهاراتا کې د قومي جمعیتي ازدواج ممانعت او همدا رنګه جوړه‌یي کورنۍ د «اودالاکا – Uddalaka» زوی «سویتاکیتو Swetaketu» ته منسوبیږي. هغه څوک چې د «اودالاکا» د ماینې سره د ده په خوښه جوړه کیږي، نو دا خپل حق بولي، ځکه چې هغه ښځه د ده په ګوترا پورې اړه لري.

مړونه او ماينې يو د بل سره اشتراک لري، يعني هلته جمعيتي ازدواج جال دی، خو مړونه نو نور نه سي کېدلای، چي د ماينو قوميان وي يا د ويني روابط ور سره ولري. ځکه نو مړونه او ماينې بايد په داسي مختلفو ډلو؛ يعني «گوتراگانو» پوري اړه ولري، چي خپل تر منځ قومي تعلق و نه لري. د هندو د ټولني په يوه ټاکلې مرحله کي د «گوترا» او ازدواج تر منځ کلکه او جامده رابطه دا ايجابوي، چي تر مخ يې جمعيتي ازدواج د بنسټ په توگه تېر سوی دی، خو په داسي طريقه، چي د ويني قوميان واده نه سره کوي. «اساگوترا - Asagotra» (تر گوترا دباندي) ازدواج د دې پرابلم حل وو. د جمعيتي ازدواج له خاتمې او له راتلونکي وحدتي ازدواج سره د «گوترا» له طرزالعمله څخه بې‌معنا شی جوړيږي او نو ځکه ژر په هندو ازدواج کي خپل مقام له لاسه ور کوي، که څه هم مذهبي اصوليت زيار باسي، چي د دود او رسم په توگه هغه ته ادامه ور کړي.

سره له هغه چي ازدواج بايد وو، چي د غيرقوميانو يعني د بېلابيلو «گوتراگانو» تر منځ وي، خو لازمه وه، چي هغه په يوه ملت يعني يوه اولس کي دننه وي. د ابتدايي اقتصاد کوچنۍ اجتماعي ټولني، چي په ابتداء کي لازمه وه، چي قوميان او په همدې لحاظ نژدې قوميان وي، نو دغه پرابلم يې څه رنگه حل کاوه؟

«هره ابتدايي کورنۍ تر څو پښته وروسته لازمه وه، چي ځانگي ځني جلا سي او انشعاب وکړي. لومړنی کمونيستي کهول، چي بې‌له استثناء څخه د بربريت د منځنۍ مرحلې تر آخره پوري معمول وو، د کورني جمعيت يو اکثر حد اندازه يې ټاکله، خو دې اندازې، چي له شرايطو سره سم يې تغير کاوه په هر ځای او محل کي يې يو معين او ټاکلی شکل درلودی. کله چي د يوې گډې مور د اولادونو تر منځ د جنسي معاملاتو د بنديز او کرکي احساس را پيدا سو، نو دا

ور سره تړلې وه، چې د پخواني کهول د جمعیتونو پر دغه راز انشعابي تقسیماتو او د نوي کهول د جمعیتونو پر بنسټ باندي یو اثر واچوي... د خوندو یوه یا ډېرو ګروپونو د یوه کهول، د دوی طبیعي ورونو بیا د بل کهول هسته تشکیلوله.»[٤٧]

د دوی خویندي د خپلو مشترکو مړونو مشترکي ماینې وې، خو د دوی مړونه اوس د دوی طبیعي وروڼه نه وه. په دغسي یوه جمعیتي ازدواج کي یوازي مور پېژندل کېدلای سوه یا د والدي په حیث معلومېدلای سوه او دا د خپل هغه دریځ له مخي، چې د «یجنا» په اقتصاد کي یې درلودی، کهول یې تر واکمنۍ لاندي وو. ځکه نو نسب د مور له خوا وو. په دې ډول ښځینه اولادونه، چي خویندي کېدلې، دې ته ادامه ور کوله، چې د «ګانا ګوترا» میراثخواره سي، خو نارینه اولادونه چي سره وورڼه وه، مجبوره وه، چې له دې ځایه کوچ سي او هغه بهیر ته ور سي، چې هلته یې ماینې پیدا کېدلې. ډلهییز اشتراکي کهول او جمعیتي ازدواج د «ادېمشرۍ» بنسټ وو. دا د ګردو ټولنو مبداء وه او د آریایانو هغې هم دغه راز وه.

د خویندو په وسیله د «ګنۍ-ګوترا» جوړ سوی بنسټ په هغه نکل کي موندل کیږي، چې هلته شپېته خویندي، چې د «دکشا» لوڼي وې، د (١٠، ١٣، ٢٧، ٣، ٢، ٢، ٢) اووه ګروپونه تشکیلوي او اووه «پراجاپتي» مړونه کوي او د نړۍ په پیدایښت پیل کوي. د «ګوترایي» کورنۍ نومونه چي د خپلو ښځینه مؤسسانو په نامه دي، د ریشي ګانو په نسبي شجرو کي لږ نه دي، که څه هم زیاتره د دوی نارینه نومونه اولادو ته پښت پر پښت را رسېدلي دي.

٤٧ اینګلس: د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء.

د کورنۍ سازمان او ازدواج د اوسنیو ادراکاتو په مقابل کې د ازدواج او نسبي سلسلې دغه پخوانۍ شکل انقلاب را پاڅوي. څکه نو په هند او همدا رنګه اروپا کې بورژوازي عالمانو په ډېره سرټمبګۍ د همدغه پخواني شکل د موجودیت له منلو څخه انکار کړی دی. خو هغه تاریخي حقایق چې حتی تر دې وروستنۍ زمانې پورې لا د دود په شکل ژوندي پاته دي، دغه عالمان یې له بده مرغه رسوایۍ ته را ایستلي دي. دا چې د یوې دغسې کورنۍ اولادونه د مور له هغې سره د کمون سلاله ګڼل کېده، د هغې ټولنې دپاره بالکل یوه طبیعي خبره وه، څکه نو کوچنیانو لومړی «ګوترا» ته منسوب نومونه درلوده او بیا یې خپل ځانګړي نومونه وه او دوی د «ګوترا-اپاتیاګانو – Gotra-Apatyas» یعني د بهیر د کوچنیانو په توګه پېژندل کېدله. کله چې «ادې‌مشري» له منځه ولاړه او د پلار په سلسله نسبي شجره په وحدتي کورنۍ کې منځ ته راغله، نو د والد مستقیم بچی د «انانتاراپاتیا - Anantarapatya» په توګه پېژندل کېدی. دا خبره طبیعي ده، چې بهیري سازمان داسې شی نه درلودی، لکه نامشروع کوچنی، چې د سپکاوي شی او په کوڅو کې غورځولی مخلوق وي. «ادې‌مشرۍ» په ډېره ټینګتیا سره په هند کې خپل پایښت ته ادامه ور کړې ده او د «پانداوایانو - Pandavas» او «دراوپادي - Draupadi» تعدد ازواج تشه افسانه نه ده، بلکې نن ورځ لا د هند په ځینو فرقو کې خپل بقایا لري او مور ته مخامخ ګوري. دغه بقایا په ابتدایي آریایي جمعیت کې د جمعیتي ازدواج موجودیت په داسې قوت اثبات ته رسوي، چې تاریخ‌پوهان نه سي کولای، چې دغه پدیده یا پټه کړي او یا یې بل ډول تشریح کړي. دوی د هغه له منلو څخه د خجالت احساس کوي، څکه دوی غواړي د خپلو مقدسو خدایانو او نیکه‌ګانو د ابتدایي ټولنې په باب کټ مټ د خپل بابایي «پاتریارکال» مرئیتوب له قانوني «کوډ» سره سم

قضاوت وکړي او هغه نوي قالب ته واچوي. په دغسي موضوعاتو کي له تاريخ سره ډېره زياته مرسته هغه خرافاتي «پوراناګاني» کوي، چي ځيني حقايق يې موږ ته ساتلي دي. دغه حقايق يوازي د مارکس د تاريخي ماترياليزم په وسيله خپله صحيح معنا ور کولای سي، ځکه همدغه ماټرياليزم دا مسايل ښيي، چي ولي پخوا دغسي وه، اوس هغسي نه سي کېدلای او نه به هم په هغه کمونيزم کي بيا هغسي سي، چي هلته به د ښځي درناوی او ازادي د يوې نوي جګې سطحي پر اساس بيا برقراره سي.
د دې دپاره چي د پخوانۍ ټولني د مورنۍ مبداء مخه ونيسي، نه يوازي د اوسنيو عالمانو له خوا څخه تلاښونه سوي دي، بلکي حتی د «بابامشرۍ» د وختو ليکوالو هم په دې لار کي کوښښونه کړي دي. د ابتدايي کمون مورنی حق او ډلهييز ملکيت تر شا په دونه ليري تاريخ کي له منځه ولاړی، چي د هغه تاريخي ثبت بېله دې چي د رسوماتو او رواياتو د بقاياوو په شکل پاته وي، په بل ډول لاس ته نه را ځي. «وياسا» چي د بابامشرۍ په هغه وخت کي ليکنه کوي، چي له موره څخه د نسب سلسله له رواجه لوېدلې وه، دا تلاښ کاوه، چي د نړۍ تاريخ له «پراجاپتي» بابايي مشرانو څخه را پيل کړي. خو په دې کار کي بريالی نه سو. موسس «پراجاپتي ګان» له خپلو اولادونو سره ټوله ضرور د خپلو مېندو په نامه يادېدله. سره له هغه چي دا مؤرخ نر وو او د ده ټولني ښځه اوس تر مرئيتوب لاندي را وستلې وه، خو بيا ښځي خندونه مات کړه او خپل وياړلی ابتدايي حيثيت يې وښووی. (د مراجعې د آسانۍ دپاره موږ د مشترکو مېندو او مورني بهيرونه اتلس نومونه په ضميمه کي درج کړي دي. دا هغه بهيرونه دي، چي د دوی په جګړو او د شخړو په پراختيا سره د مهابهاراتا د «اديپروا» او ويداګانو ټوله پخوانی تاريخ ډک دی).

د «گنی-گوترا» تجزیه کېدل او د یوې نوي مؤسسې جوړېدل؛ د «سومایاگا - Somayaga» په مراسمو کي ښوول کیږي. په لومړیو مراسمو کي چي د بېلېدو لومړی انحلال (یعني پرایاني یشتي - Prayaneeyeshti) تمثیلوي، ښځینه رب النوعي یعني لرغوني «مشري مور» (ادیتي - Aditi» ته د مراسمو په مرکز کي ځای ور کوي او له دې انحلاله سره د هغو پنځو خدایي هویتونو له خوا څخه مرسته کیږي، چي «پتهیاسواستي – Pathya-Swasti»، «اگني»، «سوما»، «سه‌ویتا - Savita» او «ادیتي» نومیږي. لومړی د سعادت او سفر رب النوع ده. دوهم هغه اور دی، چي له لومړني کهوله څخه را اخیستل سوی دی، چي نوي کهول تاسیس کړي. «سوما» د اذوقې او خوړو خدای دی. «سه‌ویتا» لمر او زمان دی. دغه څلور ذوات چي د مارش کوونکي بهیر په څلورو کونجونو کي دریږي، په داسي حال کي چي «ادیتي» چي لومړی موسسه مور (ادې) او مشره ده، د دوی په منځ کي دریږي. (د دغسي یجنا په مراسمو کي) یوازي «ادیتي» د غوړو او وریجو مخصوصي «هاواناگاني» حاصلوي، خو له هغو نورو څخه غوښتل کیږي، چي په نینو (بریان سوي غنم) «اجیا - Ajya» قناعت وکړي. د کورنۍ تاریخ هغه راز چي ستاسي خوښه وي، د متبحرو بورژوازي قانون‌پوهانو په مرسته یې، لکه «میکلینن» او د ده پیروان، داسي سرچپه واړوي، چي د بابایي مشرانو قضیه په ثابته کړي، اما له داسي ټولو خبرو سره د «ادې‌مشرۍ» له دې نتیجې څخه ځان نه سي ژغورلای، چي «ادې» د پخوانۍ ټولني مؤسسه او جوړوونکې بلل کیږي.

د اوږدې یا لنډې زمانې دپاره په ثابت جوړه‌یي حالت کي د یوې جوړې پاته کېدل حتی تر جمعیتي یا «گوترایي» ازدواج لاندي منځ ته راغله. یو سړی د نورو زیاتو ښځو په ټل کي خپله یوه اصلي مانینه لري او دی د نورو په جمله

کې د هغې اصلي مېړه بلل کېږي. کله چې «ګنی- ګوترا» انکشاف کاوه او هغه مقررات زیاتېده، چې د قابل ازدواج خپلوانو تر منځ یې بندیزونه را وستل او د جمعیتي ازدواجو امکانات یې پرله پسې له منځه څخه وړله، نو له دې سره سم دغه د عادت په اساس جوړه‌توب نور او نور هم پسې ټینګېدی. د جمعیتي ازدواجونو ځای نو جوړه‌یي کورنۍ ونیوی. په دې مرحله کې نو یو سړی له یوې ښځې سره البته په داسې ډول ژوند کوي، چې تعدد زوجات او کله ناکله بې‌وفایي هم د نرو د امتیازو په توګه پاتېږي. د ازدواج رابطه په آسانۍ سره له دواړو خواوو څخه منحل کېدلای سي او کوچنیان د پخوا په شان په مور پوري اړه لري.

په آریایي ژوند کې د جوړه‌یي کورنۍ مثالونه ډېر ښه څرګند دي او دا چې «ګندهاروایي - Gandharva» شکل یې په وروستنۍ زمانه کې د هندوانو د «سمریتي» قانون له خوا په رسمیت پېژندل سوی دی، د همدغې خبرې ثبوت دی. د «ویشوامتراميناکا – Vishwamitra- Menaka» او «دوشیانتا- شکونتلا – Dushyanta-Shakuntala» مقدس تعامل خورا ډېر پېژندلی تعامل دی، چې باید په تفصیل بیان سي. «ریشي‌جاراتکارو» د «واسوکي‌ګوترا» له «ناګي‌جاراتکارو» سره یوه جوړه‌یي کورنۍ درلوده، چې له هغې څخه «کشیاپا» وزیږېدی او ده «ناګایانو» ته په هغه جګړه کې نجات ور کړ، چې له «جانامیجایا» او نورو سره یې کوله. مشهورو «پانداوا» وروڼو، چې تقریباً د ازدواج او کورنۍ ټولو شکلونو ته لاس واچاوه، نو ټوله ریکارډونه یې مات کړه. دوی د جمعیتي ازدواج بقایا د تعدد ازواج په شکل څرګند کړه؛ یعني دې پنځو طبیعي (سکنې) وروڼو یوه اصلي مشترکه ماینه ساتله، چې «دراوپادي» نومېدله. دا په خپله هم د دغه ډول یوې اتحادیې اولاده وه، څکه «مهابهاراتا» وایي، چې

دا په طبیعي طریقه نه وه زوکړې، بلکي له «ویدي - Vedi» څخه د «اګني» او د هغه د ورور له خوا د خپل پلار په برخه سوه، چي هغه په دغه نسبت د «یجنا» مراسم پر ځای کړه. د «داوپادي» تعدد ازواج یوه استثنایي پېښه نه وه، لکه څنګه چي دا حقیقت د دې خبري له مخي څخه لیدل کېدلای سي، چي دا چاره تر اوسه لا هم د هند په ځینو برخو کي پیدا کېدلای سي.[٤٨]

هر «پانداو» چي «دراوپادي» یې اصلي ماینه وه، نوري ماینېګانې یې هم درلودې. «هیدیمبا - Hidimba» له «بهیما - Bhima» سره یوه جوړهیي کورنۍ درلوده، څو چي «ګهاتوتکاچا - Ghatotkacha» وزېږېدی. «چیترانګادا - Chitrangada» «ارجونا - Arjuna» درلوده، څو چي له هغې څخه یو زوی وزېږېدی. په دغو ټولو مواردو کي باید دې خبري ته توجه واړول سي، چي دا

٤٨ اینګلس چي کله د تعدد ازواج په باره کي ږغیږي، نو هند او تبت یادوي او وایي، چي: «رشتیا هم دا په زړه پوري پوښتنه، چي دغه شکل څه رنګه له جمعیتي ازدواجه څخه را وتلی دی، یوه ژوره او دقیقه پلټنه غواړي. په هر صورت، دغه شکل په خپل عملي جریان کي د مسلمانانو تر هغه «حرمسرایو» چي ننګي به احاطه کړی وو، خورا ډېر د زغملو او تحمل وړ معلومیږي. لږ تر لږه، دا خبره یقیني ده، چي په هند کي هغه خلګ، چي «نایرز – Nairs» نومیږي، جال یې داسي دی، چي نارینه یې د درو، څلورو او یا ډېرو کسانو په ډله یوه مشترکه ماینه لري. خو په عین حال کي بیا هر یو له دوی څخه له نورو درو یا ډېرو کسانو په ډله کي یوه بله دوهمه مشترکه ماینه هم لري او په همدې ډول د دریمي، څلورمي او نورو داسي اشتراکي ماینو څښتن هم وي. دا د تعجب خبره ده، چي «میکلینن» سره له هغه چي په دې باب کي ږغېدلی دی، چي د ازدواج په کلبونو کي به نارینهوو پر یوه وخت د یو شمېر کلبونو غړیتوب کولای سوای، خو دا ادعاء یې نه ده کړې، چي ده نو یوه نوې طبقه، یعني د کلب ازدواج هم کشف کړی دی. دغه د ازدواجي کلب معامله په هیڅ توګه واقعي «تعدد ازواج» نه دی، بلکي لکه «جیرا ټیولن» چي ویلي دي، د جمعیتي ازدواج یو مخصوص شکل دی، چي نران یې په «تعدد زوجات» او ښځي یې په «تعدد ازواج» کي ژوند کوي.» (د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء)

زامن هغه وخت له خپلو مېندو سره پاتېده، چې تر يو ټاکلي مودې وروسته دوی له خپلو مړونو څخه خلاصېدلې.[٤٩]

څه رنګه چې د ګډې ويني د خپلوانو تر منځ دغه ازدواجي بنديز پراخېږي، نو دلته طبيعي انتخاب همدا رنګه خپلې اغېزې ته ادامه ور کوي. د «مورګان» د خولې خبره ده، چې وايي، د بېګانه بهيرونو تر منځ ازدواج، چې د ويني اړيکه يې نه سره درلوده، «د دې موجب سو، چې په جسماني او فکري لحاظ يو ډېر غښتلی نسل منځ ته راولي...» کله چې دوې پر مخ تلونکي قبيلې سره ګډې سي او يو اولس څني جوړ سي، نو د سر نوې کوپړه او دماغ د دواړو قبيلو د استعدادونو او قابليتونو د اندازې سره برابر لويوالی او غټوالی کوي. نو ځکه هغه قبيلې، چې د «بهيرونو» په اساس تشکيل سوي وي، پر بېځي بيرته‌پاته قبيلو مسلطې سوې او يا يې په زور وګمارلې، چې د دوی لار واخلي.

«په دې اساس نو په ماقبل التاريخي زمانو کي د کورنۍ د تکامل جريان داسي وو، چې هغه لويه کړۍ، چې وار د واره يې ټوله قبيله په غېږ کي نيولې وه او په هغې کي دننه د نر او ښځي تر منځ د ازدواج جمعيتي حالت جال وو، پرله پسې په دايمي توګه را کوچنۍ کېدله. په دې سبب چې د قريبانو تر منځ ازدواجي ممانعت پرله پسې جريان درلودی او دا ممانعت چې لومړی د نژدې او بيا وروسته د ليري خپلوانو او په آخر کي حتی د هغو تر منځ لا راغی، چې صرف

٤٩ دا خبره، چې «دراوپادي» مجبوره وه د «تعدد ازواج» له وفادارۍ څخه دغه تخلف (يعني د پانداوانو دغه سرغړونه چې په دې حال کي يې د نورو ښځو سره جوړه‌يي کورنۍ هم درلودې. -مترجم) وزغمي، په دې سبب وو، چې جمعيتي ازدواج له ابتدايي اشتراکيه سره له منځه تلی او نو ځکه د ښځي دا حيثيت پای ته رسېدلی وو، چې هغه پخوانۍ آزادي ولري، چې دې د هغه ټولنيز ډله‌ييز کار په سلسله حاصله کړې وه، چې پيداوار يې د نارينه په خصوصي ملکيت کي نه سوای راتلای. دغه دليل دی، چې «دراوپادي» په «کاوراوايانو - Kauravas» باندي ګروېدای سوه او خرڅېدای سوه.

د خپښۍ په سلسله يې قرابت سره درلودی، نو په پای کي د جمعيتي ازدواج هر قسم په عملي توگه ناممکن سو. په آخر کي نو يوازي هغه جوړه پاته سوه، چي دا اوس گړی يې لا هم اتحاد ټينگ نه دی او دا هغه ماليکيول دی، چي د ده له انحلاله سره ازدواج پر يوه مخ پای ته رسيږي. يوازي له دغي خبري څخه ښکاره کيږي، چي د فرد جنسي ميني، په اوسنۍ معنا د وحدتي ازدواج په وار د واره را وتلو کي څه دخل نه درلودی. د دې مرحلې د گردو خلگو تعاملات چي ليدل کيږي، نو دا خبره نوره هم اثبات ته رسوي. څه رنگه چي د کورنۍ په دمخنيو اشکالو کي نارينه‌وو د ښځي کمی نه درلودی، بلکي لا پر ډېري وې، خو اوس بيا ښځي پر لږ سوي او تلاښ پسي کيږي. د دې جريان په نتيجه کي نو د جوړه‌يي ازدواجه سره د ښځو تښتول او رانيول شروع کيږي. دا تښتول او رانيول په کورنۍ کي د هغه راغلي تحول خپاره عوارض دي، چي ژوري ريښې لري او پرته له دې بل شی نه گڼل کيږي». [٥٠]

د ويدي فرهنگ په پخوانيو رواياتو کي د دغسي تعاملاتو د بيان توقع نه سي کېدلای، خو په حماسي دوره کي يې زيات شمېر مثالونه ليدلای سو. له دې جملې څخه مشهوري پېښي يې هغه دي، چي «روکميني - Rukmini» د «کريشنا» له خوا، «سوبهادرا - Subhadra» د «ارجونا» له خوا، «اوشا - Usha» د «انيروددها - Aniruddha» له خوا، «پرابهاواتي - Probhavati» چي د «نيکومبها - Nikumbha» د ورور «واجرانابها - Vajranabha» لور وه، د «پراديومنا - Pradyumna» له خوا او «بهانومتي - Bhanumti» د «نيکومبها» له خوا وتښتول سوه. همدې مرحلې «پايشاچي - Paishachi» ازدواج او همدا

٥٠ اينگلس: د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء

رنگه هغه مشهور «سوایامورا - Swayamvara» سیستم منځ ته راوړ او ډېر ځله یې مخاطرو ته وړاندې کېدونکې ځوانان پر ګمارل، چې زړه‌وري کارنامې سر ته ورسوي او یوه داسې ناوې لاس ته راوړي، چې هغې به هم دا غوښته، چې داسې څوک د ځان کړي، چې په هیواد کې تر ټولو نامې وي!

لکه اینګلس چې وایي: «جوړه‌يي کورنۍ د بربریت د کورنۍ هغه اختصاصي شکل دی، لکه جمعیتي ازدواج چې د وحشت او وحدتي ازدواج چې د مدنیت اختصاصي شکل ګڼل کیږي.»

د دې دپاره چې دغه جوړه‌يي ازدواج یا کورنۍ زیات انکشاف وکړي او ټینګ وحدتي ازدواج ته ورسیږي، چې هغه موږ په دې حیث پېژنو، چې د نر تفوق دی پر ښځه باندې او هلته وحدت یوازې د ښځې دپاره دی؛ نو یو نوی عنصر لازم وو، چې په ټولنه کې ظهور وکړي، یعنې د خصوصي ملکیت عنصر. په جوړه‌يي کورنۍ کې ازدواجي جمعیت وختي لا خپل آخرني یونټ، خپل دوه اټومي مالیکوال؛ یعنې یوه نر او یوې ښځې ته را کوچنی سوی وو. د ازدواج د دایرې په پرله پسې را کوچني کېدو سره طبیعي انتخاب خپل کار تمام کړی وو او وړاندې نور څه نه وه پاته، چې په دې خوا کې یې سر ته ورسوي. که نوي اجتماعي قواوي؛ یعنې د خصوصي ملکیت، پلارني حق او طبقاتي دولت قواوي ټولني ته نه وای را داخلې سوي، نو هیڅ دلیل نه وو، چې له جوړه‌يي کورنۍ څخه د کورنۍ یو نوی شکل انکشاف را وکړي، ځکه جوړه‌يي کورنۍ خو په تاریخي لحاظ فقط داسې انکشاف ته رسېدلې نقطه وه، چې د اشتراکیت او د بربرې دورې د کمون پر کنډوالو باندې منځ ته راغلې وه او له هغې څخه یوازې هغه وحدتي ازدواج ظهور را کولای سوای، چې خصوصي ملکیت ور سره ملګری وي.

دلته د موضوع د آسانه کېدو په خاطر موږ کولای سو، چي د آريايي ملت د وروستني انکشاف په باره کي اټکل وکړو او ووايو، چي د وحدتي ازدواج کورنۍ د کورنۍ هغه لومړنی شکل دی، چي بناء يې خاص «پر اقتصادي شرايطو؛ يعني پر دې ټکي باندي راغلې ده، چي خصوصي ملکيت پر هغه ابتدايي اشتراکي مالکيت غالب سي، چي په طبيعي ډول يې انکشاف را کړی وو. په کورنۍ کي د نر واکمني قايمه وي، هلته داسي اولادونه را پيدا کيږي، چي يوازي په ده پوري اړه ولري او د دې دپاره وي، چي د ده وارثان سي.» (اينگلس). دا خبري د طبقاتي ټولني د وحدتي ازدواج خاص هدفونه وه (خو د راتلونکي بې‌طبقې ټولني وحدتي ازدواج بالکل بل ډول کيږي). د وحدتي ازدواج دغه بې‌پردې او بې‌عاطفې معنا د هغو آريايي قانون‌جوړوونکو او ليکوالو له خوا څخه نه ده پټه سوې، چي د ماينې په ارتباط يې د حساسيت يا عفت پروا نه درلوده، خو په دې شرط، چي سړی يې زوی پيدا کړلای سي، چي ميراث يوسي او په هغه صورت کي چي دی په خپله دغه هدف ته په رسېدو کي بريالی نه سي، نو د هر چا له خوا چي دغه امکان ورته برابر سي، باک نه لري. نو ځکه د دغه کار دپاره يې د «نيوگا - Niyoga» په نامه په هغه مکلفيت پوري توسل کړی دی، چي له پرديو کسانو، استخدام سوي برهمنيانو څخه استفاده وسي، چي «ريشي‌گانو» او اوسېدونکو او بل هر حمل اخيستونکي عامل ته پرورښت ور کول سي. «وياسا» د «ويچيتر اويريا – Vichitra Virya» ماينې‌گاني واخيستې، چي پرته له هغه څخه به سترو او مطلوبو «پانډاواگانو» تاريخ نه وای ليدلی. «ديرگهاتاماس» د «بالي» ماينې واخيستې او يو برهمن لاروی، چي پر سړک تېرېدی، د «شارادندايانا - Sharadandayana» ماينه واخيسته. ريشي گانو د «پانډو» ماينې واخيستې، که څه هم په وروستنۍ قصه

کې د آسمان له بېچاره ارباب الانواعو څخه خواست کېږي، چې د مځکې د ریشي‌گانو یوې برخې ته پناه ور کړي. د خصوصي ملکیت د عصر؛ یعني د «کالي» د عصر آریایي قانون جوړوونکي چې تر اوسه لا د «گنی‌والي» ټولني د جوړه‌یي کورنۍ تازه واقعیت ته خورا ډېر ور نژدې وه، په دې کې یې کافي صراحت درلودی، چې د نوي طبقاتي ټولني دپاره د وحدتي ازدواج هدف په ډاگه بیان کړي.

«منو» چې د طبقاتي ټولني یا هغه «کالي» عصر قانون جوړوونکی دی، چې د ډله‌ییز اصالت «دهرما» او د «دواپارا» د عصر د «مایتهوانا» جوړه‌یي کورنۍ له رواجه اچوي، وایي چې سړی باید ډېر ساعي وي، چې د ښځې ساتنه وکړي، څو داسې اولاد ور کړي، چې هغه تصدیق کېدلای سي، (ځکه چې سوچه وي). دا چې ښځه تش د کوچنیانو د زېږولو د زېږولو او روزلو دپاره یوه آله ده، د مرئیتوب، خصوصي ملکیت او طبقاتي واکمنۍ د عصر مفکوره ده. په دې کې شک نه سته، چې ابتدایي کمون ښځې ته په دې سترگه نه کتله، چې تش کوچنیان زېږوي، بلکې دې ته یې د خپلې لویې ادې په سترگه کتله او همدا رنگه یې داسې څوک گڼله، چې د انسان په شمول د ټوله اجتماعي ثروت خاونده ده او د کمون مشره او مؤسسه بلل کېږي. دا نه صرف یو جنس ده (لکه د اوسنۍ زائلېدونکي بورژوا طبقې د اجرتي ملگري په ازدواجونو کې) او نه د غوا سره یوه منقوله متاع ده، چې چیچ زېږوي. په دې نوي وحدتي ازدواج کې، لکه «یاجناوالکیا - Yajnavalkya» چې وایي؛ د زناکارۍ په مواردو کې تر میاشتني غسل یا د کوچني تر زېږولو وروسته عفت کولای سي، چې بیا برقراره سي. له دې زمانې را په هیسته نو په ازدواج کې مقدس هدف دا وو، چې شتمني

په اطميناني توگه په ميراث انتقال سي.[۵۱] له ماينې څخه غوا جوړه سوه، «ارشا - Arsha» يې ازدواج يوه غوا او يو غويی «گوميتهونم - Gomithunam» د خپل قيمت په توگه تاديه کاوه او د سانسکريټ گرامر د «ساماهارا دواندوا - Samaharadwabdwa» د «ساماسا - Samasa» په تمثيل کې د «داراگاوام - Daragavam» يعني دا چې ماينه او غوا دواړه يوه واحده سطحه لري؛ د کلمې په وسيله نوي ارزښتونه تثبيت کړه. تر څو چې په ټولنه کې د ډله‌ييز توليد طرز رواج درلودی او له هغه سره سم ښځې په ټولنيزه شتمنۍ کې حق درلودی، نو داسې وضعه ناممکنه وه، چې منځ ته را سي.

«اشتراکي کهولونه چې هلته زياترو او يا حتی ټولو ښځو په يوه او واحد بهير پورې اړه درلوده، اما نارينه يې بيا له نورو بېلابېلو بهيرونو (گوتراگانو) څخه راتله، د هغه تفوق مادي اساس دی، چې عموماً ښځو په ابتدايي زمانو کې لاس ته راوړی» (اينگلس). دغسې يو کهول يوازې د توليد د افزارونو او پيداوارو د ډله‌ييز ملکيت پر اساس باندې امکان درلودی، چې په هغه کې د ښځې کار د اجتماعي کار داسې يوه مهمه برخه وه، لکه څنگه چې د نر کار وو. نر جگړې ته وتی، ښکار يې کاوه، کبان يې نيول، د غذا دپاره يې اومه مواد سرښته کول او د دغو چارو دپاره يې لازم افزارونه تهيه کول. ښځې کور جوړاوه او د هغه مراقبت يې کاوه او د کمون دپاره يې خواړه او جامه سرښته کوله. د کمون هغه افزارونه چې د هر جنس له خوا جوړېده او استعمالېده، همدا رنگه د هغه جنس

---

۵۱ اينگلس وايي: «د وحدتي ازدواج کورنۍ» چې د نر پر تفوق را بناء ده، د هغې ځرگند هدف د هغو اولادونو زېږونه ده، چې له شکه وتلې پلاروالی يې معلوم وي، ځکه دا پلاروالی د دې دپاره ضروري دی، چې دغه اولادونه په خپل وخت کې د پلار د سکه وارثانو په توگه له ده څخه ميراث يوسي. (د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء)

په مهابهاراتا کې «انوشاسانا پروا – Anushasana parva» (۴۵- ۹ فصل) وگورئ.

په ګډ مالکیت کي وه او هم یې په ګډه استفاده ځني کوله. نارینه د ښکار او د جنګ د وسلو (او بالآخره د غواوو) څښتنان وه، خو ښځي د کهول د شیانو مېرمني وې. دې دواړو یو ځای د «برهمان» یعني کمون معنا ور کوله، چي ښکلې خاطره یې په «اردهاناري ناتیسوار – Ardh-nari-nateswar» کي پاته سوه، له «ګنی-ګوترا» څخه بېل تولید او رقابتي دستګاه، چي په هغه کي ښځه تصرف و نه لري، موجودیت یې نه درلودی. «ګنی-ګوترا» له ښځي او د دې له قومي قرابت څخه د دې په وسیله تشکیل سوې وه. کله چي کمون وده وکړه او ډېري «ګنی ګوتراګاني» یې خپرې کړې، نو ښځه هغه څوک وه، چي د دوی لارښوونه یې کوله او د لومړنی «ادیتي» ستره نماینده وه، چي بل چیري یې د «کالي‌ما - Kalima» په توګه بیا ظهور کړی دی.
هغه جرګې چي د جګړې موضوع وڅېړي او یا د غذا پر مسایلو وږغیږي، چي جګړې هم د هغې دپاره کېدلې، د ښځي له لارښووني پرته نه سوای دایرېدلای. دا د حیرت خبره نه ده، چي ښځه د لرغوني انسان له خوا څخه د الوهیت په صفاتو ملبسه سوې وه او د هندو په اساطیرو کي موجود خدایان د ښځو د مقام په باره کي شاهدي ور کوي او تر اوسه موږ ته د هغې دورې نکلونه بیانوي، چي د یجنا د تولیدي طرز او «برهمان» له سقوطه سره اوس هغه تېره سوې ده. «تایت‌تیري‌یا برهمنا ۱. ۱. ۴.» بې له تردده ښځه د هغې ستري یجنا د طرز پیدا کوونکې بولې، چي خدایانو، «اسوراګانو - Asuras» او «منو» یا انسان ته معلومه وه. «ایلا» چي د «منو» لور او ماینه وه، ولاړه او و یې لیده، چي خدایان او اسوراګان دا کار څنګه کوي. دې ته ور معلومه سوه، چي د دوی خپل مېتود او همدا رنګه د منو هغې نیمګړتیا لري. دا «منو» ته راغله او ده ته یې وویل، چي د دې له یوه نوي مېتود څخه پیروي وکړي، چي هغه به خوا ډېر نتایج ور

کړي. «منو» دې ته وويل، چي د «يجنا» اور هغه شان لکه د دې چي خوښه وي، بيرته يې له سره تنظيم کړي. نتيجه دا سوه، چي «منو» يعني انسان پرېمانه «پراجا» او «پاشو»، اولادونه او ګلې وموندلې.

ابتدايي کمون په دغه ترتيب خپل توليد، خپلي «ګنې-ګوترايي» کورنۍ او ازدواج ته تنظيم ور کړی وو او خپل ژوند ته يې ادامه ور کوله. سره له هغه چي ژوند يې نسبتاً د فقر په حالت کي وو، خو سره له دې له کورنيو شخړو، وروروژني او داخلي جګړو څخه خلاص وو. برهمان ډېرښت کاوه او له يوه ځايه بل ته په نړۍ کي خپرېدی او د هغه چا سره يې مقابله کوله، چي د ده په لار کي خنډ واقع کېده يا يې پر ده حمله کوله.

ده داخلي جنګونه نه درلوده، اما مجبوره وه، چي خپل قبيلوي جنګونه سر ته ورسوي. نو ځکه موږ به وګورو، چي څه رنګه ودهکوونکي ګنې خپل جنګونه او له جنګه څخه حاصل ثروتونه تنظيمولهاو څه رنګه د کار د توليدي ظرفيت له ډېرېدو او مبادلې سره دا ګنې ړنګه سوه او ټولنه له بې طبقې حالته څخه د طبقاتي دولت حالت ته، د خصوصي ملکيت حالت ته او د توليد يوه نوي طرز ته، له وحشت او بربريت څخه تمدن ته د «کريتا تريتا» له عصره څخه د «دواپار کالي» عصر ته راغله.

# اووم فصل

## د قبیلوي جګړو او د جګړو د ثروت تنظیم «اشوامیدها»، «پوروشامیدها» او «دنم»

تر دې ګړۍ خو موږ د «ګنی» د کمون پر اقتصادي او قومي سازمان رڼغېدلو. اوس به موږ وګورو، چې څه رنګه «ګنی-ګوترا» په هغه وخت کې وکوچېدله، چې اقتصادي او قومي قوانینو ایجاب کړه، چې د «ګنی» یوه برخه تجزیه او نوي کمونونه تاسیس کړي. د «ګنی ګانو» د ژوند یو بل ډېر حیاتي اړخ هغه جنګونه وه، چې باید د خپل شاوخوا دښمنو قبیلو سره یې سر ته ورسوي. د جنګ او د هغه ثروت تنظیم، چې په جنګ کې اولجه کېدی، د پرمختیایي آریایي «ګنی ګانو» په ژوند کې ډېر یو مهم عامل دی. موږ به بیا د هغې منبع؛ یعني «یجنا» له مخې څخه وګورو، چې دغه کار څه ډول سر ته رسېدی.

کله چې نفوس زیات سوه، نو کمزوره ابتدایي سازمان نه سوای کولای، چې لوی ګروپونه هغه شان لکه نن ورځ چې امکان لري، یو ځای سره وساتي. «ګنی-ګوترا» تجزیه کېده او د آسیا پر ټوله قاره باندې خپرېده او هغه ځایونه یې اشغالول، چې خالي وه او د هغو ځایو دپاره یې جګړه کوله، چې خالي به نه وه. د اقتصادي ضرورت له مخې د «ګوترا» د بچیانو مهاجرتونه او د قومي ازدواج بندیز، چې په آخر فصل کې خبري پر سوي دي، د آریایي «یجنا» په مراسمو کې په روښانه توګه ثبت سوي او د دوی طرز العمل همدا رنګه هلته وضع سوی دی.

د «هري‌ومشا» له بیانه سره سم د «اسکیني - Askini» په ګوترا کې دوی پنځه زره بچیان درلوده، یعني د کمون مشترک اولادونه وه. د دوی بیا دې ته مخه

وه، چي په خپل روڼ نور کوچنيان وزېږوي او نو ځکه کمون يو اقتصادي بحران تهديداوه. «نارادا» چي په هندو ميتولوجی کي د عادت پر بناء د مشورې دپاره استول کيږي، چي بحرانونه او شخړي د روغي جوړي يا جګړو ته د هڅولو له لاري تصفيه کړي، دلته را ظاهريږي او دې بچيانو ته اخطار ور کوي، چي که دوی مهاجرت و نه کړي او نوي کمونونه منځ ته را نه وړي، نو به فقر او بحران را سي، ځکه د دغسي ستر دېرښت دپاره کافي غذا او توليدي منابع نه سته. له دې سره سم نو بهير تجزيه سو او يوې برخي يې داسي مهاجرت وکړ، چي بيا را ستنه نه سوه. «دکشا پراجاپاتي» په «اسکيني» يو زر نور اولادونه زېږوي، چي دوی هم بايد په هغه معموله طريقه سره خپاره سي.

دغه د نوو کورو دپاره پلټنه او د نوو بهيرو جوړونه نه سوای کېدلای، چي يو ساده او سوله‌ييزه چاره وي. د مځکي فزيکي سطحه لازمه وه، چي د انسان د انکشاف دپاره له بې‌شمېره خنډونو څخه پاکه سي او د انسان منابع سره له هغه چي د ودي په حال کي وه، خو د ده اړتيا يې نه پوره کوله. آريايان جبراً له يوې مځکي څخه بلي مځکي ته تلل او په دې پسي لالهانده ګرځېده، چي مناسب ټاټوبی پيدا کړي. له دغسي خنډو څخه چي د ماقبل التاريخي انسان په خاطرو کي ژوندی پاته کېده، يوه هم هغه د طوفاني رودونو او نورو سيلونه وه، چي د ټولو اولسونو په ميتولوجی کي يو مشترک ميراث ګڼل کيږي. د «منو» تمدن سيلونو يو مخيزه له منځه يووړی، خو دی د يو ماهي په وسيله وژغورل سو او ويل کيږي، چي يو چيري د «هماليا» د سيمو په مځکه کي پياده سو، چي بيرته پيدايښت له سره را پيل کړي. د بايبل په ريکارډ کي سيلونه، د نوح کښتی او نور مدارک هم له دې جملې څخه دي.

ویدیداد (Fargard II) (یعني دوهم باب، تر میلاد تقریباً ۳۰۰۰ کلونه دمخه) شپاړس مځکي ذکر کوي، چي هلته قبیلې میشته سوي او له هغه ضرورته پرته، چي باید زیاتېدونکی نفوس دباندي وایستل سي، نور بېلابېل وجوهات هم وه، چي مهاجرت ته یې اړ ایستله. ویندیداد چي د «پارسیانو - Parsees» ویداګاني دي، وایي: «انګراماین‌یو – Angra Mainyu» سېل را ولېږی. «اهور مزدا – Ahur Mazda» د «آریانا ویجه – Airyana Vaejo» واکمن «یما - Yima» را وباله او ده ته یې خبرداری ور کړ. یما خلګ په دې خوشاله کړه، چي د هیواد سرحدونه یې درې چنده پراخ کړه، چي پر اوسېدونکو باندي تنګ سوي وه. «اهور مزدا» شپاړس مځکي ایجاد کړې او «انګرا ماین‌یو» یو په بل پسي پر هغو باندي عذاب را نازل کاوه.[۵۲] موږ دلته د دغو مهاجرتونو له جزئیاتو سره اړه نه لرو او فقط غواړو، دا وګورو، چي څه رنګه زیاتېدونکو مادي منابعو نوي پرابلمونه را پیدا کوله او ټولني هغه څه رنګه حل ته رسوله.

دا به له دلچسپۍ خالي نه وي، چي د دغو زیاتېدونکو او تجزیه‌کېدونکو «ګنۍ- ګوتراګانو» د جریان طرز العمل وکتل سي. دا جریان بیا هم په هغه «اګنیستوما» او «شادرا تراکراتو – Shadra-tra Kratu» کي لیدل کېدلای سي، چي وړاندي مو تر نظر تېر سو. «اګنیستو ماسومایاکا» یوه ډېره اوږده یجنا ده، چي د «کونتي» له خوا څخه د ده په هغه اثر کي، چي «د آریایي تمدن تحولات» نومیږي، د آریایانو د کوچېدو د طرز العمل په توګه تعبیر او تشریح سوې ده. اما موږ دا فکر کوو، چي یو مخیزه یو مهاجرتي طرزالعمل نه تمثیلوي، بلکي د آریایي کمون د ورځني ژوند چاري همدا رنګه کښېباسي. هغه ټاپې، چي ټاکلی کوچ ور پکښې پیل کیږي، پسرلی دی؛ دا هغه ټاپې دی، چي څاروي لنګیږي، مېوې

۵۲ دغه بیان له هغه اثره څخه را اقتباس سوی دی، چي «په ویداګانو کي د شمالي قطب ټاټوبی» نومیږي.

او ګلان غوړېږي او د حرکت د شروع ورځ يا د څورلسم د سپوږمۍ ورځ ده او يا «اماواسيا - Amavasya» ده، يعني پوره د تروږمۍ شپه، چې مياشت پکښې نوې کيږي. د کمون مشران يعني «ريتويجايان» د کمون پر اور ګردآورده غونډه جوړوي او هلته دا فيصله کيږي، چې څوک بايد رهي سي او په کومو ډلو کې. هغه څوک چې انتخاب کوي او انتخابيږي، «ديکشا - Deeksha» ور کول کيږي. دوی ته نوي کالي سربښته کيږي او تر داسي مراسمو تېرېږي، لکه د نوي «ګنی» د کوچنيانو په شان چې د دوی نوې زوکړه (زېږېدنه) تمثيلوي. دوی د نوي کور ټوله لوازم؛ لوښي، کړاياني، څاروي، وزګړي، شراب، غله‌جات، د شيانو د انتقال ګاډياني او داسي نور په لاس راوړي. يوه ګاډۍ له لومړني کوره څخه اور راوړي، چې د نوي کور اساس پر بناء سي. مهاجرت د يوې لويي مېلې يوه موقع ده؛ ټوله کمون خوراک کوي، مشروبات چښي او خوښۍ کوي. هغه څوک چې ځي، د همکارۍ او تقوا ژمنه کوي او ټوله کاروان چې د «راکشاسايي - Rakshasa» دښمنانو او وحشي حيوانانو په مقابل کي تر پزي مسلح وي، رهي کيږي.

څونه ليري به دوی تله او څه وخت به دوی د درېدو ږغ کاوه؟ په دې موضوع کي که موږ د «شادرا تراکراتو» يا «ساراسوات سترا – Saraswat Satra» کومک واخلو، نو ښايي يوه مفکوره لاس ته راوړو. هغه وخت چې د نړۍ خاوره د دولتونو له خوا تر خصوصي تصاحب او حدبندۍ لاندي نه وه راغلي، نو کوم چيري د مځکي ټاکلی ټک نه وو، چې هغه ته د يو پلان په اساس دوی ور کوچېدله. ځکه نو نوي «ګنی» ته جهت، واټن او ساحه د نورو عواملو له خوا څخه ټاکل کېدله. په «ساراسوات سترا» کي ښکاره کيږي، چې کله حرکت شروع سوی دی، نو «ادهواريو» لارښوونکی، چې د «مخفي اور» (شامي -

Shami» لرګي ور څخه دي او وړاندي رهي دی، د يوې ورځي تر سفر وروسته د کږدۍ وهلو دپاره ځای ټاکي. هلته د يجنا په عادي توګه هوسايي کوي او بيا تر هغه وروسته خپل حرکت ته ادامه ور کوي. دغو مهاجرينو ته لس غواوي او يو غويی ور کول سوی دی، چي خپل ژوند په شروع کړي. تاسي بايد خپل حرکت ته ادامه ور کړی، څرځايونه پيدا کړی او دونه کافي ځای اشغال کړی، چي د يو سل غواوو دپاره کفايت وکړي. «ګنۍ» بايد د دونه نفوس دپاره کافي ځای او منابع پيدا کړي، چي ژوند يې پر سلو غواوو او يو څو غويو، يو څو سوه پسونو او وزګړو پر ګله را بناء وي. (په وروسته کي چي د کار توليدي ظرفيت ډېر سو، نو دغه اندازه داسي ښکاري، چي يو زر غواوو ته زياته سوه او په ډېر غالب احتمال پر دې دلالت کوي، چي په دې وخت کي نو کليوالي غوندي کوچني ښارونه وده کوي او ګنۍ مخ پر زوال روانيږي).
د سلو غواوو هغه ډېر ابتدايي کمون بايد له څونه شمېر نفوس څخه جوړ سوی وي؟ په دې مورد کي کوم دلالت نه سته، خو موږ د يو حدس کوښښ کولای سو. لکه دمخه چي مو وليده، «ارشايي» ازدواج په وروستني قانون کي د يوې ماينې، يوې غوا او يوه غوايي سره مساوي دی. نو که يوه ماينه يا په وحدتي ازدواج کي يوه ښځه يوه کورنۍ ده، نو موږ دا ويلای سو، چي دغه پورتنی «ديواسترا - Devasatra» د احتمال له مخي سل کورنۍ شاملوي، چي د يوې «ګنۍ» اقل حد اندازه تشکيل کړي. «منو» په خپل هغه فصل کي، چي د کالي د عصر د محاکمو په وړاندي د شهادت په باب څرګندوني لري، د خپل وخت يوه عجيبه نظريه بيانوي او هغه دا چي، که څوک د يوې غوا په ارتباط غلطه شاهدي ور کړي، نو داسي ګناه ده، لکه لس تنه خپلوان چي يې وژلي وي. د «منو» په زمانه کي د انسان مبادلوي ارزښت (د يوه مريي په حيث) تر هغه

ارزښت ډېر سقوط کړی وو، چې د کمون په وختونو کې يې درلودی، يعني په هغه زمانه کې چې مرئيتوب منځ ته نه وو راغلی. په دې ترتيب نو دا څرګنديږي، چې ګنی باید اکثر حد تر پنځه سوه زيات وګړي نه وي درلودلي. په هر صورت، دا موضوع زموږ له اساسي خبري سره مستقيمه رابطه نه لري، پرته له دې چې دا ښکاره کړي، چې څه رنګه توليدي تخنيک د مجموعي نفوس پر اندازه باندي يو حد تحميل کړی وو.

د ځای او ثروت د پلټنې په جريان کې «ګنی» ځينې وختونه د ناروغی، مړينې او دښمنانو له خوا څخه نابودېدله. يوه «ګنی» چې د نفوسو د کمېدو له جهته به کمزورې سوه، نو په خپل نظام کې يې نوې وينه په دې وسيله ترزيق کوله، چې له بلې «ګنی- ګوترا» څخه به يې خلګ په ځان ګډ کړه او يا به يو مخيزه په بله يوه کې ور ګډه سوه. د مشکلاتو په هغو زمانو کې چې نه ارتباطي وسايل وه او نه د ليرې پاشلې خلګو تر منځ د ورځنې تماس وسايط موجود وه، نو بېلابېلو تجزيه‌کېدونکو «ګنی-ګوتراګانو» او قبيلو خپلې ځان‌ته لهجې په خورا چټکۍ منځ ته راوړې او د زمانې په دوران کې به له خپلې مور «ګنی» څخه تقريباً بشپړې بېګانه ښکاره کېدلې. په دې حالاتو کې چې وګړي زيات سره ګډېده او يو په بل کې مدغم کېدل، نو به يې په نوو قبيلو او «ګنی‌ګانو» کې مخلوطې ژبې منځ ته راوړې.

د سانسکريټ ژبه له دغسې ځان‌ته عجيبو مميزاتو څخه ډکه ده او ګرامرپوهان چې د اجتماعي تاريخ له سابقې څخه ناخبره دي، چټې او بې‌له نتيجې يې په دې کار کې د خپل سر ماغزه شلومبې کړي دي، چې د دغو عجيبو مميزاتو منځ ته راتله تشريح کړي. مثلاً د ګرامر ستر عالم «پاڼيني - Panini» د دې دپاره چې د «زه» او «ته» (په سانسکريټ کې د «اسماد - Asmad»، «يوشماد -

Ushmad» د ضمایرو د اوو حالاتو یوویشت شکلونه د اشتقاق په سلسله را وباسي، نو مجبوره وو، چې درویشت قاعدې ولیکي او د دې معنی دا ده، چې دا کوربې قاعدې نه بلل کیږي. دا یوازې د دې اساس له مخې تشریح کېدلای سي، چې قبیلې او بهیرونه سره ګډ سوي دي او له دې لارې نه سي توضیح کېدلای، چې دا د زمانې د تېرېدو په دوران کې د صوتي تغیراتو د عمل په نتیجه کې منځ ته راغلي دي، ځکه شخصي ضمیرونه د دغسې تغیراتو په مقابل کې ډېر کلک او سخت دي.[۵۳]

په یوه ګنۍ کې چې پردي کسان په انفرادي یا ګروپي توګه را ګډیږي، طرزالعمل یې د «یجنا» په مراسمو کې د «ورات یاستوما - Vratyastoma» په نامه یادیږي. دا چې دغه ګډېده کټ مټ هغسې ګډېده نه دي، لکه یو وارث چې د وروستني عصر د وحدتي ازدواج د کورنۍ په وسیله په ملکیت را ګډیږي. له دې حقیقته څخه معلومه ده، چې دغه را ګډ سوی عنصر په ځانګړي کورنۍ پوري ارتباط نه درلودی، ځکه د «ګنۍ» په کورنۍ کې دغه راز کورنیاني تر اوسه هیڅ منځ ته نه وې راغلي. د «یجنا» مراسمو صرف دغه پردي عنصر ته، چې قومي نه بلل کېدی، د ګنۍ په قومیت کې شمولیت ور کاوه او په دې توګه یې د کمون په اقتصادي او اجتماعي ژوند کې مانه او له هغه نابود

۵۳ دا پرابلم «راجوید» له دې لارې حل ته ورساوه، چې هغه اصلي کلمه یې وموندله او د «پاڼیني» له هغې څخه بالکل توپیر لري.

اینګلس چې کله د «ایرو وایسانو» په باره کې بږغیږي، نو وایي: «رشتیا هم قبیله او لهجه دواړه په اصل کې یوه ساحه لري. د فرعي انشعاباتو په سلسله تر دې اوسو وختو پوري لا په امریکا کې د نوو قبیلو او لهجو پیدا کېده مخ پر انکشاف وه او دا نه سي ویل کېدلای، چې اوس لا هم دا جریان یو مخیزه پای ته رسېدلی دی، چیري چې دوې کمزوره سوي قبیلې یو د بله سره ګډې سوي دي او یوه قبیله یې جوړه کړې ده، نو هلته په استثنایي صورت داسې پېښیږي، چې په همدې قبیله کې دې دوې قریبي لهجې ویل کیږي. د امریکایي قبیلو اوسط حد نفوس ۲۰۰۰ تنه دی.» (د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء)

کېدو څخه يې نجات ور کاوه، چي د ټولو پرديو وګړو سرنوشت ګڼل کېدی، ځکه هغه د خپل ماهيت له مخي په دې سبب، چي قوميان نه وه او په يوه بېله قبيله يې اړه درلوده، نو خصمانه او غيردوستانه ګڼل کېده او په همدې وجه چي به کله ونيول سوه، نو وژل کېدله.

مهاجري ګڼې چي د څړځايونو او د ګلو د روزني دپاره به يې سيمي پلټلې، نو د خپلي پلټني په دوران کي دې ته ګمارل کېده، چي له دښمنو قبيلو سره په جګړو اخته سي.

ريګويدا له دغسي جګړو څخه ډکه ده، چي د «ديوا-ګڼې ګانو» له خوا څخه سوي دي. د مهابهاراتا «اديپروا» او په ټولو ميتولوجيکي آثارو کي د نسبي شجرې او سلسلې روايتي نکلونه له دوامداره شخړو څخه ډک دي، چي د بېلابيلو ګڼې ګانو يعني د «اديتي»، «واسو»، «رودرا ډيوس»، «ديتي» او نورو «ګڼې ګانو» تر منځ رواني وې. زياتره دغه لرغوني جنګېدونکي ګڼې ګاني د خپلو مېندو په نومو پېژندل کېږي. خو د ريګويدا د زمانې جنګونه، په تېره بيا د هغو لسو پاچهانو جنګونه، چي د «سوداګانو - Sudas» او «ديووداګانو - Divodas» په نومو مشهور دي، د هغو ګڼې ګانو جنګونه دي، چي مشران يې باباګان دي او په ښکاره توګه په هغه زمانه اړه لري، چي مورنی حق له منځه تللی وو او بابامشري د خصوصي ملکيت، مرئيتوب او طبقاتي جنګ خوا ته په جريان کي وه. خو بالکل تر هماغي زمانې پوري حتی د باباګانو تر مشرۍ لاندي جګړې خپل هغه خصلت ساتی، چي د واحدي ګڼې يا د ګڼې ګانو د يوې اتحاديې جګړې دي، چي د نورو په مقابل کي يې سر ته رسوي. دوهمه خبره دا ده، چي دا هغه جګړې دي، چي په ډاګه د ګلو، اوبو او څړځايو دپاره کېږي. دريمه دا ده، چي د آريايانو دښمنانو لکه «اسوراګانو»، «دايتياګانو -

Daityas»، «راکشاساګانو»، «اهي ګانو - Ahis» او «داساګانو - Dasas» همدا رنګه د يجنا پر طرز بهيري تشکيل درلودی. دا خبره د هغه حقيقت له مخي څرګنده ده، چي دوی همدا رنګه داسي ښوول سوي دي، چي يجنا يې د خپل اور په وسيله اجراء کوله، اما په غلطه طريقه او د غلطو منترونو په وسيله او نو ځکه د «ديواګانو - Devas» له بيانه سره سم غلطه نتيجه يې ور کوله. څلورم دا چي د جګړې د لارښووني طرز او په اولجه سوي ثروت کي د تصرف طرز د «ګنی» ټيپيک طرز دی، يعني اولجه سوی ثروت د خصوصي تصاحب پر اساس د يوې طبقې له خوا نه تصرف کيږي او نه هم لکه په يوه طبقاتي دولت کي د جنګ قيادت او هدايت د تنخاخوره دايمي اردو په لاس کي دی.
دغو بهيرونو او قبيلو، چي دا يې منله، چي نسل يې له مشترکو مېندو څخه را پيدا سوی دی، موږ ته نه ده را معلومه، چي چيري او څونه زمانه يې په هغه ابتدايي کمونيستي طريقه ژوند کاوه، چي آريايي تاريخ او د هغه د جنګو بيانونه په ډک دي. صرف موږ دونه ويلای سو، چي دوی بهيري کموني سازمانونه وه، چي د توليد پر ډله‌ييز طرز باندي را بناء وه. که څه هم دغه خدايان نن ورځ په عاميانه ميتولوجۍ کي داسي ګڼل سوي دي، چي نه فاني کيږي، پر ټولو شيانو علم لري، داسي قدرت لري، چي نړۍ ودانه يا ويرانه کړي، خو مبداء يې پرته له بشري څخه بل شی نه ده او داسي بشري مبداء، چي نه ډېره پټه ده او نه هم له ياده وتلې ده. «اتهروا ويدا» په څرګنده توګه وايي، چي «ديواګان» فاني کېدونکي موجودات وه.[٥٤] همدا راز «شاتاپتها برهمنا» دوی د فاني کېدونکو موجوداتو د يوې طبقې په توګه ښيي او «ايتاريا برهمنا» «اندرا»، «اګني» او «پراجاپتي» په همدې مقوله کي را ولي.

٥٤ اتهروا ويدا: ١١-٥-١٩، ۴-١١-٦.

نه یوازې دوی فاني کېدونکي موجودات دي، بلکې د دوی اجتماعي اورګانیزم چې د ګنی له نوعې څخه دی، په مشخصه توګه ذکر کیږي. د «واسوګانو» قبیلې اته ګنیګاني درلودې، «رودراګانو» یوولس درلودې، «ماروتنانو - Maruts» یوویشت درلودې، «ادیتیاګانو» دوولس درلودې، «ریبهوګانو - Ribhus» درې درلودې او داسې نور. له «دیوا-ګنیګانو» څخه څانګې را جدا سوې او ډېرو بهیرونو ته سره خپرې سوې وې او د یو څه زمانې تر تېرېدو وروسته د قومیت او ژبې له روابطو څخه دونه لیرې تللې وې، چې دوی یو له بل څخه بېګانه ګرځېدلي او خپل تر منځ یې د څارویو او ثروت دپاره جنګونه کوله. هلته لکه «پورادیوا - Puradeva»، «مورادیوا - Muradeva»، «شیشنادیوا - Shishnadeva»، «شورادیوا - Shuradeva» او داسې نور غونډۍ موجودې وې. ریګویدا د «دیوا-ګنیګانو» او «پانيګانو - Panis» تر منځ د یوې غټې شخړې بیان کوي. «پانيګانو» د هغو «دیوا-ګنیګانو» د څارویو کلې غلا کړې وې، چې په دې جګړه کې یې مشرې یوې ښځې کوله، چې «سراما - Sarama» نومېده. دا په رودو او ځنګلونو کې «دیواګانو» ته لارښوونه کوي او «پانيګان» لټوي او په نتیجه کې جګړه پېښیږي. د «دیوا- اسورا» په جنګو کې میتولوجي عقیده څرګندوي، چې «اسوراګانو» په لومړي سر کې د «دیوا-ګنی» په ذات پورې اړه درلوده.

موږ دمخه لا په دې پوهېدلي یو، چې کمون د آرامۍ د وخت په خپل اقتصاد کې هغه انتخابي مامورین درلوده، چې «ادهواریو»، «هوتا» او داسې نور بلل کېدل.

دا مامورین په «ګنی» کې داسې کسان نه وه، چې له امتیازاتو څخه برخورداره وه، له ځایه چا نه سوای ښورولای، دایمي او تنخاخوره اجرائیه قوه وه، لکه په

اوسني دولت يا د استثماري طبقاتو په اجرائيه کي چي توليد د استثمارچيانو د ګټي دپاره اداره کوي.
دوی په خپله مولدين وه او دې ته را انتخابېده، چي د کموني کار د هدايت دنده اجراء کړي او دمخه تر هغه چي په شتمنۍ کي توپير را سي، دوی هغونه حقوق اخيسته، لکه نورو ته چي له ټولنيزي پانګي څخه ور رسېدله.
لکه څنګه چي چاري د آرامۍ په وخت کي وي، د جنګ په وختو کي هم هغه شان وې. د غذا او د جنګ توليد په زياترو مواردو کي تقريباً يو مفهوم درلودی. تر دې اندازې پوري چي د جنګ دپاره د سانسکريټ له کلماتو څخه يو لفظ «ګاويشتي - Gavishti» دی، چي همدا رنګه د يوې کوچنۍ يجنا معنا ور کوي، چي غواوي حاصلوي. ټوله کمون چي يو مسلح سازمان وو او تر اوسه لا په هغه کي د کار توپير يا تقسيم منځ ته نه وو راغلی، نو جنګ د کل په توګه د کمون وظيفه وه، که څه هم هغه د نارينه‌وو له خوا څخه سر ته رسېدی. طبيعي خبره ده، چي په پخوانيو مرحلو کي هم هغه مشر «ادهواريو»، چي په يجنا کي يې وظيفه اجراء کوله، جنګ يې همدا رنګه اداره کاوه. په همدې دليل نو د آريايي تاريخ په لومړي سر کي موږ داسي توپير نه وينو، چي يو څوک د جنګ د اقتصاد مشر او بل د امن د اقتصاد مشر وي، چي لومړی يې يو «کشترياراجان» او دوهم يې يو برهمن «پوروهيت - Purohit» کيږي. په همدې دليل نو موږ وينو، چي مشهور جنګيالان «برهمنيان» دي، چي د برهمان يعني د کمون د جمعيت مشران دي او په وروستنيو زمانو کي يې خاصه وظيفه ګمان کيږي، يوازي يجنا پر ځای کول وي.
لکه د ټولو نورو بربريانو تر منځ چي هر کموني عمل، شی يا چاپېريال په الوهيت متصف کيږي او د ديني مراسمو يوه موضوع جوړوي، همدغه راز

وضعيت د آريايانو تر منځ جريان لري. کله چي برهمان يا گنۍوال کمون خپل مشر ټاکي، نو له ده څخه «برهمناس پتي - Brahmanaspati» يا «گنۍپتي» جوړېدی. په هغو جگړو کي چي خدايانو د «اسوراگانو» سره کولې، د دوی ډېر پوه سلاکار «بريهاس پتي - Brihaspati» نومېدی. «گنۍپتي» د هندوانو تر منځ د هغه خدای په توگه ژوندی پاته سوی دی، چي بايد د هري وظيفې په شروع کي را وبلل سي. درې سره نومونه د کمون پر هغه مشر او لارښوونکي دلالت کوي، چي دوی ته د جگړې او امن په وختو کي بايد لارښوونه وکړي. د کمون د غړو د نماينده او مشر په حيث، کمون ده ته خپله ونډه (هاوي - Havi) له هغو مشترکو پيداوارو څخه ور کوله، چي د گوزارې دپاره وه او له ده څخه يې غوښته، چي دښمنان برباد کړي او د ثروت لوري ته په مخ کي سي او لارښوونه وکړي. گنۍپتي «اتهروا شيرشا – Atharva Sheersha» د گنۍ دغه مشر داسي تشريح کوي، چي په سره رنگ رنگېدلي کالي يې اغوستي دي، يوه داسي رسۍ ور څخه ده، چي د کمند په شان ليري ځای ته غورځول کېږي او يوه داسي سرنيزه ور سره ده، چي درې څوکي لري او د فيل يو غټ غاښ ور څخه دی او دا شيان د وسلې په توگه له ځانه سره لري، چي له دښمنانو سره جنگ په وکړي. کله چي به گنۍ جگړه وکړه او دښمن به يې نابود کړ، نو به يې د هغو ځاروي او نور ثروت را واخيست، ښځي او کوچنيان به يې ونيول، د جنگ بنديان به يې وتړل او د خپلي گنۍ ټاټوبي ته به را ستانه سول.

اوس «گنۍ-پتي» يوه بله وظيفه هم درلوده، چي سر ته يې ورسوي.

په جگړه کي لوټ سوي شيان خصوصي ملکيت نه وو، بلکي په گنۍ يې اړه درلوده. د دې دپاره چي هغه په انفرادي توگه مصرف سي، دا يې غوښته، چي بايد توزيع سي. گنۍ، «گنۍپتي» ته بلنه ور کوله، چي مرکزي چوکۍ ته چي د

ده دپاره ټاکلي «اساندي - Asandi» وه، وخېژي او ثروت توزيع کړي. دا نو د مېلې او ساتېري دپاره يوه خورا ستره موقع وه. دا زړه‌ور او بريالی مشر او له هغه سره کمون هم ستايل کيږي. دی «ګنيږپتي»، دی «پري‌يا پتي - Priyapati»، دی «نيدهي پتي – Nidhi pati» بلل کيږي. په دې ترتيب نو دی دا ولجه سوی ثروت د وېش او د «ګنۍ» د مېلې د چارو رياست کوي.

لومړی شی چي د «اګني» (اور) او د کمون دپاره د دې مېلې مقدسه غذا تشکيلوي، هغه آس دی، چي د دښمن خاوري ته لومړی ور داخل سوی وي. دا د «اشوا ميدها – Ashwa Medha» يجنا مخکښ آس دی. دا آس تر اوبو ايستل کيږي او خلګو ته ګردآورده ښوول کيږي او بيا د خيرات په اچه پوري تړل کيږي.

خو دمخه تر هغه چي آس حلال سي، د ګنۍ مېلې د عادي غوښو په خوړلو او شرابو په چښلو شروع کيږي، چي بيا نو تر هغه وروسته نارينه او ښځي د يوه ګډ «برګ» اتڼ د ايجاب په سلسله يو ځای کيږي او په هغه کي له «ګنيږپتي» څخه غوښتنه کيږي، چي د اتڼ په مخ کي سي. دغه د ګروپي يو ځای کېدو مېله د «ګنۍ» د وختو د دود په شان پر ځای کيږي.

خو دغه ګډ اتڼ لږ څه ناموزون دی او هغه په دې سبب، چي نوي عناصر يعني په جنګ کي نيول سوي بنديانې ښځي ورته راغلي دي. دوی همدا رنګه لکه هغه نور په جګړه کي نيول سوي شيان د کمون يوه ولجه ده. دوی د ګنۍ په ټولۍ کي د ګنۍ د جمعيتي ازدواجي حقوقو په سلسله لکه د ګنۍ اصلي ماينې غوندي منحل کيږي. په دې ساتېري او د نوو ښکلاوو په مسابقه کي ځيني «ګانيکايانې - Ganikas» يعني د ګنۍ اصلي ماينې له نظره لويږي او بې

شريکانو پاتيږي. دوی په داسې طريقه د نارينه‌وو پر بې‌توجهۍ باندې غمجني څرګندوني کوي، چې دلته يې بيان نه سي کېدلای.

«شوکلاياجور ويدا» دغه د «ويلاپا – Vilapa» په توګه بيانوي او په هغه مکالمه کې چې «کشت‌تا-پالاګالي ساموادا – Kshatta-palagali-Samvada» نوميږي او د يجنا د مراسمو يوه برخه ده، دغه خبره په داسې يوه ژبه بيانيږي، چې نن ورځ به خورا ډېره ناوړه وګڼل سي، خو په هغه وخت کې داسې څرګندوني روا وې او مقدسې بلل کېدې.

تر دغې مېلې او د ښځو تر را ګډېدو وروسته کمون ته په کار ده، چې دوی نوري وظيفې هم سر ته ورسوي او هغه بيا د «پوروشا ميدها – Purusha Medha» او د «برهما ميدها – Brahma Medha» موضوع‌ګاني دي، چې لومړۍ يې د جنګ د نارينه بنديانو په سرنوشت او دوهمه يې په هغه چا اړه لري، چې په جګړه کې وژل سوي دي.

د کمون توليدي ظرفيت د هغه د انکشاف په ډېرو پخوانيو مرحلو کې چې افزارونه يې کچه او نيمګړي وه، داسې حد ته نه وو رسېدلی، چې مولد دونه توليد وکړلای سي، چې د ده دپاره کافي وي او د کار قوه يې جبيره کړي او همدا رنګه يو مازاد منځ ته راوړي. ځکه نو په يوه دغسې مرحله کې د مريانو دپاره ځای نه وو، چې ټولنيز سازمان ته را وستل سي او په همدې توګه د هغه د خاوندانو د ګټې دپاره په کار واچول سي. کله چې به د جنګ بنديان ونيول سوه، نو يو شمېر يې د غښتلوالي، ښکلا، په طبي معلوماتو کې د مهارت او داسې نورو ملحوظاتو په نسبت په کمون کې را ګډېدله. د ګډېدو په سلسله له دوی څخه بشپړ قوميان يعني غړي جوړېده. له هغو نورو سره نو بايد څه وسي، چې د دوی دپاره د کمون په خوار اقتصاد کې ځای نه سته او هلته دوی خورا

ډېري خولې تشکيلوي، چې «لاسونه مرسته نه ور سره کوي»؟ البته لاره وه، چې دوی بايد ووژل سي. دوی د کمون دښمنان دي او په «پوروشا ميدها» کې لوی اورنی خدای «اګني» ته وړاندي کېږي. دا موجوده «ميدها» د آدمخورۍ پاته نښه نه ده. په دې کې شک نه سته، چې آريايان په خپل لېري ماقبل التاريخ کې مجبوره وه، چې د غذا د شديد کمبود او بابيزو توليدي قواوو په نسبت د آدمخورۍ تر يوې مرحلې را تېر سي، خو که «پورو شاميدها» د دود په توګه د هغې مرحلې يوه پاته نښه وای، نو به په مراسمو کې لا اقل د حلال سوي موجود له غوښو څخه د خوړلو سمبوليک تمثيل اجراء کېدای، لکه څنګه چې دغه راز يو تمثيل په نورو ټولو مواردو کې اجراء کېږي. رايج دودونه هيڅ‌چيري دغسي دلالت نه کوي، له دوده سره سم، په کار ده چې د يجنا په دريمه ورځ، چې هلته د خيراتي حيواناتو د ټړلو يوولس خادې وي، په خادو پوري ټوله نړلي حيوانان د معمول سره سم وژل کېږي. بيا نو هغه وګړي (چې ناراپاشو Narapashu انسانان-حيوانان نوميږي)او بايد ووژل سي، د يوولس خادو په تر منځ فاصلو کې درول کېږي او بېلابيلو الهو ته سپارل کېږي. د يجنا د مشرۍ مؤظف، چې «برهمان» نوميږي، له «پورو شاسوکتا» څخه د «ريګاګانو» سندري وايي او د لګېدلي لرګي يوه ټوټه را اخلي او په داسي حال کې، چې ښوروي يې، درې واره يې پر دوی باندي شاوخوا را ګرځوي. تر دې وروسته نو ټوله خوشي کېږي او نه وژل کېږي. څه رنګه چې په عادي جريان کې اورنی خدای د دوی د بدنو ټوټې د «اهوتي‌ګانو - Ahuti» په توګه اخيستې، نو د ده په خوله کې غوړي ور توئيږي او د دې دپاره چې د هغه څه يو جبيره وسي، چې اوس دی د خپل ښکار له خوړو څخه محروم سوی دی.

د بنديانو پر شاوخوا باندې د اور ښورول او د دوی سپارل يقيناً د دې خبرې ثبوت دی، چې يو وخت دوی وژل کېدل او سوځول کېدل، خو په موجود رسم کې دوی نه وژل کيږي، بلکې خوشې کيږي. دا ولې؟ د دې سبب دا نه دی، چې آرياييان زړه‌سوانده سوي دي؛ هغه اولس چې د دوی قوانينو په وروستنيو مراحلو کې پر کوچنيو جرايمو باندې نارينه‌وو او ښځو ته د شلاخو وهلو، د بدن د اندامو پرې کولو او د سر غوڅولو مجازات ټاکلي وه او دوی له «غيرآرياييان – Anaryans» سره په جګړه کې خلګ په عامه توګه وژله، نه سوای کېدلای، چې اوس نو بې‌حده انسان‌دوسته سي او له دې څخه ډډه وکړي، چې دغه «انسانان حيوانان» نه ووژني او نه يې وخوري. ساده دليل دا وو، چې دغه موجود رسم په هغه دوره اړه لري، چې د بنديانو وژل بس سوي دي او دوی په مريانو اوښتي دي، ټولنيزي تکنالوجۍ پرمختګ کړی وو او د انسان کار دا ظرفيت پيدا کړی وو، چې په خپل مالکيت کې يې ژوندی وساتي. د جګړې د بنديانو وژنه يوه ضياع سوه او داسي کار وګرځېدی، چې په يقيني توګه يې هغو آرياييانو ته زيان رساوه، چې اوس يې په دې شروع کړې وه، چې له دوی څخه مريان جوړ کړي، يعني هغه ګټوره مؤسسه منځ ته راوړي، چې په وروسته کې آريايي ټولنه د مازاد او مساواتي کمون پر لاښ «نعش» باندې دې مؤسسې ته را تېره سوه.

دا چې دغه تحول وروسته راغی او د «پورو شاميدها» هغه لومړني خصلت ته يې تغير ور کړ، چې د «ګنی» د جنګ د بنديانو د وژلو مراسم يې تمثيلوله، بالکل په يقيني توګه د دې حقيقت له مخې څخه څرګنديږي، چې په موجوده «ويدهي - Vidhi» يا دود کې وګړي د «پوروشا سوکتايي» سرودونو په کلماتو کې د هديې په حيث وړاندې کيږي. دا سرودونه د آريايي «ګنی» د مرئيتوب

د نظام، چې وروسته منځ ته راغی، یوه «سوکتا» ده او له همدې جهته نو هلته وړنه‌ګاني، مریان، خصوصي ملکیت او دولت را پیدا سوی دی. دا موضوع به موږ وروسته وګورو.
اوس نو د هغو قومیانو د سرنوشت موضوع پاتېږي، چې په جګړه کې وژل سوي وي. په دې مورد کې کوم خاص مراسم، چې د مړو له معمولي مراسمو څخه توپیر ولري، نه لیدل کېږي. د ځینو لیکوالو د عقیدې پر خلاف، د مړي سوځول که په جنګ کې وي او که په بل صورت، یوه ځانګړې انفرادي چاره نه بلل کېږي. دا کار همدا رنګه یو «یجنایي» رسم دی او دا د «برهما میدها» په مهم نامه سره یادېږي. موجود رسم وایي، چې هغه څوک چې یوازې «اګني‌هوترا» یې منلې وي، نو چې کله مړ سي، د «شراو ناویدهي = زړو ویدایي رسوماتو» سره برابره معامله ور سره کېږي او دا رسومات «برهما میدها» بلل کېږي. د نورو ټولو خلګو د بدنونو سره د وروستنیو «سمریتي» رسوماتو برابر معامله کېږي او دا رسومات بیا «پیتان میدها – Pitan Medha» بلل کېږي.
«سمریتي» رسومات په څرګنده توګه تازه منځ ته راغلي دي. په پخوانی یجنایي ټولنه کې ټوله کمون «اګني-هوتري» وو، ځکه نو له هري مړیني سره د ټوله کمون د «برهما میدها» په توګه معامله کېدله. مړ کېدونکي وګړي د یو قومي په حیث د کمون؛ یعني «برهمان» غړی وو، د ده مړینه په خپله د ټوله «ګنی» د یوې برخي قسمي مړینه وه. دا د ټوله «برهمان» یو مشترک دود او دنده وه، چې په «میدها» کې ګډون وکړي.

هغه نقادان[55] چي له دې خبري سره مخالفت کوي، چي آریایانو کټ مټ هغه شان یو بهیري یا «گنیوال» سازمان درلودی، لکه نورو بربري خلگو چي درلودی، دا دلیل را وړاندي کوي، چي د «بهیر» د مورگاني تعریف سره سم، باید «گنی» د غړو د ښخېدو دپاره یوه مشترکه هدیره «یا په اگنی کي د سوځلو ځای؟» ولري، خو دوی وایي، چي آریایان هغه نه لري. دغو نقادانو ته د «برهمان میدها» مراسم لکه پورته چي ذکر سوه، یو جواب بلل کیږي.

د تصویر د بشپړېدو دپاره د هغي ولجې د وېش موضوع پاته ده، چي په جگړه کي به لاس ته راتله. ټولي مېلې، اتڼونه او د نارینه او ښځو بندیانو د سرنوشت ټاکنه بې‌له دې څخه تکمیل کېده، چي د نیول سوي ثروت، لوښو، گېڼو، لباسونو او نورو مسئله نه وای فیصله سوې.

دغه عمل د هغه کار موضوع تشکیلوي، چي د «دنم» په توگه پېژندل کیږي او زیاتره د «ویدي» عالمانو له خوا څخه په غلطه توگه د یو سوغات یا خیرات په حیث ترجمه سوی دی.

موږ دمخه لا دې ټکي ته اشاره وکړه، چي د آرامی د وختو په اقتصاد کي، د ډله‌ییز کار ورځني عواید چي به کله ځانگړو غړو ته وېشل کېده او د دوی له خوا به مصرف کېده او تصاحب کېده، دغه چاره د «هوانا» (هاوي)، «هوتاشیشا» یا «یجنا شیستا» په توگه پېژندل کېدله.

د کمون د هغو شیانو وېشو چي په جگړه کي به لاس ته راغلي وه یا هغه بادوامه شیان، لکه وسلې، کالي، خاورین لوښي او نور، چي د کمون په حساب کي وه او وخت په وخت به د جشنو په موقع کي توزیع کېده، دغه د وېش او توزیع

۵۵ لکه «کاراندیکار – Karandikar» چي په خپل هغه اثر کي وایي، چي د هندو په ټولنې کي دباندي واده «Hindu Exogamy» نومیږي.

چاره د «دنم» په توګه پېژندل کېده. دغه چاره باید «برهمناس پتي» هغه وخت اجراء کړي، چي له ده څخه غوښتل کیږي، چي چوکۍ ته له «اوتیب هیه - Utibhih» له سوغاتو سره ور پورته سي. په «اتهرویدا» کي ده ته په دې الفاظو بلنه ور کول کیږي، چي «ویبهاجا واسوني – Vibhaja Vasooni» یعني «ثروت وویشي». دا په غور ارزي، چي «ګنۍپتي» ته د «هيواسو – He Vasu» خطاب کیږي او «ثروت» «واسوني» بلل کیږي او هم دا چي «واسو ګان» یوه هغه «ګنۍسمګها» ده، چي دا مني، چي نسل یې له یوې مشترکي مور «واسو» څخه را پیدا سوی دی.

«دنم» یا وېش دلته د قبیلوي مشر خصوصي وظیفه نه ده، چي کول او نه کول یې د ده په اراده اړه لري، ځکه ولجه سوی ثروت په کمون اړه لري، «دنم» لکه «هوانا» یوه ټولنیزه دنده ده، چي صرف په ټاکلو وقفو کي هغه وخت دایریږي، چي کله کمون وغواړي او یا د هري جګړې لښکرکښي پای ته ورسیږي. ځکه نو «دنم» په کموني ایډیالوجۍ کي له جنګي مشرانو، له «ګنۍپتي» یا «برهمناس‌پتي» سره په عمومي توګه ارتباط لري. د «دنم» کلمه په «ریګ‌ویدا» کي د تقسیم معنی ور کوي، چي عموماً د «ده» له ریښې څخه راغلې ده، چي معنی یې «دیواید» یعني «وېش» دی. په دې ډول نو په ځان کي د خیرات یا نېکۍ کوم مفهوم نه لري.

کله چي مشترک ملکیت او کمون ړنګ سو او کله چي جګړه د پاچهانو او د ده د «کشتریاګانو» د طبقې دنده سوه او کله چي د دغو کشتریاګانو په خصوصي کهولونو کي ثروت را غونډ سو او کله چي د جګړې عواید د دې پر ځای چي د پخوا په شان په کمون پوري مربوط وګڼل سي، د پاچا او د واکمني طبقې شتمني وګڼل سوه. نو د «دنم» یعني د مشترک ولجه سوي ثروت وېش د

دې پر ځای چې د جنګ د مشر «ګنی‌پتي» یوه اجباري ټولنیزه دنده او وظیفه سي، د پاچا او د واکمني طبقې یوه خصوصي وظیفه وګرځېده. نو که دوی دا کار کاوه، دا یې یوه نېکي وه. د خلګو په اذهانو کي دې شي د جنګ له مشره سره داسي ټینګ ارتباط پیدا کړی وو، چي که به د وروستنیو زمانو پاچا «دنم» اجراء نه کړ، نو به یو بد پاچا ګڼل کېدی. خو که یې دا کار نه وای اجراء کړی، نو هلته کموني حق او قوه نه وه، چي د دې کار کولو ته یې وګماري، ځکه د خلګو پرګنه خلع سلاح سوې او محکومه سوې وه. اوس یوه طبقاتي واکمني نافذه وه. له «دنم» څخه اوس یوه اختیاري نېکي جوړه سوې وه او د پاچهانو او «کشتریاګانو» خیرات ګڼل کېدی. «دنم» همدا رنګه د مساوي او عمومي وېش خصلت بایللی وو. دا د خصوصي بخښښ کوونکي د خپل زړه خبره وه، چي چا ته بخښښ وکړي. واکمني طبقې خپل خوښ کسان انتخابول او دوی یې د خلګو په قربانۍ د «دنم» په وسیله بډای کوله. ځکه نو د «ښه» او «بد» «دنم» تر منځ توپیر را پیدا سو، مثلاً د «دنم» په باره کي د «دیشا - Desha»، «کالا - Kala» او «پاترا - Patra» په نسبت اخلاقي مباحثات یعني «ګیتا» منځ ته راغله. (د «دنم» ځای، وخت او شی نو دا خبره ټاکي، چي آیا دا ښه یا بد ډول خیرات دی او بخښښ کوونکي ته به ثواب یا ګناه ولري) دغسي یوې مباحثې یا مسئلې د کمون په وختو کي هیڅ ځای نه درلودی. «دنم» د کمون په حالت کي د حق په توګه یوه حمایه وه، چي ناروغانو، زړو معیوبو او ضعیفانو د لوږي په مقابل کي درلوده او دوی په ټولنیز ملکیت کي د لومړي‌توب ادعا کولای سوای. خو کله چي خصوصي ملکیت او طبقاتي حاکمیت منځ ته راغی، نو «دنم» په خپل ضد واوښتی. دی د اجتماعي تضمین (بیمې) د یوې وسیلې له

حالته د یوې طبقې یعني «کشتراګانو» او «برهمنیانو» یعني واکمني طبقې د ابتدایي بډائیتوب په وسیله بدل سو.

د ګنی د کمون له خوا د تولید سوي یا اولجه سوي ټولنیزي شتمنۍ وېش د «یجنا» د طرز یوه اساسي برخه تشکیلوله او نو ځکه «دنم» او «یجنا» نه سره بېلېدله. په اصل کي «دنم» او «هوانا» د یجنا د ډلهییز تولید په طرز کي د ډلهییز وېش طرز دی.

خو وروسته تر خصوصي ملکیت او طبقاتي حاکمیت لاندي له «دنم» او «هوانا» څخه د ټولنیزو پیداوارو د خصوصي تصاحب طرز جوړ سو.

هغه بریالي جنګونه چي د ډېر زړهور او زیات ماهر «ګنیپتي» له خوا به رهبري کېده، په دې توګه یې د کمون په خاطره کي ژوند وکړای سو، چي خدایان او ښځې په کمون کي را زیاتیږي او د جنګ د مشر په وسیله وېش په ګډه‌یږي. په «دناسوکتاګانو - Danasuktas» کي د دغو خاطراتو یاد ساتل سوی دی او د اجتماعي ریکارډ د ثبت یوه برخه یې تشکیل کړې ده. په دې ترتیب نو «دناسوکتاګاني» را پیدا سوي دي.

د ثبت دغه تعامل په هغه وخت کي هم ادامه پیدا کړه، چي «دنم» د کمون د «یجنا» د یوې برخي په توګه پای ته ورسېدی او د پاچهانو او د ده د طبقې خصوصي چاره ځني جوړه سوه.

د دې ثبت مصنف نو بیا د پاچا د دربار د یوه خصوصي ثبتوونکي «پوروهیتا - Purohita» په توګه تبارز کوي. خو ویدي عالمان (اولدینبرګ وینتر نیتز، کیتکار او نور) له یوه مخه په بشپړه توګه د «دنم» د وظیفې او راتلو په باب هغه شان غلط پوهېدلي دي، لکه د یجنا د ټولو مؤسساتو په باره کي او نو ځکه د «دناسوکتاګانو» او د هغو د مصنفانو په باب کي هم دغه راز غلطي کوي، چي

هغوی صرف د بخښښ ور کوونکو پاچهانو د اجيرو مصنفانو په حيث معرفي کوي.
ويدي «دناسوکتا» په خپل لومړي، نه په وروستي شکل کي د توليد او توزيع د ټولنيز طرز يوه اساسي برخه او يوه ټولنيزه دنده وه، چي د کمون په خاطر اجراء سي. کمون په توزيع کي برخه اخيسته او د کل په صورت يې ستاينه کوله او د «دناسوکتا» مصنفانو يا «پوروميتا ريشي‌گانو» ته يې الهام ور باخښه، چي د کمون د مشر «گنی‌پتي» د بري، عقل، زړه‌ورتوب او د هغه په نتيجه کي د «دنم» د کموني خوشالۍ د خاطراتو ثبت په سندرو کي وړغوي. دې عنعنې ادامه پيدا کړه او د نوي پاچاهي دولت سره يې په هغه وخت کي، چي خصوصي ملکيت او مرئيتوب منځ ته راغی، پيوند وموندی. کله چي د «يجنا» طرز د خپلو اساستو له پلوه رنگ سو او د استثمارچيانو دولت پر تخت کښېناستی، نو «دناسوکتا» د يوې موسسې په توگه همدا رنگه غائبه سوه.
د «هوتاشيشا» يا «هوانا» گنی‌واله توزيع تر همدې تحول لاندي راغله. هر څه غذا چي هلته موجودېده، بې‌له توپيره د ټولو د مصرف دپاره وه. دغه حکم د «سترا» قانون نافذ کړی وو. هلته د يو خصوصي کهول د خاوند دا سوال نه وو، چي (د خپل ځان خواړه به) د خپل ځان پر «اگني» باندي د خپل ځان دپاره جلا پخوي، ځکه دی او د ده ځان‌ته مفاهيمو موجوديت نه درلودی. کله چي خصوصي ملکيت او خصوصي کهولونه را پيدا سوه، د يجنا قانون دې ته ادامه ور کوله، چي هر څوک د يو سهم د لرلو ادعاء وکړي، اما اوس دا ادعاء صرف د هغه چا له خوا کېده، چي ملکيت او کورنی يې نه درلودې او د خصوصي کهول ښتنانو ته يې د ژوند د اړتياوو دپاره ډېره زياته مراجعه کوله. په دې ترتيب نو دا اخلاقي کوډ منځ ته راغی، چي هغه کسان چي يوازي د ځان دپاره

پخلنګ کوي او د هغو نورو موجوداتو فکر نه سي، چي د دوی په شاوخوا کي خوړو ته اړتیا ولري، باید د «ګناه‌خوړونکو» په توګه غندلي اعلام سي. خو خصوصي ملکیت او د هغه طبقې صرف د غندني پر دغسي اعلامیو او د کموني اخلاقو پر اعتراض کوونکو ارواحانو باندي خندله.
هغه شان لکه د جنګ د مشر یا د ګنې د مشر دې وظیفې او دندي، چي «دنم» اجراء کړي، په نوې طبقاتي ټولنه کي د پاچا او «کشترا» د طبقې سره پیوند وموندی، همدغه راز د «برهمان» یعني کمون دا حق، چي د «دنم» توزیع او د هغه اخیستنه باید لکه «هوانا» او «هوتاشیشا» غوندي ضرور تامین کړي، په نوې طبقاتي ټولنه کي یې خپل ځان د واکمني طبقې بلي ډلي، یعني «برهمنیانو» ته انتقال کړ، چي هغوی د یجنا د پروسې او د ویداګانو او بالنتیجه د معنوي میراث د لارښوونکو په توګه د هغه د عوایدو مالکان سوه. برهمنیانو یوازي له خپلو ځانو څخه د «برهمان» یا کمون واقعي وارثان او په همدې ډول د ټوله «دنم» او هوانا اخیستونکي جوړ کړه.
په دې ترتیب نو د کمون تولیدي روابطو خپله ځان‌ته ایډیالوجي او شکلونه منځ ته راوړي وه، خو کله چي کمون او د هغه د ملکیت طبیعي تکویني شکلونه ړنګ سوه، نو د پخواني ایډیالوجۍ او اخلاقي ارزښتونو بقایا، چي تر اوسه یې لا د پایښت دپاره خپلو هلو ځلو ته ادامه ور کوله، د نوو طبقاتو له خوا څخه د خپلو ځان‌ته طبقاتي ګټو په منظور د خپل ځان‌ته ترتیب په اساس تصرف او په کار واچول سوه. آریایي ټولني د خصوصي ملکیت او طبقاتي ټولني له ظهوره سره ژر ولیده، چي څه‌رنګه یو اخلاقي قانون د ډله‌ییز ژوند یوه مشترکه ګټه، چي هغه د لوږي په مقابل کي د حمایې او په کمون کي د ټولو خلګو دپاره د مساوي توزیع یو تضمین وو، په طبقاتي ټولنه کي په خپل ضد

تبديل سو او څه‌رنګه هغه د ظلم، انحصار او د استثمارچيانو د يوې وړې طبقې په لاسونو کي د شتمنۍ د تمرکز يوه منبع سوه او د دې سبب سو، چي د زيارکښو اکثريت، ضعيفان، معيوبان، ناروغان او بې‌شتمنۍ زاړه خلګ او د خوارو کهولچيانو لويي پرګنې، مريان او سرفان د تمدن په نوي «کالي» عصر کي له لوږي څخه ومري.

# اتم فصل

## د «ورنه‌گانو»، خصوصي ملکيت او طبقاتو ظهور

د ويدي مدارکو او حماسياتو په مرسته موږ وليده، چي څه رنګه آريايي جامعې د استقرار او پرمختګ دپاره په ډله‌ييزه توګه کار کاوه، ژوند کاوه او ډېرښت کاوه او په دې جريان کي يې د توليد د نوو افزارو له سترو اکتشافاتو؛ يعني اور او څارويو له اهلي کېدو څخه کار اخيستی او د دې په نتيجه کي يې خپلو توليدي قواوو ته انکشاف ور کاوه.

خو توليدي قواوي هيڅ کله د سکون په حالت کي نه پاتيږي. د انکشاف هغه سړک چي له يوې مرحلې څخه بلي ته يې پرمختګ کړی دی، هر کله يې پر ټولنيز سازمان باندي اغېزې اچولي دي.

آريايي انسان له خپلو «سامي» او «توراني» ورونو او نورو ډلو سره د بشري کورنۍ تر ځينو نورو غړو په دې سبب ډېر نېکمرغه وو، چي ده په وحشي مرحله کي هغه د ارزښت وړ څارويو وموندله، چي اهلي کېدلای سوه او د ژوند د پايښت دپاره استفاده ځني کېدلای سوه. د آريايي انسان آسيايي سيمي په دې څاروو ډکي وې، چي البته د مثال دپاره په امريکايي قاره کي بيا وضعه داسي نه وه. د څارويو د روزني او د هغه په نتيجه کي د تمدن د رشد کلاسيکه مځکه آسيا ده. اينګلس وايي:

«په آسيا کي يې هغه حيوانات د نيولو په وسيله لاس ته راوړه، چي هم اهلي کېدلای سوه او هم يې نسل ډېرېدلای سواى. وحشي ګامېښه يې د ښکار له لاري په لاس کښېوتله، اهلي غوا په کال کي يو سخوندر زېږاوه او همدا رنګه يې شيدې ور کولې. يو شمېر ډېرو پرمختللو قبيلو لکه آريايانو، ساميانو او الته

همدا رنګه تورانیانو[٥٦] د حیواناتو اهلي کول او په وروسته کي د څارویو د نسل ډېرښت او پالنه خپل اساسي کار وګرځاوه. چوپاني قبیلو خپل ځانونه د بربریانو له عمومي پرګنې څخه را جلا کړه.

**دا د کار لومړی غټ اجتماعي تقسیم وو!**

دغو چوپاني قبیلو نه یوازي دا چي د غذا ډېر مواد یې تولیدوله، بلکي همدا رنګه یې نسبت تر نورو بربریانو د محصولاتو مختلف او زیات متنوع ډولونه تهیه کوله. دوی نه یوازي دا چي شیدې، د شیدو محصولات او غوښي یې تر نورو ډېري پرېمانه وې، بلکي پوستونه، وړی، د وزګرو وژغوني، غښتل سوي او اودل سوي ټوکران یې همدا رنګه درلوده، چي دې جریان د اومو موادو زیاتېدونکي مقدارونه تر عامي استفادې لاندي را وستله. دغه جریان نو د لومړي ځل دپاره د منظمي مبادلې امکانات برابر کړه، خو په دمخنیو مرحلو کي مبادله یوازي کله ناکله کېدلای سوه. د وسلو او آلاتو په جوړولو کي د چا و چا خاص او استثنایي مهارت البته د کار موقتي تقسیم ته لار خلاصه کړه. دغه دلیل دی، چي د توږلي ډبري د عصر د ډبرینو آلاتو د جوړولو د کارخانو له شکه وتلي پاته آثار په ډېرو ځایو کي پیدا سوي دي. هغه ماهران چي خپل استعداد یې په دې کارخانو کي روزلی وو، غالباً یې د جمعیت دپاره کار کاوه، لکه د هندي بهیري جمعیتونو دایمي لاسي صنعتکاران، چي یې لا اوس هم کوي. په هر صورت، په دې مرحله کي پرته له هغې مبادلې څخه، چي په قبیله کي دننه کېده، بله مبادله منځ ته نه سوای راتلای او حتی دغسي مبادلې هم استثنایي حالت درلودی.[٥٧]

---

٥٦ لکه دمخه چي بیان پکښې وسو، «توروا‌سو» د «یایاتي» له پنځو زامنو څخه وو. (ش. اې. ډانګي)

٥٧ د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء.

د اینگلس دغه بیان وختي لا د هغو ویدي روایاتو له مخي تائید سو، چي په تېرو فصلونو کي ذکر سوه. د کار دغه موقتي تقسیمات او کله ناکله مبادلات د دې سبب دی، چي ځیني وختونه د هغي پروسې بیان کیږي، چي د «کرایا ویکرایا – Kraya Vikraya» یعني «خرڅول او مبادله کول» په کلماتو په ډېرو پخوانیو ویدي سرودونو کي افاده کیږي. هلته نو همدغه شان منظم تجارت، لکه په وروسته «برهمنایي» او سمریتي عصر کي، تر اوسه لا موجودیت نه دی موندلی، خو د هغه تخمونه مخ پر انکشاف دي. سره له هغي چي افزارجوړوونکي او ماهر کسان پیدا کېده او لکه د «اندرا» د «وجره» پخوانی جوړوونکی یا هر کله ستایل سوی او ذکر سوی «تاکشان - Takshan» او «راتهاکارا - Rathakara» غوندي، د کمون دپاره یې خپل کارونه کول، خو آریایي کمون له لومړي سره څخه د کار داخلي تقسیم نه درلودی، چي خپل غړي زیاتو «ورڼه‌گانو» ته ووېشي، چي هره یوه یې د کار د یوې معیني دندي دپاره ټاکلې وي. د دې دپاره چي د «ورڼه‌گانو» مرحلې ته را ورسیږي، لازمه وه، چي لومړی د څارویو د نوي ثروت پر اساس د دوی شمېر زیات سي او بېلابېل ډولونه پیداوار تولید کړي او خپل تر منځ یو د بل سره مبادله شروع کړي. کله چي مخ پر انکشاف تولیدي قواوي هغي مرحلې ته ورسېدې، نو «ورڼه‌گاني» هم را پیدا سوې.

لکه څنگه چي مارکس وایي، د نفوسو شمېر او گڼوالی په ټولنه کي د کار د تقسیم یو لازمي شرط دی[58]، په آسیا کي د څارویو اهلي کېده، د آس په شمول د آریایي کمون دپاره د دې خبري مقدماتي شرایط برابر کړه، چي هلته د ټولنیز کار «ورڼه‌یي» تقسیم منځ ته را سي.

---

۵۸ کاپیټال، لومړی ټوک، ۳۵۲ مخ.

دا خبره چي په آریایي ټولنه کي «ورڼه‌یي» تقسیم یو تاریخي رشد دی او یوازي د هغې د انکشاف په یوه ټاکلې مرحله کي منځ ته را ځي، د ټولو مؤرخانو له خوا منل کیږي او حتی هغه هندو «ریشي‌گان» یې لا مني، چي د دې تقسیم مبداء له ښېښتنه څخه بولي. دا خبره چي آریایي ټولني په لومړي سر کي «ورڼه‌گاني» نه درلودې او دا چي دوی دقیقاً د کار د خاصو مهارتو او د هغو د پیداوارو په اساس منځ ته راغلي او پرته له دې یې بل عامل نه درلودی، په ډېرو الفاظو او تقریباً په ټوله هغو ځایو کي ذکر سوې ده، چي هلته په هندویي متونو کي دغه موضوع تر مباحثې لاندي راغلې ده.[۵۹]
په ټولنه کي د کار تقسیم له ضرورته څخه او د تولیدي قواوو له رشده څخه را پیدا کیږي. د لرغوني زمانې مذهبي لیکوال چي هر راز ادعاوي کوي، خو تر کومه ځایه چي خبره د «ورڼه» د طرحي په مبداء پوري اړه لري، نو د دغه یا هغه ویدي «ریشي» یا ښېښتن د نبوغ د خاصي اختراع محصول نه بلل کیږي.
د کار د تقسیم پروسه د مارکس له خوا څخه داسي تشریح کیږي: «په ټولنه کي د کار تقسیم او د هغه په اساس په خاصو ځانگو پوري د وګړو پیوند، کټ مټ لکه په مانوفکتور (صناعت) کي د کار تقسیم د پیل له متضادو نقطو څخه په خپله انکشاف را کوي... په یوه قبیله کي دننه په طبیعي توگه د جنس او سن پر بناء د کار تقسیم نشئت را کوي او دا نو ځکه هغه تقسیم دی، چي خاص پر فیزیولوجیک بنسټ را بناء سوی دی، چي د جمعیت له خپرېدو، د نفوسو د

۵۹ «بهارادواجا - Bharadwaja» له «بهریگو - Bhrigu» څخه پوښتنه وکړه، چي یوه «ورڼه» له بلي څخه څه توپیر لري، ځکه چي دوی په رنگ نه سي سره پېژندل کېدلای. که رنگ څرگندوی وای، نو به ټولي «ورڼه‌گاني» د یو مخلوط په شان وای. همدا رنگه روحي حالات او جسماني استعدادونه او کمزورۍ‌گاني دوی ته یو له بل څخه توپیر نه ور کوي. «بهریگو» وایي، چي دا ټوله پخوا «برهمان» وو، خو بیا «برهنمیان» له هغه څخه وار د واره د خپلو کړو او دندو په وجه را بېل سوه او یوه «ورڼه» ځني جوړه سوه.

ډېرېدو او په تېره بیا د بېلابیلو قبیلو تر منځ د جګړو او یوه قبیله بلې ته د تابع کېدو په سلسله پراختیا مومي. له بلې خوا... د پیداوارو مبادله له هغو نقاطو څخه نشئت را کوي، چې هلته بېلابیلې قبیلې، جمعیتونه یو د بل سره په تماس کې را ځي. تر کومه ځایه چې خبره د تمدن په ابتداء پورې اړه لري، نو دا ځانګړي افراد نه دي، بلکې... قبیلې دي... چې د مستقل دریځ په اساس یو د بل سره ملاقې کیږي. مختلف جمعیتونه په خپل طبیعي چارچاپېریال کې د تولید مختلف وسایل او د ژوندانه مختلف وسایل لاس ته راوړي. له دې جهته نو د دوی د تولید او ژوند طرزونه او د دوی پیداوار توپیر سره لري. دغه په خودبخودي توګه را پیدا سوی توپیر دی، چې کله مختلف جمعیتونه یو د بل سره په تماس کې را ځي، نو ایجابوي، چې پیداوار یو د بل سره مبادله سي او په نتیجه کې نو ورو ورو دغه پیداوار په مبادلوي اموالو واړوي. مبادله د تولید د ساحاتو تر منځ توپیر نه را پیدا کوي، بلکې هغه څه چې دمخه لا توپیر سره لري، یو د بل سره یې په رابطه کې ایږدي او په دې ترتیب نو دوی لږ یا ډېر د یوې پراخې سوي ټولنې د جمعي تولیر په داسې څانګو اړوي، چې یو په بل پورې تړلي وي. په دې وروستني شکل کې نو د کار اجتماعي تقسیم د تولید د هغو ساحاتو تر منځ له مبادلې څخه نشئت را کوي، چې په لومړي سر کې یو له بلې څخه متمایزې او مستقلې وي. په پخواني شکل کې چې د کار فیزیولوجیکي تقسیم د پیل نقطه ده، نو د بشپړ پیوند اورګانونه یې اساساً له پردیو جمعیتونو سره د اموالو د مبادلې په سبب سستیږي او جلا کیږي او بیا نو تر داسې اندازې ځانګړي کیږي، چې یوازنی پیوند، چې تر اوسه لا هم د کار بېلابیل ډولونه سره وصلوي، د پیداوارو هغه مبادله ده، چې د اموالو په توګه سر ته رسیږي. په

همدې حالت کې دا نو د هغه شي د استقلال له منځه وړل دي، چې پخوا مستقل وو او هغه ته استقلال ور کوي دي، چې پخوا غیرمستقل وو.»[60]
دغه ډېر اوږد اقتباس چې د مارکس له بیانه څخه را اخیسته سوی دی، موږ ته دا خبره تشریح کوي، چې د آریایي قبیلو په پخواني انکشاف کې څه پېښه سوه. آریایي کمون د پیداوارو، وظایفو او کارونو د زیاتېدونکي ډېرښت په نسبت په خپل داخل کې د کار د تقسیم پر لاره باندې په حرکت راغی. د یوه درست کمون د غړو تر منځ فرق را پیدا سو، په مختلفو کارو پوري یې اړه پیدا کړه او د «ورڼه‌گانو» په توګه یې روښانه شکل واخیستی. خو په پخوانیو مرحلو کې په دې نسبت چې خصوصي ملکیت نه وو موجود او د تولید اساسي وسایل په ډله‌ییز ملکیت کې وه، نو دغه د «ورڼه‌گانو» روښانه شکلونو دې ته اجازه نه ور کوله، چې له «ورڼه‌گانو» څخه لکه په وروسته زمانه کې، دښمن طبقات جوړ سي.
کله چې قبیلوي ټولنه وړاندي ولاړه او بېلابیلي آریایي قبیلې (یعني د دوی د خپلي لرغوني زمانې خپرې سوي ګنی‌ګاني او نوري) په شخړو سره اخته سوې یا په دوستانه تماسونو کې سره راغلې، نو د «ګنی‌ګانو» د مازادو پیداوارو مبادله شروع سوه. د بېلابیلو «ګنی‌ګانو» بېلابېل پیداوار مبادله کیږي او د دې مبادلې تکرار او د دوی مکرره غوښتنه په متقابله توګه دې ته پیل کوي، چې د هري ګنی په دننه کې په داخلي توګه د هغو څانګو پر تولید اغېزه واچوي، چې پیداوار یې د مبادلې په ځایو کې د بېلابیلو کمونو له خوا څخه غوښتل کیږي. په دې ترتیب نو په داخلي توګه د پیداوارو تنوع او په خارجي توګه د هغو

٦٠ کاپیټال، لومړی ټوک، ۳۵۲- ۳۵۳ مخ.

پيداوارو مبادله په ټولنه کي د کار تقسيم را پيدا کوي او هغه ټينګوي او د اريايي کمون «ورڼه‌ګاني» منځ ته راولي.

«خو د کار تقسيم ورو ورو د توليد دغي پروسې ته را وغځېدی. دې تقسيم نو د توليد او تصرف ډله‌ييز ماهيت ته د ړنګېدو پې واچاوه او د انفرادي تصرفاتو جال يې په عام ډول خپور کړ او په دې ترتيب يې نو د افرادو تر منځ مبادله را پيدا کړه» (اينګلس). کله چي دا مرحله را ورسېده، نو خصوصي لکيت او طبقات را وزېږېده. «ورڼه‌ګاني» نو په متضادو طبقاتو واوښتې او د داخلي جنګ لاره يې واخيسته. ابتدايي کمون مري او بيا بيرته نه را ګرځي.

آيا دغه تاريخي انکشاف چي موږ په لنډه توګه د تاريخي ماټرياليزم د ساينس په اساس وښووی، د هندوانو په ادبياتو کي د ويدي او حماسي رواياتو له مخي څخه تائيد کېدلای سي؟ که څه هم له دوی څخه دا انتظار نه سي کېدلای، چي موږ ته خپل مبادي په پورتني ترتيب را وښيي، خو آيا په خپله بربري طريقه هغه اساس را ښوولای سي، چي همدغي پورتنۍ نتيجې ته رسيږي؟ هو! را ښوولای يې سي.

معمولاً د دغو معلوماتو منبع د «پيدايښت» هغه نکلونه دي، چي د ويدي مؤلفانو له خوا څخه بيان سوي دي. هر نوی پرابلم چي له هغي ټولني سره مخامخ کېدی، د «پيدايښت» د يو پرابلم په حيث، چي دنده يې د «برهمان» يا د «پراجاپتي» په ذمه وه، تر بحث لاندي نيول سوی دی. په هغه ټولنه کي د «ورڼه‌ګانو» د ظهور پرابلم، چي «ورڼه‌ګاني» يې نه درلودې او نه يې هم دا ډول د کار تقسيم درلودی، موږ ته د «پيدايښت» د ساينس د يوې برخي په توګه بيانيږي.

د آریايي ټولني د «ورڼه‌ګانو» شمېر لومړی درې وو او وروسته څلور سو. ځکه نو د «پیدایښت» نکلونه په ځینو ځایو کي هغه درې «ورڼه‌ګاني» او په ځینو ځایو کي هغه څلور بیانوي. خو دا خبره د ټولو له خوا منل کیږي، چي په لومړي سر کي کورټ «ورڼه» موجوده نه وه او یا صرف یوه «ورڼه» وه او بیا درې «ورڼه‌ګاني» راغلې او په وروسته کي څلورمه ور اضافه سوه.

دا څلورمه «ورڼه» داسي یوه واقعي «ورڼه» نه وه، چي په لومړي سر کي په خپله له هغې ټولني څخه را وځي.

«شاتاپتها برهمنا = ۱-۴-۱۱» موږ ته هغه څه بیانوي، چي «پراجاپتي» یعني د خلګو «پیداکوونکي» ایجاد کړه. موږ وینو چي دی هغه بېلابېل «درې‌ګون» شیان را پیدا کوي، چي پخوا یوه لا هم موجودیت نه درلودیږ. د لومړي «درې‌ګون» مجموعه له «بهو - Bhu»، «بهووا - Bhuvah» او «سواه - Swah» څخه جوړه ده. بله مجموعه مځکه، آسمان او د دوی تر منځ فضا ده. دریمه مجموعه «برهما»، «کشترا» او «ویشا» ده، یعني درې «ورڼه‌ګاني». او څلورمه مجموعه په خپله «دی» یا روح (اتمان)، «پراجا» یا خلګ او څاروي دي. په دې نکل کي د ویداګانو «درې‌ګون» نه لیدل کیږي. «تایت‌تیري‌یا برهمنا = ۱۲-۹-۱۲» یوه بله طرحه تعقیبوي او موږ ته وایي، چي په وار د واره کي هر څه «برهمان» وو، چي له هغه څخه «پیدایښت» منځ ته راغی. بیا نو دا راته وایي، چي هره ویدا یوه «ورڼه» زېږوي. په دې طرحه کي ترتیب داسي دی، چي ډېره لرغونې «ریګ‌ویدا»، «ویسیا»، «ساماویدا»، «برهمن» او «یاجوس» کشتریا منځ ته راوړي.

دا دواړه مؤلفان «سودرا» د څلورمي «ورڼې» په توګه نه ذکر کوي. د «یاجور ویدا» د «تایت‌تیري‌یا سمهیتا» دریم ګذارش تر دې لا ډېر مفصل پر دغه تقسیم

ږغيږي. «پراجاپتي» غواړي چې توليد وکړي او بيا نو د ده له خولې، د ده له سينې او لاسو، د ده له ملا او د ده له پښو څخه څلور «ورنه‌ګاني» وده را کوي. خو د دې ګذارش خصوصيت دا دی، چې هره «ورنه» د ځان دپاره له يوې رب‌النوعي، يوه «چهندا» يا وزم او يوه حيوان سره زيږي. موږ نه غواړو چې د هري «ورنې» ځانګې په تفصيل سره تر څېړنې لاندې ونيسو. موږ يوازې دا خبره يادوو، چې هغه وخت کې چې له لومړيو درو «ورنه‌ګانو» څخه هري يوې خپله رب‌النوعه حاصلوله، خو يوازې څلورمه «ورنه» چې «سودرا» مريي تشکيلوله، رب‌النوع يې نه درلوده.

خو ډېره د تعجب خبره دا ده، چې دی پرته له رب النوع څخه هغه نور ټوله شيان، لکه چهندا، حيوان او «ستوما - Stoma» د نورو په شان لري. حيوانان چې وېشل سوي دي؛ اوزګړی «اجاه - Ajah» د برهمنيانو دپاره، پسه «اويه - Avih» د کشتريا» دپاره، غوا د ويسيا دپاره او آس د «سوډرا» دپاره دی.

د دغو نکلونو ځرګند مشترک خصوصيت څه شي دی؟ آريايي مورخ له هغې ټولي ګډوډۍ سره، چې انسان، حيوان او نړۍ يو له بله سره ګډوي، غواړي موږ په دې وپوهوي، چې ده ته دا ور معلومه وه، چې په لومړي سر کې هر څه يو «برهمان» وو او بيا نو درو يا څلورو «ورنوګانو» وده را وکړه، چې لومړۍ درې «ورنه‌ګاني» يې د «ګنی- ګوتراګانو» د واحدي متجانسي ټولني څخه را وپاځېدی، ځکه نو دوی ارباب الانواع درلوده؛ په داسي حال کي چې څلورمي چې يو بېګانه نيول سوي مريي تشکيلوله، هغه يې نه درلوده او بل دا چې د ځارويو او ثروت انکشاف د انسانانو او د دوی د «ورنه‌ګانو» د انکشافه سره روان وو او کله چې په «ويداګانو» کي توپير راغی او د توليد «يجنايي» طرز د هغه د بېلابيلو مرحلو په سلسله تکامل وکړ، نو ور سره «ورنه‌ګانو» وده وکړه او

روښانه شکلونه يې واخيسته. ډېر زيات کوښښونه، چې د هغه عصر ليکوال يې د دې دپاره سر ته رسوي، چې د انسان او د ده د نړۍ په ټوله انکشاف کې يو منطق ومومي، موږ ته د اوضاعو اساسي حقايق را ښيي، که څه هم د دوی تر منځ رشتياني علمي تاريخي پيوند نه سي را ښوولای. دې کار ځکه امکان نه درلودی، چې مصنفانو، څه چې ليدله، هغه يې بيانوله.

«شاتاپتها برهمنا = ۱۷×۴-۲-۲۳» لا تر اوسه د يوې نقطې په باره کې پوره روښنايي اچوي. دغه اثر وايي، چې دغه «برهمان» په ابتداء کې صرف يو واحد وو او تر تقسيم لاندې نه وو راغلی. دلته بايد دا خبره ياده سي، چې دغه برهمان هغه څوک نه دی، چې بيا وروسته په «اوپانيشادي» فلسفه کې راغلی دی، خو دغه بې‌تقسيمه حالت د ودي، پرمختګ او انکشاف لوري ته لارښوونه نه کوله. نو هغه په دې پيل وکړ، چې تقسيم سي او نوي شکلونه منځ ته راوړي، لکه «کشترا» او د هغه «اندرا»، «وارونا - Varuna» او نور. حتی ده پرمختګ نه کاوه، څو بيا يې «ويشا» د «ګنی‌والو» خدايانو او داسې نورو سره منځ ته راوړه.

په دې ترتيب نو ويدي خاطره د آريايي کمون د ودې مشاهده سوې کرښه په لاندې توګه بيانوي او راته وايي، چې کله د توليد افزارونو پرمختګ کاوه، څارويو او ثروت وده کوله او نفوسو ډېرښت کاوه، نو د دغو کمونو په لاس کې د پيداوارو تنوع او له نورو سره د دوی روابطو، د تاريخي انکشاف د قوانينو له حکمه سره سم، دا ايجاب کړه، چې په ټولنه کې د کار تقسيم را پيدا سي؛ يعنې «ورڼه‌يي» تقسيمات له خپلو مختلفو وظايفو سره منځ ته را سي. هغه څه چې درست واحد کمون وو او ټوله غړي يې يو د بل سره تړلي وه او يو په بل پوري يې اړه درلوده، اوس د هغ‌هغې ټولنې د مستقلو «ورڼه‌يي» اورګانو په توګه سره بېل سوه او هغه څه چې د بېلابېلو مستقلو «ګنی‌ګانو» په حيث پاشلي وه، لکه

څنگه چې مارکس وايي، د يوه وندر تابع سوه يا يوه وندر ته را وستل سوه او په لوئېدونکي نړۍ کي يو په بل پوري وتړل سوه. په دې ټولو جرياناتو کي هغه عامل، چي حاکميت لري، توليد، توزيع او د ژوند د اړتياوو مبادله ده، چي پخوا يې «برهمان» جوړ کړی وو او اوس يې د نوي ودي په حال کي «ورنهيي» ټولنه را پيدا کړه.

د کار ټولنيز تقسيم او مبادلې يو پر بل تاثير اچاوه او په گډه يې يو ځای توليد ته انکشاف ور کاوه. په دې مرحله کي د توليد د افزارونو په ارتباط دوه نوي برياليتوبونه سر ته ورسېده؛ يو د کرهنې اختراع او دوهم د اومو فلزاتو د ويلي کېدو او «کنې» اختراع وه.[61] د توري بحيرې د جلگو او د «توراني» ورشوگانو اقليم «چوپاني ژوند ته اجازه نه ور کوله، بې له دې چي د اوږده او سخت ژمي دپاره د علوفې يوه ذخيره و نه لري، ځکه نو د چمنانو او د غلې کرنه دلته حتمي وه... کله چي غله د څارويو دپاره وکرل سوه، نو ژر تر ژره انساني غذا هم ځني جوړه سوه.[62] زراعتي مځکه د توليد نوې وسيله سوه، چي د کمون لاس ته ورغله.

د ويلي کېدو اختراع په لومړي سر کي په مسو، قلعي او د دوی په مخلوط «برونز» پوري محدوده وه او له دوی څخه د کار وړ افزارونه او وسلې تهيه کېدلې، که څه هم د ډبري د افزارو ځای يې نه سوای نيولای. دا کار يوازي اوسپني کولای سوای، سرو زرو او سپين زرو په دې شروع کړې وه، چي د تزئين دپاره کار ځني واخيستل سي، خو تر اوسه لا پيسې نه وې ځني جوړې

٦١ دغه وخت نو د ريگ‌ويدا «ايسکار – Ayaskar» (فلز ويلي‌کوونکی) او «تانتوا – Tantuvaya» (جولا) په همدې مرحله کي را پيدا کيږي.

٦٢ د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء.

سوي. د کرهنې په څنګ کې لاسي صنایع را پیدا سوه، خو دغسې څو اړخیزو فعالیتونو امکان نه درلودی، چې ټوله د یوه سره د یوه فرد له خوا څخه اجراء سي، نو ځکه د اجتماعي کار دوهم غټ تقسیم منځ ته راغی؛ یعني لاسي صنایع له کرهنې څخه را جلا سوه.

له دې سره سم، چې تولید دوو غټو عمده څانګو؛ کرهنې او لاسي صنایعو ته وېشل کیږي، هغه تولید منځ ته را ځي، چې مستقیماً د مبادلې دپاره کیږي، یعني د مبادلوي اموارو تولید. له مبادلې سره سوداګري راغله او د سوداګرۍ له زیاتېدو سره قیمتي فلزاتو په دې شروع وکړه، چې د مروجې او عمومي پولي متاع په توګه تر استفادې لاندې را سي. په داسې حال کې چې پخوا یوازې په کُلي توګه ګټوره مبادلوي متاع څاروي وه، چې د پیسو په توګه یې کار ور کاوه، خو اوس د هغو ځای قیمتي فلزاتو ونیوی.

څه رنګه دغه ټولې چارې د «ګنۍوال» کمون د غړو تر منځ متقابل روابط او د دوی د ملکیت او تولید روابط تر اغېزې لاندې راولي؟

**د تولید نوي قواوې د دې سبب سوې، چې په کمون او د هغه په ټولنیزو یا ملکیتي روابطو کې یې یو انقلاب را وستی.**

لکه دمخه چې ذکر سوه، پر «ورنهګانو» باندې د اجتماعي کار تقسیم د تولید ډلهییز حالت له منځه واخیست. د یجنا مشترک طرز، چې د مشترک اور پر شاوخوا باندې یې مشترک مصرف سر ته رساوه، دې ته ځای پرېښووی، چې بېلابېل کهولونه را پیدا سوه، چې بېلابېل اورونه یې درلوده. د لوی کموني اور؛ یعني «تریتاګني - Tretagni» سره اوس د خصوصي کهولوالا د «ګریها -

Griha» اور رواج مومي.[٦٣] د توليد د ډله‌ييز حالت له پای ته رسېدو سره د ډله‌ييز مصرف يا د پيداوارو ډله‌ييز تصاحب پای ته رسيږي. انفرادي کار، انفرادي تصاحب او انفرادي مبادله تسلط پيدا کوي؛ يعني د کمون په دننه کي خصوصي ملکيت وجود پيدا کوي.

انفرادي توليد او تصاحب د ملکيت نابرابري ايجادوي، يعني دوې طبقې زېږوي؛ د بډای او خوار، د استثمارچي او استثمار سوي او په هغه پسي ژر د بادارانو او د مريانو.

په لومړي سر کي چيري شتمني را غونډيږي او سلطه پيدا کوي؟

هغه کمون چي د کار تقسيم وده پکښې کوي، مجبوره کيږي، چي د جګړو د رهبرۍ او له خطراتو څخه د ساتني وظيفه انتخابي سرانو او افرادو ته وسپاري، چي له هغو څخه «کشترا» جوړيږي. همدا رنګه د موسمونو، سېلونو، رودونو او نورو د مشاهداتو وظيفه د اجتماعي- اقتصادي فعاليت د لارښووني په منظور هغه چا ته محول کيږي، چي «برهمنيان» ځني جوړيږي. پاته خلګ نو «ويشاګان» واقعي «ډيموس - Demos»، د ځارويو د روزونکو، لاسي صنعت‌کارانو او د کرهنې د زيارکښانو بې‌شمېره اکثريت تشکيلوي. تر اوسه لا هم دوی ټوله په يوه واحد کمون کي دي، خو څه‌رنګه چي د کار له تقسيم او مبادلې څخه د را پيدا کېدونکي خصوصي شتمنۍ تمرکز د طبقاتو او

٦٣ په دې نقطه کي نو بيا د «اتهرواويدا» د «ګريهيا سوتراګانو – Grihyasutras» او «ګريهيا کارماګانو – Grihyakarmas» انکشاف شروع کيږي. څه رنګه چي دا انکشاف له دې جريانه څخه منځ ته را ځي، چي خصوصي ملکيت له لرغوني خدای ور کړي اشتراکي ملکيت او د درو «ويداګانو» له «تريت‌اګني» څخه انشعاب را کوي او را پيدا کيږي، نو اتهروا ويدا او همدا رنګه «ګريهيا» ته هغه تقدس او لوړ مقام نه ور کول کيږي، لکه هغه نورو «درو» ويداګانو ته چي ور کول کېدی. «ترايي – Trayee» او «تريويديا – Trividya» يو مخصوص جلال درلودی.

استثمارچیانو او استثمارسوو تخاصم ته رسیږي، نو دوی په بېړه د کمون د انفجار او ړنګېدو نقطې ته رشد کوي.
قبیلوي جګړې او د مالونو مبادلې وار د واره د کمون د «ګنیپتيګانو»، «بریهاس‌پتيګانو» یا «پراجاپتيګانو» په وسیله، چې د «برهما» او «کشترا» په «ورنهګانو» اړه لري، سر ته رسیږي. نیول سوي بندیان، څاروي او ثروت وار د واره دوی ته را ځي او د دوی له لاري کمون ته ور ځي. سوداګري طبعاً د دوی په وسیله انکشاف کوي او همدا رنګه پیسې.
نو ځکه کله چې ورو ورو ډله‌ییز حالت په سقوط شروع کوي، پولي شتمني د مبادلې په نقطه کي د «کشترا» او «برهما» په لاسو کي تمرکز کوي او له «پراجاپتيګانو» او «ګنيپتيګانو» سره پاتیږي.
ټولنه نو طبقاتو ته، چې یوې خوا ته شتمن کشترا-برهما او بلې خوا ته زیارکښه «ویشاګان» دي، یعني بډای او خوار ته تجزیه کیږي. د سوداګرۍ له لاري د قیمتي فلزاتو «هیرانیا- Hiranya» (طلا) ظهور تر پخوا دا ډېره آسانه کوي، چې شتمني او دارایي را غونډې سي. «کشترا» او «برهمن» نو د څارویو، غلو، پیسو او په وروسته کي د مریانو د خاوندانو په توګه دې ته شروع کوي، چې د ځان لافي ووهي.
په هر صورت، دا خبره باید په نظر کي ونیول سي، چې استثماروونکی بډای او تر استثمار لاندي خوار په بشپړه توګه له یوې خوا د برهما- کشترا او له بلې خوا د «ویشا- سودرا» سره یو برابر حدود نه لري. کله چې د برهما- کشترا غټه برخه په استمثاري طبقه کي راغله، نو هلته خوار برهما- کشترا همدا رنګه موجوده وه، چې له خوار «ویشا» سره یې سطحه برابره وه.

د درو «ورنه‌ګانو» ظهور د مرئیتوب او «سودرایي» «ورنې» له ظهوره سره په یوه وخت کې منځ ته را ځي، دا ولې؟ ځکه مرئیتوب له هغه مومینتم Momentum څخه نشئت را وکړ، چې «ورنه‌ګاني» یې وزېږولې؛ یعني د کار تنوع او د هغه تولیدي ظرفیت جګېده؛ مبادله او خصوصي ملکیت. «انسانانو چې فقط دې ته شروع وکړه، چې په مبادله لاس پوري کړي، دوی په خپله هم تر مبادلې لاندې راغله.» (انګلس)

اینګلس وایي: «په ټولو څانګو یعني د څارویو په روزلو، کرهنې او کورنیو لاسي صنایعو کې د تولید زیاتوب د بشر د کار قوې ته دا توان ور کړی، چې د ځان ساتنې تر ضرورت بالا تولید وکړي. په همدې وخت کې دغه جریان د هغه کار اندازه ډېره کړه، چې د بهیر یا کهولي جمعیت یا انفرادي کورنیو د هر غړي په ونډه به سړي‌سر په ورځ کې ور رسېدله. د کار د قوې د زیاتېدو آرزو منځ ته راغله، دا قوه د جګړې له لارې زیاته سوه، ځکه د جګړې له بندیانو څخه مریان تهیه سوه. د هغې زمانې تر عمومي تاریخي شرایطو لاندې، د کار لومړی غټ اجتماعي تقسیم د دې عامل سو، چې د کار د تولیدي ظرفیت، یعني ثروت د زیاتېدو او د تولید د ساحې د پراخېدو له لارې یې په لازمي صورت غلامي منځ ته را وسته. د کار له لومړي غټ اجتماعي تقسیم څخه د ټولني لومړی غټ تقسیم را ووتی، چې ټولنه یې په بادارانو او مریانو، په استثمارو‌ونکو او استثمار سوو دوو طبقاتو وویشله.»[٦٤]

موږ دمخه لا ولیده، چې «ګنی‌وال» کمون یا پخوانی «برهمان» د یجنا له خپله تولیدي طرزه سره سم د مرئیتوب یا د «سودرا» دپاره ځای نه درلودی، ځکه نو د «پوروشامیدها» له دوده سره سم کله چې به قبیلوي جګړې پېښې سوې، نو

٦٤ د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء.

نیول سوي بندیان زیاتره وژل کېدله. خو کله چي د انسان د کار قوې د تولید د نوو افزارو او تولیدي قواوو په وسیله وکړای سوه، چي تر هغه څه چي د مصرف او د تولید مثل دپاره لازم وي، زیات تولید وکړي، نو دا ممکنه سوه، چي د جګړې له بندیانو څخه بې‌له دې چي ووژل سي، استفاده سر ته ورسیږي. دوی کېدلای سوای، چي کار ته وګمارل سي او د کار له مازاد څخه یې په خپله باداران استفاده وکړای سي. غلامي راغله او هغه «سترا»، چي کولای یې سوای، بندیان ووژني، لکه د «جانامیجایا»، «سرپا سترا – Sarpa Satra» د یجنا د طرز له تاریخي مرحلې څخه غائبه سوه. اوس نیول سوي کس ته په آریایي ټولنیز سازمان کي د څلورمي «سودرایي» «ورنې» په توګه یو ځای ور کول سو. ده ته دا وظیفه ټاکل کېده، چي د هغي آریایي ټولني خدمت به کوي، چي د یو کل په توګه یې د ځان دپاره دا نقش ساتی، چي آزاد انسان دی او د هغو غیرآریایي کسانو بادار دی، چي په جګړه کي او یا په بله طریقه به لاس ته راغلي وه. دی کېدلای سوای، چي خرڅ سي، په کرایه ور کول سي یا ووژل سي. سره له هغه چي د «پیدایښت» په طرحه کي ده ته د نورو په شان یو حیوان، لکه آس غوندي چي د جګړې ډېر عالي حیوان وو، ټاکل سوی وو. خو دا خبره یوازي دا مفهوم لري، چي په لومړي سر کي «سودرا» مریی دغسي د آس په شان د جګړې له سالاره سره ارتباط درلودی، چي هغه د کمون یعني د «کشترایي» «ورنې» مشر وو او بیا په وروسته کي همدا مریی د «ګنې» هغو غړو ته په وېش کي ور کول کېدی یا پر خرڅېدی، چي کار ته یې ګمارلی سوای.

غلامي په خپل پخواني انکشاف کي د بابامشرۍ تر شکل لاندي جریان لري، چي د کهولي جمعیت سره تړلی دی او هلته مریان د بابایي کهول د نرو، ښځو، زامنو او لوڼو سره یو ځای د «ګریهاپتي» تر نګرانۍ لاندي کار کوي. خو د

مبادلې له انکشافه سره چې کله د مبادلې او سوداګرۍ دپاره تولید ډېرښت کوي، نو مریان شاقه کارو ته ګمارل کیږي او په ډلو ډلو تنظیم کیږي، چې په لاسي صنایعو، کښتونو، کانونو او نورو ځایونو کي په کار واچول سي. غلامي د بابامشرۍ شکل بایلي او د مریي دپاره سخت ظلم او د بادار دپاره د سراښۍ او د ثروت د را غونډېدو وسیله ځني جوړیږي.
د ریګ‌ویدا په وختو کي غلامۍ تر اوسه لا دغه تجارتي شکل نه وو اخیستی، اما ژر هغه شکل ته ورسېده. د ریګ‌ویدا لیکنکی دغسي ستري اختراع ته ډېر خوشاله وو. هغه ستره خوښي او خوشالي چې د مریي‌لرلو په سبب بادار ښرګندوله، په ډېر وضاحت خورا زیاته په سندرو کي ویل سوې ده، چې دا سندري اوس د هندوانو د ډېر مقدس خدای ور کړي ویدي میراث یوه برخه تشکیلوي. یوازنۍ مطالبه چې مریانو په دې نوې مؤسسه کي له خدایي احسانه څخه کولای سوای، دا وه، چې په داسي حال کي چې پخوا د جګړې بندي د «پوروشامیدها» اور ته اچول کېدی، چې مړ سي، خو اوس د ده ژوند وژغورل سو او له دې وروسته نو دی کولای سي، چې د «دویجا - Dwija» آریایانو د استثمار په تدریجي اور کي وسوځي او یو الهام تهیه کړي، چې د «پورو شاسوکتا» سرود وربغوي. له آزادۍ څخه تر مغلوبېدو او «سودرایي» غلامۍ پوري، له یو مخیزه نابودۍ څخه تر استثمار پوري، آیا دا په هغه مرحله کي د اجتماعي تکامل خوا ته یو وړاندي ګام نه وو؟ مریي ژوند پیدا کړی، آریایي خپل ثروت پیدا کړی او پر دې اساس باندي دواړو وکړای سوه، چې نور لا هم د یوه ډېر ښه ژوند دپاره د ډېرېدونکو تولیدي قواوو د انکشاف په وسیله، چې اوس یې یوازي د غلامۍ په وسیله رشد کولای سوای، مخ په وړاندي حرکت وکړي. خو البته آریایي فاتح دغه راز استدلال نه کاوه. ستر «برهمان» سودرا

پرته له مرئيتوبه، يعني د هغو نورو درو «ورڼه‌ګانو» او آزادو آريايانو له «دسيا - Dasya» څخه پرته، د بل شي دپاره نه دي پيدا کړي. دی وايي: برهمان چي دغه کار وکړ، نو نېکمرغي يې په برخه سوه او رشد يې وکړ. خو نور نو دا هغه پخوانی خوشاله «برهمان» نه وو.

دا چي غلامي يې وزېږوله، درې ورڼه‌ګاني او سودرا يې را پيدا کړه، طبقاتي درز او په نتيجه کي يې د «دواپار» د عصر طبقاتي شخړي منځ ته را وستې، دا د ستر لرغوني «برهمان» او لومړني «يجنا پوروشا» آخرين عمل وو، چي سر ته يې ورساوه. کله چي د اور او څارويو کشف مړه‌کېدونکي «برهمان – پراجاپتي» ته نوی ژوند ور کړ، نو يې په يجنا کي وده وکړه. اوس د کرهني، لاسي صنايعو، مبادلې، خصوصي ملکيت او «ورڼه‌ګانو» را پيدا کېدو يوه سلسله پېښي، لويي طبقاتي جګړې منځ ته راوړې او هغه طبقاتي دولت يې وزېږاوه، چي «برهمان» يې د تل دپاره وواژه. «مهابهاراتا» په زياتو الفاظو کي وير کوي، چي «برهمان» هلاک سو «برهما ناناش ها – Brahma nanash ha». راسئ اوس وګورو، چي دغه څه‌رنګه پېښه سوه.

## نهم فصل

## ورانېدونکی کمون فریادونه کوي او د منځ ته راتلونکي خصوصي ملکيت په مقابل کي جنګیږي!

«ورنهګانو» ته د کار ټولنيز تقسيم يو ضرورت وو، چي د پيداوارو، توليد او وظايفو له زياتېدونکي تنوع څخه منځ ته راتلی. کله چي ټولنه لا تر اوسه د مبادلې دپاره، د ګټي دپاره او د تجارتي مالونو د ارزانی دپاره د توليد په لېونی مسابقه کي نه وه لوېدلې، نو ټولنيز تقسيم صرف له توليده سره په دې برخه کي مرسته کوله، چي د پيداوارو جنسيت او استعمالي ارزښت لوړ سي. «د توليد د اجتماعي څانګو د بېلېدو په نتيجه کي، مبادلوي مالونه د جنسيت له مخي ښه جوړيږي او د انسانانو مختلف ميلانات او استعدادونه يوه مناسبه څانګه غوره کوي او بې‌له يو ډول محدوديته نور نو هيڅ راز مهم نتايج له دې څخه چيري لاس ته راوړه‌کېدای نه سي؛ ځکه نو هم پيداوار او هم مولد دواړه د کار د تقسيم په وسيله اصلاح کيږي.»[٦٥] په پخوانی ويدي ټولنه کي او په وروستني فرقوي سيستم کي تر هغه وخته چي فرقې له حرفې سره مطابقت کاوه، دغه راز جريان د «ورنه‌يي» سيستم د ثبات بنسټ وو.

خو د کار دغسي يو اجتماعي تقسيم داسي يوه ټولنه ايجابوله، چي د توليد پر هغه راز بيرته‌پاته افزارونو، کرهني او لاسي صنايعو باندي را بناء وي، لکه څنګه چي د منځنيو پېړيو او لرغوني زمانې په هند کي موږ وليدله. خو څه‌رنګه چي اوس په افزارو کي يو انقلابي تغير راغلی دی او په اوسنيو افزارو تبديل سوي

٦٥ د مارکس کاپيټال، لومړی ټوک، ٣٦٥ مخ

دي، نو هغه پخوان ډول سازمان خپل اعتبار او ضرورت له لاسه ور کوي او ړنگيږي.

په هر صورت؛ د ورڼه‌گانو تقسيم ضرورت نه لري، چي شخړي او طبقاتي جگړې يا «ورڼه‌يي» جگړې ته منجر سي. که مرئيتوب او خصوصي ملکيت لرغوني کموني اقتصاد ته نه واى راغلي او طبقات يې نه واى را پيدا کړي، نو به د چا منافعو يو د بل سره دښمني درلوداى؟

دا بالکل يوه نوې پديده ده او د هغه کمون تخيل متزلزل کوي، چي غالب اکثريت يې خواران دي. قبيلوي يا «گنيوالي» ډموکراسۍ «ورڼه‌گانو» ته اجازه ور کړه، چي د فعاليت خپلو ساحو او د هغو فعاليتو محصولاتو ته انکشاف ور کړي. «ورڼه-دهرماگانو» دا طرحي وضع کړې، چي هر څوک بايد څه راز سلوک وکړي، څو چي په دې وسيله ټولو ته گټه ورسيږي او ټوله خوشاله سي. د «کريتا- تريتا» په پخواني عصر کي د «يجنا» د ټوله فعاليت محصولاتو، چي هلته «ورڼه‌گانو» ته لا ضرورت نه وو پيښ سوی، په ټولو اړه درلوده او مسکنت يا توليد ټولو ته د «هوانا» په وسيله يو برابر رسېدی. مشترک فعاليتونه، چي تنوع يې زياتېده، اوس نو ورڼه‌گانو ته وويشل سوه او همدا رنگه يې محصولات توزيع سوه. خو د دې پر ځای چي هر يو په خوارۍ (کار) او ثروتونو کي برابره ونډه واخلي، دا جريان منځ ته راغی، چي ځينو يوازي ټوله ثروتونه اخيسته او نورو ته بيا يوازي ټوله خواري په برخه ور رسېده.

هغه څوک يعني برهمنيان چي د يجنا د توليد د اداره کولو دپاره غوره سوي وه، اوس نو د ټولنيز اقتصاد مشران گرځېدلي وه او له هغه قدرته څخه يې کار اخيستی، چي د رهبرۍ او تخنيک د پوهني په نتيجه کي يې لاس ته راوړی. د يجنا توليد چي پخوا ټولو ونډه پکښې درلوده، اوس يوازي د دوی شتمني

وګرځېده. د کشترا مشران چې دې ته را ټاکل سوي وه، چې لارښوونه وکړي او جګړې سر ته ورسوي، همدغه راز کارونه یې کوله. یوازې ستري «ویشا» پرګنې په هغې خوارۍ او شاقه کار کې ونډه اخیسته، چې د «سوداګانو» له خوا ګډون پکښې کېدی. ډله‌ییز ملکیت و انفرادي ملکیت (انفرادي تصاحب) او بډائیتوب ته غړومبېدی. د یجنا په کمون کې هیڅ څوک په دې خبره نه پوهېدی، چې ځیني دي ډوډۍ حاصلوي، خو نور دي لوږه ګالي. هغه وخت په لرغوني مقدس کمون کې د دې نوي ناوړه شي دپاره، چې طلا- پیسې (هیرانا) نومیږي، تلاښ نه کېدی. پخواني «اندرا» په خپل وخت کې په ډېرو او هډوکو جنګ کاوه. غواوې یې لاس ته راوړې وې او کښتونه یې درلوده، چې هلته ګلې وڅړې او اوبه یې کړي. ده مشروبات چښل او غړومبېدی. خو په هغو ورځو کې دوی ثروت په دې توګه نه کوټه‌کاوه، چې د ځان یې دی او یوازې په دوی اړه لري. په هغو تېرو زمانو کې دوی یوه وړه «ګنی» جوړوله، چې د «اشماوراجا» یو وړوکی ټاټوبی وو او په هغه کې ټوله پر مشترک اور ګرده‌آورده کښېنستله او د کمون ادې (مور) مړوله، یو ځای یې سندري ویلې او که څه هم خواران وه، خو ژوند یې په خوشالۍ تېرېدی.

اوس شاعر په ریګویدا کې ویر کوي:

«آیا لوږه د انسان دپاره د خدای له خوا یوازنۍ جزاء ده؟ که خدای غوښته، چې خوار باید له لوږي څخه مړ سي، نو بیا ولې بډای همېشنی ژوند نه لري؟ د شتمن ناپوه په لاس کې د غذا را غونډېده د نورو دپاره هیڅ ګټه نه لري، دی یې یوازې په خپله خوري، خپل ملګرې نه مړوي او بد پر ویل کیږي.»[٦٦]

٦٦ ریګویدا: x، ١١٧.

د مبادلې، د بازار، د خصوصي کار او خصوصي تصاحب ظهور، اوس نو دا نوې پديده را پيدا کړې ده، چې انسانان بايد په پيسو، په شغل، د خپلو شيانو او د خپل کار د قوې په خريدار پسي وځغلي.

ويدي ليکوال نو بيا شکايت کوي:

«موږ بېلابېل کارونه، بېلابيلي آرزوګاني او بېلابېل فکرونه لرو. نجار د آرې د ګرهاري، طبيب د مريض د نارو او «برهمن» د يو عبادت‌کوونکي آرزو لري. کسبګر له خپل لرګي، بنۍ، سندان او د اور د کورې سره د بډای سړي انتظار باسي. زه يو سندرغاړی يم، زما پلار يو طبيب دی. زما مور د غلې په دنګ کې کار کوي. موږ هغسي په پيسو پسي ځغلو، لکه ګوروان چې په غواوو پسي ځغلي.»[٦٧]

د ريګويدا وروستنی «مندلاس - Mandalas» د پوروړي قمارباز، د مريانو، د يوه او بل انسان تر منځ د حسادت او نفرت په باره کي ږغيږي.

دا د هغه وخت تصوير دی، چې د مبادلوي مالونو توليد د کمون يا د «ګنې» په ټولنه کي نفوذ وکړ او د هغه ډله‌ييز ژوند يې له منځه يووړ. پخوا چې به کله مولد د مصرف دپاره توليد کاوه، نو ده پر پيداوارو باندي کنټرول درلودی. ټولې پر خپل توليد او محصولاتو باندي کنټرول درلودی. دوی په دې پوهېده، چې په پيداوارو يې څه کيږي. دوی هغه په مصرف رسول. دغه جريان نو د پيداوارو لاسونه دې ته نه ايله کول، چې په دوی باندي لوبي وکړي.

خو د اموالو له توليد او مبادلې سره محصولات له يوه لاسه بل ته ځي. مولد خپل محصولات په مبادله کي له لاسه ور کوي او په سرنوشت يې نه پوهيږي،

---

٦٧ ريګويدا: x، ١١٢- ١- ٣.

چې څه په کیږي. په دغه پروسه کې نو یو نوی عنصر یعني پیسې او نوې طبقه یعني سوداګران، یوه نوې قوه یعني نامعلوم بازار منځ ته را ځي.
له مولد او د ده له پیداوارو څخه د بازار، پیسو، تقاضا او چانس موضوع جوړیږي. د مولد د کار ثمرات د ده له خوا څخه د پیداوارو د مستقیم مصرف له مخې نه ټاکل کیږي، بلکې په «قسمت» اړه لري. نوې بېګانه قدرتونه، چې نه لیدل کیږي، نه پېژندل کیږي او نه کنټرولیږي، د ده ژوند او د ده د کار قوه ناڅاپه ټینګوي، که څه هم د ده قوه غښتلې او ژوندۍ وي، خو ښايي دی موړ کړي او یا یې موړ نه کړي. په دې ترتیب نو د بډای او خوار په منځ کې د استثماروونکو او استثمار سوو د نوو طبقاتو په منځ کې شخړې را پیدا کیږي.[٦٨]
هغه شخړې چې پخوا د «یجنا» کمون په خوب نه وې لیدلې، د ګنې د ټولنې په بطن کې رشد ته رسیږي او په شدیده توګه انفجار کوي. په اقتصادي لحاظ د حاکمې طبقې دوې ډېرې غښتلې ډلې په دې منظور دغو شدیدو شخړو ته ځان را اچوي، چې استثمار سوی ثروت تر کنټرول لاندې وساتي. د «برهمن» او «کشتریا» «ورنه‌ګانې» د هغه ثروت په تصاحب کولو کې، چې د پراخې «ویشا» دهقاني پرګنې او «سوداګانو» له خوا تولید سوي وې، یو د بل سره تصادم ته را ځي. په داسې حال کې چې د استثمار د یوازنې قدرت د لاس ته راوړلو دپاره خپل په منځ کې جنګیږي، خو دواړه د هغې ستري «ویشایي» پرګنې سره په مقابله کې لاسونه یو کوي، چې اوس لا هم د کمون د پخوانې زاړه موجودیت، د هغه د «دهرما»، د اخلاقو او اخلاقي اصولو، د هغه د اقتصاد

٦٨ او بیا نو د لومړي ځل دپاره د «کرما - Karma» فلسفي مسایل او له کرما څخه د آزادۍ د حاصلولو؛ یعني د «موکشا – Moksha» موضوع په هندو ټولنه کې را پیدا کیږي. ویدي کمون هیڅکله دغه راز یو پرابلم نه دی.

او سازمان د بقاء دپاره جنګېدو ته ادامه ور کوي. ډله‌ييز ژوند، چي د جامعې په خاطر اوس پر مشترکه مځکه او د مځکي پر مشترکه کرهڼه را بنا دی، دا نه قبلوي، چي خصوصي ملکيت ته بې‌له يوه جنګه تسليم سي، هغه «برهمان» چي تر اوسه لا نه دی تجزيه سوی، دا نه قبلوي، چي د حاکمي «ورڼه‌يي» طبقې ځانګړو خصوصي منافعو ته تسليم سي. خونړۍ مبارزې منځ ته را ځي، چي د ويدي او حماسي رواياتو له شهادت سره سم زيات شمېر کلونه يې ادامه پيدا کړه.

استثماري طبقات داسي ښکاري، چي د رشد په پخوانيو وختو کي يې لومړنۍ مبارزې بايللي دي. د دغه جريان خاطره معلوميږي، چي موږ ته د «کريشنا ياجورويدا» د «تايت‌تيري‌يا ارانياکا» (۱۰۵) په هغه «اګهايي‌کا» کي خوندي ساتل سوې ده، چي د «ويشنو - Vishnu» او «ديواګانو - Devas» تر منځ د جګړې په توګه پېژندل کيږي. دغه جريان چي له اساطيري او سري يا له بربري پوښونو څخه را وايستل سي، نو موږ ته د متخاصمو طبقاتو د مبارزې په باب په دې لاندي طريقه بيان کوي.

په لرغونو زمانو کي خدايانو يوه «سترا» شروع کړه، چي هغه لکه څنګه چي موږ وليده، د «يجنا» د طرز په اساس ډله‌ييز توليد دی. دوی د هغې تر پيل کېدو دمخه خپل تر منځو موافقه وکړه، چي د «سترا» هر راز توليد سوي محصولات به په ټولو اړه لري او هر چا ته به په هغو کي برابره ونډه ور رسيږي. (دا موافقه تر څو چي هغه د «سترا» په توګه موجوده وي، د ايجاب له مخي ور سره ملګرې ده، خو د وروستني عصر تاريخ‌ساتونکي غواړي، په دې باب کي ډېر صراحت ولري او دا صراحت البته د تاريخ دپاره ډېر په ګټه دی!) د خدايانو شمېر چي

په دې کې يې برخه اخيسته، دونه غټ وو او د «يجنا» اور دونه لوی وو، چې يوه لويه سيمه يې اشغالوله. «کوروکشيترا - Kurukshetra» «ويدي» جوړه کړه. د «ويدي» جنوب ته د «کهنداوا - Khandava» ملک وو. د «ويدي» د لوېديځ له کرښي سره «پارينات - Parinat» نښتې وه (چې هغه د ځړ ډېره ښه مځکه وه او زيات انکشاف يې کړی وو. د شمال خوا ته يې د «ټوغرا - Tughra» ساحه وه (يعني د «توروشکا - Turushka» يا «توروواشا - Turvasha» د ګنیګانو مځکه وه)، له بېاوبو «مارو - Maru» = «ماروار - Marwar» څخه داسي ځای جوړ سوی وو، چې د «سترا» د کثافاتو د غونډی کار ور کړي. په «سترا» کي لکه څنګه چې موږ پوهيږو، هر برخهوال يو «ريتويجا» دی او هر څوک «ګريهاپتي- ياجامنو» يا د کهول ښتن دی). ځکه نو هر يو د کار او ساتيري يو برابر حقوق لري. خو ټوله برخهوال يو «ګريهاپتي» له خپلو منځو څخه د يوه اداره‌کوونکي صلاحت په توګه را انتخابوي. د خدايانو په سترا کي «ويشنو» د «ګريهاپتي» په توګه را وټاکل سو او «سترا» پيل سوه. که څه هم دا يوه عمومي چاره وه، اما دا خبره خپره سوه، چې «سترا» د ويشنو له خوا اجراء کيږي او هغه ټوله شيان چې «سترا» څخه په لاس را ځي، يعني «کار تريتوا - Kartritva» په ځان پوري يې اختصاصوي. دی مغرور سو او ژر د خدايانو يو ښکاره دښمن وګرځېدی. نو له دې جهته خدايانو پر «ويشنو» باندي حمله وکړه، چې د عوايدو خپله ونډه په زور له ده څخه واخلي. خو لکه څنګه چې د «يجنا» د کار قانون وو، «ويشنو» يو مقدس مشر وو او يوازي ده وسلې؛ يعني لېندی او غشي درلوده، په داسي حال کي چې نور خدايان بېوسلې وه. بېوسلې خدايانو چې ويشنو مسلح وليدی، نو ځني وتښتېده. ويشنو د دې بري په سبب بېپروا سو او دا يې هېره کړه، چې د دفاع دپاره نور اقدامات وکړي. د ده

مسلحانه بيداري کمه سوه او نو ځکه همدا رنګه يې پخوانۍ «يجنا تيج – Yajna-Tej» يعني د جنګېدلو او نيولو قدرت له لاسه ور کړی. کله چې «يجنا تيج» له ويشنو څخه ولاړی، نو خدايانو هغه ونيوی او د «شيامات - Shyamat» په وښو کي يې ښخ کړ. خدايانو وليده، چې ځبل سوی ويشنو خپله لېندۍ پر مځکه ودروله او زنه يې د لېندۍ پر بېخ باندي تکيه کړه. خدايانو چې دغه عمل وليدی، نو يې د سپينو مېږيانو مرستي ته بلنه ور کړه او ورته و يې ويل، چې د ويشنو د لېندۍ په تناو کي سوری جوړ کړئ. کله چې هغه تناو وشکېدی، لېندۍ ماته سوه او د «ويشنو» سر په هوا سو. د «يجنا پوروشا – Yajna Purusha» يعني ويشنو بدن نو بيا د درو خدايانو؛ «اګني»، «اندرا» او «ويشوادېرا - Vishwadeva» تر منځ وويشل سو. خو څه‌رنګه چې هغه سر نه درلودی، نو ځکه د «يجنا» ثمراتو تحقق نه سوای پيدا کولای، څو چې خدايانو «اشوينانو - Ashwins» يعني الهي طبيبانو ته بلنه ور کړه، چې هغو ته د ونډې د ور کولو د وعدې په اساس يې پر دې تن باندي سر کښېښووی، څو چې «يجنا» يې پر ثمر باندي را وستله.

د داخلي جګړې بيان چې البته په آريايي ټولنه کي د ډېري پخوانۍ طبقاتي مبارزې بيان دی، په دې اندازه وضاحت لري، چې کوم تفصيل ته يې ضرورت نه ليدل کيږي. په کموني توليد او توزيع کي برابري له منځه ولاړه او ړنګه سوه. نابرابري، د بډای او خوار تر منځ مبارزه، د کمون- چې په قصه کي «يجنا پوروشا» راغلی دی- تجزيه هغو درو «ورڼه‌ګانو» ته، چې درې خدايان لري، يعني «اګني» د برهما دپاره، «اندرا» د کشترا دپاره» او «ويشو ديوا» د ويشا دپاره؛ او د نوي مسلح سر، يعني دولت په برکت، د نوي قانون تائيد، دا ټوله هغه جريانونه وه، چې د منځ ته راتلو دپاره يې هلي ځلي کولې. ټولنه هغه چا ته،

چې تولید یې کاوه او هغه چا ته، چې د مولدینو مازاد یې تصاحب کاوه، یعنې استثماروونکو او استثمار سوو ته تجزیه سوې وه. تر استثمار لاندې خواران مجبوره وه، چې یا د خپلې پخوانۍ «سترا» حقوق، یعنې خپل ډلهییز ژوند د استثماروونکو واکمنۍ ته ور پرېږدي یا وجنګیږي. دا نو د دې خبرې تصدیق وو، چې دغه ټولنه نه رغېدونکو تخاصماتو ته وېشل سوې وه. دا هغه روښانه قصه ده، چې د «تایتتیرییا ارانیکا» د مؤلف له خوا څخه موږ ته بیان سوې ده. که څه هم د خپل داخلي جنګ په لومړي ځل کې «ویشنو» چې د ډلهییزې ادارې له خوا د کمون په مشرۍ ټاکل سوی وو، په خپل دې مقصد کې ناکامه سو، چې د مشترک کار عواید په ځان یا په خپله طبقه پورې اختصاص کړي او د ده په مقابل کې د «سترا» قانون برى وګاټه، خو بیا هم موږ ته دغه جریانات دا خبره را ښیي، چې څهرنګه نوی طبقاتي قدرت او د هغه مسلح دولت، د اختناق او د حاکمې طبقې له خوا پر استثمار سوي خواريکښ باندې د قوې د اورګان په توګه منځ ته راتلی. بربرې مؤلف له موږ څخه غواړي، دا عقیده ولرو، چې دا ټوله خدايي کارونه او د هغه حکمونه وه. سره له دې دا مؤلف د مبارزې هغې دورې ته ډېر ور نژدې وو، چې نه یې سوای کولای، د اقتصادي طبقاتي تخاصم هغه رسوا حقایق پټ کړای سي، چې د «سترا» په کار او د هغې په کمون کې اوس خپاره سوي وه.

د یوې واحدې «ګنۍ» په دننه کې کورنۍ جګړو، د خپلو قومیانو په منځ کې جګړو، د یوه او بل ورور تر منځ جګړو، د کمون په لرغونې زمانه کې وجود نه درلودی. یوې قبیلې له بلې سره جګړه کوله. د «ادیتي» زامن د «دیتي - Deti» له زامنو سره وجنګېده او د «ویناتا - Vinata» زامن د «کادرو - Kadru» له هغې سره وجنګېده او داسې نور. خو دا چا اورېدلې وه، چې د «ادیتي» زامن به په

خپلو منځو کي سره جنګيږي او خپل ځاني قوميان به نابودوي او يا به يې تر اسارت لاندي راولي؟ آيا د «واسو» «ګنی ګانو» د خپلي ګډي ويني د «واسوګانو» يعني د خپلي «ګنی ګوترا» او د خپل يجنايي کمون له قومي قريبانو سره جنګ کاوه؟ نه، هيڅ کله داسي نه وه. دغه ډول داخلي جګړو، طبقاتي جګړو، ورڼه يي جګړو د يجنا په لرغوني ابتدايي کمون کي ځای نه درلودی، ځکه خصوصي ملکيت او استثمار په هغو «ګنی ګانو» کي نه وو را پيدا سوی. کله چي هغه را پيدا سو، نو روانو قبيلو جګړو ته داخلي جګړه هم ور زياته سوه. قبيلو له نورو قبيلو سره جنګ کاوه، چي مريان، څاروي او نور ثروتونه لاس ته راوړي او بيا د خپلي «ورڼې = طبقې» سره داخلي جنګ کاوه، چي دغه ثروت د خپل خصوصي بډائيتوب دپاره را غونډ کړي او خپل ځاني زيارکښه قوميان تر اسارت لاندي راولي. لکه څه رنګه چي «ويشنو پورانا» وايي، خدای مختلفي «ورڼه ګاني» له خپلو مختلفو ښو او بدو صفاتو «سات توا راجاتاما – Sattva-Raja Tama» سره پيدا کړې، خو په لومړي سر کي دوی آرامي وې او ټولي «ورڼه ګاني» خوشاله وې. خو د وخت د تېرېدو په جريان کي «خواهشاتو» واخيستی. دوی ښارونه او کلاوي جوړي کړې، په جګړه اخته سوې او خوشالي يې ولاړه. په «مهابهاراتا» کي له «بهيشما» څخه دا پوښتنه وسوه، چي څه رنګه پاچهي دولت او کورنی جنګ منځ ته راغی؟ دی په داسي حال کي چي دا خبره کوي، چي په لومړي سر کي نه کورنی جګړې، نه پاچا او نه دولت موجوديت درلودی. د پخواني کمون زوال دې ته منسوبوي، چي نوي ميلانات او غوښتني د کمون د غړو په منځ کي را پيدا سوې. د «موها - Moha» يعني د زړه وړلو يا د شيانو د لرلو دپاره د تخيلي هوس کولو له خوا څخه دوی مغلوب سوه او هغه قدرت يې بايلوی، چي هر څه ورته بې توپيره

وه. دوی سراښې واخیسته، له سراښي سره یې دې ته شروع وکړه، چې د هغو شیانو د لاس‌ته راوړلو په فکر کې سي، چې نه یې درلوده. د نوو خواهشاتو په منګولو کې قهر، غضب او نفرت را پیدا سو. دوی د وینې اړیکی او د وینې دنده هېره کړه او هغه کارونه یې وکړه، چې باید نه یې وای کړي او خپله «دهرما» یې له لاسه ور کړه، خپل تر منځو سره وجنګېده او په دې ډول «برهمان» برباد سو. د هغو فسادونو د یرغل سلسله، چې د علت په توګه کورنۍ جګړې او نوی دولت را پیدا کوي او د «کریتا-تریتا» د عصر پخوانۍ خوشاله او آرامه «دهرما» زوال ته رسوي، تقریباً د هندویې متونو په هره رساله کې یې مکرر بیان راغلی دی.

خو دوی موږ ته دا نه بیانوي، چې ولې هغه وخت چې د «دیتي»، «ادیتي» زامنو، خښمېدلي جنګ ته ببر، غړومبېدونکي «اندرا» او نورو د خپلو دښمنانو سره جګړه کوله او ځاروي او ثروتونه یې ګټله. پر دوی باندې د فسادونو د دغې سلسلې یرغل نه راتلی او نه داسې د نوو شیانو دپاره د زړه‌وړونکې هوس، خواهشاتو او سراښۍ هوا ور ولاړېده، چې د خپلو ځاني قومیانو په مقابل کې د هغو د ځان کولو دپاره کورنۍ جګړې ته لاس واچوي؟ بېچاره بربري لیکوالان باید موږ ته د دې علت و نه وایي، دوی فقط دا وایي، چې هغه نور ښه کارونه وه، په داسې حال کې چې یوازې دغه شیان بد وه. خو دا دوی نه وه، چې په بدو متصف کېده، بلکې لکه دغه فسادونه چې له دوی څخه بېل ژوندي موجودات وي او هغه لاس او پښې پیدا کوي او را ځي دوی په خپل تصرف کې اخلي. دې بېچاره انسانانو چې یو وخت یې، سره له هغه چې ډېر بیرته پاته او خوارۍځبلي وه، خپل ژوند په خوشالۍ تېراوه، خو اوس یې دې ته شروع وکړه، چې یو او بل سره ووژني، خپل ځاني قومیان او نور تر مرئیتوب

لاندي راولي او ثروت را غونډ کړي. واقعي علت لکه دمخه چي مو مشاهده کړ، د تولیدي قواوو په هغه انقلاب کي پروت دی، چي په ابتدایي ټولیو کي منځ ته راغی. نوو تولیدي قواوو نوي تولیدي روابط را پیدا کړه، دغه فسادونه چي د «مهابهاراتا»، «پوراناگانو» او نورو له خوا څخه توضیح سوي دي، شا ته یې موږ د نوي تولیدي ظرفیت، د مالونو د مبادلې، د هغو شیانو د خرڅلاو، چي ته یې نه استعمالوې او د هغو شیانو د استحصال چي ته یې نه لرې او یا یې نه سې تولیدولای، قواوي مشاهده کوو. موږ خصوصي ملکیت او زېرمه‌کېده وینو، چي سرابښي، خودپرستي او نور تمایلات زېږوي او د دې سبب کیږي، چي د اجتماعي کار د عوایدو د تصاحب دپاره له قوې څخه استفاده وسي او نور لا هم د ځان دپاره د ثروت د را غونډولو او زېرمه کولو لېوني غوښتنه ډېره تشدید کړي. دغه لالهانده خو متحد کمون ماتیږي او کرهښي، لاسي صنایعو، وړو ښارگوټو او ښارونو ته پاشل کیږي او د نوو احساساتو، فسادونو او فضایلو په نوي عصر پیل کوي او د نوو حاکمانو او محکومانو، د استثماروونکو او استثمار سوو، یوې نوي نړۍ ته را کښېوزي. **کله چي بیا خصوصي ملکیت ختم سي، نو دا پلا به د پخوا د خوارۍ پر ابتدایي اساس لاندي نه، بلکي د پرېمانۍ پر اساس باندي به انسان د راتلونکي نوي نړۍ‌وال کمونیزم تر نظام لاندي له دغو فسادونو، له خپلو داخلي جنگونو او بالآخره له ټولو جگړو څخه خلاص سي.**

دمخه تر هغه چي د دغه طبقاتي جنگ د انکشاف موضوع ته ادامه ور کړو، باید دا وگورو، چي د تولیدي قواوو له رشد او د خصوصي ملکیت او مرئیتوب له ظهوره سره نور څه حیاتي تغیرات په کمون کي راغله. نوو ملکیتي روابطو په هره ممکنه طریقه د کمون سازمان تر اغېزې لاندي را وستی. خصوصي ملکیت

د قومیت او شخصي تعلق پخوانی سازمان وران کړ. هغه د کمون «ادې‌مشري» او کموني کورنۍ، چې آخره پلا مورڼ ولیده، چې پر جوړه‌يي کورنۍ باندې را بناء وه، له منځه واخیسته. هغه دا ممانعت، چې غیرقومیان د کمون حوزې ته نه سي ور شاملېدلای، له رواجه يې واچاوه. هغه د بابا خصوصي کهول، پلارنی حق، د شتمنۍ میراث، وراثت، ارثي انتقال او پر هغه باندې را بناء سوي ټوله نتایج را بناء کړه. د «گنۍ‌گوترا» وحدت د نوو خصوصي کورنیو او طبقاتو په شخړو کې منحل سو. د بېگانه مریانو له راتلو سره، ښځو همدا رنگه خپله آزادي بایلوله او ژر هغه ویاړلې، آزاده آریایي «ویشا» همدا رنگه په قید کې ولوېده او په بازار کې تر خرڅلاو لاندې راغله.

## لسم فصل

## د ښځې غلامي او د «ادېمشرۍ» زوال

«رمو او د ثروت نورو شيانو په کورنۍ کې يو انقلاب منځ ته را وستی. د روزۍ برابرېده هر کله د نر کار وو او نو ځکه د دې کار د پوراينې دپاره يې وسايل جوړوله او هم د دې وسايلو مالک ګڼل کېدی. رمې او ګلې د روزۍ د سرښتې نوې وسيلې وې او د دوی وار د واره اهلي کېده او بيا ور پسې پالنه يې د ده کار وو. په دې اساس نو نر د څارويو او همدا رنګه د هغو مالونو او مريانو مالک وو، چې د څارويو په مبادله کې يې لاس ته راوړه. د محصولاتو ټوله هغه اضافي برخه چې اوس له توليده څخه زياتېده، په نر يې اړه پيدا کوله. خو ښځې د توليداتو په مصرف کې ونډه اخيسته، اما د هغو په مالکيت کې يې ونډه نه درلوده. وحشي جګړهمار او ښکاري په دې سر کښته کړی وو، چې په کور کې دوهم مقام ولري او اوليت ښځې ته ور کړي. خو اهلي شپانه د خپل ثروت په جسارت لومړي مقام ته زور واهه او ښځه يې مجبوره کړه، چې دوهم مقام ته را تر شا سي. ښځې شکايت نه سوای کولای، ځکه په کورنۍ کې د کار تقسيم د مېړه او مايني تر منځ جايداد په منظم ډول سره وېشلی وو. د کار دغه تقسيم په کور کې پر خپل پخواني حال پاته وو، خو څهرنګه چې اوس تر کورنۍ دباندې د کار تقسيم تغير خوړلی وو، نو د کورنۍ پخوانۍ رابطه يې سرچپه را واړوله. کټ مټ هغه علت، چې دمخه يې ښځې ته په کور کې فوقيت ور کړی وو[٦٩]، يعني هغه عامل، چې په دې پوري خاص کورني کار اړه درلوده، اوس يې د نر دپاره فوقيت تامين کړ: د ښځې د کور کار د نر د روزۍ د برابرولو د

٦٩ دا د سترايي کار کموني کور وو، چې په هغه کې «اديتې» يعني ښځې يا مشرې مور تفوق درلودی.

کار په مقابل کي خپل اهميت بايلووی. د نر د روزی د برابرولو کار خورا غټ کار وګڼل سو او د ښځي د کور کار خوشي يو بېاهميته شی تلقي سو...
په کور کي چي د نر واقعي سلطه قايمه سوه، نو د ده د «اټوکراسی» په مخ کي آخري خنډ هم له منځه ووتی. دا اټوکراسي د مورني حق په زوال د پلارني حق په را وتلو او له جوړهيي کورنی څخه مونوګامی ته د تدريجي انتقال په سبب ټينګه سوه او دوام يې پيدا کړ. دې جريان نو په زاړه بهيري نظام کي درز وکړ: مونوګامي کورنی يو قوت وګرځېده او په تهديدوونکي ډول د بهير په مقابل کي منځ ته راغله.»[۷۰]
تر هغه ځايه چي ما ته را معلومېدلای سي، د مورني حق ايستهکېده او د بابامشری ظهور په روښانه توګه په ويدي ادبياتو کي موږ ته نه دي بيان سوي.
خو دا انتقال په آسانی سره د کورنی په انکشاف کي ليدل کېدلای سي. په لومړی وهله کي خو د «ورڼهګانو»، مبادلې او خصوصي ملکيت له رشده سره موږ وينو، چي نر «پراجاپتيګان» او «ګريهاپتيګان» له داخلي جګړو او قبيلوي جګړو سره د تاريخ مخ ته را ځي. د «اديتي او «ديتي» د زامنو او نورو په نامه «ګنیوالي» جګړې په تاريخ کي غائيبيږي. دوهم دا چي په ګوترا «اپاتيانو - apatya» کي د پلرو ځای زامنو ته پاتيږي، هغه زامن چي د مېندو په نامه پېژندل کيږي، چنداني نه موندل کيږي، که څه هم دغه راز نومونه په تاريخ کي تر يوې اوږدې زمانې پوري ژوندي پاتيږي او حتی تر دې اوسو تازه وختو پوري لا په جنوبي هند کي پاته دي.
دريم دا چي څهرنګه چي خصوصي ملکيت او بابامشری د «ګنیګانو» له رشده سره انکشاف کوي او په غټو شمېرونو پر پراخو ساحو باندي سره تيت کيږي،

---

۷۰ د کورنی، خصوصي ملکيت او دولت منشاء.

نو د مشترک مورني نسب عمومي رابطه یې په اجتماعي ژوند کي ژر خپل اعتبار بایلي او ځای یې د بابامشرۍ «پراواراګاني» نیسي. د ډله‌ییز ژوند او جمعیتي-ګوترایي ازدواج له خاتمې سره انفرادي کورنۍ د مونوګامۍ په اساس د خپل ځان‌ته ملکیت، اولادونو او میراث ادعاء منځ ته راوړي. قومیت پاشل کیږي او له یاده څخه وځي. د قومیانو سره څنګ پر څنګ په «ګنۍګوترا» کي غیرقومیان را ځي، چي هغوی له نوو مریانو، نوو هغو کسانو چي د شیانو سوداګري کوي او داسي نورو څخه جوړیږي. د جګړو له ډېرېدو سره «ګنۍګاني» د تېري زمانې حافظې ته او د مشترک نسب او مشترک قومیت خاطراتو ته د وفادارۍ په اساس ائتلاف کوي، متحدي کیږي او قبیلې تشکیلوي. د پاشلو آریایي «قومي-ګنۍ-ګوتراګانو» دغه ګروپ‌بندي د «پراواراګانو» تشکیل ته ورسېده. «پراواراګاني» د خپل نسب سلسله له یوه مشترک فرضي پلاره څخه رانیسي او هغسي لکه پخوا چي «ګنۍګوتراګانو» کوله، له مشترکي موره څخه خپله نسبي سلسله نه رانیسي. د «پراوارا» د سازمان مشري د نهو نارینه «پراجاپتي‌ګانو» له خوا څخه سر ته رسیږي او دا سازمان په ځرګنده توګه د «ګوتراګانو» تر خپرېدو ډېره زمانه وروسته ظهور کوي. هغه مشترکه بابامشري چي په دوی کي لیدل کیږي، یو مصنوعي ترتیب دی، چي قومي قبیلې سره متحدي کړي، خو بې‌له مورنۍ مبدی څخه. ځکه نو د «پراوارا» اشتراک، د «ګوتراګانو» د اشتراک په شان نه دی او د واحدو «پراواراګانو» تر منځ د ازدواج ټینګ ممانعت نه شاملوي. په دې کي شک نه سته، چي د بابامشرۍ «پراواراګاني» داسي ښکاري، چي په دغه مورد کي یې د «ګوترایي» ممانعتو د تقلید فکر کړی دی، خو «ګوترایي» ممانعتونه اصلي وه، ځکه هغه د ویني پر واقعي مورني تعلق باندي را بناء سوي وه، چي د واقعي جمعیتي ازدواج

په نتیجه کې راغلې وه؛ په داسې حال کې چې «پراواراییي» بندیزونه یوه تشه افسانه او د تېرې زمانې په وړاندې تشه سجده وه او یوازې یې د هغې زمانې چوخې په میراث را اخیستې، چې په نوې منځ ته راغلې ټولنه کې ځان په تېر کړي. «پراواراګاني» نو په دې ترتیب د مشترک نسب د اظهارولو یو طرز وو او په دې لار کې یو کوښښ ګڼل کېدی، چې د مونوګامې بابامشرۍ او خصوصې ملکیت په نوې زمینه کې د کمون د مړې ایرو ته د ایډیالوجیکې سکوت احترام پر ځای کړي.
هغه وخت چې بېګانه عناصر و دې ته شروع وکړه، چې له آریایې ټولنې سره په تماس کې را سي او هغې ته را داخل سي، نو د «ګوترا پراوارا» سازمان په اصولې توګه «قومیت» منظم کړ، د قومې قبیلو حدود یې له غیرقومې څخه او د آریایانو هغې یې له غیرآریایانو څخه وټاکله. د «ورڼه‌ګانو»، طبقاتو او دولت په نوې سازمان کې او هم په هغه نوې ټولنه کې، چې ټوله غړو هلته یو قومې ارتباط نه درلودی او لکه آریایې لیکوال چې وایې، هلته ټولو د «یجنا» او «یااجانا - Yaajana» حقوق نه درلوده، دغه قومیت د بهیر په اساس باندې همدا رنګه د اجتماعې- مذهبې چارو د تنظیم دپاره نوی سازمانې شکل وو. نوې ټولنه د جوړېدو په حال کې وه او د هغې ترکیب یوازې د سیمه‌ییز ټاټوبې او د یوه نوې سازمان، چې «راجیام - Rajyam»، «راشترام - Rashtram» یا دولت نومېدی، په دننه کې د اوسېدونې د محل له مخې پېژندل کېدی او حدود یې ټاکل کېده او داسې نه وه، لکه په پخوانۍ «ګنۍ» کې چې حدود یې د وینې تعلقاتو ټاکله. **اقتصادي او قومي تعلقات نو اوس سره بېل سوه!**
سوداګانو او پردیو کسانو په ګوترا پراوارا کې ځای نه درلودی، اما په سلطنتې یعنې «راجیام» کې یې بیا ځای درلودی.

هندو آريايانو د «پراوارا سيستم د هندي عالمانو دپاره هغسي يو دردِ سر دی، لکه اروپايانو ته چي هغه دردِ سر وو، چي د يونانيانو په منځ کي يې ووندی. «گوترا پراوارا» تر نن ورځي د مشترکي نسبي مبدی اصرار او ادعاء کوي. خو زموږ عالمان له داسي مشترکي نسبي مبدی څخه، چي د گوترايي جمعيتي ازدواج او «گنی‌وال» کمون په سلسله منځ ته راغلي وي، انکار کوي. ځکه نو دوی «گوترا پراوارا» يوه بې‌معنا افسانه بولي او ردوي يې.

د «گوترا پراوارا» دغو انتقادوونکو ته دا ښه ده، چي د مارکس هغه څرگندوني را نقل سي، چي د مورگان بيان د هغه د انتقادوونکو په مقابل کي داسي را خلاصه کوي:

«د صلبي قرابت هغه سيستم چي د بهير له ابتدايي شکله سره سر خوري او د نورو انسانانو غوندي يو وخت يې د يونانيانو تر منځ (لکه د هندو آريايانو د گوترا په شان)[۷۱] موجوديت درلودی؛ د بهير د ټولو غړو تر منځ يې د يو له بله نسبي پيوند او ارتباط پوهنه خوندي او محفوظه ساتله. دغه پوهنه چي د دوی دپاره خورا ډېره مهمه وه او له بېخي کوچني‌والي څخه يې په عملي صورت زده کوله (لکه هندوان چي دغه کار همدا اوس د «سندهيا - Sandhya» په نمانځنه کي سر ته رسوي). د مونوگامۍ له ظهوره سره نو دغه چاره له ياده ووتله او هېري ته وسپارل سوه. بهيري نامه (يعني گوترايي يا پراوارايي نوم چي هندو بچي ته د زنهار تر مراسمو وروسته ويل کيږي)[۷۲] يوه نسبي شجره را پيدا کړې وه، چي د هغې په مقايسه د مونوگامۍ کورنۍ شجره بې‌معنا ايسېدله. دې نامه نو اوس هغه چا ته، چي په مسمی وه، د دې حقيقت شاهدي ور کوله، چي

۷۱ په دغه () قوسينو کي خبري په ما (ليکوال) اړه لري.

۷۲ دا ډېره د غور خبره ده، چي د «يجنوپاويتام – Yajnopaveetam» په نامه يادېږي.

دوی يوې مشترکې نسبي مبدی ته منسوب دي. خو د بهير نسبي شجره دونه ليرې شا ته پاتې سوې وه، چې غړو يې نور نه سوای کولای، چې خپل تر منځ يو له بله واقعي قوميت ثابت کړي؛ په استثناء د هغه يو شمېر محدودو مواردو چې مشترک نيکه‌ګان يې تازه تېر سوي وه. دا نوم په خپله د يوې مشترکې مبدی ثبوت وو. څه‌رنګه چې د نسلونو سلسله‌بندي په تېره بيا د مونوګامۍ له راتلو سره ليرې پاتېږي او دا د تېرې زمانې واقعيت په ميتولوجيکي تخيلي تصوير کې منعکس معلومېږي، نو پخوانيو احمقانو دا نتيجه اخيستې ده او اوس يې لا هم اخلي، چې تخيلي نسبي شجرو واقعي بهيرونه را پيدا کړي دي.»[۷۳] (د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء)

پلارنی حق، خصوصي ملکيت او ميراث د ښځې د وحدتي ازدواج ټينګار کوي، چې بې‌له هغه څخه د پلار اولادونه پېژندل کېدلای نه سي. وحدتي ازدواج (مونوګامي) او له هغې سره د ښځې پاکي او سړي ته وفاداري د دې دپاره راغله، چې د شتمنۍ په ميراث کې (لکه دمخه چې مو وليده) آساني راولي، خو د دې راتله وار د واره د نارينه په امر را نغله، بلکې د ښځې په حکم را پيل سوه. نارينه هم په هغه وخت کې او همدا رنګه نن ورځ نه غواړي، چې د جمعيتي ازدواج له خويونو او غوښتنو څخه لاس واخلي، چې دا خويونه او

۷۳ دا چې زموږ «تنګ‌نظره کسان» څه‌رنګه دلايل وايي، د «کاراندېکار» په هغه اثر کې، چې «هند وايکسوګامي» نومېږي او هم د «کيتکار» د «مهاراشترا» د «ويداويديا – Vedavidya» په ټوک کې د «پراوارا» په بحث کې ښه ليدل کېږي. يوازې «راجويد» دی، چې البته له مورګان سره د ټاکلي فاصلې په حدودو کې دې موضوع ته ور څرمه کېږي.

هغه يادداښتونه چې د هندوانو بډايو مذهبي اصوليونو د ازدواج، د ګوترا پراوارا د شتمنۍ د ميراث د مسئلې په باب په دې اوسو وختونو کې د هندو د قانون جوړوونکي کمېټې د قوانينو د تدوين څانګې ته ور لېږلي دي، خورا په زړه‌پوري څرګندوني لري او دا ښکاره کوي، چې دغه مسئله اوس لا هم بېخي ډېره ژوندۍ ده.

غوښتني يې په تعدد زوجات «ديواداسيس - Devadasis»، «موراليس - Moralis» او بالآخره فحشاء او زنا کي تمثيل کيږي. ټولني چي انکشاف وکړ او د پخوا وړې قومي «ګوتراګاني» په بره او اوږدو تيتي سوې او نوي اقتصاد وده وکړه، چي د هغه واحدونه اوس انفرادي کورنيو جوړوله، نو له دې سره د «ګوترا» ټولو غړو هغه د «ګنۍ» پر اساس پخواني حقوق، چي د مقابلې قابل ازدواج ګوترا، چي هغه هر چيري وه، د ښځي په نسبت يې درلوده، اوس د ښځي دپاره يو خورا درونډ بار جوړاوه. په کوچنۍ «ګوترايي» کورنۍ او په کوچني «اشماوراجا» کي هر څا هغه بل هر يو پيژندی او دوی د مشترک کار په وسيله يو د بل سره پيوند وه، که څه هم دا را ټولېده يې داسي وه، لکه مچياني چي په غيرشعوري توګه په شکرګيني سره را ټولي وي. خو اوس د يوه ګنۍ وال غړي دپاره، چي نه پيژندل کېدی او نه يې پيوند معلوم وو او له ليرو مځکو څخه راتلی او د يوې ښځي په نسبت يې د حق ادعاء کوله، نو دا پر ښځه باندي يو ناوړه تحميل بلل کېدی. په دغو پخوانيو وختو کي له دغه جمعيتي ازدواجه څخه دا جال را پيدا سو، چي کوربه خپله ښځه مېلمه؛ يعني «اتيتهي - Atithi» ته ور استوله. د دې دپاره چي د بېګانه سړي له حق څخه، چي د پخواني جمعيت يو پاته رسم وو، آزادي لاس ته راوړي، نو ښځي پر «مونوګامۍ» باندي ټينګار کاوه، لکه څنګه چي دا خبره جوړه‌يي کورنۍ ته د انتقال په جريان کي تمثيل سوې ده.

«کله چي جوړه‌يي کورنۍ ته انتقال د ښځو له خوا په سر ورسېدی، نو يوازي تر هغه وروسته نر وکړای سوه، چي ټينګ وحدتي ازدواج را وباسي او هغه هم البته يوازي د ښځو دپاره» (يعني چي وحدت او ټينګوالی يې يوازي پر ښځو تحميل وي – مترجم).

خو د طبقاتي ټولني له مونوګامۍ څخه د بډایانو د خصوصي ملکیت په واسطه، چي هغوی د میلیونهاوو نرو او ښځو پر ژوند باندي حاکمیت لري او د هغو حیات ور بربادوي، د ښځي دپاره یوه ملنډه او مسخرګۍ جوړیږي؛ څکه د کمون له خاتمې او د مرئیتوب او طبقاتي حاکمیت له ظهوره سره په ټولنه کي فحشاء او زنا را خپریږي. د ښځي له اقتصادي ماتي سره د نارینه او خصوصي ملکیت په نسبت د دې جسمي او روحي مرئیتوب را پیل سو.

«د مورني حق ایسته کېده د ښځني جنس نړۍواله تاریخي ماته وه، چي په کور کي د چارو واګي هم نر په لاس کي ونیولې. ښځي تنزل وکړی، تر اسارت لاندي سوه، د نر د شهواتو مینځه وګرځېده او تش د کوچنیانو د زیږولو یوه آله سوه»[٧٤].

نو څکه د خصوصي ملکیت «مقدس قانون جوړوونکي» په زیاته بېرحمۍ د وحدتي ازدواج تر وفادارۍ، احساساتو، عفت او دا غوښتنو، چي له ښځي سره د دې په خپل حیث د یوه «شخصیت» په توګه سلوک وسي، دا ضرورت مهم ګڼي، چي باید یو داسي زوی ودرلودل سي، چي د پلار شتمني په میراث یوسي او دا څرګندوني یې د هغه ماشوم د «مالکیت» د موضوع په مباحثه کي لیدل کیږي، چي په ښځه باندي د داسي چا له خوا زیږول سوی وي، چي د دې مېړه نه وي. د «مهابهاراتا» په «انوشاسانا پروا – Anushasana Parva» کي «یودهیشتهیرا - Yudhishthira» په ډېر جدیت پوښتنه کوي:

«ځیني وایي چي د یو چا زوی هغه دی، چي د ده پر خاوره زوکړی وي. ځیني بیا له بلي خوا وایي، چي د یو چا زوی هغه دی، چي د ده له تخمه را پیدا سوی وي. آیا دغه دواړه ډوله زامن سره برابر دي؟ زوی نو بیا په چا پوري اړه لري؟»

٧٤ د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء.

په ځرګنده توګه دا ليدل کېدلای سي، چې دغه سړی «د مريي خاوند» زارع دی او د خپلي ماينې په باره کي بږغيږي، چې هغه د مځکي د يوې ټوټې په شان او زوی د هغې د مېوې په شان بولي.

دا حاصل په چا اړه لري، آيا په هغه چا اړه لري، چې اجاره (بهره) تاديه کوي، تخم ور کوي او کرنه سر ته رسوي؟ يا کرونکی چې يې هر څوک وي، خو په هغه چا اړه لري، چې د مځکي مالک وي؟ د ښځې په باب دغسي يوې آيډيالوجۍ او نظر هيڅ کله د «يجنا» په کمون کي امکان نه درلودی، که څه هم دوی په «پراجا» (اولادونو) پسي تر دغو وروستنيو زميندارو مرييلرونکو لا خورا ډېره هڅه کوله. ويدي ليکوال په صراحت سره د کمون ښځه د «جاني - Jani» په لقب سره يادوي (يعني هغه څوک چې اولادونه زېږوي)، خو هغه ټوله چي زېږېده، په دې يې اړه درلوده او «جانا - Jana» نومېدله. داسي پوښتنه هيڅ کله نه پېښېده، چي ووايي، زوی په چا اړه لري، آيا په «مځکه» پوري او که په «تخم» پوري؛ ځکه ده ملکيت نه درلودی، چي د ځان يې وبولي او د بل په محرومولو سره هغه په خپل لاس کي واخلي. د بابامشرۍ نظام لا تر اوسه پوري نه وو زېږېدلی.

دا چي ښځه د يوې داسي متاع مقام ته را ځي، چي صرف کوچنيان وزېږوي، د مرئيتوب د زمانې ايډيالوجي ده، چي هلته د انسان په خرڅېدو او رانيولو شروع وسوه، چي د مالک دپاره ثروت توليد کړي او همدا رنګه ښځه د دې دپاره وه، چي زوی وزېږوي، چي هغه ثروت په ميراث واخلي.

د «يودهيشتهيرا» د پوښتني جواب داسي وايي: «زوی د هغه چا دی، چي تخم يې له ده څخه منشاء اخيستې وي.» د بابامشرۍ حق د يوازني معتبر حق په توګه اعلاميږي، نور نو:

که د تخم مالک هغه زوی نه کوي، چې د ده له تخمه څخه زېږېدلی وي، نو بیا دغسې یو زوی د هغه چا کېږي، ماینې یې زېږولی وي. همدا حکم د هغه زوی په باره کې تطبیق کېږي، چې «ادهیودها - Adhyudha» نومېږي. دی په هغه چا اړه لري، چې له تخم څخه یې را پیدا سوی وي.
خو که د تخم مالک دی نه قبلوي، نو د خپلې مور د مېړه زوی کېږي. وګورئ دا هغه بیان دی، چې قانون (دهرما) یې اعلاموي.
(منو) چې په هغه باندې د هندو اصولین لوړه کوي، دغه شی وایي.
د ډله‌ییز ژوند او جوړه کورنۍ په عصر کې کوچنیانو د مور په بهیر پورې اړه درلوده. کله چې به پلار مور پرېښووله، کوچنی یې له دې سره پاتېدی، لکه څنګه چې موږ د «ارجونا»، «بهیما - Bhima» او داسې نورو په مشهورو مواردو کې ولیده. خو د مرئیتوب په عصر کې ښځه د خپل څښتن له خوا څخه رانیول کېږي او خرڅېږي، په اجاره ور کول کېږي، په پور اخیسته کېږي، لکه څاروي غوندې، چې «سوچه» زامن وزېږوي، چې شتمني او د مینځو بچیان په میراث واخلي، چې کار وکړي او شتمني تولید کړي.
د ښځې په نسبت دغه سلوک یوازې په ماینه پورې محدود نه وو، بلکې د لوڼو او نورو په حق کې همدا رنګه د تطبیق وړ وو. د «مهابهاراتا» په «اودیوګا پروا – Udyoga Parva» کې د لور د اجاره کولو یوه دوامداره سلسله په ټیپیک توګه د «ریشي ګالاوا – Rishi Galava» په اوږده نکل کې تصویر کېږي. «ګالاوا» غواړي، چې د خپل تعلیم لګښتونه خپل «ګورو - Guru» ته ور تادیه کړي، خو څه‌رنګه چې مسکین دی، نو د «یایاتي - Yayati» مرسته غواړي، چې هغه ده ته خپله لور «مادهاوي - Madhavi» په پور ور کوي. «ګاولاوا» دغه نجلۍ د دوو سوو آسانو په بیه درو قومیانو ته په نوبت په کرایه ور کوي، چې د هغو

هر یو له دې څخه مستفید کیږي او یو زوی په زېږوي او بیرته یې خپل پلار ته ور استوي. «گاولاوا» دا نجلۍ او هغه آسان او ثروت چې په دې توگه یې لاس ته راوړی دی، خپل «گورو» ته ور کوي، چې پورونه په اداء کړي. هغه «گورو» چې «ویشوامیترا» نومیږي، همدا رنگه په دې باندې یو زوی زېږوي او دا بیرته «گاولاوا» ته استوي او هغه بیا «یایاتي» ته ور لېږي. د دې بېچاره ښځې عذاب لا اوس هم پای ته نه رسیږي. له دې ټولې غلامۍ څخه چې را ستنه سوه، نو له دې څخه بیا د «یایاتي» له خوا غوښتل کیږي، چې اوس د خپلې خوښې مېړه په یوه «سوایامبارا - Swayambara» کې، چې هلته پاچهان، بډایان، ځوانان او ټوله را غونډیږي، د ځان دپاره انتخاب کړي. خو په دې دوران کې نو د «مادهاوي» له ژونده څخه او د انسان له مرئیتوبه څخه دونه ډېر بد راغلي دي، چې ټولو ته سلام کوي، له دوی څخه را لیري کیږي او د ځنگله خوا ته مخه کوي، چې روژه ونیسي او دوعا وکړي، چې د طبقاتي ټولني له مرئیتوبه څخه خلاصه سي.[۷۵]

د بابا یعني د مریي لرونکي مېړه حقوق یوازې په دې پوري محدود نه وه، چې خپله ماینه، لور، زوی او نور په اجاره ور کولای سي. بلکې ده د دوی د ژوند حق درلودی او کولای یې سوای، چې په خپله اداره یې مړه کړي. د ښځې په باب دغه ذکر سوی سلوک د کمون د وختو د گوترایي ازدواج مقابل قطب دی. په هغه وخت کې ښځې ته احترام کېدی او مور چې ژوند ور کوونکې وه، مقدسه گڼل کېده او دا بېخي لویه گناه وه، چې څوک مور ووژني. د هغې زمانې ایډیالوجي د مرئیتوب تر زمانې پوري راغله او د نوي مریيلرونکي طبقې

۷۵ مهابهاراتا: ۱۲۰- اودیوکا.

له تقاضاوو سره یې تصادم وکړ، چې غوښته یې پر خپل «ملکیت» باندې مطلق مالکیت ولري، چې په هغه کې له مریانو سره یو ځای مېینه، زوی او نور ټوله را شامل دي.
ښځې هلې ځلې وکړې، چې خپل موجودیت او د کمون پخواني دودونو ته، دلته هلته تبارز ور کړي او د هغو ادامه یې وغوښته، لاکن په ډېره وحشي‌ګرۍ او شدت یې د مریي‌لرونکي نارینه له خوا څخه مخه ونیول سوه. دغه جریان په ډېر وضاحت سره د «سودارشانا – اوګهاواتي – Sudarshana-Oghavati»، «ګاوتاما ګاوتامي – Gautama-Gautami» او «جاماداګني رینوکا – Jamadagni-Renuka» په درو داستاني پېښو کې بیانیږي.
دا پېښې همدا رنګه موږ ته را ښیي، چې څه‌رنګه د «ګوترایي کمون» د زمانې دودونه او ایډیالوجي د مرئیتوب په زمانه کې تر تحول لاندې راغله. کله چې «ریشي سودارشانا» له «اشراما - Ashrama» څخه ولاړی او تر شا یې خپله مېینه «اوګهاواتي» پرېښووله، نو یو «برهمن» مېلمه هلته راغی. ده ته نه یوازې ډوډۍ ور کوله سوه، بلکې کله چې مېلمه خواهش وکړ، د «ګنۍ ګوترا» له دوده سره سم «اوګها واتي» له ده سره پرېوته. کله چې «سودارشانا» را ستون سو او په دې پېښه خبر سو، نو خورا خوشاله سو، چې مېینې یې د یوې کوربې وظایف سر ته رسولي دي.
دا پېښه په هغه زمانه اړه لري، چې «ګنۍ‌ګاني» یو د بل څخه لیرې خپرې سوي دي او کمون د ړنګېدو په حال کې دی او نو ځکه د پخواني جمعیتي ازدواج له حقه څخه ښځه نفرق کوي او اوس یو مستقل کهول جوړوي او له خپله مېړه سره د کورنۍ په جوړه‌یي شکل کې ژوند کوي. دغه دلیل دی، چې «سودارشانا» دا وېره درلوده، چې د ده مېینه ښایي د کورنۍ ټوله وظایف پر

ځای نه کړي او نو ځکه خوشاله دی، چې دا ور معلومه سوه، چې هغه «وېره» یې بې‌اساسه وه او «اوګهاواتي» سر نه دی غړولی.

په ور پسې داستاني پېښه کي زمانې تغیر خوړلی دی. د ګاوتاما ماینه چې د ده په غیاب کي «اندرا» د مېلمه په توګه ورته را ځي، له دې سره یو ځای کیږي. کله چې «ګاوتاما» خبریږي، نو قهر ور ځي او له خپل زوی «چیراکاري - Chirakari» څخه غواړي، چې د دې سر پرې کړي او له دې ځایه څخه لیري ځي. د ده زوی د تردد په حالت کي دی. د پخواني رسم او اخلاقي کوډ سره سم، دی پوهیږي، چې مور یې غلط کار نه دی کړی او دی د دې د زوی په حیث دا نه سي وژلای، ځکه دا ډېره لویه ګناه وه. خو د نوي زمانې، نوو طبقاتي روابطو، کورنۍ او طبقاتي قانون سره سم دی باید د پلار امر پر ځای کړي.[۷۶] دی انتظار کوي او په موضوع کي چورت وهي.

۷۶ په دې ځای کي دا متضاد او مقابل نقاط ډېر په زړه پوري دي. د پلار اطاعت یو اجنبي تحمیلي قانون «پارادهرما – Paradharma» دی، خو د مور حمایه طبیعي ذاتي قانون «سوادهرما – Swadharma» دی. خو زوی چې د مرئیتوب په دوره کي خپل حریت بایللی دی، نو ځکه نور دا حق نه لري، چې د «ګنی» د طبیعي قانون وپالي او په دې ترتیب نو د پلار سره مقابله کوي او د مور په خوا کي دریږي. د مور وژل د ده له پخوانیو طبیعي احساساتو څخه مخالف کار دی او نو ځکه د ده د خوابدۍ باعث ګرځي. خو د پلار سره مقابله نو څه‌رنګه په ټولنه کي د ده دپاره د ویاړ ځای «پراتیستها – Pratistha» تامینولای سي؟ مور تېره زمانه ده، د مړه کېدو په حال کي ده او پلار مستقبل دی، منځ ته را ځي او واکمن کیږي.
کوم شی په دې نوي نظام کي ډېر ناوړه عواقب لري؟ د مور د سر غوڅول د پلار له خبري څخه د تشي سرغړوني په اندازه معادل دي. دلته په خپل ټوله صراحت د مریي‌لرونکي جابرانه دیکتاتوري تاسي لیدلای سئ.
پخوانۍ زمانې در په یاد کړئ. هغه وخت چې «دیرګهاتاماس» بې‌حیا سو او اذیت یې کاوه، نو د ده زامنو د خپلي مور په حکم، هغه له کمون څخه پسي واخیستی. همداسي «سویتاکیتو – Swetaketu» په هغه وخت کي، چې مور یې له خپل ګوتراییي ملګري سره تله او ده اعتراض پر وکړ، نو د خپلي دې بې‌حیایۍ په نسبت وتړل سو، چې پته خوله سي. د کمون له مړیني سره آزادي، خوشالي او مورولي له منځه ولاړه. مېړه یې د

«ګاوتاما» بیرته را ځي، قهر یې کښته سوی دی او دا اجراء سوی عمل قبلوي او آرامیږي. دلته ښځه او زوی برې لاس ته راوړي، خو البته په دې سبب نه، چې خپل حق یې دی، بلکې په دې سبب، چې دا نوی قانون تر اوسه لا پوره قوت نه لري.

په دریمه داستاني پېښه کې «جاماداګني» خپله ماینه «رینوکا» ویني، چې «چیتراراتها ګندهاروا – Chitraratha Gandharva» ته د مینې یوه کتنه کوي. دی له خپل زوی «پاراشوراما - Parashurama» څخه غواړي، چې هغه ووژني او دی یې سمدستي پر هغه ځای په هغه وخت کې وژني. دلته بابایي حق د ماینې پر ژوند باندې په بشپړه توګه مستقر سوی دی. دا نه شخصیت لري، نه د خپل ځان فکر لري. د مریي د مالک ظالمانه، وحشیانه او جابرانه دیکتاتوري په کامله توګه د دې شخصیت او آزادي تر محکومیت لاندې راولي.

دغه درې داستاني پېښې مور ته د خصوصي ملکیت او کورنۍ، د نر د واکمنۍ او د مرئیتوب تر محکومیت لاندې د ښځې د واقع کېدو د منځ ته راتلو نتیجه په لنډه توګه را ښیي. **دا کلتور او مینه، اخلاقي او اخلاقي اصول، ایډیالیستي فلسفه او هندي انسان خاص «عالي روحانیت» نه دی، چې په نتیجه کې مور ته دغه نننۍ ځېلې هندۍ ښځه را سپاري، چې نه حقوق لري، نه مقام لري، نه شخصیت لري او نه آزادي لري. دا د مریي‌لرونکي طبقې جابرانه دیکتاتوري ده، چې ښځه یې دغه حال ته را رسولې ده.**

د دغه انکشاف تر شا اساسي قوه څه‌شي ده؟ یوازې جبر او شدت دغه کار سر ته نه سي رسولای. د نارینه دغه شدت، د ده تر شا قانون او نظم، چې اوس د

---

مریانو نګران سو او زامن یې د دې جلادان سوه. مقدس قانون او نظام د نر پر خوا سو او ښځه یې د پېړیو دپاره خلع سلاح کړه.

نوي منځ ته راتلونکي دولت له خوا اداره کېدی، له نوو توليدي قواوو او نوي ملکيتي روابطو يعني نوو اجتماعي روابطو څخه نشئت را کوي. د کمون زوال او د خصوصي ملکيت، «ورنه‌گانو» او طبقاتو ظهور دغه نوې کورنۍ منځ ته راوړې، چي په هغې کي د ښځي کورنۍ‌کار هيڅ اجتماعي ارزښت نه لري او هلته په عمومي ډول هغه اجتماعي کار سر ته رسيږي، چي د مريانو له خوا څخه په کښتونو او کارخانو کي اجراء کيږي او اوس يوازي د نارينه له خوا څخه د ده د خصوصي ملکيت په توګه تصاحب کيږي.
د «سودرا» مريي له را پيدا کېدو او د خصوصي ملکيت له ظهوره سره ښځي خپله آزادي بايلوله. ډېري پېړۍ وروسته د مريانو د تمليک زوال راغی او ځای يې يوه بل خصوصي ملکيت؛ يعني د فيوډالي زميندار ملکيت ونيوی او د هغه زوال بيا په خپل نوبت په سرمايه داري ملکيت سره راغی. له دې جهته نو د ښځي د غلامۍ شرايط هم تر مشابهو تحولاتو را تېر سوه. د مريي له حالته د «سرف» حالت ته او له «سرف» څخه د «پرولتار» حالت ته راغله. خو د دې محکوميت نو په دغسي ترتيب هيڅ کله پای ته و نه رسېدی.
نو ځکه د ښځي د آزادۍ مسئله د اخلاقو، اخلاقي اصولو او روحانيت مسئله نه ده، بلکي د طبقاتي حاکميت يوه مسئله ده.
له تېره بيانه څخه موږ په دې خبره پوهېدلای سو، چي د ښځي د آزادۍ او له نر سره د هغې د برابرۍ تامينول تر هغو پوري هم ناممکن دي او هم به ناممکن پاته وي، څو چي ښځه له اجتماعي توليدي کاره څخه را ګرځېدلې وي او په کورني کار پوري تړلې وي. د ښځې آزادي به يوازي هغه وخت امکان پيدا کړي، چي ښځه د لويي پيمانې په توليد کي، چي په اجتماعي مقياس سر ته رسيږي، برخه واخلي او کورنی کار نو پرته له هغه چي د دې يو لږ مقدار وخت

وغواړي، نور نو د بل کوم شي ایجاب نه کوي. صرف اوس د لویي پیمانې د صنعت په وسیله دا امکان برابر سوی دی، چي هغه نه یوازي دې ته زمینه برابروي، چي د ښځي د کار قوه په پراخه پیمانه استخدام سي، بلکي په مطلقه توگه هغې ته اړتیا لري. همدغه صنعت دې ته متوجه دی، چي کورنی خصوصي کار په دې وسیله ختم کړي، چي د هغه شاقه وظایف په عامه چارو واړوي. دا کار په پوره توگه یوازي هغه وخت سر ته رسېدلای سي، چي د غټې پیمانې صنعت اجتماعي سي او طبقات پای ته ورسول سي.

دا همدارنگه هغه خبره روښانه کوي، چي ولي په هند کي د بورژوا طبقې مشرتابه د کورني کار سندري وایي او ستاینه یې کوي، اما د همدې طبقې د صنایعو نگرانان بیا د ښځو د کار ارزانه قوه کارخانو ته را سوقوي. د دوی په منځ کي نو دغه دواړه؛ ښځه او ټولنه د ابهام په گردله کي ساتي، چي د آزادی لور ته واقعي لاره و نه ویني. د ښځي آزادي نه په کورني‌کار کي ده او نه صرف په دې کي ده، چي د منځنی طبقې یوه «تعلیم‌یافته گټندویه» ځني جوړه سي.

هغه اجتماعي انقلاب چي د تولید په وسایلو کي خصوصي ملکیت او همدا رنگه طبقاتي حاکمیت او له هغه سره سم یو ځای د نر تفوق پای ته رسوي، د دې عامل کېدلای سي، چي د ښځي آزادي به تامین کړي. خو دا هغه موضوع نه ده، چي دلته تر څېړني لاندي ونیول سي.

## یوولسم فصل

## د نه رغېدونکو تضادونو مبارزه

پښتواني آريايي کمون په بېړه تجزيه کېدی. دا کمون داسي نه رغېدونکو تضادونو ځيرلی وو، چي نور نو هغه نه سوای کېدلای، د يجنا د توليدي طرز د پښتواني «دهرما» په دننه کي حل سي، ځکه دغه طرز په خپله له کاره لوېدلی وو. د توليد د افزارو له انکشافه سره نوي توليدي روابط منځ ته راغلي وه او د لرغوني «يجنا –گڼی –گوترا» د روابطو په مقابل کي يې د تفوق حاصلولو دپاره مبارزه کوله. خصوصي ملکيت چي پر مرئيتوب را بناء وو، ډله‌ييز ملکيت يې ايسته کاوه، چي پر آزادۍ او برابرۍ باندي را بناء سوی وو. يوې شديدي داخلي جگړې آريايي «گڼی‌گاني» ټوټه ټوټه کړې. را سئ دمخه تر دې چي داخلي جگړه او د هغې نتايج يعني د «گڼی» د نظام ړنگېده او د دولت منځ ته راتله تر ځېړني لاندي ونيسو، هغه تضادونه را خلاصه کړو، چي موږ يې انکشاف په دمخنيو فصلونو کي وليدی.

د «يجنا» د ډله‌ييز کار واړه کمونونه غټ سوه، ځانگو ته تجزيه سوه او ډېرښت يې وکړ. لکه څنگه «د مقدس پراجاپتي غوښتنه وه) د اور د استعمال او د حيواناتو د اهلي کېدو په سبب، چي هغه «واحد» وو، «متعدد» سوی وو، هغه چي «کوچنی» وو، پراختيا يې موندلې وه.

د «واحد» د روابطو سازمان له متعددو سره پرابلمونه ايجاد کړه. د «کريتا» د عصر وحشي گرځندي «گڼی» د «تريتا» د عصر هغي «گڼی‌گوترا» ته انکشاف وکړ، چي په پراخه توگه تيت سوې وه. توليدل، ډېرول، يو ځای کار کول او په لويه «يجنا» کي د گډ اور پر شاوخوا باندي يو ځای د پيداوارو مصرفول، د يجنا او

«ګنی‌ګوترا» د کمونو د دایمي قوانینو رعایت کول؛ دا شیان د وده‌کوونکو «ګنی‌ګانو» دپاره هغه ساده او په خپله منځ ته راغلې «دهرما» وه، چي د پخواني بربریت پرابلمونه یې حل کوله.
کار او ثروت وده کوله. دغه رشد ایجاب کړه، چي د کار تقسیم را پیدا سي. لاسي صنایع، فلزات او کرهنه منځ ته راغله او بیا یې نوي پرابلمونه وزیږوله. د «ګنی» کمونونه اوس په داخلي لحاظ «ورنه‌ګانو» ته تجزیه سوه او نوي اقتصادي دندي ور سره وې، خو تر اوسه لا د ټولنې په حدودو کي دننه وې. د پخواني ناتقسیم سوي «ګنی‌وال» اقتصاد په بطن کي تقسیم‌سوی «ورنه‌یي» اقتصاد را پیدا سو. د «ګنی» حقوقو په دې پیل وکړ، چي له «ورنه‌یي» حقوقو سره ټکر وخوري.
ثروتونه چي ډېرېده او د ثروتونو تنوع زیاتېده او د یوې سیمي قبیلې او «ګنی‌ګاني» چي خپل مشخص طبیعي پیداوار به ور سره وه، له هغو نورو سره په تماس کي راتلې، چي هغو به بیا خپل ځان‌ته پیداوار درلوده، نو له دې جریانه څخه د پیداوارو مبادله را پیدا سوه. د مبادلې دپاره تولید، هغه تولید ته د تخریب پی واچاوه، چي د مصرف په نیت سر ته رسېدی. د «هوانا» دپاره تولید د «هیرانیا» دپاره په تولید شا ته ټېله سو.
مبادلې ډله‌ییز تولید له کاره واچاوه او له هغه سره یې ډله‌ییز تصاحب هم له منځه یووړی. خصوصي تولید او خصوصي تصاحب؛ یعني خصوصي ملکیت را پیدا سو. نوي تقسیمات چي تر اوسه چا نه پېژنده، را پیدا سوه او د واحدي «ګنی» د قومیانو په دننه کي نوي تخاصمات؛ یعني د بډای او خوار تخاصمات منځ ته راغله. «ګنی» دغه ناخوالي زغملې او سوځېدله، د ژغورلو لاري یې نه سوای موندلای او کوښښ یې کاوه، چي اقتصادي مسئله په اخلاقي موعظه

حل کړي. «گنی» غوښتنه کوله، چي د «هوانا» او «دنم» هغه اقتصادي قوانين په دقيقه توگه رعايت سي، چي د مصرف او استهلاک دپاره د پيداوارو د توزيع د ډېرو کلو پخواني ميکانيزم وو. «گنی» بريالی نه سوه. نو چا بايد دا نافذ کړی وای؟ «برهما شترا» دې امر ته اعتناء و نه کړه او ټوله «دنم» او «هوانا» يې د خپلو ځاني دپاره وغوښته. شتمني، لږ يا ډېره د «ورڼه‌يي» تقسيم له لارو را غونډېدله. که څه هم هري «ورڼې» خپل خوار او بډای درلوده، خو سره له دې هم «برهما کشترا» په عمومي صورت د مريانو او څارويو، د شتمنو طبقاتو او استثمار سوو طبقاتو مالکه سوه، چي زيارکښه «ويشاگان» او «سوداگان» يې استثماروله. په دې ترتيب نو «ورڼه‌يي» تقسيمات ژر تر ژره په طبقاتي تقسيماتو او تخاصماتو واوښته. «په بهير کي د شتمنی تفاوت د بهير د غړو تر منځ د مفاد توحيد په تخاصم واړاوه.» (مارکس). د «برهما کشترا» ملکيت دې ته شروع وکړه، چي د ستري «ويشا» ډيموکراسی له غوښتنو سره ټکر وخوري.

مبادلې پيسې منځ ته را وستې او پيسو د ثروت د را غونډېدو کار آسانه کړ. هغه څوک چي ثروت يې را غونډاوه، داسي وه، چي د «ورڼه‌يي» حقوقو او عنعنې له مخي يې قدرت او وسلې په واک کي وې او د جنگ د لارښووني او اقتصادي ادارې په تخنيک او پوهنه کي يې لاس درلودی. شخړې د خوارانو او بډايانو په منځ کي، د استثمار سوو او استثماروونکو په منځ کي را پورته سوې. د «گنی» ملکيت د «ورڼې» له ملکيت سره جگړه کوله. دا پوښتنه را پيدا سوه: آيا ثروت په يجنا اړه لري يا د يو چا په ځان‌ته «سنچايا - Sanchaya» او «بهوگا - Bhoga» پوري؟[٧٧]

٧٧ «اوپانيشاد» نو په دې موعظه شروع کوي: لطفاً له پرېښوولو څخه لذت واخلئ، د بل چا ثروت ته سترگي مه نيسئ.

د ثروتونو او د کار د توليدي ظرفيت ډېرېدو د جګړې بنديان له هغه حالته څخه، چي ووژل سي، دې حالت ته را وستلي وه، چي د مرئيتوب کارګران ځني جوړ سي. «سودرايي» مرئيتوب آريايي کمون ته را داخل سوی وو، ټولنه دوو اضدادو څېرلې وه، يوې خوا ته هغه څوک وو، چي مريان او ثروت يې درلودی او بلي خوا ته هغه څوک وه، چي د بادارانو مريان وه. د قوميانو يا د ويني د روابطو «ګنی» ته نور داسي کسان را دننه سوي وه، چي د ويني رابطه يې نه درلوده او غيرقوميان وه، لکه نوي «سودرايي» مولدين، له غيره «ګنی ګانو» څخه سوداګران، بېګانه مېلمانه او نور. د «ګنی» قوانينو د دغو نوو اقتصادي قواوو او طبقاتو اتکل نه وو کړی، چي لرغونی محصور سوی کمون او د هغه سيمي ته به را ننوځي. يو نوی قانون، چي په اقتصاد، ازدواج او نورو چارو کي دغه نوي روابط تنظيم کړي، بايد وو، چي د «ګنی» د قانون په څنګ کي او د هغه پر خلاف منځ ته را سي. پر خلاف له دې جهته چي دا وروستنی قانون پر مبادله او خصوصي ملکيت او هغه دمخنی پر ډله‌ييز حالت باندي را بناء وو[۷۸]، شخړي را پورته سوې. د «ګنی ګوترا» په څنګ کي «ګنی راشترا – Gana Rashtra» را پيدا سوه، «ګوترا» يوازي قوميان په رسميت پېژندله، «راشترا» هغه ټوله په رسميت پېژندله، چي يوې ټاکلي سيمي او د هغې اقتصاد، قومي او غيرقومي ټوله يو ځای احتوا کوله.

۷۸ دلته نو هغه نوي «دهرماګاني» او نوی حاکميت منځ ته را ځي، چي د ګنی ګوترا په متوازن سازمان کي يې ځای نه درلودی.

همدا مورد دی، چي په لازمي توګه دا شرط وضعه سو، چي کله د «شروتي ګانو» او نورو آثارو په منځ کي اختلاف وي، نو د «شروتي» الفاظ نسبت نورو ته ترجيح لري. خو عملاً چي نورو آثارو د نوو شرايطو نماينده‌ګي کوله، نو يې برى په برخه سو او «شروتي» يې د خپلي غايې سره سم تعبير کړه.

خصوصي ملکیت کموني کورنۍ او کموني خاندان له منځه واخیست. د هغه په دننه او د هغه په مقابل کي ځانګړې کورنۍ چي خپل ملکیت، میراث او داسي نور لري، را پیدا سوه. «ګنۍ» له «کولا = کهول» سره او «پراجاپتي» له «ګریهاپتي» سره په شخړه کي ولوېدی. د کمون د «تریت اګني» اور د خصوصي کورنۍ د «ګریهي اګني» اور په وړاندي د بې‌اهمیتۍ په لحاظ پیکه سو. د مشترکي «هوانا» ځای خصوصي پخلنګ ونیوی او د دې دپاره چي خدایان او «ګنۍ» آرامه کړي او تېر یې باسي، نو یې د «پاک- یجنا» نوم واخیستی. د غټي یجنا ځای د خصوصي کهول د ښځتن او بډای «ګریها پتي» د شخصي خواهشاتو په نسبت وړو انفرادي «ایشتي‌ګانو - Ishtis» ونیوی. دوی «کامیي - Kamye» ایشتي‌ګان سوه.[79] هغه رواج چي په مشترک سرای کي به د اور پر ګردآورده د «ګنۍ» د ټولو غړو له خوا څخه په غذا کي مشترکه ونډه اخیستل کېده، په خصوصي حمله اچولو سره له منځه ولاړی. له دې خصوصي حملې سره دا رسومات ملګري سوه، چي خدایانو ته د «بالي» په شکل یوه ونډه

۷۹ خصوصي اقتصاد ته د کمون د ډله‌ییز اقتصاد تبدیلېده په هغه جریان کي انعکاسیږي، چي لرغوني ستري ډله‌ییز «یجنا یاګاني – Yajna Yagas» د منفردي کورنۍ په وړو «ایشتي‌ګانو» تبدیلیږي. بې‌وزله د کهول ښځتن «ویشا» له «ایشتي» څخه د پخواني «یجنا» کاریکاتور» جوړوي او څه‌رنګه چي د ده مسکیني دا اجازه نه ور کوي، چي د وړې یجنا دپاره څاروي حلال کړي، لکه پخوا کي چي ستر جمعیت له مشترک ملکیت څخه دا کار کولای سوای، نو نوي «ایشتي» تشریفات، غله او اوړه د واقعي څارویو پر ځای باندي په سمبولیک توګه تهیه کوي، چي ټوټه ټوټه سي او د «هوانا» اور ته واچول سي! ژوندي څاروي د بډایانو له خوا څخه استملاک سوي دي. خوارانو خپل ځان او خدایان د اوړو په تمثیل راضي کړي دي (لکه د «دارشاپورناماس – Darshapurnamas» په «پوروداش – Purodash» او د «اګنیهوترا – Agnihotra» او «مدهوپارکا – Madhurparka» په «انوستاراني – Anustarani» کي). د غوا وژل اوس منع سوه. دا په دې لحاظ نه وه، چي غوا مقدسه ده، بلکي په دې لحاظ وه، چي لږ موجودېده، د بډایانو په انحصار کي وه او دونه قیمتي وه، چي ویشا بزګر نه سوای کولای، چي د خوړلو دپاره یې ووژني.

د سمبولیک خیرات په توگه وړاندي کیږي او یوه ونډه مېلمه «اتیتهي» ته تهیه کیږي او یوه فقیر ته، چي د مړي کېدونکي «گنی» یوازنی پاته نماینده دی او خپل چاروکي د کهول خاوند دا منلې ده، چي خپله ډوډۍ ور سره شریکه کړي، څو د «مېلمه‌پالني» صفت حاصل کړي.
د خصوصي کورنۍ، کهول او ملکیت له انکشافه سره د بابا تسلط او د زوی میراث را پیدا سو. بابامشرۍ ادې‌مشري مغلوبه کړه. د نر واکمني پر ښځه باندي قایمه سوه. ماینې له مړو سره او زامن له مېندو سره په شخړو اخته سوه.
د خصوصي ملکیت حقوق او ژوند د ډله‌ییز ملکیت د حقوقو او ژوند په مقابل کي «گریهیا سوتراگاني» د «ویدا سوکتاگانو» په مقابل کي ایجاد کړې، چي په خپله له نامه څخه یې دا څرگندیږي، چي له خصوصي ملکیت څخه را زیږېدلې دي. «ویداگانو» دې ته شروع وکړه، چي غائبي سي او باید وو، چي یوه «کوډ» ته را محدودي سي، څکه اوس په یوه رسم اوښتي وې او دا حالت یې پای ته رسېدلی وو، چي رشد او انکشاف وکړي او د هېرېدو په جریان کي وې.[^80] «سوتراگاني» واکمني سوې او د «ویداگانو» سره یې اختلاف راغی. له گریهیا څخه واقعیت او له ویدا څخه غیرواقعیت جوړ سو؛ یعني سمریتي یا خاطره څني جوړه سوه. دا اوښتنه کټ مټ هغسي وه، لکه د خصوصي ملکیت څخه چي واقعیت جوړېدی او غلبه یې موندله، خو له ډله‌ییزي ټولۍ څخه غیر واقعیت جوړېدی او مخ پر ورکېدو وه، خو تر اوسه لا په کامله توگه له منځه نه وه تللې. نو څکه قانون‌جوړوونکي لیکي، چي د دوی نوي سوتراگاني او

[^80]: ۸۰ عقیده داسي ده، چي د ویداگانو تدوین «سمهیتا» په همدې وخت کي د کار د تقسیم، ورنه‌گانو او د هغې د نتایجو په سلسله منځ ته را څي. د ویداگانو تدوین نو دا مفهوم لري، چي «یجنا» د اجتماعي ژوند د طرز په حیث له منځه څي.

«سمریتي گاني» یوازنی قانون وو، خو په هغو مواردو کې، چې ځینو د نوي «دهرما» او لرغوني «شروتي» تر منځ اختلاف او تضاد لیدی، نو هلته یې د دوی دوو له جملې څخه ډېر «شروتي» ته اعتبار ور کاوه. خو دا خبره صرف په تیوری کې وه. په پراتیک کې نوو قواوو حکومت کاوه او د دوی قانون اعتبار درلودی.

هغه وظایف چې په پخوانۍ «گنی» کې انتخابي وه، اوس یې موروثي شکل اخیستی او په بېړه خصوصي منافع ځني جوړېده، چې د کمون په مقابل کې یې تېری کاوه.

د مریانو زامن مریان کېدله، شتمنۍ شتمني په میراث وړه او مسکینۍ مسکیني په میراث وړه. له دې سره تضادونه ډېر سوه او شدت یې وموندی، چې په اقتصادي لحاظ غښتلو طبقاتو ځان دې ته عیاراوه، چې د گرده ټولني انتظام په داسي طریقه په لاس کې واخلي، چې ډېرېدونکو تضادونو ته ادامه ور کړي او بالآخره غټ زیارکښ اکثریت د تصاحب کوونکي، مالک اقلیت منافعو او قدرت ته تابع سي. «ویشا سودرا» د «برهما کشترا» تر لاس لاندي سي.

نوو تولیدي قواوو پر څارویو او لاسي صنایعو سربېره له مځکي څخه د تولید یوه ډېره غټه وسیله جوړه کړه. د «گنی» په پخوانیو وختو کې خلگو د څارویو او اولاد «پراجا، پشاوه» دپاره جنگونه او دوعاوي کولې. کرهڼه دوهم شی وه او نو ځکه مځکي هم دوهم حیثیت درلودی. خو د نفوسو له ډېرېدو سره چې یوازي یې په څارویو ژوند نه سوای کولای، د کرهڼي دپاره تقاضا زیاته سوه، نو ځکه دا ضرورت پیدا سو، چې ځنگلونه ووهل سي او د کرهڼي دپاره پاکه

مځکه ځني جوړه سي.[۸۱] دا کار د برونزو په وسلو امکان نه درلودی. د اوسپني ویلېده اختراع سوه، لوی ځنګلونه پاک سوه او مځکه د «سوډرا» مریانو او «ویسیایي» کښتګرانو په مرسته تر یوي لاندي راغله.
ځاروي چي تر اوسه يې د «ګنی ګانو» په ژوند کي لومړی مقام درلودی، دوهم مقام ته ټېل وهل سوه او «بهومي - Bhumi» (مځکي) د نوي عنصر د تولید د وسیلې په توګه لومړی مقام ونیوی. لاسي صنایع له کرهني څخه جلا سوه او ښار له کلي څخه بېل سو. د کشتریا مشرتابه دپاره سربېره پر هغو جګړو چي د مریو (سودراګانو) د لاس‌ته راوړو دباره يې کاوه، د مځکي دپاره جنګ یو عمده شوق وګرځېدی. دا جګړې د «ګنی ګانو» پر سازمان باندي په ژوره توګه خورا ډېره اغېزه اچوي. هغه څه چي یو وخت سوله‌ییزه، ډله‌ییزه ډموکراسي وه، په نظامي ډموکراسۍ تبدیلیږي، چي په هغې کي د «ګنی» د نظامي محاربي اورګانونه ورو ورو پر ټوله کمون باندي ځانونه را پورته کوي او بالآخره هغه تر تابعیت لاندي راولي.
«د نفوسو زیات سوي ګڼوالي دا ایجاب کړه، چي دوی هم په داخلي لحاظ او هم په خارجي لحاظ ښخي نژدې یووالی سره لري. هر چیري د قومیانو قبیلو فدراسیون ته ضرورت پیدا سو او تر دې وروسته نو ژر په ژره د دوی یو په بل ګډېده ضروري سوه او بیا نو بېلابیلي قبیلوي سیمي سره ګډې سوې او د یوه اولس واحده منطقه ځني جوړه سوه. د اولس نظامي قوماندان ریکس «راجان»... یو لازمي او دایمي رسمي مامور وګرځېدی. چیري چي لا اولسي اسامبلې تر اوسه نه وې راغلي، هلته جوړي سوې. نظامي قوماندان «راجان»

---

۸۱ اوس نو د ونو کښېنول او د ځنګلونو جوړول ښه کار نه دی، بلکي د ځنګلو تصفیه کول غوره کار دی او نو ځکه د «کهنداوه – khandava» د ځنګله سوځول په مهابهاراتا کي یو ستر خدمت ګڼل کیږي.

جرگې (سبها) او اولسي اسامبلې (ويداتها) د هغي نظامي ډموکراسۍ (گنی سمگها) اورگانونه تشکيل کړه، چي بهيري ټولني ورته انکشاف را کړی وو. دا نظامي جمهوري وه، ځکه جنگ او د جنگ تشکيلات نو اوس د اولس د ژوند اساسي وظايف وگرځېده. د خپلو گاونډيانو ثروت د هغو خلگو سرابني را ولمسوله، چي دوی په دې شروع کړې وه، چي د ثروت را ټولول د ژوند له زبده مقاصدو څخه وگڼي. دوی بربريان وه. دوی ته تر توليدي کار داړه آسانه وه او حتی تر هغه ډېره ښه او د فخر وړ ورته ايسېدله. جنگ چي يو وخت خاص د يرغل په مقابل کي د غچ اخيستلو دپاره کېدی او يا د دې دپاره يوه وسيله وه، چي د هغي خاوري سيمه پراخه کړي، چي کفايت به يې نه کاوه، اوس صرف د لوټماری دپاره کېدی او يو اساسي شغل وگرځېدی.»[۸۲]

د «برهما کشترا» بډايي کورنياني چي د خواري «ويشا» ډموکراسۍ او «سودرا» غلامۍ په مقابل کي ثروتونو او شتمنيو ته پورته کېدې، نو يې پر ځانو باندي گردآورده ښارونه او کلاوي جوړي کړې او دا يوازي د دې دپاره نه وه، چي د خارجي يرغلگر په مقابل کي ځان په وساتي، بلکي له دې ډاره څخه هم وې، چي مبادار په داخل کي زيارکښان بغاوت ورته وکړي. د ښار او کلي تر منځ تضادونو په ډېر شدت انکشاف کوی.

د خصوصي ملکيت په اساس د توليدي ظرفيت او ثروت ډېرښت نوره لا هم د زيارکښ «ويشا» او «برهما کشترا» طبقاتو تر منځ فاصله پسي پراخوي. په هره اندازه چي «ويشاگان» خواريږي، هغونه د نيول سوو «سودراگانو» حالت ته نژدې ور پوري وهل کيږي. په داسي حال کي چي پخوا «ويشا» اولس د فاتحو

۸۲ اينگلس: د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء (په قوسونو کي دننه خبري په ما اړه لري –ليکوال).

«تریوارنا - Trivarna» (درو ورڼه‌ګانو) آریایانو د یوې برخې په حیث په دې خوشاله وو او ویاړ یې کاوه، چې د «سودرا» مریې خاوند دی، خو د خصوصي ملکیت او مرئیتوب منطق، دی هم په خپل تور (جال) کې ونیوی او مرئیتوب ته یې ټېل واهه. دغه په یو وخت کې سرلوړی «ویشا» چې یوازې دی «برهمان» وو او په ټوله کمون کې یې نفوذ درلودی او هغه منبع یې تشکیلوله، چې «برهما کشترا» «ورڼه‌ګانې» ځنې را ووتلې او د هغو حدود یې وټاکله، اوس په خپله ډېر خوار سو او لکه «سودراګان» غوندې د بنده په توګه وپلورل سو. دا خبره، چې ده یو وخت په فاتحو آریایانو پورې اړه درلوده، یوازې یې ده ته دا حق ور کاوه، چې د «ویدې» مراسمو سره سم وزېږې، ازدواج وکړې او ښخ سي. بېګانه «سودرا» مریې هیڅکله دا نه سوای کولای، چې ځان دغه حالت ته وخېژوي.
په داسې حال کې چې «ویشا» په همدغه ترتیب په تیوری کې اوس لا هم په واکمنې اریستوکراسۍ پورې اړه درلوده، خو د ورځنې ژوند په پراتیک کې د «سودرا» مریانو صفوفو ته ور غورځول سوی وو. هغه آریایي چې یو وخت یې نور مریان کول او ښه ژوند یې درلودی، اوس په خپله کېدلای سوه، چې رانیول سي، خرڅ سي او مریی ځنې جوړ سي. پر مځکه چې دی مرئیتوب ته را محدود سو، نو یې صرف دا کوښښ وکړ، چې آسمان د ځان دپاره محفوظ وساتي. خو هغه یې هم ژر له لاسه ووتی. واکمنو طبقاتو چې «برهمن» رهبري کوله، ژر یې آسمان (جنت) هم په خپل انحصار کې واخیستی. «ویشا» دموکراسي وار د واره پر مځکه او ور پسې په آسمان کې پای ته ورسېده.
«د لوټمارۍ او داړه‌مارۍ جګړو د عالي نظامي سالار او همدا رنګه نائب سالارانو اقتدار ور زیات کړ. له یوې واحدې کورنۍ څخه د اخلافو انتخاب،

چي د تعامل په توګه سر ته رسېدی، په تېره بیا د پلارني حق تر را وتلو وروسته ورو ورو په موروثي خلافت واوښتی. دا خلافت چي وار د واره وزغمل سو، وروسته یې بیا خلف ادعاء وکړه او بالآخره د غصب په توګه واخیستی. په دې ډول نو د موروثي سلطنت او موروثي اشرافیت خښته کښېښوول سوه. له دې لاري نو په اولس، بهیر، فریټري او قبیله کي د بهیري نظام اورګانونه ورو ورو له ریښو وختله او ټوله بهیري نظام پر دا ایله خوا را واوښتی. د قبیلو هغه سازمان چي د خپلو چارو د آزادي ادارې دپاره یې را ایستلی وو، د داړه‌ماری او د خپلو ګاونډیانو د ځورولو په یو سازمان واوښتی. له دې سره سم نو د هغه سازمان اورګانونه له دې حالته څخه، چي د خلګو اراده یې تمثیلوله، په دې حالت واوښته، چي په خپله پر دغو خلګو باندي د ظلم کولو او حکومت کولو مستقل اورګانونه ځني جوړ سوه.»[۸۳]

«برهما کشترا» په دې شروع وکړه، چي خلګ وځوروي او کله چي یې تر استثمار لاندي خلګ ځورول، نو خپل تر منځ یې هم د اولجو پر ونډه او د استثمار دپاره د قدرت پر نیولو باندي یو د بل سره جنګو ته لاس اچاوه. په پځوا کي ټولني د ویني له ګډېدو؛ یعني له قومي اختلاط څخه وېره درلوده، اوس یوه نوې وېره ده، چي «ټولنه» یعني واکمنه طبقه تهدیدوي او دا هغه د «ورڼه‌سانکارا - Varnasankar» یعني د طبقاتو د ګډېدو وېره ده، د زیارکښه «سودرا» مریي او خوار سوي «ویسیا» وېره ده، چي غواړي ټولنه سرچپه واړوي او پخوانۍ «ګنی» او ډله‌ییز اصالت له سره بیا را ژوندی کړي او د استثماروونکو خصوصي ملکیت او د باباګانو او پاچهانو حاکمیت پای ته ورسوي.

---

۸۳ اینګلس: د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء.

دا به نو رشتیا هم د نړۍ خاتمه؛ یعني «پرالایا - Pralaya» وي! واکمن طبقات لړزیږي. جګړې د استثماروونکو او استثمارسوو تر منځ لمبې وهي. استثماروونکي کوښښ کوي، چې د «ګنۍ» د پخوانۍ ټولني د ډله‌ییز اصالت او برابرۍ بقایا چې اوس صرف په دودونو، روایاتو او مذهبي مراسمو کي ژوند لري، د تل دپاره له منځه یوسي او خلع سلاح یې کړي، خو استثمار سوي کوښښ کوي، د خصوصي ملکیت، شتمنیو او وسلو د شاهانه قدرت مخه ونیسي، چې خپل ځانونه د زیارکښ اکثریت پر سر باندي پورته نه کړي.

## دوولسم فصل

## «ګنی سمګهاګاني» په هغه ترتیب، لکه د «پاڼیني»، «کاوتیلیا»، «یونانیانو» او نورو له خوا چي ثبت سوي دي!

دا آریایي «ګنی‌ګاني» چي تر اوسه مو خبري پر کولې، چیري او څه وخت پر انکشاف باندي راغلې؟ آیا کوم داسي ثبت سوی تاریخ سته، چي هغه دا وښیي، چي دغه راز «ګنی‌ګاني» چي موږ ذکر کړي دي، واقعاً موجودي وې او وروسته تر تاړاکو یا داخلي جګړو لاندي راغلې او د هندي تاریخ وروستنی امپراتوري‌ګاني یې منځ ته را وستې؟ راسئ دمخه تر هغه چي په «ګنی‌ګانو» کي د طبقاتي مبارزاتو پر انکشافاتو باندي بیان ته اقدام وکړو، وار د واره همدغه پوښتني تر څېړني لاندي ونیسو.

د «ګنی‌ګانو» د پخواني انکشاف په باره کي کرونولوجیکي معلومات بېخي نامعلوم دي. د اور او د څارویو د کشف له وخته څخه؛ یعني د آریایانو د وحشت له مرحلې څخه د «یجنا» د کمونو د را پیدا کېدو تر وخته او د دوی له خوا د ویلي کولو، اودلو، مبادلې، په «ورڼه‌ګانو» کي د کار د تقسیم، د خصوصي ملکیت او د «سودرایي» ملکیت د اختراع تر وخته ښکاري، چي د سلهاوو کلونو یوه دوره تېره سوې وي. دغه ښایي له هغو نجومي مشاهداتو څخه استنباط سي، چي ویدي (ریشي‌ګانو) یادداښت کړي دي او د دغو مشاهداتو له مفهومه څخه استنباط سي، چي اوسني عالمان لکه تیلاک، دیکسیت، کیتکار او نور پکښي رغېدلي دي. دا خبره ښایي په یو څه یقین سره څرګنده سي، چي آریایي «ګنی‌ګانو» هند ته تر را رسېدو ډېر وروسته «ورڼه‌ګانو»، خصوصي ملکیت او «سودرا» مرئیتوب ته یې په خپل تکمیل

سوي او ثابت شکل انکشاف ور کړ. په کرونولوجيکي لحاظ دغه چاره د «مهابهاراتا» تر جګړې دمخه پېښه سوه، چي د روايت له بيانه سره سم، د هغې جګړې په آخر کي «کالي يوګا» شروع سو او د اجتماعي سازمان شهادت همدا رنګه دغه خبره ثابتوي.

د آريايي کمونو دغه څانګه چي د ختيځ لوري ته راغله، هغه وخت چي په مرکزي آسيا کي له وده کوونکي ابتدايي کمون څخه را بېله سوه، لا يې کرهنې، د کار تقسيم يا يو نظامي مشرتوب ته انکشاف نه وو ور کړی. لومړی څوک چي دا کار وکړي، هغه «اسوراګان» وه، چي د «ديواګانو» خورلڼي کمونونه وه. روايت وايي، چي کله «اسوراګانو» زراعتي نبات ته انکشاف ور کړ، نو «ديواګانو» پر دې کار باندي اعتراض وکړ. خو کله چي دوی هغه نبات وليدی، چي واقعاً د غلې حاصل ور کوي، نو وبېرېده او وتښتېده. د «ديوا اسورا» جګړې مورږ ته وايي، چي «ديواګان» تل تر تله په تخنيک کي د «اسوراګانو» تر شا پاته وه او دا يې له دوی څخه زده کړه، چي يوې ثابتي فني نظامي مشرۍ ته انکشاف ور کړي او يوازي تر هغه وروسته په دې کي بريالي سوه، چي «اسوراګانو» ته ماتي ور کړي. په دې ترتيب نو داسي ښکاري، چي کله دوی له خپله لومړني کوره څخه را بېل سوه، دوی لا اوس هم مورني «ګنیوال» کمونونه وه، چي د توليد په «يجنايي» طرز کي يې ژوند کاوه.

دا د افغانستان په سيمو او په تېره بيا د اباسين (اندوس - Indus) په ناوه او د پنجاب په جنوبي هماليايي سيمو کي وه، چي آريايي «ګنیګانو» «ورڼهګانو»، ملکيت، طبقاتو او مريي‌توب ته انکشاف ور کړ. پخواني ويدي فعاليتونه د دغي سيمي يادونه کوي.

د آريايي «گنۍ‌گانو» تاړاکونه د ختيځ خوا ته ټوله په يوه پلا يوه څپه نه وه، بلکي د سلهاوو کلونو په دوران کي په خپاره صورت پيښېدله، نو ځکه هغه څوک چي څه وخت وروسته راتله، مجبوره وه، له هغه چا سره وجنګيږي، چي دمخه راغلي وه او مېشته سوي وه. دغه جريان هغه خبره روښانه کوي، چي ولي په «ريگويدا» کي،چي هلته «اندرا» په عمومي توګه د ټولو آريايانو لارښود ګڼل کيږي، دا غوښتنه ځني کيږي، چي له يوې آريايي «گنۍ» سره د بلي په مقابل کي مرسته وکړي. د «ثناء» ليکونکي هم آريايان او هم «داسيوگان - Dasyus» دواړه په سرودونو کي د خپلو دښمنانو په توګه ذکر کوي او د «اندرا» مرسته غواړي.

د «اباسين» د ناوې اشغال، د هغه ځای د اصلي اوسېدونکو نيول، د «ورڼه‌گانو» او مرئيتوب انکشاف داسي ښکاري، چي له ۳۰۰۰ تر ۲۰۰۰ قبل‌الميلاد پوري يې جريان درلودی وي.

دا د وروستۍ دورې خبره ده، چي بېلابېلو «گنۍ‌گانو» نظامي ډموکراسيو يا محصورو اريستوکراسيو ته انکشاف وکړ او خپل بې‌طبقې نظامونه يې مات کړل او د سازمان داسي نوي شکلونه يې منځ ته راوړل، چي د ملکيت او مرئيتوب له انکشافه سره مناسبت ولري، يعني د دولت او طبقاتي حاکميت پيلامه يې کښېښوولە.

دا نو د څارويو، کرهڼې، لاسي صنايعو د ثروت او د «ويشاگانو» او مريانو له کار څخه د استفادې په اساس وه، چي د دوی ثروت او قدرت ډېرښت وکړ او نور هم د ختيځ په لوري د «گنگا» د ناوې خوا ته خپاره سوه. دا پېښه په هم‌دغه مرحله کي ده، چي په «گنۍ‌گانو» کي کورنۍ جګړې، د «پاراشوراما - Parashurama»، «هی‌هايا - Haihaya» او نورو «ورڼه‌يي» جګړې را پيدا

کیږي. دا نو د گنگا ناوې ته تر رسېدو وروسته پېښه ده، چې د مرئیتوب کلاسیک هندویي دولت د را زیږېدو رشد ته رسیږي. همدا زمانه نو د «مهابهاراتا» جگړه پېښیږي. دا نو له ۲۰۰۰ تر ۱۵۰۰ قبل‌المیلاد پوري زمانه نیسي او دا هغه وروستنی تاریخ دی، چې د «مهابهاراتا» د جگړې دپاره ټاکل سوی دی. ځینو د «مهابهاراتا» د جگړې تاریخ ۳۰۰۰ قبل‌المیلاد ښوولی دی، چې هغه په عمومي توگه نه دی منل سوی.

د مهابهاراتا جگړه د داسي متقابلو ورانیو سبب کیږي، چې د هغې په نتیجه کي د یو څه وخت دپاره هر ډول غښتلی دولت په هر ځای کي غائیبیږي. د مرئیتوب د دولتونو د رشد مخه را گرځوي او «گنۍسمگهاگاني» بیا دا موقع پیدا کوي، چې له سره ژوند وکړي، خو دا البته د لږ وخت دپاره. مرکزي نیم‌غلامي، نیم‌فیوډالي دولتونه د گنگا په ناوه کي را پیدا کیږي او «گنۍ سمگهاگاني» خوري. ځیني یې د «پاتالي پوترا - Pataliputra» او «هاستیناپورا - Hastinapura» له منگولو څخه لیري د همالیاگانو او «ویندهیاگانو - Vindhyas» او د اباسین د ناوې په گوښو کي ژوندۍ پاته کیږي. د دوی له جملې څخه ځیني تر دې وروستي وخته باقي پاته کیږي، چې د سکندر د دورې یونانیان را ځي او د هغو پېښه لیکونکي موږ ته د دې حقیقت شاهدي را پریږدي، چې هغه «گنۍ گوتراگاني» چې موږ پکښي ږغیږو، هغه راز ژوند یې کاوه، لکه څنگه چې موږ تشریح کړي دي.

د یونانیانو له شهادته څخه پرته موږ د لرغوني زمانې د هندي لیکوالو مشاهدات همدا رنگه په لاس کي لرو. دغه مدارک چې سره را غونډ کړو، نو کولای سو د لرغوني زمانې ځیني «گنۍگاني» په نامه یادي کړو او محل یې وښیو. د دوی له جملې څخه ځیني حتی موږ دې ځای ته رسوي، چې هغه شرایط ووینو،

چي د دوی تر منځ يې د «مهابهاراتا» تر جګړې دمخه، يعني د مرئيتوب د دولت تر نهايي برې دمخه موجوديت درلودی.
په طبيعي توګه ښايي څوک د دې هيله و نه لري، چي «ګنې» هغه راز ومومي، لکه څنګه چي يې د را وروسته لرغوني زمانې د ابتدايي کمون په مرحله کي ژوند کاوه. خو موږ د يوې دغه راز ګنې بيان مومو، چي عملاً يې ژوند کاوه او حتی په را وروسته لرغونې زمانه کي يې په خوشاله توګه ژوند سر ته رساوه. دغه «ګنې‌ګاني» داسي ښوول سوي دي، چي د «اراجاکا - Arajaka» په شرايطو کي يې ژوند کاوه او دا لفظ په عاميانه توګه د «انارشۍ» په معنا ترجمه سوی دی. د مرئيتوب د دورې ليکوالو او د پاچهۍ «مونارشي» مدافعانو د دغسي «ګنې‌ګانو» په باب ناوړه تعبيرونه او بيانونه ساتلي دي، خو دغه ناوړه ښکنځاوي په خپله د دغو «ګنې‌ګانو» واقعي مشخصات ښکاره کوي. لکه دمخه چي وويل سوه، د «کاوتيليا» په «ارتهاشسترا - Arthashastra» کي د «ويراجيا - Vairajya» ګنې‌ګاني د داسي ټولنو په توګه ښوول سوي دي، چي هلته دوی د «زما» او «ستا» رعايت نه کوي. «اراجاکا» خو لا حتی تر دې هم بدتره ده. «مهابهاراتا» موږ ته اطمينان را کوي، چي په پخوا کي هغه وخت چي ټولو خلګو په «اراجاکا» کي ژوند کاوه، نو د وژلو په وسيله يې يو او بل سره محول کول. بيا دوی نيکه خدای ته ورغله او هغه دوی ته دا سلا ور کړه، چي د حکومت دپاره پاچا ولري. خو داسي ښکاري، چي ځينو «ګنې‌ګانو» له نيکه څخه وغوښته، چي دا مشوره دي خپل ځان‌ته ور کړي او خپله پاچهي دي د مريانو د ادارې دپاره وساتي. دې «ګنې‌ګانو» په «اراجاکا» ګي خپل ژوند ته ادامه ور کړه. د «اچارانګا جيناسوتراګاني – Acharanga Jainasutras» د دې وروستنيو ډولو «ګنې‌ګانو» د موجوديت بيان کوي: «ارايانې - Arayani»،

«ګاناراياني - Ganarayani»، «جوواراياني - Juvarayani»، «دو راج‌جاني – Do rajjani»، «وي‌راج‌جاني – Ve rajjani» او «ويروددها راج‌جاني – Viruddha rajjani». د دې شپږو ډولو «ګنی‌ګانو» له جملې څخه به موږ لومړی «اراياني» يعني «اراجاکا» يا «د ګډوډې ټولنه» تر نظر تېره کړو. د دغو «ګنی‌ګانو» مشخصه دا وه، چي دوی خصوصي ملکيت نه درلودی، طبقات يې نه درلوده، مرئيتوب او استثمار يې نه درلودی؛ ځکه نو د «اوتيلا» او «مهابهاراتا» نفرت ځني کېدی. دوی تر اوسه لا هم د پخوا په شان يو ځای کار کاوه او يو ځای يې ډوډۍ خوړله. دغه شکل ټولنه موږ ته د «اتهرواويدا» له خوا ښوول کيږي، چي په هغې کي د «ګنی» ټولو غړو ته داسي بيان کيږي:

«تاسي دلته را سئ همکاري سره کوئ. د يوه واګون پر لار سره ځئ، يو و بل ته د منلو وړ خبري کوئ... ستاسي مشروب بايد يو وي، له خوړو څخه مو بايد ونډه مشترکه وي. زه مو د يو راز ملحقاتو په وسيله يو ځای کوم.» (د بلوم فيلډ ترجمه)[٨٤]

دغسي يوه ټولنه لکه پورته چي ذکر سوه، عملاً د «جينا - Jaina» سياح له خوا څخه په جنوبي هند کي او هم د سکندر د مؤرخ له خواڅخه پيدا سوې ده، چي هغه وايي، دوی ډېر ښه نېکمرغه خلګ وه. د «اتهروا ويدا» له بيانه سره سم، دغو خلګو ډوډۍ په ګډه خوړله.[٨٥] «دوی د کومي داسي چاري افراطي تعقيب، مثلاً لکه جنګ او د هغه په شان غونډي چي وي، يو شرارت يې ګڼي» (سترابو، ۳۴ د جايسوال اقتباس). دا خلګ د يونانيانو خوا «موسيشياني -

---

Bloomfield٨٤

٨٥ د ټولي «ګنی» له خوا په ګډه ډوډۍ خوړل صرف اجتماعي مېله نه ده، بلکي په هغه وخت کي چي خصوصي ملکيت او مرئيتوب منځ ته نه دی راغلی، دا کار د ابتدايي کموني ژوند يوه ضروري برخه تشکيلوي.

Musiciani» بلل کیږي او دوی د «موجیکارنیکا – Muchikarnika» په حیث پېژندل سوي دي.
که د مرئیتوب د دولت او خصوصي ملکیت خطرناکه تخریبي قدرت په نظر کي ونیول سي، چي په هند کي یې ابتدایي کمونونه بلع کوله، نو دا بالکل یوه طبیعي خبره ده، چي فقط یو لږ شمېر د «اراجاکا» گنیګاني په تاریخ کي باقي او ژوندۍ پاته سي.
په دې پسي هغه ډول «گنیګاني» اهمیت لري، چي د «ویراجیا» نظام یې درلودی.
دا هم یوه داسي «گنی» وه، چي دولتي پاچهي یې لا منځ ته نه وه راوړې، خو د کار «ورڼه‌یي» تقسیم، ملکیتي توپیرونو او حتی بابایي مرئیتوب ته یې انکشاف ور کړی وو. هغه «ایتاریا برهمنا» او «یاجور ویدا» د داسي خلګو د موجودیت بیان کوي، چي د ټولني تر «ویراجیایي» نظام لاندي یې ژوند کاوه. دوی د شمال «اوتارکوروګان - Uttarkurus» او «اوتارمادراګان - Uttarmadras» او هم په جنوب کي ځیني نور وه. د دغو «کوروګانو» او «مادرا» ټاټوبی «هیماوات - Himavat» یعني د همالیا سیمي وې.
د دې «کورو» او «مادراګانو» مشخصه څه‌شي وه؟ هلته ټوله «جاناپادا»[٨٦] د یو واکمن په توګه د تاج څښتنه وه، یعني دا یوه ډموکراسي وه. خو د چا ډموکراسي؟ آیا د پخوانۍ «گنی» ډموکراسي وه؟ نه، هغه نه وه. دغه د «کوروګانو» او «مادراګانو» ډموکراسي نه یوازي په دې سبب، چي لکه د

٨٦ د «جاناپادا» کلمه په عادي توګه د «خلګو» په مفهوم ترجمه کیږي، چي دا پوره صحت نه لري. په پخوا زمانه کي د دې کلمې معنا د گنی هغه اصلي قبیلوي غړې وه، چي له نوو «سودرایي» مریانو او نورو پردي کسانو څخه مشخص وي.

«پوروشا سوکتا» ليکونکی چي وايي، بالکل يوه نوې خاص ډول ټولنه وه، چي د «ويراجيا» تر نظام لاندي نوې تر جوړېدو لاندي راغلې وه. دا نوی خاصه‌توب يې څه‌شي دی. تر دې زمانې پوري دوی صرف درې «ورڼه‌يي» تقسيمات درلوده، اوس دوی څلورم يعني «سودرايي» ورڼه هم پيدا کوي. د دې له پيدا کېدو سره نو «اوتار کوروګان» خپرېږي، ترقي کوي او دې ته پيل کوي، چي ټوله مځکه ونيسي. له دوی څخه «ويرات - Virat» جوړيږي. دوی د دولت خوا ته، يعني د «تريوارنا» درو ورڼه‌ګانو د بډايانو د دولت جوړېدو ته، چي پر مرئي (سودرا) باندي حاکميت ولري، لومړی ګام اخلي. دا نو د «پوروشا» يعني د ګنۍ د ډېرښت نوی شکل دی، چي په «پورو شاسوکتا» کي تبارز کوي. ويدي ليکوال د وجد په حالت کي را ځي، چي په دې نوي شکل کي سعادت او رشد په بېړه پرېمانه کيږي. «پوروشا سوکتا» د هغه آريايي سندره ده، چي د مريي بادار دی او همدا اوس يې مرئيتوب تاسيس کړی دی او سعادت يې په برخه سوی دی. دی تر اوسه لا هم يو بابا دی. په خپله همدغه بابا او د ده کورنۍ لا د «سودرا» سره يو ځای کار کوي. په دې ترتيب نو د «ويراجيا» ګنۍ‌واله ډموکراسي له وختي څخه لا يوه محصوره اريستوکراسي ده، چي هلته اولسي اسامبلې حاکميت لري، خو خلک يعني «جاناپادا» «سوداګان» په ځان نه را کښېباسي او نو ځکه د دوی په نسبت يوه محصوره اريستوکراسي ده او په وروسته کي حتی خوار آريايي «ويسيا» هم د ممتازي «دويجا - Dwija» اريستوکراسۍ له صفوفو څخه ايستل کيږي.

تر «ويراجيا» ور پسې يا د هغې پر اړخ مرحله د «سواراجيا - Swarajya» سازمان دی، چي د «ايتاريا برهمنا» په وسيله تشريح سوی دی او په لوېديځ هند کي رواج لري. دا هغه ګنۍ‌وال نظام دی، چي په هغه کي «ګنۍ» ډېره غټه سوې ده

او د کل په حيث خپله وظيفه نه سي اجراء کولای، نو ځکه د مشرانو يوه جرگه انتخابوي، چې ډله‌ييز کار په خپله سبها کي سر ته ورسوي. د مشرانو دغه جرگې د يوې «گنی» يا «گنی‌گانو» د «کنفدريسی» په چوکاټ کي د زمانې د تېرېدو په دوران کي موروثي شکل اخلي او دايمي اشرافي طبقه ور څخه جوړيږي. دغه سبب دی، چې ولي موږ له دې خبري سره مخامخ کيږو، چې په وروسته زمانه کي «گنی» لکه د «کولاگانو = کهولو» يا کورنيو د يوې اتحاديې په توگه تعريف کيږي. د «سواراجيا» محتوی څه شي ده؟ دا کورټ د شخصي حکومت معنا نه ور کوي، که څه هم لفظي معنا يې دغسي وي. د دې هغه قيادت دی، چې انتخابيږي او تقدس ور کول کيږي، چې د گنی چاري تنظيم کړي او دا حق لري، چې په خپل اختيار دنده اجراء کړي. له ده څخه مشر جوړيږي. دا انتخاب سوی «سوارات - Swarat» چې پخوا د «گنی» د غړو سره په يوه برابره سطحه کي واقع وو، اوس د دوی مشر يا غټ، لکه «تايت‌تيري‌يا برهمنا»، چې يې ښيي، ور ځني جوړيږي.

د دغه جريان له مخي څخه دا خبره ليدل کېدلای سي، چې هغه وخت کله چي ابتدايي کمون په دې شروع کوي، چې خپل پخواني خصلت ته تغير ور کړي او خصوصي ملکيت او طبقات، بډای او خوار، ساهو او مرئی منځ ته را ولي، نو دا حالت يې هم خاتمه مومي، چې پخوانی طبيعي ډموکراسي د «اندرا» او د خدايانو د وختو کمون وبلل سي. دا کمون نو دې ته پيل کوي، چې د خپلو چارو د اداري دپاره نوو اورگانو ته انکشاف ور کړي او ورو ورو هغې مرحلې ته نژدې کيږي، چې هلته طبقاتي تضادونه لېوني کيږي او په شديدو مبارازاتو اوړي او بالآخره د طبقاتي حاکميت هغه وسيله تاسيسوي، چې دولت نوميږي. وختي لا چې دغه «گنی‌گاني» د «گنی‌گوتراگانو» ژبه پريږدي او د

راجیام په ژبه ګړیږي، هم‌هغه وخت یو سیمه‌ییزه سیاسي واحد هم د «ګنی» غړي او هم پردي خلګ په خپله غېږ کې نیسي.
د «ګنی‌وال» کمون په پخوانیو زمانو کې کله چې «ګنی» کوچنی وه، نو ټوله «ویشا» یو ځای غونډه کوله او خپلې چارې یې اداره کولې. کله چې په دوی اړ سوه، د جګړې دپاره یو مشر وټاکي، نو «ویشا» په مجموعي توګه د هغه انتخاب کاوه. جګړه یوه حرفه سوه او انتخاب سوی مشر لږ یا ډېر د دوام خصلت واخیستی او «ویشا» اسامبلې چې «سامیتي - Samiti» یا «ناریشتا - Narishta» نومېده، د سبها په وسیله ایسته سوه. خو دا انتخاب سوي مشري یوه موروثي پاچهي نه سوه، بلکې یوه ممتازه اریستوکراسي وګرځېده. خو د دې اریستوکراسی قدرت له انتخابه څخه نشئت را کاوه او انتخاب سوی مشر تر اوسه لا هم دې ته اړ وو، چې تقدس له «ګنی» څخه واخلي. کله چې ګنی خصوصي ملکیت، ورنه‌ګانو او مرئیتوب ته انکشاف ور کوي، نو له هغې څخه یو «راجیام» جوړیږي او د حکومت دپاره له انتخاب سوي مشري څخه «راجایان» جوړیږي.
اریستوکراتیک کهولونه په «راجا کهولونو - Rajakulas» اوړي. کله چې طبقاتي مبارزات د تاریخ په دوران کې یو سرحد ته ورسېده او د مریانو بادارانو برې لاس ته راوړی، نو د «راجاکهولونو» د غړو له جملې څخه یو څوک؛ یعني هغه غړی چې د ډېرو «سوداګانو» او مځکې غټ مالک وو، موروثي پاچا ځنې جوړ سو. انتخاباتي مراسم نو خپل خصلت ته تغیر ور کوي، که څه هم هغه پخواني مراسم له لږو تغیراتو سره د دې دپاره اجراء کیږي، چې د پاچا د تاج ایښوولو د مقصد دپاره په کار واچول سي. د «سامیتي» په شکل کې د «ګنی» رسېدلې او پخه ډموکراسي وه، چې وظیفه یې اجراء کوله. په سبها کې

د شتمنو کورنيو د سرانو يوه محدوده حلقه، که څه هم د انتخاب له لارې راتله، دا وظيفه سر ته رسوي. کله چې ښار او کلی سره بېلېږي، لاسي صنايع او کسب له يوې خوا او کرهڼه له بلې خوا دوو ځانګو ته جلا کېږي او د توليد د ثقل، مبادلې او ملکيت مختلف مرکزونه تشکيلوي، نو «جاناپادا» او «پاورا - Paura» موجوديت پيدا کوي. «جاناپادا» د ملکيت د زراعتي مرکزونو دپاره او «پاورا» د بډايو لاسي صنايعو د صنفي اتحاديو «ګيلډ» او هغو سوداګرو دپاره، چې دوی البته هم ښار او هم د پاچا د دربار شاوخوا ته را جذبيږي. کله چې جاناپادا او «پاورا» د «ساميتي سبها» ځای نيسي، نو دا مهال «ګنی» خاتمه پيدا کړې ده، دولت وختي لا موجوديت موندلی دی او د استثمارچي طبقې د ګټې دپاره پر استثمار سوو باندې حکومت کوي. زموږ د مؤرخانو له خوا د «جاناپادا» او «پاورا» دغه طبقاتي خصلت عموماً نه ليدل کيږي. د پاڼيني چې يو ستر ګرامرپوه دی او د «مهابهاراتا» د جګړې په وروسته زمانه کې يې ژوند کاوه، د هغه په آثارو کې او د «مهابهاراتا» په هغو فصلونو کې، چې نسبتاً په وروستنۍ زمانه کې ليکل سوي دي، موږ داسې خلک مومو، چې د ګنی په طريقه ژوند کوي، خو دا هم ګورو، چې «ګنیګاني» د شتمنو کهولو په هغو سختو مبارزو او جګړو کې را ښکېل دي، چې د قدرت دپاره يې خپل تر منځ سره کوي او داسې ټوله خبرې د کل په توګه د «ګنیوالي» ډموکراسۍ سره منافات لري.

«پاڼيني» د «ګنیګانو» يا «سمګهاګانو»، چې په دغه نامه يې بولي، ډېرې کانفدريسیګاني ذکر کوي او په دوو نومو يې تصنيفوي. دی ځيني «ايودهاجيوين - Ayudhajivin» سمګهاوي بولي. دا هغه دي چې په وروسته کې د «کاوتيليا» له خوا د «شاستروپاجبوين - Shastropajivin» په توګه، چې دواړه يوه معنا لري، ښوول سوي دي. «ايودها جيوينان» په يو بل نامه يعني د

«وارتتا شاستروپاجيوين – Vartta Shastropajivin» په نامه همدا رنګه ذکر کيږي. د «ګنۍګانو» مقوله همدا رنګه د «راجاشابدوپاجيوين - Rajashabdopajivin» په نامه له يوې بلې مقولې سره پرتله کيږي. هغه اجتماعي سازمان چي په دغو صفاتو افاده سوی دی، په سمه توګه د هيڅ مفسر له خوا څخه نه دی ښوولی سوی، حتی د «جايسوال» له خوا څخه هم، چي د هغه ستر کار دا وو، چي ټوله دغه ګنۍګاني يې د هندي تاريخ د ليکنو په چوکاټ کي پر خپلو پښو ودرولې. په دې کي شک نه سته، چي دغه تشريحات د ګنۍګانو د اجتماعي- اقتصادي يا اجتماعي- سياسي سازمان پر يو شکل باندي ارو مرو دلالت کوي. خو له دې څخه ښکاري، چي هغه واقعي توپير چي دغه دواړه او دوی ټوله يې له لرغونو ګنۍګانو سره لري، تر اوسه پوري چا درک کړی نه دی.

«ايودها جيوين» او «شاسترو ياجيوين» سمګهاګاني هغه ګنۍګاني ښيي، چي هلته ګنۍ لا تر اوسه دا پخوانی خصوصيت ساتلی دی، چي ټول غړي يې وسلهوال کيږي. خو ولي دغه شی د اجتماعي سازمان د يوه مخصوص خصوصيت په توګه ذکر کيږي؟ د دې معنا دا ده، چي د «ګنۍ» غړو تر اوسه لا طبقاتي حاکميت او دايمي طبقاتي تقسيمات منځ ته نه وه راوړي، چي هلته د زيارکښانو د بېوسلې پرګنې په مقابل کي يوازي واکمنه طبقه د وسلو يا د ثابت اردو خاونده وي او پر دغو زيارکښانو باندي دغه واکمنه طبقه حکومت کوي. د دې معنا يوه داسي ګنۍ ده، چي په هغې کي له انتخاب سوي مشرۍ څخه لا تر اوسه مطلقه وسلهواله موروثي اشرافي طبقه نه وه جوړه سوې. د پاچهۍ د طبقاتي دولت ليکوال ضرور د ګنۍ دغي مشخصې حيرانوله. دا يوه نظامي ډموکراسي (جمهوري) وه، خو نوره نو د بيخي لرغوني کمونونو په هغه مطلق

بې‌طبقاتي حالت کي نه وه پاته. ملکيتي توپيرونه هغې ته ور ننوتلي وه. کرهنه (وارت‌تا - Vartta)، تجارت، پيسې، ثروت او بابايي مرئيتوب د هغې ساحې ته راغلي وه، خو طبقاتي تضادونه لا دومره نه وه شديد سوي، چي د خوارو آريايي «ويشاګانو» د نابودۍ او خلع سلاح کولو تر سرحده بشپړي جګړې سر ته ورسول سي. په ګڼې کي ټولو زيار ايستی او پرته له «سودرا» مريانو څخه نورو ټولو وسله ګرځوله. بډايان د وسله‌والي زيارکښي ګڼې مشرتوب ته را انتخابېدله. دا هغه «وارت‌تا شاستروپاجيوين» يا «ايودها جيوين سمګها» ده، چي موږ تقريباً تر ۳۰۰ قبل الميلاد پوري د هند په تاريخ کي ور سره مخامخ کيږو.

د ځينو سمګهاګانو نومونه داسي ښوول سوي دي:

الف. «وريکا - Vrika»

ب. «داماني - Damani» او نور

ج- ح (يعني له دريمي څخه تر اتمي پوري). دا له شپږو «تريګارت‌تاګانو - Trigarttas» څخه جوړه سوې کانفدريسي ده. د دې کانفدريسۍ د شپږو غړو نومونه دا دي: «کاوندوپاراتها - Kaundoparatha»، «دانداکي - Dandaki»، «کراوشتاکي - Kraushtaki»، «جالاماني - Jalamani»، «برهما ګوپتا - Brahmagupta» او «جاناکي - Janaki».

ط. «ياودهي‌يا - Yahdheya» او نور

ي. «پارشوا - Parshva» او نور

يا. «کشودراکا - Kshudraka»

يب. «مالايا - Malaya»

يج. «کاتها - Katha»

يد. «ساوبهوتي - Saubhuti»

يه. «شيبي - Shibi»

يو. «پاتالا - Patala»

يز. «بهاګالا - Bhagala»

يح. «کامبهوجا - Kambhoja»

يط. «سوراشترا - Surashtra»

ک. «کشتريا - Kshatriya»

کا. «شريني - Shreni»

کب. «برهماناک - Brahmanak»

کج. «امباشتها - Ambashtha»

دلته ښايي دا وليده سي، چي د ګنګا د ناوې د غښتلو غلامي دولتونو او په خپله د «ګنی‌ګانو» د ډېرېدونکي کرهنې او تجارتي اقتصاد تر فشار لاندي دوی د ځان د ساتني، جګړې او رشد دپاره ډېري کانفدريسی‌ګاني تشکيلولې. خو تاريخ د ګنګا د ناوې «اصولي» آريايان د مريانو د مالکانو د دولتونو پر لاس په نيستی محکوم کړه.

د دغه ګنی‌ګانو له جملې څخه زياتره يې په کوم ځای کي واقع وې؟ پاڼيني د دوی محل په هغه ځای کي بولي، چي د «واهيکا - Vahika» هيواد نوميږي، يعني د اباسين ناوه، له پنجابه څخه نيولې د سيند تر جنوبه پوري. «کشودراکايان» او «مالايان» سيند ته نژدې وه او شپږ «تريګارت‌تاګاني» د هماليا په سيمو کي تقريباً «جمو» تهنژدې وې. موږ بايد ووايو، چي د هند ټوله لوېديځ او جنوب لوېديځ تر هغه کمربنده پوري، چي د «ويندهيايي» سلسلو سره نښلي، د پورته ذکر سوو «ګنی‌سمګهاګانو» نظامي ډموکراسيو اشغال کړی

وو او تاریخ ته یې د خپل ریکارډ له مخې دا اعلاموله، چې د یوې طبقې پر تشدد او د مریي‌لرونکو پر دیکتاتورۍ او خصوصي ملکیت باندې را بناء سوی دولت، که یې د پاچهۍ او که یې د جمهورۍ چوخه اغوستې وه، خو دې ته اړ وو، چې دمخه تر هغه چې ټوله هند بلع کړای سي، باید وو، چې په سلهاوو کلونه وجنګیږي. د «ګنۍ‌سمګهاګانو» داخلي پیوند او اتحاد که څه هم د شتمنۍ د توپیرونو او مرئیتوب په سبب ټوټه کېدی، خو سره له دې دونه ټینګ وو، چې د سکندر فاتح یونانیان د اباسین پر غاړو د دوی له لاسه دې ته اړ سوه، چې ماته وخوري او چیري چې بیا سکندر ته ور تسلیم سوه، هغه په دې سبب وه، چې هلته شتمن طبقات، چې له وختي څخه لا په دې «ګنۍ‌ګانو» کې غښتلي سوي وه، تر جګړې او یو مخیزه نابودۍ یې دې ته ترجیح ور کوله، چې د ضرورت په صورت کې له یرغلګرو سره سوله وکړي.
د «ساوبهوتي» او «کاتها» د «ګنۍ‌ګانو» په باره کې یونانیان وایي، چې د دوی ښځو تر اوسه په خپله خوښه واده کاوه، «البته مفهوم یې «ګاندهارو - Gandharva» او «سوایام‌وارا – Swayamvara» ده». دوی د خپلو غړو په منځ کې غښتلوالي او ښکلا ته ارزښت ور کاوه. همدا لیکوال دا لاندې خبري د هغې طریقې په باب یادداښتوي، چې دوی کوچنیان څه ډول روزله:
«دلته دوی د مور او پلار له ارادې سره سم نه کوچنیان قبلوي او نه یې روزنه کوي، بلکې هغه مؤظف کسان چې د مور و پلار د طبي معاینې چاره ور سپارل سوې وي، لارښوونه کوي، ځکه دوی که د کوچني په غړو کې کومه بدشکلي یا نیمګړتیا په نښه کړي، نو هدایت ور کوي، چې هغه ووژل سي.»
دې خبرو یوازې په هغه «ګنۍ» کې امکان پیدا کولای سو، چې هلته یو پلو ته د مسکینۍ افراطي شکلونو او بل پلو ته ډېرو ثروتونو موجودیت نه درلودی. نو

اولس په نورمال توګه سالم بچیان زېږوله، چي هلته معیوب ولادت خورا کم پېښېدی او هلته د خصوصي ملکیت، کورنۍ او میراث حقوق په کامله توګه د «ګنۍ» پر منافعو باندي لوړ سوي نه وه او هلته د جنګ او بربري عصر د تولیدي تخنیک او منابعو د بیرته‌پاته‌والي تر فشار لاندي دغسي قبلي احتیاطي اقدامات په دې منظور لازم وه، چي تکړه عسکر وروزي.
دا چي د شتمنۍ توپیرونو او د هغه په نتیجه کي طبقاتي توپیرونو «ګنۍ‌سمګهاګاني» هغه وخت لاندي کړي وې، چي موږ له دوی سره د «پاڼیني»، «کاوتیلیا» او یونانیانو په آثارو کي مخامخ کېږو، بالکل یوه څرګنده خبره ده. دغه توپیرونه حتی په ژبني ساختمان کي تثبیت سوي وه. د «مالاګانو - Mallas» آزاد اوسېدونکی «مالاوه - Malavah» نومېدی، خو «سودرا» مریی او کسبکاره بیا په بېله توګه د «مالاویاه - Malavyah» په نامه یادېدی.
«یاودهي‌یاګانو» د «ګنۍ‌سمګها» تنظیم د پنځو زور نمایندګانو یوې جرګې ته سپارلی وو، خو له چا څخه نماینده جوړېدلای سو؟ هغه څوک چي کله به انتخابېدی، نو یې «ګنۍ» ته یو فیل ور کاوه، په دې ډول نو «فیل‌والا» او «بې‌فیل‌والا» له وختي څخه دا ثباتوي، چي «ګنۍ‌سمګها» بډای او خوار ته وېشل سوې وه. د دې اثر ژر په هغو «امباشتهاګانو» کي ولیدل سو، چي وایي دوی د دغو بډایو مشرانو په مشوره که څه هم د نورو رایه مخالفه وه، سکندر ته ور تسلیم سوه. خپل‌چاروکی خصوصي ملکیت تل تر تله ملت یرغلګرانو ته ور تسلیموي، څو چي خپلي طبقاتي ګټي وساتي.
د ګنۍ‌سمګها دوهمه مقوله، چي په ثبت سوي تاریخ کي بیان سوې ده، هغه ده چي د «راجاشابدوپا جیوین» په توګه پېژندل کېږي. دا هغه «ګنۍ‌ګاني» دي، چي هلته د شتمنۍ توپیر او د قبیلوي جګړو سازمان تر دې اندازې رسېدلی دی

او د کمون ډموکراسي دونه ډېره کمزوره سوې ده، چي په عادي توګه د «ګنې ګانو» را انتخاب سوی مشرتابه په خپله ځان يوې موروثي اشرافي طبقې ته اړولی دی. اوس نو يوازي د دغو اشرافو خاندانونه د واکمنو شوراګانو دپاره را انتخابېدلای سي. دا خاندانونه د واکمنو شوراګانو دپاره را انتخابېدلای سي. دا خاندانونه د «ګنې سمګهاګانو» «راجانان» دي او «راجانان» لازمه نه وه، چي اورمرو به د اردو جنرالان يا مشران وي. له دغو «راجاني ګنې ګانو» څخه ډېري مشهوري هغه دي، چي د «ليچهاوي - Lichhavi»، «مالا - Malla»، «ساکيا - Sakya»، «ماوريا - Maurya»، «کوکارا - Kukara»، «کورو - Kuru»، «پانچالا - Panchala» او نورو په نامه يادېږي. د مهابهاراتا د مشهوره «کريشنا» «اندهاکا وريشنيا – Andhaka Vrishnis» همدا رنګه وروسته د دوی صفوفو ته راغله. د کوروګانو او مادراګانو ځيني مشهوره ښاخونه، جي د خپل «ويراجيايي» نظام په وسيله ګواکي د سودراګانو د مرئيتوب موسسان سوه او «راجانيا - Rajanya» ګنې سمګهاګان سوه، د لومړي پلا دپاره يې موروثي اشرافي طبقې ته انکشاف ور کړ او وروسته يې د پاچهې غلامي دولت منځ ته راوستی، چي د بهاراتا جګړې ته منجر سو. خو د مادراګانو ځيني ښاخونه داسي ښکاري، چي تر شا پاته سوي دي او د کار په سست تقسيم پوري موښتي دي، خو ډېر څرګند ملکيت او طبقاتي توپير يې منځ ته نه دی راوړی. ځکه نو دوی د «سمريتي ګانو» او «شانتي پروا – Shanti Parva» د مريي لرونکو ليکوالو په سزا رسيږي، چي هغه ټولو پاکو «برهمنيانو ته اخطار ور کوي، چي د «مادراګانو» او «واهيکانو» هيواد ته مه ور ځئ. د «واهيکانو» او «مادراګانو» خاصه ګناه دا ده، چي هلته خلګ په روڼ خپله «ورڼه» تبديلوي، يوه ورځ يو څوک «برهمن» وي، بله ورځ بيا يو «کشتريا» وي، بله پلا يو «ويسيا» وي، بيا نو يو «سودرا» وي

او بل وار نو بيا يو «برهمن» وي. د دوی ښځې آزادي لري او ټوله مشروبات چښي، خوراکونه کوي او خوشحاله دي. د هغو مريي‌لرونکو د کلتور سره سم، چې يوازې دوی د خوشالۍ او آزادۍ انحصار درلودلای سي او د خپلو «سودرا» مريانو پر شا باندې سپاره دي، داسې څوک يقيناً «گناهکار» بلل کيږي. په تاريخ کې موږ همدا رنگه د دې خبرې يو مثال وينو، چې له يوې درستې «گنی» څخه يوه محصوره «منفوره اريستوکراسي» (چې انگلس يې په دې نامه يادوي) د سيمې د نورو اوسېدونکو په مقابل کې جوړيږي، دا په «وايسالي - Vaisali» کې د «ليچهاوي» گنی ده. (ليچهاويا، ۷۰۷ ر ۷)
«راجانان» درلوده، چې د وايسالي په ښار کې يې ژوند کاوه. دوی واکمنه طبقه وه، چې په يوازې سر يې د اجرائيې منسوبين او مامورين ټاکله، چې اداره او حکومت وکړي. خو د اوسېدونکو ټوله نفوس ۱٦۸۰۰۰ تنه وه، چې د «دباندې اوسېدونکو» او «کورني اوسېدونکو» دوو ډلو ته وېشلې وه او دغه کورني اوسېدونکې «وايساليان» وه.
له دغو مثالونو څخه دا ليدل کېدلای سي، چې د لرغوني زمانې «گنی‌وال» کمونونه او د دوی په منځ کې د طبقاتو او طبقاتي تخاصماتو وروستنې انکشافات، چې د دوی په سازماني ساختمان او ايډيالوجيکې جوړښت کې يې تغيرات را وستل، د هندي تاريخ يو حقيقت دی، چې افسانه نه بلل کيږي.

## دیارلسم فصل

## خونړۍ جګړې او د دولت او «ډنډې» ظهور

د خصوصي ملکیت شدیده مبارزه، چي واکمنه طبقه منځ ته راوړي، له وختي څخه یې لا د «دیواسترا» د جګړې په هغه نکل کي نښې ښکاري، چي د خدایانو او «ویشنو» په منځ کي پېښه سوه او دمخه اشاره ورته وسوه. د همدې انکشاف ناتمامه سلسله نه سوای کېدلای، چي بس پر هم‌هغه ځای باندي ودریږي، د تولیدي قواوو ډیالکټیک دغسي درېدو ته اجازه نه ور کوله. د «بهیشما» له بیانه سره سم، چي دی هر کله مور ته په صریحو الفاظو د کمون د زوال کړغېړنه قصه کوي، هغه وخت چي مبادله او خصوصي ملکیت، سراښي او را غونډول په لرغوني کمون کي را پیدا سوه، نو کمون متخاصمو قواوو ته تجزیه سو او د دې په نتیجه کي شدیدي مبارزې منځ ته راغلې. خدایان اندېښمن سوه. د دې خدایانو د اندېښنې او تشویش دلیل خورا ډېر عجیب دلیل دی. دا خدایان چي دوی هم لکه نور غوندي فاني کېدونکي موجودات وه او پرته له دې بل شی نه وه، نو په دې سبب اندېښمن وه، چي دوی له «فاني کېدونکو سره برابرۍ» ته را محدود کیږي. دوی «برهما» یعني «پیدا کوونکي» ته ورغلل. دلته د دې خبري یادداښتول په زړه پوري دي، چي په پخوانۍ قصه کي، کله چي «بهیشما» مور ته وایي، چي «برهمان» د شخړو په نسبت هلاک سوی وو، خو صرف څلور کرښي وروسته بیا خدایان «برهما» ته ور ځي، چي چاره وښیي. دغه «برهما» اساطیري «پیدا کوونکی» دی او «برهمان» کمون نه دی. که دا هغه په اصطلاح مقدس منتظم وبلل سي، نو له دې خبرو او قضاوت څخه څه نتیجه را وځي؟ دی خدایانو ته یو نوی نظام ور

کوي، چي نړۍ پر سربښته برابره کړي. په پخواني نظام کي خلګو په يوه خودکاره «دهرما» کي ژوند کاوه او يو د بله يې سره ساتله. هلته يوې طبقې پر بله باندي زور نه درلودی، چي د هغې په وسيله خپل روابط تنظيم کړي. نه «ډنډه» وه، نه دولت وو او نه پاچهان وه. په هغه زمانه کي داسي شيان ضروري نه وه. د دې نوي نظام نو ماهيت څه شي وو؟ د اقتصاد او کورنۍ نوي روابط، چي په زور يا شدت ساتل کېده، د «ډنډې» په نامه يادېده. اوس «دهرما»، «ارتها»، «کاما»، چي يو نوی تثليث يعني «ترېوارګا - Trivarga» وو، په خودکاره توګه يې وظيفه نه سوای اجراء کولای، بلکي په کار وه، چي د «ډنډې» په زور تنظيم سي. په هند کي د مريي‌لرونکو دغه لومړی نظام د «ويشالاکشا - Vishalaksha» په نامه بلل کېدی او «مهابهاراتا» وايي، چي په هغه کي د «بهودانتاکا - Bahudantaka»، «بريهاس پتي - Brihaspati» او «کاوي - Kavi» پر لاس تغيرات راغله.

که څه هم د مريي‌لرونکو دغسي نوي طبقاتي واکمنۍ ته، چي پر تشدد را بناء وه، د مقدس «پيدا کوونکي» د توفيقاتو په وسيله تبرک ور کول سوی وو، خو سره له هغه هم تر اوسه بې‌ثباته پاته وه. پنځو يا شپږو پاچهانو به پاچهي لا نه وه کړې، چي بيا به يوه تازه شخړه را پيدا سوه. له دې څخه ښکاري، چي په دغه وخت کي به د داسي پاچهانو د يوه تن له خوا مشري کېده، چي هغه به په خپله د «برهما کشترا» د طبقې په مقابل کي د «ويشا» ډموکراسۍ جبهې ته ورتلی. «وينا - Vena» پاچا د نوي نظام په مقابل کي ياغي سو او له «برهمنيانو» او «کشترياګانو» سره وجنګېدی. په دې جسارتي اقدام کي له «وينا» سره د ده هغې هوښياري مايني مرسته کوله او مشوره يې ور کوله، چي «سونيتا - Sunita» نومېده او ډېر غالب ګمان دا دی، چي هغه د «ادي‌مشرۍ» او د ښځي د

ډموکراسۍ په ایسته‌کېدو باندي څورېدله. خو «سونیا» او «وینا» چي هر څونه ستر هم وه، اما نوو ټولنیزو قواوو نه سوای کولای، بیرته تر شا هغي دورې؛ یعني د ابتدایي کمون دورې ته گامونه واخلي، چي د تل دپاره له منځه تللي وه.
هغه څه چي «وینا» او د ده امثالو کولای سوای، دا وه، چي په ډېر خشونت واکمن طبقات وځنډي او د استثمار شدت نرم کړي، څو چي تولیدي قواوي د یو بل انقلاب دپاره پخیرږي. خو له دې سره هم دغه انقلاب نه سوای کېدلای. د مرئیتوب تاریخي نقش لا پای ته رسېدلی نه وو. د لویو ځنګلي مځکو پاکولو، کرهنې او لاسي صنایعو، مبادلې او تجارت د دې دپاره پراخ امکانات درلوده، چي د هغه مرئیتوب په چوکاټ کي دننه وده وکړي، چي فقط همدا اوس یې په خپل موجودیت شروع کړې وه. «وینا» ماته وخوړه او «برهمنیانو» وواژه. هغه «گنۍ‌گاني» او قبیلې چي له «وینا» سره یې له دباندي څخه کومک کاوه، همدا رنگه ښکاري، چي په دې جگړه کي رعیتي سوي دي. د «مهابهاراتا» قصه روایت کوي، چي «برهمنیانو» چي «وینا» وواژه، نو یې د ده د بدن بېلابیلي برخي وموښلې، چي له هغو څخه قهرجن تور سړي، سور سترگي «نیشادایان» او نور را پیدا سوه. خو د «وینا» له ښي لاس څخه یو سړی را پورته سو، چي «برهمنیانو» ته کوږ سو او و یې منله، چي د دوی امر به پر ځای کوي. د ده پر سر د «پریتهو وینیا – Prithu Vainya» پاچا په توگه تاج کښېښوول سو. د هم‌هغه وخت دپاره جگړه پای ته ورسېده.
نتیجه څه‌شي ده او د «برهمنیانو» امر څه‌شي وو؟ «پریتهو» چي د «وینا» زوی وو، دا یې ومنله، چي د «برهمنیانو» په خوله به کوي، واکمني طبقې ته به تر قانون پورته ځای ور کوي او ژمنه یې وکړه، چي دی به هیڅ‌کله داسي تلاښونو ته اجازه ور نه کړي، چي طبقاتي توپیرونه محوه کړي. د دولت د ظهور په باره

کي هندو تيوري موږ ته وايي، چي له هغه وخته راهيسي نو «ډنډې» يعني قوې دې ته شروع وکړه، چي نړۍ اداره کړي.
د مريي‌لرونکو د بري او د «ويشا» ډموکراسۍ د ناکامۍ په نتيجه کي خورا زيات استثمار او اقتصادي انکشاف منځ ته راغی. د مځکي ډېري غټي ټوټې تر کرهني لاندي راغلې او د لومړي پلا دپاره سيمه‌ييز دولتونه را موجود سوه، چي په هغو کي نه يوازي آريايانو ژوند کاوه، بلکي همدا رنگه پردي کسان «نيشادايان، «سوتا ماگادهايان – Suta Magadhas» او نور هم هلته اوسېدله. «پريتهو وينيا» ته د کرهني د ډېر پراخ انکشاف او د کرونکو نباتاتو د زياتو ډولونو د رواج وياړ ور کول کيږي.
مځکه او مريان، چي د توليد نوي اساسي وسايل دي، پخواني «پراجا – پشاوه»، چي ځاروي او آزاد انسان دی، پسي اخلي يې او «راجاني» دولت، چي د يوې طبقې له خوا د بلي پر شديد استثمار را بناء دی، د «گڼی» هغه کمون پسي اخلي، چي پر سوله‌ييزه همکارۍ را بناء وو.
په دې ډول نو د نه‌رغېدونکو تضادونو جگړو، «راجيام» يعني دولت وزېږاوه، چي طبعاً يې په اقتصادي لحاظ په حاکمه طبقه او نو ځکه په «برهما کشترا» پوري اړه درلوده او په همدې دليل يې نو هغه ستره «ويشا» ډموکراسي او «سودرا» غلامي خلع سلاح کړه، و يې ځبله او تر استثمار لاندي يې واچوله.
واکمن طبقات نو اوس د هغي مغلوبې ډموکراسۍ په نسبت، خپل ممانعت د خدای امر بولي. تر دې وروسته نو د ټوله ژوند اساس بېره ده، چي په قوه زړو ته ننه‌ايستل کيږي او د دولت په وسيله، يعني د «ډنډې» په زور تمثيل کيږي.
متقابله همکاري، سوله او مينه د مريي‌لرونکو طبقاتو د خصوصي ملکيت، سرابنۍ او تشدد په خرېړي کي غائبه سوه. په داسي حال کي چي پخوا خلگ

پر سمه لار او کردار باندي په تشه خبره، د عامه‌رايي په وسيله برابرېده او مجازات يوازي عامه ترټنه «دهيگ ډنډه - Dhigdanda» وه، خو اوس لازمه وه، چي خلگ د دولت، اردو او پوليس د تشدد په وسيله استثمار ته غاړه کښېږدي او وفاداري او د واکمن خصوصي ملکيت درناوي ته ور سوق سي. که دوی سر غړاوه، نو اعدام (وادها ډنډه - Vadhadanda» يې جزا وه، چي د قانون ډېره شديده سزا گڼل کيږي. د دولت له را زېږېدو سره هندو ادبيات په دې شروع کوي، چي د تشدد د دغي نوي دستگاه د ښېگڼو سندري ووايي. که دغه تشدد نه وای او که «اراجاک» يعني بې‌دولته ټولني بيا ظهور کړی وای، نو ملکيت به غائب سوی وای، کورنۍ به ړنگه سوې وای، مذهب به محوه سوی وای او نړۍ به پای ته رسېدلې وای. د ملکيت، کورنۍ او مذهب په نامه واکمنو طبقاتو د زيارکښو «ويشاگانو» او د اسيرو «سوداگانو» پر آزادۍ، ملکيت او کورنۍ باندي تېری وکړ.

د «يجناگانو» او «دانا» په نامه «براهما کشترا» واکمنو اوس د پرگنو ځاروي او ثروتونه په خپل تمليک کي را وستل او هغه لويي مځکي يې لاندي کړې، چي د «ويسيا سودرا» زيارکښانو له خوا د کرهڼي دپاره مساعدي سوي وې. زيارکښ بشريت چي د اوږدو مبارزو په دوران کي مات سوی وو او سلاح څني اخيسته سوې وه، دې ته مجبوره سو، چي اطاعت وکړي او نوی نظام ومني. خو ده بيا او بيا بغاوت وکړ او بيا مات سو او تر اسارت لاندي راغی، څو چي نوي توليدي قواوي او نوي انقلابي قواوي په دننه کي په خپله را وپاڅېدې. د زيارکښانو په مقابل کي پر جگړه سربېره هغه داخلي طبقاتي شخړي هم اضافه سوې، چي د واکمنو طبقاتو تر منځ کېدلې او دا هغه د «برهما» او «کشترا» د خاندانو مبارزې وې، چي د «ويسياگانو» او «سوداگانو» له استثماره څخه د يو

او بل د گټو د کشولو دپاره رواني وې. هندو میتولوجي له داسي شخړو څخه ډکه ده، چي «پراشوراما» د «کشتریاگانو» په مقابل سر ته ورسولې او همداسي د «هی‌هایا»، «ساهاس‌رارجونا - Sahasrarjuna»، «ویتاهاویا - Vaitahavya»، «سرینجایا - Srinjaya»، «ناوشا - Nausha» او ډېرو نورو تر منځ پېښي سوي دي. د «برهمنیانو» پراخي «اشراماگاني - Ashrama» او ور سره د دوی په سلهاوو ایکړه مځکه او څاروي او شاگرد کارگران (د مریدانو په حیث) او «ویسیا سودرا» پیروان، چي د دوی دپاره یې ثروت تولیداوه، د هندو تاریخ په پاڼو کي خپاره بیانونه لري او د برهمنیانو د ملنگۍ، مسکینۍ، راستکارۍ او نورو پیریاني نکلونه برملا کوي. د «کشتریا» د خاندانو نکلونه د دې حقیقت یو داسي خود اقراره سند دی، چي خلک په دې نامه استثماروي او شیان یې استملاکوي، چي دوی ټولنه اداره کوي او له «ورانېدو» یعني له خارجي تېري او داخلي طبقاتي انقلاب څخه یې ساتي. دلته زموږ مقصد دا نه دی، چي د پاچهانو او خانداني سلسلو تاریخ او د دوی ښه یا بد ریکارډ تر څېړني لاندي ونیسو او یا د هغو مشهورو «برهمني» کورنیو تاریخ را واخلو، چي د «اشراماگانو» د لویي زمینداري جایدادونه یې جوړ کړه، جگړې یې سر ته ورسولې او د لویو لښکرو جنرالان او مشران یا حتی د دولتونو واکمنان سوه. نو ځکه موږ د اوس دپاره د دغه ډېر مشهوره ریکارډ چوښول یوې خوا ته پرېږدو او د انکشاف د هغو تاریخي قوانینو په رڼا کي، چي په تیرو بیانو کي مو وڅېړل، صرف له هغه څخه یو د پوهېدلو وړ تاریخ جوړوو. موږ به صرف د آریایي ټولني نوی سازمان وگورو، چي د لرغوني زمانې د مړې کېدونکي «گنی» د غړو تر منځ له شدیدو مبارزو څخه منځ ته راغی.

ولي د ګنې ټولنه مجبوره سوه، چي خپل بهيري نظام پرېږدي او د «راجيام» يعني دولت نوي نظام ته، هغه هم بې له خوښې څخه، ور تسليم سي؟ په کومو اساسي شيانو «راجيا» له ګنې څخه توپير درلودی؟ هغه تاريخي پروسه چي دغي ټکي ته منجر سوه، د اينګلس له خوا په لاندي توګه خلاصه سوې ده:
«را سئ اوس نو وګورو، چي د دې اجتماعي انقلاب په نتيجه کي بهيري نظام کوم حال ته ورسېدی او څه‌شي څني جوړ سو. دا نظام د هغو نوو عناصرو په مقابل کي مغلوب سو، چي نشئت يې له همدې نظامه څخه نه وو را کړی. څکه د دې نظام موجوديت خو دا شرط غوښتی، چي د يو بهير يا مثلاً يوې قبيلې غړي بايد يو ځای په يوه واحده سيمه کي اوسي او د هغه ځای اوسېدونکي يوازي همدوی وي. لاکن دا حالت خو وختي لا پای ته رسېدلی وو. بهيرونه او قبيلې هر چيري پر له ګډي سوي وې، هر ځای مريان، تر لاس لاندي وګړي او خارجيان د ښاريانو په منځ کي ګډ اوسېدله. د ځايي‌کېدو سلسله چي صرف د بربريت د منځنۍ مرحلې په آخر کي منځ ته راغلې وه، کله ناکله شکېدله، ځکه ټاټوبی اليشېده او خلګ له يوه ځايه بل ځای ته تله او په همدې سبب هلته په تجارت، حرفوي معاملاتو او د مځکي د ملکيت په انتقالي چارو کي تغيرات پېښېدله. د بهيري تشکيل غړو نور نه سوای کولای، چي د خپلو ګډو چارو د پوراينې دپاره يو ځای را غونډ سي (لکه پخوا چي دوی په خپلو «ساميتي» او «ناريشتاوو» کي دغسي را غونډېدله). صرف هغه خبري لا په ګډه پر ځای کېدې، چي ډېر اهميت يې نه درلودی، لکه مذهبي اخترونه، خو هغه هم په مات زړه. سربېره پر هغو احتياجاتو او منافعو، چي د پاملرني دپاره يې بهيري اورګانونو وظيفه درلوده او هم د دغه کار دپاره مناسب جوړ سوي وه، نوي احتياجات او منافع له هغه انقلاب څخه را پيدا سوه، چي د ډوډۍ ګټلو په

شرايطو کي منځ ته راغی او په نتيجه کي د ټولني جوړښت پر بل حال واوښتی. دا نوي احتياجات او منافع نه يوازي دا چي پخواني بهيري نظام ته بېګانه شيان وه، بلکي له هره پلوه يې هغه ته مشکلات پېښوله. صنعت‌کاري ډلي چي د کار د تقسيم په اساس منځ ته راغلي وې، نو د دوی منافعو او هم د کلي په مقابل کي د ښار مخصوصو اړتياوو ايجابوله، چي نوي اورګانونه جوړ سي (هغه شان لکه د جاناپادا او پاورا اورګانونه). خو د دغو ډلو هره يوه د مختلفو بهيرونو، فريټريو او قبيلو له وګړو څخه جوړه سوې وه. دې ډلو حتی پردي او بېګانه کسان لا هم شاملوله. نو ځکه دغه نوي اورګانونه ارو مرو تر بهيري نظام دباندي او د هغه سره په موازات؛ يعني د هغه په مقابل کي شکل واخيستی. بيا نو په هر بهيري تشکيل کي د منافعو تر منځ اختلاف احساس سو او دا اختلاف هغه وخت خپل اوج ته ورسېدی، چي په يوه بهير او قبيله کي دننه يو ځای بډای او خوار، سودخواره او پوروړي را پيدا سوه. بل دا چي هلته د نوو اوسېدونکو پرګنه موجوده وه، چي له بهيري اتحاديو او جمعيتو څخه بېګانه وه او هغه لکه په روم (ويسالي، ماګادها، «پاتالا - Patala» او نورو) کي د هيواد په يوه غټ قدرت واوښته او شمېر يې دونه ډېر وو، چي نه سوای کېدلای ورو ورو په کانسنګويني بهيرو او قبيلو کي مدغم او منحل سي. بهيري ټولنو د خلګو د دې لويو پرګنو په مقابل کي د مخصوصو او ممتازو جمعيتو په توګه وضعيت کاوه. هغه څه چي په لومړي سر کي د طبيعت له لاري راغلې ډموکراسي وه، په يوه منفوره اريستوکراسۍ واوښته (دغه حالت حتی ډېر را وروسته د بودا د زمانې د مالا – لچهاوي په «ګنی‌ګانو» کي ليدل کيږي). د پای خبره دا ده، چي بهيري نظام له هغي ټولني څخه وده را کړې وه، چي داخلي تخاصم او تضاد يې نه پېژندی او يوازي د همدغسي يوې ټولني دپاره موزون وو. دې ټولني پرته له

عامه رايي څخه بل اجباري قدرت نه درلودی، خو اوس يوه داسي ټولنه وجود ته راغلې وه، چي د خپل موجوديت د ګردو اقتصادي شرايطو په قوه حتمي وه، چي بايد ساهوګانو او مريانو، استثماروونکو بډايانو او استثمار سوو خوارانو ته تجزيه سوې وي. دې ټولني نه يوازي دا چي دغه تخاصمات يې يو د بله سره روغولای نه سوای، بلکي بايد وو، چي نور يې هم ډېر مخ ته بوځي. دغسي يوه ټولنه نو صرف يا په داسي حالت کي پايېدلای سوای، چي د دغو طبقاتو تر منځ يو د بل په مقابل کي دايمي او ځرګندي مبارزې چالاني وي او يا خو د دريم قوت تر حاکميت لاندي را سي، چي هغه قوت په ظاهري توګه د جنګېدونکو طبقاتو پر سر ولاړ وي او د دوی ښکاره شخړي يې بندي کړي وي او منتها يوې داسي طبقاتي مبارزې ته يې لار خلاصه کې وي، چي تر ډېري اندازې په اقتصادي ساحه کي وي او تش په نامه قانوني شکل ولري. د بهيري نظام د ګټورتوب وختي ولاړ. کله چي کار تقسيم سو او د هغه په نتيجه کي ټولنه پر طبقاتو ووېشل سوه، نو بهيري نظام ټوکر ټوکر او تاشي په تاشي سو، د ده ځای نو دولت ونيوی... نو ځکه دولت له هيڅ پلوه يو داسي قدرت نه ګڼل کيږي، چي پر ټولنه باندي له بلي خوا څخه په زور تپل سوی دی او نه هم «د اخلاقي نظريې واقعيت» يا «د عقل تخيلي صورت او واقعي حقيقت دی»، لکه هيګل چي بللی دی (او لکه همدا رنګه چي لرغوني او اوسني هندي ليکوال په دې عقيده دي)، بلکي دولت د ټولني د انکشاف د يوې ټاکلي مرحلې محصول دی. په يوه ټولنه کي د دولت موجوديت د دې خبري دليل دی، چي دغه ټولنه په خپل ځان کي په داسي تضادونو اخته ده، چي نه سره

حل کيږي او داسي نه پخلاکېدونکو شخړو تجزيه کړې ده، چي له منځه وړل يې د دې له وسه وتلي دي.»[87]

د طبقاتي ټولني د دې نوي اورگان (راجيام) يا دولت هغه مشخصات څه‌شي وه، چي ده ته يې د پخوانۍ «گنۍ گوترا» له سازمان څخه توپير ور کاوه؟

د بهيري سازمان په پرتله، دولت لومړی په دې کي توپير لري، چي هغه خپل غړي پر سيمه‌ييز اساس باندي را غونډوي. پخواني بهيري جمعيتونه چي د وينو د اړيکو په وسيله تشکيل سوي او يو ځای غونډ سوي وه، تر ډېري اندازې له کاره ولوېده، ځکه دې راز را غونډېدو ايجابوله، چي بهيري غړي په يو واحد ټاکلي محل پوري تړلي وي، خو دې حالت لا له پخوا څخه خاتمه پيدا کړې وه. سيمه خو لا ځای پر ځای وه، اما خلگ يې له ځايه څخه ښورېدلي وه. نو ځکه سيمه‌ييز تقسيم د پيل د ټکي په توگه اساس وگرځېدی او د دې نوي منځ ته راغلي سيستم په وسيله اوسېدونکو بې‌له دې څخه چي بهير يا قبيله په نظر کي ولري، خپل حقوق او وظايف يې په هغه ځای کي، چي مېشته کېده، هلته يې سر ته رسوله. د سيمي په اساس د دولت د اوسېدونکو دغه سازمان د ټولو دولتونو مشترکه خاصه ده. نو ځکه موږ ته دغه سازمان طبيعي ښکاري، خو دمخه تر هغه چي دا سازمان وکړای سي، د هغه سازمان ځای ونيسي، چي پر قوميت را بناء وو، يعني «گنۍ» ايسته کړي او ځای يې په «راجيام» ونيسي، لازمه وه، چي ډېري سختي او اوږدې مبارزې سر ته ورسيږي.

دوهمه بېلوونکې مشخصه يې د يوې عامه قوې مؤسسه ده، چي هغه نور په مستقيمه توگه د هغو خلگو سره شباهت نه لري، چي ځانونه يې د يو وسله‌وال قدرت په توگه تشکيلوله. دغه خاصه عامه قوه له دې سببه ضروري کيږي، چي

---

۸۷ د کورنۍ، خصوصي ملکيت او دولت منشاء، (په قوسونو کي خبري په ما اړه لري – مؤلف)

د خلګو يو خودکاره وسله‌وال سازمان نو تر هغه وروسته چي دوی طبقاتو ته تجزيه سوه، ناممکن ګرځي. پاچهان نو دايمي اردو او پوليس ساتي، چي قانون وچلوي او د دې قانون ماهيت دا دی، چي تر استثمار لاندي طبقه د استثمار او کار تر قيودو لاندي وساتي. «چاتورانګا سينا – Chaturanga Sena»، «راجپوروشاوي - Rajpurushas» او د کشترياييي او برهمني خاندانو دا حقوق، چي يوازي دوی وسله ګرځولای سي او د اردو قوماندانني تشکيلولای سي، اوس د تاريخ په صحنه کي را ظاهرېږي. دا عامه قوه يوازي له وسله‌والو وګړو څخه نه جوړېږي، بلکي همدا رنګه خپل مادي ملحقات، لکه بنديخانې، محکمې او هر ډول د جبر مؤسسات لري، چي د دوی ټولو ماهيت «ډنډه» کيږي. پخوانۍ بهيري ټولنه، چي بې‌له طبقاتي تخاصماتو څخه يې ژوند کاوه، «شسترا - Shastra» يعني د جبر قوانينو يا د يوې طبقې له خوا پر بله باندي د ديکتاتورۍ طرز ته يې ضرورت نه درلودی. «شسترا» د طبقاتي ټولني يو محصول دی، ځکه نو هغه د مرئيتوب له ظهوره سره وجود پيدا کوي او د مرئيتوب د دولتونو له پاچهانو سره ملګري دي. له دې جهته نو د جبر او اختناق د آلې په حيث په صحيح توګه تعريف سوی دی او «اپاستامبا دهرما سوتراګاني – Apastamba Dharma Sutras» په صراحت دا څرګندوي، چي «چيري چي کار يا وظيفه له تمايله څخه نشئت را کوي «او منشاء يې له بې‌ميلۍ يا تخاصم څخه نه وي، هلته «شسترا» موجوديت نه لري.»

د دې دپاره چي دغه عامه قدرت وساتل سي، نو د دولت له اهاليو څخه ونډې، يعني ماليات ضروري کيږي. «ګنۍ ګانو» او د دوی «ګنۍ پتي» غټانو، «دنم» يا د هغو ټولو شيانو، چي توليد يې کيږي، آزادانه ويش پېژندی. خو دوی د خلګو هغه محيلانه لوټماري نه درلوده، چي د واکمنو طبقاتو د منافعو دپاره په

«ارتهاشتراګانو» کې د «کاربهارا - Karbhara» تر نامه لاندې تشریح سوې ده. «مهابهاراتا» غواړي لوټماري داسې ملایمه او بې‌تکلیفه وښيي، لکه د مړي چیچل چې له بیده سړي څخه وینه زبېښي او هغه تر څو چې په دا بله ورځ را ویښیږي، په دې پېښه نه خبریږي.

د عامه قدرت او د مالیاتو د حقوقو «په پیداوارو کې د پاچهي دولت د شپږمې د حق» په درلودلو سره مامورین اوس خپل ځانونه د ټولنې د اورګانونو په توګه پر ټولنه باندې لوړ ښيي، د یوه داسې قدرت نمایندهګانو ته، چې هغه قدرت دوی له ټولنې څخه بېګانه کوي، باید ده، چې د خاصو فرمانو په وسیله اعتبار ور کول سي، چې دوی ته یو خاص تقدس او مقبولیت ور بخښي. سربېره پر دې په زیاترو تاریخي دولتو کې اهالیو ته د حقوقو ور کول د ملکیت پر اساس درجهبندي کیږي، چې د هغه په موجب دا مستقماً منل کیږي، چې دولت هغه یو سازمان دی، چې شتمنه طبقه د ناداري طبقې په مقابل کې حمایه کوي. د پاچهي دولتونو «پاورا – جاناپادا» اسامبلې‌ګانې زیاتره د شتمنو اهالیو څخه جوړېدې او کله چې د مرئیتوب دولتونه کافي پوخوالي ته ورسېده، نو ډېره ګټوره مشوره واکمن پاچا ته ور کول سوه - «هر کله د شتمنې طبقې درناوی کوه او امتیاز ور کوه!»[88]

په دې ترتیب نو د تولیدي قواوو رشد تولیدي روابطو ته تغیر ور کړ، خصوصي ملکیت او د استثماروونکو او استثمارسوو په منځ کې یې طبقاتي تخاصم را

---

۸۸ د کتیایانا شراوتا د سوتراګانو (Katyayana Shrauta Sutras) «مهاجاناس – Mahajanas» یا «مهاجانیکاس – Mahajanikas» په وروستني تاریخ کې حتی هغه نیشادایان لا را شاملوي، چې په پخوا کې لازمه وه، چې یا پوپنا سي او یا تر مرئیتوب لاندې را وستل سي، خو په دې شرط چې ثروتونه یې لاس ته راوړي وي.

پيدا کړ او د بشري ټولني هغه مصيبت، يعني دولت يې وزېږاوه، چي «د ټولني د ژغورني» په نامه د استثماروونکي طبقې آله ده.

## څوارلسم فصل

### د مهابهاراتا جګړه؛ د مريي‌لرونکو او «ګنی‌سمګهاګانو» کورنۍ جګړه

هغه کلاسيکه مقدسه مځکه، چې هلته آريايي امپراتوريو د دې دپاره هلي ځلي کولې، چې د مرئيتوب پر اساس باندي وده را وکړي، د «ګنګا» ناوه ده. په لوېديځ کي له «کوروکشيترا - Kurukshetra» څخه بيا په ختيځ کي تر «پاتا ليپوترا - Pataliputra»، يعني په اوسني بيهار کي تر «پټنا - Patna» پوري، د خاوري هغه برخه وه، چې هلته د «مهابهاراتا» تر جګړې دمخه د آريايي «ګنی ګانو» کانفدريسيو، ثابتو، بدايو او د مرئيتوب د نظام شاهانه دولتونو ته وده کړې وه. دا دولتونه له شمال څخه تر جنوب پوري، د هماليا د سلسلې له لمني څخه بيا په اوسني مرکزي هند کي تر «اوانتي - Avanti» غوړېدلې وه او ځيني يې برياليي سوي وه، چې د «ويندهيا» سلسلې ته نفوذ وکړي او ليري «ويداربها - Vidarbha» پوري خپل ځانونه مستقر کړي.

دلته دا خبره هم بايد را په زړه سي، چې هند په هغه زمانه کي د هندوستان او يا د «سندوهوستان» په نامه، چې دواړه يو شی دي، نه پېژندل کېدی. هندوستان هغه نوم دی، چې دې هيواد د «سندهو» له رود څخه واخيستی. د منځنۍ آسيا «سکها پهلوا – Saka Pahlava» او نوري قبيلې، چې نسبتاً په اوسنۍ زمانه کي د «سندهوِ» رود له لاري هلته راغلې، نو يې دا ملک د هغه رود په نامه وباله. د «س» توری د دغو خلګو تر منځ لکه «هـ» غوندي تلفظ کيږي او په دې ترتيب دغه نوم په دې هيواد پوري وموښتی. پخوانيو ليکوالو او خلګو هغه مځکه، چې دوی پکښي اوسېدله، د هغي قبيلې يا ملت په نامه يې بلله، چې هغه به يې اشغالوله، لکه «ماڅيا ديشا – Matsya Desha»، چې د «ماڅيايانو» ملک وو. د

«مهابهاراتا» «بهشيما پروا» دغه راز ۲۰۰ نومونه ذکر کوي. په وروسته کې چې کله سیمه‌ییز دولتونه وجود ته راغلل او خاندانونه له خپلو لويو ښارو سره جوړ سوه، نو د مځکي نومول د واکمنو خاندانو د ارادې او دغه راز نورو عواملو تابع سوه. خو په عمومي توګه د هند زياترو ځايو خپل نومونه د هغه غالب ملت يا «ګنۍګانو» له کنفدريسۍ څخه اخيسته، چې هغه ځايونه به يې اشغالوله، کرله او تر اداري به يې لاندي وه، لکه «انګا»، «وانګا»، «کالينګا»، «کيراتا - Kirata»، «دراويدا»، «کامبوجا»، «ماځيا»، «کورو»، «دادره - Dadra»، «واهيګا» او نور. د دې خبري يادول په زړه پوري دي، چې پرته له «سندهو» څخه د کوم بل رود اوسنی نوم په دې کي نه دی بريالی سوی، چې يو هيواد د هغه په نامه ونومول سي. حتی مشهوره مقدس «ګنګا» هم دغه چانس نه دی اخيستی.

د بهاراتا «وارشا - Varsha» نوم له «بهاراتا» څخه را وتلی دی، چې هغه د «پورو راوايانو - Pururavas» په «ګنۍسمګهاګانو» کي د «دوشيا نتا» زوی وو. دا فقط هغه زمانه وه، چې سیمه‌ییز دولتونو له موروثي پاچهۍ سره دې ته شروع کړې وه، چې وجود ته را سي او ابتدايي ډموکراسۍګاني د منځ ته راتلونکي غلامي دولتونو تر خپاره چپاو لاندي په بېړه غايبېدلې. خو د «پوروګانو» له «بهاراتا» څخه حتی همدغه نوم هغه وخت رواج پيدا کوي، چې د «هاستينا پورا» د «هاستين - Hastin» له خوا تاسيس سوه، چې هغه د بهاراتا له سلسلې څخه پنځم نفر وو. «پوروګانو» دا کوښښ کاوه، چې شاوخوا پاچهۍ، نظامي ډموکراسۍ او «ګنۍسمګهاګاني» وراني کړي او د دې تلاښ په سلسله، چې پر مرئيتوب را بناء د هغي زمانې ډېره لويه امپراتوري جوړه کړي، ځانونه يې د بهاراتا په جګړه او د هغې په خطرناکو عواقبو کي واچول. «منو» او د هندو فيوډالي دولتو نور قانون‌جوړوونکي د «مادهيادېشا - Madhyadesha»،

«برهمارشي‌دیشا - Brahmarshidesha» او «اریا وارتا - Aryavarta» په باره کې بېغېرې، خو حتی هلته هم دوی، له «بنګا - Banga» پرته، د ګنګا د ناوې د ختیځ- لوېدیځ تر حدودو نه اوړي او په جنوب کې د «ویندهیا» تر سلسلې نه تېرېږي، ځکه نو د هندوستان دغه مفهوم چې ټوله هند هغه راز احتواء کوي، لکه ځنګه یې په اوسنی زمانه کې موږ پېژنو، فقط زموږ د تمدن د دورې یو محصول دی. نه «کوروګانو»، نه «پوروګانو» او نه هم د «ایودهیا - Ayodha» د خاندان «راما» او نه د «اندهاکا- وریشني» د «ګنی‌سمګهاګانو» «کریشناواسو دیوا» کوم وخت دې هیواد ته کوم نوم ور کړی دی.
د لرغوني هندي تاریخ سلسله په بېخي قطعي توګه د «بهاراتا دمخه» او «بهاراتا وروسته» دورو ته وېشل کېدلای سي. هر روایت -عامیانه، تاریخي او اساطیري- دا مني، چې دغه په تاریخ کې یوه داسي پېښه وه، چې د انکشاف ټوله سیر ته یې تغیر ور کړ او یوه نوې دوره یې را پیل کړه. روایت دغه جریان په دې خبره کې را خلاصه کوي، چې روانه «کالي‌یوګا»، یعني د «کالي» دوره د «بهاراتا» له جګړې سره را شروع سوه. ولي روایت دغسي وایي او ولي په هند کې ټوله لرغونی روایتي تاریخ پر دې ټینګار کوي، چې دغه واقعه په تاریخ کې د څرخ د نقطې په حیث وبولي؟ په کرونولوجیکي تاریخ‌واره سلسله کې د «راما راوانا – Rama Ravana» جګړه د «بهاراتا» تر جګړې پنځه سوه کاله دمخه وه، خو له بده مرغه د هغې زمانې رشتیاني تاریخي شرایط په دونه تفصیل او حقیقي توګه نه موجودیږي، لکه څونه چې د «بهاراتا» د جګړې په باره کې موندل کیږي. د «والمیکي - Valmiki»، «رامایانا - Ramayana» یو ډېر تازه تألیف او یو شعري تصنیف دی، چې تر «بهاراتا» وروسته د فیوډالي هند نمایندګي کوي او د «راما راوانا» جګړې ته د فیوډالي دورې ایدیالوجیکي قیافه ور کوي.

رشتيا هم «والميکي» ښکاري، چې د «بهاراتا» حماسې قهرمانان يې د خپلې ايډيالوجۍ دپاره نامناسب پيدا کړي دي او نو له دې جهته په يوه داسې قهرمان پوري لاسونه ټينګوي، چې د هغه د زمانې او ژوند په باب يو څه ويل کېدلای سي، ځکه د پخوا په نسبت هيڅ معلومه خبره د خلګو په حافظه کې نه وه پاته. او کله چې «والميکي» کوښښ کوي، له پاچا څخه يو ايډياليست قهرمان او خدای جوړ کړي، نو ناکامه کيږي او صرف يو محبوب زلمی، چې د پاچهۍ يو ظالم جوړوونکی ځني جوړيږي، د هغه په شعر کې تبارز کوي. د «والميکي» د قهرمان تش په نامه صداقت هغه وخت رسوايۍ ته را وځي، چې په خيانت سره «والي - Vali» وژني. د ده انسان دوستي هغه وخت درواغ کيږي، چې دی داسې يو «سودرا» وژني، چې هغه تلاښ کوي، ځان آزاد کړي او يو سپېڅلی آريايي ځني جوړ سي. حتی د ده د آيډيالي «مونوګامۍ» په نسبت د رواياتو له مخې پوښتنه را پيدا کيږي، ځکه په همدې اساس «جينا سوتراګاني – Jaina Sutras» وايي، چې «راما» په هغه زمانه کې ژوند کاوه، چې ابتدايي خلګو لا تر اوسه د ورور- خور ازدواج نه وو منعه کړی او «سيتا - Seeta» د «راما» خور وه. حتی «والميکي» و نه کړای سوه، دا حقيقت پټ کړي، چې دا «ايونيجا - Ayonija» وه، يعني په خاندان کې نه وه زيږېدلې.

دغه وجوهات دي، چې د «راما راوانا» جګړه په لرغوني تاريخ کې د يوې مرحلې په توګه نه سي ټاکل کېدلای. خو البته د جزئي څرګندونو له مخې چې لاس ته را ځي، دا خبره کېدلای سي، چې د «رام» د پلار «داشاراتها - Dasharatha» په زمانه کې د «ايودهيا» «راګهوګان - Raghhus» د لومړنۍ ګنۍوالي ډموکراسۍ خاتمې ته را رسېدلي وه. د «داشاراتها» د واکمنۍ پر چوکۍ باندې د «راما» کښېناستو په پخوا کې دا غوښته، چې د «ايودهيا» د

«راګهوګانو» د اسامبلې له خوا څخه تصویب سي. خو د «راجان‌توب – -Rajan ship» یا سلطنت موروثي نښې له وختي څخه لا په تشریفاتو کې لیدل کیږي. سودرا مریی او د «راګهو» د واکمني طبقې پر لاس د هغه شدید ځپل کېده او هغه غټ تاړاک چې د چارپېره آزادو قبیلوي «ګنی‌ګانو» په مقابل کې د «راما» له خوا له داخلي رقابتونو څخه په استفاده سر ته ورسېدی، موږ ته دا خبره څرګندوي، چې دغه جریان چې د ګناه‌کار بدای او بېوزله خوار دپاره هر راز مذهبي ارزښت او د «رامایي» عبادت محتوی ولري او هر ډول چې د منځنیو پېړیو اوسنی زمانې په تاریخ کې د ده له الوهیته څخه بېلابیلې استفادې کیږي، خو د «مهابهاراتا» په دمخه دوره کې د «داشاراتهي‌راما» سلطنت د «ګنګا» د ناوې د هغو سلطنتونو له جملې څخه یو سلطنت وو، چې د مرئیتوب پر بناء د لومړي ځل دپاره منځ ته راتله.

د راما خاندان سره له هغه چې په تاریخ کې یې دوره ډېره اوږده وه، خو د «هاستینا پورا» د «پوروګانو» د خاندان په منځ ته راتلو سره تحت الشعاع واقع سو. هلته همدا رنګه د «کاشي - Kashi»، «ماګادها»، «وایدیها - Videha» او «ماتهورا - Mathura» د «یاداواګانو - Yadavas» مشهوري پاچهی موجودې وې. د ازدواجي خپلویو یا جګړې په وسیله د «ګنګا» د ناوې مختلفې «راجایي» کورنی په غټو پاچهیو کې متحدې کېدې او مطلقه امپراتوري سیستمونو ته یې رشد کاوه. د دغو جریاناتو تصویر د هغو خانداني سلسلو له مخې څخه په لاس راوړل کېدلای سي، چې په بېلابیلو «پوراناګانو»؛ په تېره بیا په «هاریوامشا» او د «مهابهاراتا» په غني روایاتو کې یې بیان راغلی دی. «ګنی‌سمګهاګاني» لکه «اندهاکا وریشني‌ګاني» همدا رنګه د «ساتواتاګانو - Satvatas» او «یاداواګانو» په توګه ښوول سوي دي، چې هغوی د هند په مذهبي او اجتماعي تاریخ کې

له «کریشنا» سره مرسته کړې ده او دې ته مجبور سوي دي، چې جګړې ته را کښېوزي او د «شیشوپالا - Shishupala» پر لاس ماته وخوري او مهاجرت وکړي. «یاداواګان» له خپلي ټولي «ګنيسمګها» سره لوېدیځ ته بار سوه. «راجایي» کورنیاني یو د بل سره په جګړه اخته سوې او دا هغه کار وو، چې په پخوانۍ «ګنيواله» ډموکراسۍ کي چا نه واورېدلې او ډېره غټه ګناه ګڼل کېده. د «ماتهورا» «کامسا - Kamsa»، د «ماګادها» «جاراساندها - Jarasandha» او د «هاستینا پورا» «کاوراوایان» په دې تلاښ کي وه، چې غټي امپراتورۍ جوړې کړي، نو یې د ګاونډیو قبیلو سره د شدیدې جګړې او هم یې د خپلو حریفو قومیانو سره د داخلي جګړې په وسیله د پخوانۍ قبیلوي نظامي ډموکراسي (جمهوري) ټوله آثار له منځه وړه او مطلق موروثي سلطنتونه یې تاسیسوله او ثروت، مځکه او مریان یې را غونډوله. د «ګنيسمګهاګانو» د اصلي اوسېدونکو سره د دغو پراخېدونکو غلامي دولتونو نښتي، د هغو غټو ثروتو د تصاحب دپاره د مریيلرونکو خاندانو تر منځ داخلي جګړې، چې د دوی د خپلو «ویسیاګانو» او «سودراګانو» له خوا تولید کېده، بالآخره دې ځای ته ورسېدې، چې د «مهابهاراتا» جګړه یې منځ ته راوړه. د «ګنۍ» د غړو ډموکراسي له ډېره پخوا راهیسي د «هاستینا پورا» د «کاوراوانو» تر منځ مړه سوې وه. د «پوروشاسوکتا» لرغوني «کوروګان»، چې د بابایي مرئیتوب مؤسسان وه، اوس د یوه غټ سیمهییز غلامي دولت واکمنان ځني جوړ سوي وه. د «ګنۍ» د غړو ډموکراسي د مشرانو او د بډایو کولاګانو (کهولونو) اریستوکراسۍ ته را کوچنۍ سوې وه او حتی دوی اوس د مطلقي پاچهۍ په وسیله د محوه کېدو ټکي ته را رسېدلي وه. دغه دلیل دی، چې ولي «کریشنا» د «کاوراوا» د مشرانو سره د ملاقات په وخت کي دا شکایت کوی، چې د «کاوراوانو» د بربادۍ عامل دا

وو، چې د دوی مشرانو نه سوای کولای، د هغو ځوانو پاچازاده‌گانو په مقابل کې له قوې څخه کار واخلي، چې هغوی په ډېره تلوار ببره کوله، چې د لرغوني ډموکراسۍ ټوله پاته آثار ایسته کړي. دغه ناتواني یې له دې خبري څخه منشاء اخیستې وه، چې دغه مشران، چې گمان کېدی، دوی به د «گنی‌سمگهاگانو» ډموکراسي ساتي، په خپله د هغې د محوه کېدو عاملان سوه. دوی په خپله د ثروت، مریانو او مځکي په تلاښ کي وه. جگړه د دوی دپاره یوه حرفه گرځېدلې وه. د ثروت را غونډېده په داسي سرعت سر ته رسېده، چې «درونا - Drona» چې د جگړې د وسلو له ډېرو ماهرو تخنیک‌گرانو او استادانو څخه یو تن وو، لا په ډېر مسکنت کي را ښکېل وو او کله چې یې زوی «اشوات تهاما - Ashvatthama» شیدې غښي وغوښتې، نو دی مجبوره سو، د هغه د مړولو دپاره اوبه له سپینو اوړو سره گډې کړي او په دې ډول هغه ژړانده ماشوم آرام کړي. دا د تعجب خبره نه ده، چې دی هر کله آماده وو خپل خدمات پر هر مریي‌لرونکي بادار باندې د تادیې په مقابل کي خرڅ کړي. اریستوکراتان چې مریان یې درلوده، له مریانو څخه یې د ډار په حالت کي ژوند کاوه او هم له هغو ناتسخیره سوو قبیلو څخه په بېره کي وه، چې مریان ځني را وستل کېده او نو ځکه د مریانو له جملې څخه د کوم مریي یو جزیي تلاښ چې وسله وگرځوي یا د بشري موجود په حیث د حقوقو غوښتنه وکړي، په ډېره وحشیانه توگه سره مجازات کېدی. «ایکالاویا - Ekalavya» چې یو «نیشادایي» زلمی وو، که د خپلو بادارانو ایډیالوجۍ ته د خپلې وفادارۍ ښکار نه وای گرځېدلی، نو به یې د «درونا» سره اړیکي نه وای شکېدلي او د «ارجونا» حریف یو ستر «سودرا» به ځني جوړ سوی وای. د ثروت دپاره سرابښۍ دغه د مریي‌مالکان

اخیستي وه او د ثروت دپاره دوی چمتو وه، چې په لرغوني هندي تاریخ کې ډېره غټه عامه وژنه؛ یعني د مهابهاراتا جګړه منځ ته راوړي.
د مرئیتوب، پیسو او طبقاتي حاکمیت منطق بیرته د مریي مالکان پر مخ ووهله. هغه تخنیک او قهرمانیت، چې د «ګنیسمګهاګانو» په توګه یې د دې دپاره انکشاف کړی وو، څو چې اصلي اوسېدونکي، یعني «راکشاساګان - Rakshasas»، «ناګایان»، «نیشادایان»، «دراویدان» او نور فتح کړي، د ګنګا د ناوې او «اباسین» د ناوې تر اشغال وروسته تقریباً بن‌بست ته ورسېدی. په پخوا کي د آس په ذریعه او د اوسپني څوکيلرونکي غشي په وسیله د ځایو نیول آسانه وه. دا هغه وسایل وه، چې تېري‌کوونکو آریایانو درلوده، خو له محلي اولس څخه نه وه. پراخېدونکي «ګنیګاني» خپرېدې او په زور یې د ځانو دپاره خپلي حوزې ټاکلې. خو څه‌رنګه چې خصوصي ملکیت، مرئیتوب، تجارت او د ثروت تمرکز وده وکړه، نو د «ګنی» ډموکراسي دښمنو طبقاتو ته تجزیه سوه او دوی په داخلي جګړو کې ونښته. څه‌رنګه چې د مځکي او مریانو دپاره توسعه ورځ په ورځ مشکله کېدله، نو د ارستوکراتانو خاندانونو تلاښ کاوه، یو د بل له لاسه څخه په زور شیان وکاږي. د شتمنیو را غونډېدلو د قومیانو نژدې خپلوانو له دې غوښتنو سره منافات درلودی، چې د پخوانۍ ګنیوالي ډموکراسۍ له قوانینو سره سم باید په لاس ته راتلونکي شتمنۍ کې ونډه ولري. د مریانو او لوټمار دپاره له پردیو قبیلو سره جګړه بیرته دوی پر مخ ووهله او د خپلو ځاني قومیانو سره یې جګړه را وزېږوله. مریيلرونکي طبقې په خپله د خپلو مریيلرونکي ځاني ورونو سره د لوټمارۍ په ولجه کې د ونډې اخیستو دپاره جنګ کاوه. د نیول سوو مرئیتوب په خپله فاتحان د سراښۍ تر اسارت لاندي را وستله. دغه نو د دوی خپله ځاني پخوانۍ ګنیواله ډموکراسي ووژله.

پرته له دې به نو چا اورېدلي وای، چې ورونه او د دوی ماینې دي په مرئیتوب باندي د قمار پر تخته خرڅېږي! کومي مور به د یجنا د کمون په پخوا زمانو کي يو ښکلی زوی، لکه «کرنا - Karna» غوندي په دې سبب، چې هغه له دې څخه د یوې پېغلي په توگه زېږېدلی دی، ایسته غورځولی وای، لکه «کونتي» چي وکړه؟ او په داسي حال کي چي دغه نامشروع بچي «کرنا»، چي د «انگایانو - Angas» له متواضع کب‌نیوونکو سره لوی سو، تر خپلو مشروع ورونو ډېر سخي او زړه‌ور وو. «ارجونا» چي د «پانډو - Pandu» نیم‌مشروع زوی وو، کولای يې سوای، چي په عادي سپورټونو کي حتی یوازي په دې وسیله بری وگټي، چي د یوه مريي‌لرونکي راجاني نسب د افتخار باټي ووهي، خو د ده حریف «کرنا» نه سوای کولای، چي د خپل پلار نوم واخلي! د ابتدایي گنۍوال کمون بشردوستي د مريي د مالکانو د ثروت غرور او کینه‌جویۍ ته تسلیم سوه. د «مهابهاراتا» جگړه د هغه نتیجه وه.

د «بهاراتا» جگړه په لومړي سر کي د «هاستینا پورا» د سلطنت د یوې واحدي واکمني کورنۍ د پاچازاده‌گانو تر منځ د یوې جگړې په توگه را شروع سوه. دا د قومیانو تر منځ د یوې داخلي جگړې په حیث را ونښته. دا کار د «یجنا گنۍ» د اصولو سره، چي په هغې کي قومیانو نه سوای کولای، چي قومیان ووژني؛ بالکل منافي وو.

په هغو اتحادیو کي چي د «کاوراوایانو» یا «پانداوانو» سره د یو ځای کېدو په وسیله هري خوا جوړوله او «ساتواتاگاني» نومېدې، هلته ډېري «گنۍسمگهاگاني» وې، چي هغوی هم خپل په منځ کي تجزیه سوي وې او یو د بل په مقابل کي جنگېدلي وې. دا د ټولو «گنۍسمگهاگانو» د ډموکراسیو یوه عمومي تجزیه او متلاشي کېده وه.

د نورو ډېرو دولتونو قومي پاچازاده‌گان یعني «ماکادهایان» همدا رنګه خپل تر منځ تجزیه سوه او یو د بل سره په جګړه اخته سوه. داخلي جګړه د اشرافي طبقې هر واکمن خاندان ته ور ننوته.
د اصلي اوسېدونکو ډېري قبیلې، یعني «راکشاسایان»، چې د هغو مشرانو یا تر ماتي وروسته یا صرف د اتحاد په سلسله له دغو واکمنو خاندانو سره روابط تشکیل کړي وه، همدا رنګه په جګړه کي را ګډ سوه. خو البته ځیني قبیلو، لکه «ناګایانو»، «دراویدانو» او نورو، داخلي جګړې ته د یو داسي مجال په توګه هرکلی وایه، چي له دغو لویو پراخېدونکو دولتونو څخه خلاص سي، چي دوی یې نیوله او تر اسارت لاندي یې را وستله. دوی هیله درلوده، چي د دغو سلطنتونو په ړنګېدو سره به خپلو پخوانیو ښو زمانو ته بیا ور ستانه سي، چي البته دا یوه بې‌ثمره هیله وه.
د «یاداوایي» سمګهاګانو د کانفدریسی غټو مشرانو که څه هم په «کوروګانو» پوري ارتباط درلودی، خو له دې څخه یې ډډه کوله، چي په جګړه کي ګډون وکړي او د «کریشنا» تر مشری لاندي یې تلاښ کاوه، چي د منځګړو په شان فعالیت وکړي. خو جګړه چي یو پلا شروع سوه، نو د دوی بې‌طرفي د یو څو کسانو په پرته، تش یو ظاهري شکل درلودی، تر داسي حده چي «کریشنا» په خپله د «پانډاواګانو» پر خوا وو، اما د ده لښکر له «کاوراوایانو» سره یو ځای سو. د دې مفهوم دا دی، چي «اندهاکا وریشني‌ګان» همدا رنګه تجزیه سوه او مخالفي خواوي یې ونیولې.
په دې ډول نو د «مهابهاراتا» جګړې تقریباً ټوله شمالي هند په یوه خطرناکه ویني تویولو کي را کښېایستی. د «ګنی‌سمګهاګانو» ټوله پخوانی نړی، نظامي ډموکراسی‌ګاني، د اریستوکراتانو «کهولي‌سمګهاګاني»، د مریانو دولتونه او

ټوله د جګړې په ایشېدونکي دېګ کي ولوېدل. دا نو د «ګنۍګانو» د پخوانۍ نړۍ او د دوی د ارزښتونو، د دوی د اخلاقي اصولو، د دوی د اقتصاد او اجتماعي روابطو خاتمه وه. یوې نوي نړۍ غوښته، چي خپل ځان ټینګ کړي، دا د سرابښۍ، ثروت او پر استثمار سوو سوداګانو او «وایسیاګانو» باندي د مریيلرونکو د متمرکز قدرت نړۍ وه.
په ټولنیزو روابطو کي دغه خطرناکه بحران او هغه ایډیالوجیکي ارزښتونه چي دوی انعکاسوي، په یو ډول سره د «بهګوادګیتا - Bhagwadgeeta» په داستاني پېښه کي اشاره ورته سوې ده، چي هغه بېلابېل فلسفي مکتبونه، چي په دغه اثر کي ځېړل کیږي، د اوس ګړي دپاره یې یوې خوا ته پرېږدو. د هغه مبداء دا ښیي، چي د «ګنۍ» ډله‌ییزو روابطو او د هغو ایډیالوجۍ ته یې آخرینه مرګګۍ ضربه ور کړه او د خصوصي ملکیت او طبقاتي روابطو د اخلاقو تفوق یې، تقریباً د شکاکیت په سبک کي پر کرسۍ باندي کښېناوه. دا نوي روابط په یوه حقیقت اوښتي وه او د «ګیتا» بیان هغو ته تیوري ور کړه او زیار یې وایستی، هغه نقادان پټه خوله کړي، چي د پخوانۍ ګنۍوالي ډموکراسۍ له نقطه‌نظره څخه به یې خبري کولې. د الوهیت او د «کالي» د عصر د نوي «اواتار» په نامه «ګیتا» دا اعلام کړه، چي د قومیت او د «ګنۍ» د ډله‌ییزي ډموکراسۍ عصر تېر سوی دی او د طبقاتي تخاصماتو او استثمار عصر راغلی دی. د پخوا زمانې اخلاقي اصول او اخلاق مړه سوي دي او د نوي زمانې اخلاقي اصول او اخلاق ستر بلل کیږي.
هغه شان لکه روایتي بیان چي موږ ته حکایت کوي، په یقیني توګه د «ګیتا» اتلس فصلونه د «کریشنا» او «ارجونا» تر منځ سیده د جګړې په ډګر کي منځ ته نه دي راغلي. حتی د هغه ډېر احترام په نسبت، چي سترو شخصیتو ته ور

کول کېدی، «کريشنا» دونه ډېر واقع‌بين وو، چې خپل ځان يې په دغسي خندوونکي حالت کي نه اچاوه. د «مهابهاراتا» د جګړې تيوريسن د دغه کتاب تأليف په يوه آرام ګوټ کي سر ته ورساوه. خو دا تأليف تش وروستی فکر نه دی او نه د جګړې اوضاع صرف د دې دپاره يو دليل کېدلای سي، چې د هغه ليکوال د خپلي زمانې ټوله فلسفي مکتبونه د جزئياتو په تفصيل وښيي. که دا يوازنی محرک وای، نو کېدلای سوای، چې همدا رنګه په هغه «شانتي‌پروا» کي راغلي وای، چې هلته هر راز سوالونه او مباحثات مطرح سوي دي او جوابونه يې ويل سوي دي. هغه اساسي پوښتنه چې ليکوال غواړي په «ګيتا» کي يې جواب ووايي، هغه عمومي مسئله وه، چې د «بهاراتا» د جګړې په باره کي د ټولو مفکرينو له خوا مطرح سوې وه. دا نه د «سان‌نياسا - Sannyasa» او نه د «کارمايوګا - Karmayoga» مسئله وه. په دې کي شک نه سته، چې «ګيتا» د فلسفې عمده مسئله، چې د هستې او شعور رابطه ده، تر څېړني لاندي نيسي. «ګيتا» غواړي چې له تفکر او سلوک سره د غذايي ترتيب د رابطې په باره کي يوه نظريه ور کړي. خو له دې ټولو خبرو سره د تاريخ هر څېړونکي ته دا څرګنده ده، چې د «ارجونا» ناروغي نه غذايي وه او نه هم د ده پرابلم د فلسفې د کوم مکتب د غوره کولو يو پرابلم وو. ده يوه ساده مسئله را وړاندي کړې وه، چې البته د هغي زمانې د عامو خلګو په اذهانو کي يې، چې هغوی تر اوسه لا د «ګنې» د روابطو، خويونو او اخلاقي اصولو ته وفاداري ژوندي ساتلې وه، ډېر لوړ ځای درلودی. ده په مملکت کي حتی پنځه کلي غوښته او تر دې اضافه يې نور څه نه غوښته، خو دې ادعاء داسي ځای ته را وستی، چې هلته مجبوره سو، چې جنګ وکړي او خپل «ګوروګان»، نيکه‌ګان، ورونه، اکاګان او لنډه دا چې هر شناخته قومي ووژني، چې د هغو وژنه په هر دليل چې به وه، د پخوانی

زمانې د ایډیالوجۍ سره سم ګناه او مطلق منعه وه. د پخوا ګنۍوالو ډموکراسیو خپلو خلګو ته داسي روزنه ور کوله، چي دغسي وژني ته د خورا ډېر لړزوونکي وحشت په سترګه وګوري. دغه کارونه نو ټوله ځنګه روا سوه او اوس ګناهکاري نه بلل کېده؟ که پخواني اخلاق پاته وای، نو د دواړو خواوو ټوله مشران پر غلطه وه او ټوله کولاګاني (کهولونه) یې ورانۍ او دوږخ ته رسولې. د «ګنۍسمګها» او «کولا سمګها» په اساس خو یوازنۍ منطقي نتیجه دا وه، چي د ملکیت او مملکت دعوی پرېږدي او په دې ترتیب نو له قومي وژني ځخه لاس واخلي او د همدې ګناه له کولو ځخه ډډه وکړي او را تر شا سي «سان‌نیاسا». خو که لازمه وه، چي باید جګړه وسي، نو د اخلاقي اصولو هغه نوی قانون او نوی ارزښت څه شي وو، چي دا جګړه یې تائیدوله او د قومیانو وژل یې د ګناه له حالته ایستله؟ «ارجونا» دا پوښتنه مطرح کړه او د «ګنۍګانو» عامي پرګنې په دې توګه احساس پیدا کړ او د یوه جواب غوښتنه یې کوله. د «ګیتا» تیوریسن جواب ور کړ. دا جواب هغه لاعلاجه تضادونه ښیي، چي ټولني خپل ځان پکښې را ښکېل کړی وو او د دې دپاره د طبقاتي ټولني تیوریسن نه سوای کولای، تر دې بالا یو دقیق جواب وومومي: «دا قسمت دی، دا ستا طبقاتي دنده ده، توکل کوه او امر ته غاړه ایږده!» او ګواکي د دې دپاره چي د استدلال کمزوري جبیره کړې او نوی طبقاتي قانون په ښه او دهشت تکیه کړې، نو پر «کریشنا» دا ګمان کیږي، چي د خپلي «ویراتا - Virata» شکل ورته معلوم سوی دی، چي په هغه کي د ټولو شیانو سرنوشت تر وخت دمخه لیدل کېدلای سي. «ارجونا» پته خوله دی او وایي، چي دی قانع دی. عام بشریت چي له خبرو لوېدلی دی، ګیچ دی، له دهشت سره مخامخ دی، بېزاره دی، نو نامقدس قتل‌عام ته اقدام کوي، چي هغه د نوو روابطو، فلسفې او قانون په وسیله

مقدس گرځېدلی دی. که دې ټول جريان ته په معقول او تاريخي صورت لې‌له مذهبي تمايلاتو څخه کتنه وسي، نو د «گيتا» د داسي پېښي خلاصه په دې نتيجه کي را ټوليږي.

څه‌رنگه د نوي سيمه‌ييز طبقاتي دولت اخلاقي تيوري د «گنی» د قومي کمون په مقابل کي د «گيتا» په وسيله وضع کيږي؟

د ډله‌ييز کار او مصرف په پخواني کمون کي، چي کله د پيداوارو او کار تنوع وده وکړه، نو د کار تقسيم؛ يعني ورڼه‌گاني، وجود ته راغلې. هري «ورڼې» د خپل وېش ټاکلې دنده درلوده، خو ټوله محصول اجتماعي وو او نو ځکه مصرف همدا رنگه اجتماعي وو. د کمون يوه غړي چي په کومه ټاکلې «ورڼه» کي وظيفه اجراء کوله، دې کار نو د ده دپاره کوم مخصوص امتيازات، عوايد يا د ملکيت حقوق نه ايجادوله. «ورڼې» يوازي په کار کي تخصص را پيدا کاوه او د اجتماعي سازمان د کار په پيداوارو کي يې ښه‌والی را وستی. خو کله چي مبادله، تجارت، خصوصي ملکيت او پيسې را پيدا سوې، نو هري ځان‌ته کورنۍ خپل خصوصي ملکيت او حقوق د هغې «ورڼې» مطابق، چي دا ور پکښي واقع وه، منځ ته را وسته. طبعاً هغه «ورڼه‌گاني» چي له جگړې، مبادلې او د توليدي جريان د ادارې سره پيوند سوې، نو په اقتصادي لحاظ مسلطي «ورڼه‌گاني» ځني جوړي سوې. هغه کسان چي د «براهما کشترا» په مسلطو «ورڼه‌گانو» کي خواران وه، زيارکښو «ورڼه‌گانو» ته را ايستل کېده يا لکه څه‌رنگه چي دوی بلله، د «ويشالاتوا - Vishalatva» په جمله کي راتله. له «ورڼه‌گانو» څخه طبقات جوړ سوه. «ورڼه‌يي» پيوندونه په طبقاتي پيوندو، وفادارۍ او امتيازاتو بدل سوه. دوې پورته «ورڼه‌گاني» استثماري طبقه سوه او پاته دوې په استثمار سوي طبقې واوښتې. پړته له «سودرا» مريي څخه يو چا

کولای سوای، چې له یوې «ورڼې» څخه بلې ته؛ یعني له یوې طبقې څخه بلې ته د ملکیت او مقام سره سم تغیر وکړي. طبقاتي حقوق یعني «ورڼه‌یي» حقوق لوړ سوه او د «ګنې» کموني حقوق یې لاندې کړه.
دا د «کشتریاګانو» «ورڼه‌یي» وظیفه وه، چې د جګړې ذمه‌واري ولري او دښمن نابود کړي. خو د «ګنې» د کمون په وختو کې دښمن هر کله یو بېګانه څوک وو. په کمون کې دننه چې طبقاتي تخاصمات نه وه، نو د «کشتریا» دپاره دا خبره هم نه وه، چې د خپلې «ګنې» د هغو غړو سره وجنګیږي، چې ټوله قومیان وه او یو د بل سره یې د ویني اړیکې درلوده. خو کله چې کمون ته خصوصي ملکیت او مرئیتوب ننوتی، نو له «کشتریا» او «برهمن» څخه استثماروونکې او په ړنګ سوي کمون کې پر مریانو او خوارانو باندې له دوی څخه د جبر اورګانونه جوړ سوه. اوس نو د دوی «ورڼه‌یي» وظیفه سوه، چې د هر چا، خپل او پردي، دواړو سره د هغه نوي اقتصاد او طبقاتي روابطو د ساتنې او ادامې دپاره، چې پر استثمار را بناء وو، جګړو ته اقدام وکړي. د دې دپاره چې ثروت، څاروي، کلي، مځکه، مریان، سلطنتونه، چې دا ټوله اوس د شخص یا مربوطي کورنۍ په ملکیت کې راغلي وه، خوندي وساتل سي، زیاتوب پکښې وسي او یا په لاس راوړل سي، نو د «برهمني» او «کشتریایي» کورنیو وظیفه وه، چې د جنګو ذمه‌واري ولري او وژل وکړي. خو دې نو باک نه درلودی، چې دښمن یا مخالف څوک دی. دښمن کېدلای سوای، چې یو قومي، د ویني قریب، «ګورو» یا نیکه، د «ګنې» غړی یا یو پردی څوک وي. دا هغه لومړی درس دی، چې «ګیتا» یې «ارجونا» ته د یو «کشتریا» په حیث ور کوي. دا درس د «ورڼه‌یي - طبقاتي» تخاصماتو پر نوو روابطو را بناء دی، نه د پخوانۍ «دهرما» یا د ابتدایي کمونیزم د خلګو پر خودکاره وسله‌وال سازمان باندې. که تاسي

وجنګېږئ او برى وګټئ، نو خو تاسي د هيواد پاچهي ګټئ او خوشالي لاس ته را ولئ، لاکن که په جګړه کي ووژل سئ، نو تاسي به جنت وګټئ- دا د نويو بډايو واکمنو طبقاتو دپاره د ژوند او سلوک يوازنى نورم دى. د دولت او خصوصي ملکيت د ځوانى په ورځو کي، هغه وخت چي «کشتريا»، خوار «ويسيا» او «سودرا» استثماراوه او له قبيلو سره جنګېده، چي تر مرئيتوب لاندي يې راولي، همدا کشتريا مجبوره وه، چي لااقل په خپله د مرګ خطر ته ځان ور کړي. په وروستيو وختو کي حتى همدغه ځاني خطر په تنخاخورو ثابتو پوځونو بدل سو.
«ګيتا» چي د ډله‌ييز ژوند وظايف او «دهرما» منحل کړه او د يوې طبقې له خوا پر بله باندي يې د تشدد پاچهي قايمه کړه، نو نه يې سواى کولاى، چي يوه ښه انسجام لرونکې طبقاتي ټولنه تضمين کړي، چي په هغې کي هم استثماروونکي او هم استثمارسوي دواړه برابر د استثمار په چوکاټ کي له ژوند او ژوند کولو څخه ډاډه او له مکررو بحرانو څخه خلاص وي. په پخواني کمون کي حتى د هغه د توليدي قواوو د نيستى په چوکاټ کي، هر يو په ډله‌ييز محصول کي له خپلي ونډي څخه ډاډه وو. ده د مصرف دپاره توليد کاوه او کمون ده ته د مصرف دپاره ور کاوه. پيداوار د مولد لاس نه پرېښووى، چي په پيسو باندي واوړي او ماهيت يې تغير کړي؛ يعني يو داسي شى ځني جوړ سي، چي يو مخيزه له هغه څخه توپير ولري، چي د مصرف دپاره وي او خپل ځان د طلا «هيرانيا» د جادوګرى په قالينچه باندي د تجارت په چکر کي واچوي او پر ټوله نړى را وګرځي، لکه څه‌رنګه چي يې دا کار اوس کاوه. اوس نو دغه عجيب تجرد؛ يعني طلايي پيسې هر چيري په هره اندازه او هر شکل د ټولو طبقاتو او «ورنه‌ګانو» تر منځ او د مځکي پر مخ د ټولو شيانو دپاره اعتبار درلودى. کومه

مرموزه مجرده قوه په دې «هيرانيا» کي پرته وه، چي هغې ته يې په ټولو شيانو کي نفوذ ور کاوه او سره له دې هم موهومي ګڼل کېده؟ دا څه ډول جادويي اثر وو، چي دې ته يې داسي قوه ور کوله، چي ټولو شيانو ته حرکت ور کړي او په يوه آن کي هر شی ځني جوړ سي؟ ولي داسي وه، چي هغه څوک چي يو ګټور شی يې د خوښۍ دپاره ايجاداوه، له هغه څخه يې د پيسو -هغه مرموزي «هيرانيا»- له مداخلې پرته استفاده نه سواى کولاى؟ ولي داسي وه، چي کله ده هغه شی په پيسو تبديلاوه، هغو پيسو به په خپله نن هغه څه نه سواى رانيولاى، چي پرون يې رانيولاى سواى؟ مريي کار کاوه، بادار چړچې کولې، چا سوداګري کوله او چا ګټه کوله او چا تاوان کاوه. آيا د انسان د ژوند تېرولو دپاره يو قانون وو، چي د هغه په موجب يې په شريفانه توګه کار کړی وای او شريفانه ژوند يې حاصل کړی وای؟ اوه خدايه! تاسي همدا رنګه د طلايي «هيرانيا» له بطنه څخه را وتلي ياست او «هيرانيا – ګربها – Hiranya Garbha» در څخه جوړ سوي دي؟[۸۹]

ابتدايي کمون داسي پوښتني نه درلودې او داسي فلسفې ته يې اړتيا نه وه، چي متخاصم بشري روابط متوازن کړي. د لرغوني کمون «ويدي» ادبياتو دوعاوي کولې، نارې يې وهلې، اتڼ او ساز يې کاوه او سر يې ګراوه (سوچ يې کاوه)، چي څه‌رنګه غوا دې ته واداره کړاى سي، چي ډېري شيدې ور کړي. «ويدي» فيلسوف دې ته په حيرت کي وو، چي هغه شنه واښه چي د توري غوا نس ته ځي، د سپينو تودو شيدو په شکل راوزي. ده تعجب کاوه او ځني ډارېدی،

۸۹ د ريګويدا وروستني فصلونه پيدا کوونکی د «ويشواکرما» او «هيرانيا ګربها» په نامه بولي او دا خبره، چي د «ويدانتايي» فلسفې توحيدي ايدياليزم «اتمان» او «برهمان» ته يو د بله سره ارتباط ور کوي، تر يو حده له دغو افکارو څخه را وتلې ده. (ريګويدا وګورئ، ×، ۱۲۱)

چې کله تخمونه پر مځکه ولویږي، نو را شنه سي او بیرته هغه څو چنده سي. ده غوښته په دې وپوهیږي، چې د دې علت څهشي دی؟ ده غوښته چې وپوهیږي، څهرنګه دا ټوله «طبیعت» کار کوي او څوک حرکت ور کوي؟ ده یوه ونه وهله، د لرګي ټوټه یې ځني را تراشله، غشی یې جوړاوه. فکر یې کاوه او پلان یې سنجاوه، د علت او معلول استدلال یې کاوه. هوسۍ یې ځارله او هغه یې وژله او د هغې غوښې یې خوړلې. دی خوشاله وو. دا څهرنګه وه، چې د طبیعت جوړه کړې د ونې ښاخله د ده غشی وګرځېده او هوسۍ د ده غذا سوه؟ ځکه چې ده یې پلان وسنجاوه او کار یې وکړ، خو اوس نو دا ونه او دا هوسۍ څهرنګه هلته موجوده وه او ولې یوه ورځ تاسي هوسۍ موندلای سئ او بله ورځ بیا نه وي؟ د دې پرابلم دا وو، چې طبیعت وپېژني او هغه تر تصرف لاندې راولي، څو ژوند وکړي، رشد وکړي او خوشاله واوسي. ده مشاهده کوله، چې خلک مري او هغه یې بیا په خوب کې لیدله. ده په خوبو کې خپل ځان لیدی، چې الوتی وي او په عجیبو ځایو کې چکرونه وهي، خو په داسي حال کې چې د «یجنا» په ټاټوبي کې، د «یجنا» د اور پر شاخوا په خپل ځای کې پروت وي او له ځایه نه وي ښورېدلی. آیا دی په خپل ځان کې داسي شی نه لري، چې له ده څخه بېل ژوند کوي او پلانونه سنجوي او فکر کوي؟ ده ارواحانو او روحي هویتونو ته تخیلي صورتونه ور کړه او خپل ځان، یعني د ځان په شان ژوند یې په هر شي کې لیدلی. ده تعمیم، زدهکړه او «تفلسف» کاوه، چې د نړۍ پروسې په ژوره توګه وپېژني. ده د منطق، استدلال، تفکر، احساس او د شعور او هستۍ تر منځ د رابطې په باب پلټنې کولې. دغه مرحله وه، چې یوازې فلسفي «سوکتا»، یعني د «ریګویدا» «ناسادیا سوکتا – Nasadiya sukta» وزېږېده. خو ویداګاني او د دوی «یجنایي» کمون

هیڅ‌کله تر دغو حدودو وا نه وښتی. دغه ترتیب وو، چي د پخوانی «اوپانیشادي» فلسفې لوري ته لاري جوړي سوې.
خو انسان په هغه مرحله کي له خپل مخلوق، یعني له خپلو ځاني ټولنیزو قواوو سره په جګړه کي نه وو را ښکېل سوی. هلته شخړه نه وه، چي سپینېدو ته یې ضرورت وي. دی چي خپلي غذا مړاوه او لوږه یې تسکین کېده، نو دی خوشاله وو. دی خپلو کالو پټاوه او د تودېدو احساس یې کاوه، نو دی خوشاله وو.
**اوس نو د تخاصم او استثمار یوه ټولنه منځ ته راغله، د ده غذا ځني واخیستل سوه، چي یو بل داسي څوک په موړ سي، چي هغه د غذا د تولید دپاره کار نه کاوه. د ده کالي په داسي حال کي، چي له یخه یې پړک واهه، ځني واخیستل سوه، چي بادار یې په چوخه پټ سي. که ده پوښتنه کوله، نو وهل کېدی. که ده له تولیده څخه انکار کاوه، نو د ګرده ټولني شدت پر ده را نازلېدی، چي تولید ته یې مجبوره کړي. ده ته ویل کېده، دا د ده وظیفه ده، چي تولید وکړي. که ده یوه کافي اندازه ونډه غوښته، چي ژوند کولو ته یې مساعد کړي، نو په دې تورن کېدی، چي سرابن دی او ده ته دا تعلیم ور کول کېدی، چي باید حیاناکه واوسي. په دې ترتیب نو د «ګیتا» او «اوپانیشادایي» فلسفې دا عمیق او عالمانه اصل منځ ته راغی:**
ته باید صرف هغه کار وکړې او کولو ته یې ادامه ور کړې، چي په ژوند کي ستا د دریخ له خوا تا ته ټاکل سوی دی. ته د هغه کار، چي سر ته یې رسوې، پر نتایجو باندي نه کنټرول لرې او نه یې حق لرې. کارونه په دې ډول مه کوه، چي د خپلو کارو د ثمراتو حاصلولو ته دي سترګي نیولي وي او هیڅ‌کله کار مه بس کوه!

دا د «گيتا» هغه مشهور درس دی، چي اعتراض‌کوونکی «ارجونا» او عادي انسان ته يې توصيه سوې ده او د «مهابهاراتا» د جگړې له وخته راهيسي د پېړيو پېړيو دپاره پاته دی. دا د هغې طبقاتي ټولني د فلسفې جوهر دی، چي په تضادونو، گډوډۍ، بحرانو او تصادفاتو کي را ښکېله ده او په اجتماعي ژوند کي د پلان سره سم نتايج نه سي تضمين کولای. خصوصي ملکيت او د توليد انارشي، د پيداوارو له کنټرول څخه د مولد بېلېده، چي په ابتدايي کمون کي يې هيڅ کله امکان نه درلودی او نه به هم تر راتلونکي سوسياليزم لاندي امکان ولري، دغه د طبقاتي دولت پورتني مذهبي شعارونه يې ايجاب کړه، چي مولد په غلامۍ او نېستۍ پوري وتړي او واکمنه طبقه د څپلو او استثمار په خپل کار کي پر حق باندي وبولي.

د وظيفې او «لوکا سامگراها - Lokasamgraha» (د جمعيت خير) په باره کي حتی هغه ډېر موجه استدلال لږ څه په دې برخه کي کمزوری ثابتيږي، چي متردد «ارجونا» دې ته واداره کړي، چي وژل وکړي. هيجانات او احساسات په ده کي په جوش را ځي، کله چي مري، نو هر څه هم د ده په نسبت او هم د دوی په نسبت پای ته رسيږي. کله چي دغسي يو استدلال مطرح کيږي، نو په جواب کي يې «گيتا» ټوله بشري موجودات يوه مجرد هويت ته را محدودوي، چي «اتمان - Atman» (روح) نوميږي او هغه که څه هم د بدن په پوښ کي دی، خو له هغه څخه بېل موجوديت لري. هغه نه احساس کوي، نه فکر کوي، نه ژوند کوي او نه هم مړ کيږي. احساس، فکر او نور د بدن فاني کېدونکي صفات دي او په خپله دوی چي کوم استعداد لري، هغه مغلوب کېدلای سي، نو انسان د «ستهي تاپراجنا - Sthitaprajna» حالت ته رسيږي، چي په هغه حالت کي د ده اعمال له ده سره خپله رابطه شکوي او پر ده باندي الزامي نتايج

نه راولي. حتی که دی وژل کوي، د ګناه نه مرتکب کیږي او څه‌رنګه چې «اتمان» په مقتول او قاتل کې مطلق «Neutral» حالت لري او فنا نه قبلوي، نو ګواکي په واقعیت کې هیڅ نه پېښیږي. دغسې یو انسان نه خوښي او نه درد، نه ګرمي او نه ساړه احساسوي، ده حتی د ژوند په حالت کې له بدنه څخه آزادي لاس ته راوړې ده او تر مړیني وروسته بیا نه زیږي، چې د ګناه یا ښو کارو په لار کې د خپلو کړو ثمره را ټوله کړي. د «بهاراتا» د جګړې ټوله ویني تویول نو په دې ترتیب د یوې افسانې یا سراب په توګه تعبیر سوه.

له دې اصل څخه بیا واکمني طبقې د راتلونکو پېړیو په دوران کې د زیارکښو پرګنو په مقابل کې دا کار اخیستی، څو چې پرګنې د اعتراض له خپلو احساساتو څخه واچوي او له نارضایۍ او خښم څخه یې خلع سلاح کړي. له دې څخه نو د «جاناکا - Janaka» او د ده د امثالو په شان هغه عجیبه افسانه را پیدا سوه، چې په هغې کې بډای پاچا ښه ډوډۍ خوړله، خو په خوله کې یې مزه نه احساسوله، ښه کالي یې اغوسته، خو د هغو سره یې د کوم احساس پیوند نه درلودی. نو حتی زیارکښ مریی باید په لوږه کې خوشالي احساس کړي، خپل هیجانات کنټرول کړي او خپل بدن یو بې‌حسه کارکوونکی ماشین واړوي، چې خپله ټاکلې وظیفه سر ته ورسوي. کله چې هر څوک دغې مرحلې ته ورسېدی، نو نېستي او خواري غائبیږي، ځکه د انسان دپاره یې مفهوم له منځه ځي. کله چې د هر فرد تفکر د دغو ساده اکروباتیکي چمونو په وسیله خوشالي حاصله کړای سي، نو به استثمار، مرئیتوب، د پیداوارو د سهم، د دولت او تشدد مسئله نوره په ټولنیزه سویه نه مطرح کیږي.

تر «بهاراتا» وروسته د طبقاتي ټولني «تیوریسن» بالکل په خپل بریالیتوب ډاډه نه وو، چې دغسې یو استدلال یې د انسان عقل قانع کولای سي او داسي یوه

سلوک او اجتماعي روابطو ته يې لاربښوونه کولای سي، چي د ټوله بشري ژوند او احساس سره منافات لري. څه‌رنګه چي دی د واکمنو طبقاتو د ټولو مشريو په شان غواړي، چي د زيارکښو پرګنو معقول شخصيتونه له ريښو څخه وکاږي او دا پرګنې د واکمني طبقې کورکورانه اطاعت ته واړوي، نو دی آخرين نصيحت ته را ځي؛ «هر قانون او هر حکم خپل سرنوشت ته پرېږدی او د فداکارۍ په سلسله په ما پسي را ځئ». په نړۍ کي د ګډوډيو او بحرانو د منځه وړلو د مسئلې په باب دغه ليکونکی د خپلو لوستونکو په وړاندي کومه اميدواري نه څرګندوي او موږ له دې اطمينانه سره پرېږدي، چي ښتن به وخت په وخت ظاهرېږي، چي بحرانونه حل کړي او په دې ډول نو موضوع د عاجزه بشريت د واک له ساحې څخه باسي. يوه بې‌پلانه نړۍ د ټولنيز انسان له خوا څخه تر پلان لاندي نه سي راتلای!

دلته موږ دا نيت نه لرو، چي د «ګيتا» يا د «اوپانيشادانو» ټوله فلسفي سيستمونه وڅېړو. هغه څه چي موږ غوښته اشاره ورته وکړو، دا خبره وه، چي د فلسفې ايډياليستي مکتبونه چي موږ يې په «ويدانتا» کي مومو، د هغې دورې پيداوار دي، چي آريايي ټولنه د طبقاتي تضادونو، تخاصماتو او جګړو په اثر ټوټه ټوټه سوې وه. په همدې ترڅ کي بايد يو شی په نظر کي ولرو او هغه دا چي کله څوک دغه سيستمونه څېړي، نو بايد د مفکرينو شريفانه تلاښونه، چي د پديدو په باره کي پلټنې کوي او په دې باب مفکورې قايموي، له هغې استفادې څخه بېل سي، چي له دغو مفکورو څخه، چي د خپلې زمانې د اجتماعي روابطو سره مطابقت لري او هم د هغو روابطو له پلوه محدوديت لري، د واکمنو طبقاتو له خوا څخه د دوی د طبقاتي منافعو په منظور کار اخيستل کيږي. دوهمه خبره دا ده، چي يو څوک بايد دا په ياد ولري، چي څه‌رنګه چي هر اجتماعي قانون

او تفکر هغه زمانه په مذهبي سیستمونو کې تدوین کېدی، نو د انقلابي طبقاتو او تر استثمار لاندې ډلو د آزادۍ غوښتلو تلاښونه همدا رنګه د مختلفو ګوندو، فلسفي سیستمونو او مذاهبو په تاسیس کې تبارز کاوه. څوک باې دا زده کړي، چې د هر ګوند یا سیستم نقشونه په خپله ټاکلې دوره کې د هغې زمانې د طبقاتي مبارزاتو له مخې تشخیص کړي. په دې مورد کې د «بهاراتا» د جګړې او د هغې د عواقبو مفکر «تیوریسن» همدا رنګه یو مهم اجتماعي نقش لوبوي. په داسې حال کې چې دی د طبقاتي ټولنې د ایډیالیستي فلسفې بنیادي اساس تائیدوي، خو سره له دې هم د یو ډول سازش تلاښ کوي، چې د مرئیتوب شاقه کارونه ملایم کړي؛ پرته له دې چې په کوم ډول د استثماروونکي او استثمار سوي اجتماعي روابطو ته تغیر ور کړي.

په دې باب کې د «ګیتا» «بهکتي - Bhakti» مکتب د «بهاراتا» د جګړې د دورې له هغه بېخي ارتجاعي مراسمپالونکو څخه، چې د مریانو خاوندان وه، یو ګام وړاندې اخلې. دا د څه‌شي په نسبت؟ دا د «بهاراتا» د جګړې د عواقبو په باره کې. نو څکه را سئ، دا عواقب تر څېړنې لاندې ونیسو.

## پنځلسم فصل

## مرئیتوب کمزوری کیږي؛ نوي قواوي او نوې مرحله منځ ته را ځي!

هغه زیاتي ناوړي بېري، چي د «مهابهاراتا» د جګړې د نتایجو په باره کي د هغي زمانې د ټولو مفکرانو له خوا څخه څرګندي سوي وې او د عادي انسان له خوا په غریزي توګه احساس سوي وې، ټوله رشتیا سوې. د فاتحانو او مفتوحانو د توقعاتو پر خلاف د جګړې په نتیجه کي د دواړو داسي قتل عام راغی، چي بریمن «پانډاوان» په بشپړه توګه د مبارزې په پای کي ډېوالي سوه او تقریباً ټوله مخکښ انسانان، پاچهان او پاچازاده‌ګان، پیاوړي جنګیالان او جنرالان د جګړې په ډګر کي مړه سول. ټوله دولتونه چي په دې جنګو کي یې برخه واخیسته او همدا رنګه د دوی سره متحدي سوي «ګنی‌سمګهاګاني» له یوه مخه کمزوري سوه او د وحشیانه عامي وژني په سبب وپاشل سوه. کله چي مریي‌لرونکي دولتونه او د «ګنی‌سمګهاګانو» واکمن مشران کمزوري کېده، نو «ناګا»، «نیشادا» او نورو قبیلو د ساه‌کښلو مجال پیدا کړی او د دې دپاره چي بیرته خپل پخوانی حال لاس ته راوړي، نو یې ډېره غښتلې حمله پر هغو آریایي کهولونو او د دوی پر پوځونو وکړه، چي زیات خطرناکه او ډېر منفور وه.

په مریي‌لرونکو دولتو او د هغي دورې په «سمګهاګانو» کي عمومي بحران د دې حقیقت له مخي څرګندیږي، چي د «ناګایي» قبیلو او له هغو سره د نورو ملګرو ډلو دغه سخته حمله د «ګنګا» د ناوې پر دولتو باندي د یوې عمومي حملې په توګه شروع سوه او له ختیځ، لوېدیځ او جنوب څخه وړاندي راتلله. د مریي‌لرونکو ډېروالیتوب د دې حقیقت له مخي لیدل کېدلای سي، چي «یودهیس تهیرا - Yudhisthira» ته هیڅ پیسې نه سوې ور پاته او که ځیني

پټې خزانې د ده مرستې ته نه واى راغلې، نو دا يې نه سواى کولاى، چې د «اشواميدها» په اجراء سره حتى د بري جشن ونمانځي. د ده د تش په نامه د ښو کارنامو جشن هيڅ د هغو خلګو د عامې مصيبت‌ځپلې پرګنې احساسات پر جوش نه را وستل، چې په خپل ځان‌ته سبک يې په فاتحانو داسي ملنډې وهلې؛ يو موږک چې نيم بدن يې په سرو زرو اوښتى وو، د «پانډاوانو» د جشن ځاى ته راغى. يو چا چې د ده عجيب بدن وليدى، نو يې پوښتنه وکړه، چې دى څه‌شي غواړي او ولي د ده نيم بدن د سرو زرو دى؟ موږک شاوخوا بوى وکښى او و يې نه کړاى سوه، چې د بدن دا بله نيمه خوا هم په سرو زرو واړوي او نو بيرته ستون سو او دا جواب يې ووايه، چې دى هغه وخت نيم د سرو زرو سو، چې د بدن دغه برخه يې له هغې مځکې سره تماس وکړ، چې هلته يوه خوار سړي څو ګولې ډوډۍ په خيرات کې ور کړې وه. خو دلته له ټولو دغه لبريزه ثروتونو او غذاوو سره، چې «برهمنيانو» ته ور کول سوي وه، د مريي‌لرونکو د جشن ځاى دا قوه نه درلوده، چې دا بله نيمه خوا يې په سرو زرو واړوي. دا هغه يو عاميانه تبصره وه، د فاتحانو د فضايلو په باره کې! د واکمنې طبقې د «ورڼه‌ګانو» ټولې ډلې په نېستۍ کې ولوېدې او غوښته يې چې د هر چا نوکري وکړي. په هغو ځايو کې چې کاختې او وچکالې وه، نو د واکمنې طبقې مغروره «برهمنيان» منفوره «چاندالانو - Chandalas» ته، چې په خپلو ځنګلو کې اوسېده، هلته ورغله، چې خواړه ځنې وغواړي او دا کار د دغو نيول سوو او تر اسارت لاندې «چاندالانو» امتياز ګرځېدلى وو، چې د فاتحو آريايانو مقدس «ويشواميترا» ته د اخلاقو دغه درس ور کړي، چې بايد د خپل ژوند د ساتنې دپاره د سپي د لاښ خوړلو ته اقدام و نه کړي. له لويو دولتو څخه ډار لرېدى او د ځان او قدرت دپاره د واکمنو طبقاتو وچه سرابښې د جګړې په

دوران کي برملا سوې وه. د اخلاقو او فضیلت په باره کي د دوی خبري یوازي د دې دپاره یوه پرده وه، چي مځکه، مریان او د ژوند ښادی د نورو له زیار څخه بلع کړي. روک ماټریالیزم دوی له خپله چلنجه سره مخامخ کړه. خو «پانډاوان» چي خپل طبقاتي ماهیت ته وفاداره وه، د ماټریالیستانو سر یې غوڅاوه[۹۰]، چي مبادا هغه به واقعاً د دې متنفرو خلګو لارښوونه وکړي. خو ټولو دې خبرو و نه کړای سوه، چي په آسانی سره د را پاڅېدونکو قبیلو د مارش مخه ونیسي او په پاته «ګنیسمګهاګانو» کي داخلي کورنۍ جګړه حتی ډېره شدیده سوه.

د «مهابهاراتا» «ماوسالا پروا – Mausala Parva» او د «یاداواګانو» په خپل ځاني «ګنیسمګها» کي د خپل متزلزل دریځ په باره کي د «کریشنا» شکایت موږ ته د عمومي ړنګېدو او ورانی عمده مطالب روښانه کوي.

د «یاداواګانو» «اندهاکاوریشني سمګها» په عمومي توګه ځان له جګړې څخه ګوښه ساتلی وو او د «ساوراشترا - Saurashtra» د هغي سیمي په «دواراواتي - Dwaravati» کي یې په خوندي توګه ځان پټ کړی وو، چي هغه ځای ته د «شیشو پالا - Shishupala» او د هغه د متحدینو د حملو په وجه بار سوې وه. خو د دې معنا نو دا نه ده، چي د «یاداواګانو» ګنیواله ډموکراسي نو خپل ځان له دې څخه ساتلی وو، چي ناوړي اریستوکراسی ته را ټيټه نه سي. د دوی «سمګها» وختي لا د بډایو مخکښو کورنیو د داسي شدیدي سیالی په ګیره کي لوېدلې وه، چي «کریشنا» سره له هغه چي د دوی انتخابي رئیس وو، د نورو مشرانو په وړاندي شکایت کوی او وایي، چي ده ته دا مشکله وه، چي

۹۰ د مهابهاراتا شانتي وګورئ.

«یاداواګان» په خپله پله کي وساتي. هغه مشوره چي «نرادا» یې ده ته د دې دپاره ور کوي، چي خپله مشري وساتي، ډېره د غور وړ ده. دی «کریشنا» په دې نسبت غندي، چي په کافي اندازه متواضع او باادبه نه دی او د مېلمستیاوو په ور کولو او سوغاتونو په وېشلو کي یې پر خپل جیب باندي لاس ټینګ کړی دی. د یوې «ګنی» د مشرۍ د ګټلو دپاره د لارو په سلسله کي د دغه مطلب را شاملېده موږ ته دا څرګندوي، چي ګنی په څونه چټکۍ د طبقاتي تجزیې تر ثقل لاندي ړنګېدله. «ماوسالا پروا» موږ ته وایي، چي «یاداواګان» د خوشاله ژوند او مېلو په عادي توګه را غونډ سوه، شراب یې وڅښل او د «مهابهاراتا» د جګړې او د ځینو ګډون‌کوونکو پر خائنانه اعمالو باندي یې دلایل سره وویل. د دوی یو د بله سره شخړه سوه او د انفجار حالت ته ورسېدل. د اریستوکراتانو سیالی، چي له پخوا څخه محصوري وې، د یوې لویې عامي وژني په صورت مشتعلي سوې. کله چي جنګونه ونښته، نو «ناګایانو د ختیځ له لوري څخه د «ګنیسمګها» پر ښار باندي حمله وکړه. په دې حمله کي «کریشنا» په خپله ووژل سو او همدا رنګه مخکښ «یاداواګان» له منځه ولاړه. دغه داخلي جګړه دونه شدیده وه، چي وروستنیو خلګو د داخلي جګړې دپاره د «یاداوي» لفظ تر استعمال لاندي را وستی.

«پانډاوایانو» د «اندهاکا – وریشنیانو» مرستي ته ور ودانګل، خو دوی بریالي نه سوه، چي د «ناګایانو» او نورو له حملو څخه یې وژغوري. د «ګنګایي» دولتونو او د «کورو» او «پوروګانو» وېره غائبه سوه. «ارجونا» شکایت کوی، چي د «ناګایانو» او نورو پر خلاف په دغو جګړو کي، چي کله به ده خپلو مشهورو وسلو ته لاس غځاوه، «هغه وسلې به د ده لاس ته نه راتلې». د دوی خاصیت

باطل سوی وو. یو څو کورنیانو د ویني تویولو له صحنې څخه نجات وموندی او «هاستینا پورا» ته ورسېدې.
خو د «هاستینا پورا» دا حالت پای ته رسېدلی وو، چې د غتېدونکي قدرت مرکز وګرځي. «پانډاوایان» د یو څه وخت دپاره تر جګړې ژوندي را ووتل او بیا نو د «مهابهاراتا» له بیانه سره سم، چې غواړي موږ ته عقیده تلقین کړي، دوی له یوه سپي سره ملګري وه او جنت ته ولاړه. «پاریکشیت - Parikshit» د دوی لمسی د «ناګایانو» له خوا ووژل سو. دا معلومات د کشف په وسیله حاصلیږي، چې «برهمن» مشر «کشیاپا»، چې پر «پاریکشیت» باندې د حملې د پلانو په باره کې دمخه لا خبر وو، د سرو زرو په بدل کې د «تاکشاکا - Takshaka» له خوا چې، «ناګایي» مشر وو، خوشې سوی وو. د ده د زوی «جانا میجایا» په وسیله، چې د «ناګایانو» په مقابل کې د هغه حملې د یو څه وخت دپاره هغوی سازش ته مجبوره کړه، داسې ښکاري چې یو ډول وقفه لاس ته راغله. دغه نو د «مهابهاراتا» د دورې خاتمه موږ ته څرګندوي. په دې پسې نو د تاریخ یو ډول خالي او نامعلومه دوره منځ ته را ځي، څو چې بیا د «ګنګا» د ناوې غټې دولتونه پر نوس اساس باندې ظهور کوي. د دې دولتونو د ثقل مرکز نو نور «هاستینا پورا» نه دی، بلکې دا پلا د «ماګادها» «پاتالي‌پوترا» دی.
خو مرئیتوب نو په دې زمانه کې مخ پر زوال دی. د کلي سرف او د ښار کسبګر او د ده په استربل پسې سوداګر په دې شروع کوي، چې د صحنې پر مخ غالب دریځ ولري او د ټولو په سر کې مطلق العنان پاچا ځای ونیسي. نیم آزاد سوی او نیم (له مریي‌لرونکو خاندانو څخه) را تښتېدلي مریان اوس خپله فلسفه د زمیندارو- سوداګرو زلمیانو په مرسته را شروع کوي، چې هغوی د بودیزم د مخکښانو مخلصان او مریدان دي.

خو موږ نه غواړو دا موضوع دلته تر څېړني لاندي ونيسو. موږ صرف غواړو، دې خبري ته پام واړوو، چي د «مهابهاراتا» د جګړې نتايجو د مرئيتوب قواوي دونه کمزوري کړې، چي نه يې سواى کولاى، په هغه پخوانۍ طريقه خپل برم ته ادامه ور کړي. په دې کي شک نه سته، چي مرئيتوب دوام درلودی او مريي‌لرونکو دولتو هغه ته توجه درلوده او بيا يې وده کوله، خو د دوی خپل تر منځ متقابل قتل عام او د «نيشادايانو»، «ناګايانو» او نورو پاڅونونو او مقاومتونو دې ته اجازه نه سواى ور کولاى، چي د مرئيتوب رشد په آسانه او په ارزانه د پخوا زمانو په شان سر ته ورسيږي. سربېره پر دې «ناګايانو» ته داسي ورشوګانو ور ايله وې، چي هغو ته ور سي او خپل ژوند هلته په سر ورسوي او نو ځکه د مرئيتوب سختو شکلونو نه سواى کولاى، چي ډېره زمانه پايښت وکړي. د مستهلک او يا ضايع سوي مريي د ځاى ډکېده ورځ په ورځ مشکله کېده او فتوحات تر هغو وسايلو، چي مريي‌لرونکو يې منابع درلوده، زيات پراخېده او نو ځکه د خلګو د خوارېدو سبب ګرځېدله.
شاوخوا ناوې چي هم پراخي وې او هم حاصل‌خېزي وې، مات‌سوو او تښتېدلو ته يې په دې لار کي کافي مساعدت رساوه، چي خپلو مبارزو ته ادامه ور کړي. بالآخره زياتېدونکي توليد، مبادلې او کسب صحنې ته نوې طبقه؛ يعني سوداګران را وسته، چي هغوی په اقتصاد کي يو مستقل قدرت سو او له تښتېدلو مريانو څخه په دې وسيله ګټه اخيسته، چي د ښاري مرکز په پناګاه کي د هغه غښتلي پاچازاده تر حمايې لاندي د دوی کسبګران ځني جوړېده، چي د دغه پاچازاده قوت په دې کي پروت وو، چي د ښار او کلي تر منځ او د سوداګر او مځکه‌وال مريي‌لرونکي تر منځ يې نقش لوباوه.

کرهڼي لکه دمخه چي مو وويل، په يوه لويه پيمانه يې وده کړې وه. د مځکي د خصوصي مالکيت مسئلې دې ته شروع وکړه، چي يو ډېر مهم شکل واخلي. تر دې نوو شرايطو لاندي، لکه پورته چي بيان سوه، دا مشکله کېده، چي کرهڼه د مرئيتوب په اساس سر ته ورسول سي. همداسي د لاسي کارونو د صنعتي توليد په مورد کي وضعه له دغه قراره وه. د دې دپاره شرايط پخېدله، چي مرئيتوب کمزوری سي او سرفډم ته ځای ور کړي. د مهابهاراتا د جګړې آغېزه د دې پروسې په چټکېدو کي لږ نه وه.
دغو شرايطو ايجاب کړه، چي د استثماري طبقې قانون جوړوونکي او د هغې فيلسوفان د مرئيتوب په نسبت يو نوی روش غوره کړي. دغه دليل دی، چي د «ګيتا» تيوريسن تر «بهاراتا» په وروسته دوره کي په هغه مشهور بيت کي اعلام کوي، چي هلته «کريشنا» وايي: «که څه هم ښځه، «ويسيا» او «سودرا» مريی د غلامۍ دپاره زېږي، خو که دوی زما پيروي وکړي، نو په جنت کي نجات پيدا کولای سي.» په دې ډول نو د «بهاراتا» د جګړې په زمانه کي د مريي‌لرونکو دولت، غلامي حتی تر هغه آزاد آريايي «ويسيا» پوري را رسولې وه، چي د زيارکښو لويه پرګنه يې تشکيلوله او د «ګنې» د پخواني کمونونو لومړني سرلوړي «ويشا» وه او دوی يې له ښځينه جنس سره د «سودرا» مريي په څنګ کي درولي وه. دوی نه دلته پر مځکه او نه هم په جنت کي نجات درلودی. د بابايي غلامۍ په پخوانيو وختونو کي مريي‌لرونکي «برهمن» او «کشتريا» کولای سوای، چي په ملکيت کي مساوي ونډه ولري. خو مريي په دغسي حالت کي نه د آزادۍ فکر کولای سوای او نه يې هم دا اجازه درلوده، چي د خپل ځان شتمني را غونډه کړي. بيا نو کله چي د شتمنۍ توپيرونه په خپله آريايي ګنۍ کانو کي حادي درجې ته ورسېده او ځېل سوی «ويسيا» د مريانو په قطار

کي ودرول سو، نو د ښوربښ او داخلي جګړې تهدید ور سره را پیدا سو. د مریيلرونکو بریمني دیکتاتورۍ د ورانی سوي «ویسیا» او د دوی د ملګرو «نیشادایانو» او «ناګایانو مقاومت او مخالفت وټکاوه او د یو بشپړ دهشت واکمني يې تاسیس کړه. دا پېښه په هغه دوره کي وه، چي آریایي «ویسیا» د «سودرا» سویې ته را ټیټ سوه. ښځه پخوا لا په دې قطار کي راغلې وه. په هغه زمانه کي د مینځو په نسبت د روابطو بابایي خصلت پای ته ورسېدی او اولادونو يې خپل پخوانی مقام بایلووی. په داسي حال کي چي پخوا د مینځو اولادونه تر بابامشرۍ لاندي د آزاد بابایي پلار په ورنهګانو کي اخیستل کېده، خو د دوی دریځ اوس د مینځي مور ورنې ته را ټیټ سو، یعني د دوی لاره د قسمي آزادۍ لوري ته وتړل سوه.

هغه اولس چي نه وو مغلوب سوی یا نیم مغلوب وو، شمېر يې خورا زیات وو او آریایي مریيلرونکي خاندانونه يې آرام ته نه پرېښووله. کله چي طبقاتي تجزیې انکشاف وکړ، نو آریایي «ویسیاګان» په خپله له آزادۍ څخه د غلامۍ حالت ته را څوړ سوه. تولیدي قواوو په چټکه درجه ډېرښت کاوه او نوي تولیدي روابط يې ایجابوله. مبادلې، تجارت، لاسي صنایعو، سوداګرو او د دوی نوو ټولنیزو قواوو د واره دا غوښته، چي په مرئیتوب کي نرمي را سي. دا د «ګیتا» د «کریشنا» په نامه اعلام سوه. د دې کار دپاره د ده نوم ډېر مناسب وو، ځکه د هغې لویي «ګنۍسمګها» د ډېر اولسي نماینده په توګه، چي تر جګړې ژوندۍ را وتلې وه، ده کولای سوای «په جنت کي د آزادۍ» د شعار وړونکی سي او یوه داسي سازش ته ورسیږي، چي په هغه کي مریي او ښځي کولای سوای، چي پر دې مځکه کار وکړي، بې له دې چي د استثماروونکي طبقې آرامي ور خرابه کړي او خپلې مزدورۍ او آزادۍ په جنت کي لاس ته راوړي، چي هلته

له دوی سره وعده سوې وه، چې خپلو بادارانو سره به برابري ولري! دا خبري په اوسو وختو کي لږ څه عجيبي معلوميږي، اما ډېري عجيبي خو نه دي! دا د مريي‌لرونکو يو سازش وو، چې له هغو نوو قواوو سره يې سر ته ورساوه، چې د سرف‌ډم او فيوډالي نظام خوا ته يې مخ په وړاندي لاره وهله.
غلامي د استثمار لومړی شکل دی او هغه شکل، چې خاص په لرغوني نړۍ پوري اړه لري. تر هغه پسې په منځنيو پېړيو کي سرفډم را ځي او په اوسنۍ دوره کي يې ځای د مزدورۍ کار نيسي. دا د بنده‌گۍ درې غټ شکلونه دي، چې د تمدن په درو غټو دورو پوري اړه لري او د دوی مميزه تشکيلوي. دا بنده‌گي په ښکاره او په اوسنيو وختو کي د بڼې په تغير هر کله له دغه تمدنونو سره ملګرې ده.
د اجتماعي انکشاف دوهمه مرحله په دې رساله کي تر څېړني لاندي نه نيسو. د دې اثر اساسي مقصد دا دی، چې دا وښيي، چې څه‌رنګه ابتدايي کمون منځ ته راغی، وده يې وکړه او بيا ړنګ سو او څه‌رنګه غلامي له خپله هغه دولته سره را پيدا سوه، چې پر «ډنډه» يعني د خصوصي ملکيت او مريانو د بريمنو مالکانو پر ديکتاتورۍ را بناء دی. هغه وحشي چې په دې نه پوهېدی، چې اور څه‌رنګه توليد کړي، اوس يې پراخو ابعادو ته انکشاف وکړ، لويي وچي يې اشغال کړې، ښارونه او مملکتونه يې ودان کړل او زياتو توليدي قواوو ته يې انکشاف ور کړ، چې له طبيعت څخه د خپلو اړتياوو د پوره کولو په مقصد کار واخلي او له وحشت څخه بربريت او له بربريت څخه تمدن ته را پورته سو. ده د جګړې او سولي وسلې، هنر او ادبيات منځ ته را وسته او د طبيعت پلټني يې پيل کړې، چې د هغه قوانين او اسرار وپېژني. د ميليونهاوو ارواحانو، پيريانانو او خدايانو

له تصوراتو څخه يې دا زده کړه، چې د «مونيزم» (توحيد)، د خاص او عام، د جز او کل، د عيني نړۍ او ذهني تفکر مسئله مطرح کړي.
خو د دغو پرمختگونو پر قدمونو باندي د ترشاتگ قدمونه هم واخيستل سوه. د بربريت لومړنی کمون، چې طبقاتي شخړي يې نه درلودې، مرئيتوب نه وو پکښې، سراښې، ملکيت او د يوه قومي او بل قومي تر منځ يې متقابل تشدد نه پېژندی، هغه کمون د مرئيتوب د طبقاتي جگړې او د يوه ورور په مقابل کي د بل ورور د تشدد ښکار وگرځېدی.
«څه‌رنگه چي د يوې طبقې له خوا د بلي استثمارېده د تمدن اساس دی، نو د مدنيت ټوله انکشاف د يوه دايمي تضاد په لاړ کي را تېرېږي. په توليد کي هر پرمختگ په عين حال کي د مظلومي طبقې، چي غټ اکثريت تشکيلوي، د ژوند په حالت کي يو پر شاتگ دی. هغه څه چي د يوه دپاره نعمت دی، هغه ارو مرو د بل دپاره مصيبت دی. د يوې طبقې هره نوې آزادي هر کله د هغې بلي دپاره بربادي ده... لکه څنگه چي مو وليده، د بربريانو تر منځ د حقوقو او وظايفو په منځ کي کوم فرق نه سوای کېدلای، خو تمدن بيا يوې طبقې ته تقريباً د ټوله حقوقو په ور کولو او بلي طبقې ته د ټولو وظايفو په ور کولو سره د دوی دوو تر منځ توپير او تضاد دونه روښانه کړ، چي حتی يو ډېر کوته‌ذهنه لا هم خورا ښه په پوهيږي.
خو اوس نو خبره له حقيقته ليري کيږي. هغه څه چي د واکمني طبقې دپاره خير وي، بايد د گردي ټولني دپاره، چي په هغه کي حاکمه طبقه ځان‌ته هويت ور کوي، په خير وگڼل سي، نو ځکه څونه چي تمدن وړاندي ځي، هغونه مجبوره کيږي، چي له ده څخه ارو مرو را پاځېدونکي فسادونه د ميني تر چوخې لاندي پټ کړي او هغو ته رنگ او روغن ور کړي او يا خو د هغو پر

سر کوږ منکر سي. لنډه دا چي په نتیجه کي نو هغه منافقت په عادي شکل منځ ته راولي، چي نه د ټولني په پخوانیو شکلونو او نه هم د تمدن په لومړنیو مرحلو کي چا پېژندی او په دې اعلامیه منتهی کیږي: «استثماروونکې طبقه د مظلومي طبقې استثمار صرف او خاص په خپله د استثمار سوي طبقې د ګټي دپاره کوي او که مظلومه طبقه دا کار نه ستایي او حتی بغاوت کوي، نو د خپلو خیر رسوونکو یعني استثماروونکو په مقابل کي پسته ناشکري څني کیږي.»[۹۱]
خو طبقاتو ته د ټولني تجزیې له ازله څخه موجودیت نه درلودی او نه هم دولت موجود وو.
داسي ټولني موجودي وې، چي بې له دولته یې خپلي چاري سر ته رسولې او د دولت یا دولتي قدرت هیڅ فکر یې نه درلودی. د اقتصادي انکشاف په یوه ټاکلې مرحله کي، ټولنه په لازمي ډول طبقاتو ته ووېشل سوه او د دې وېش په نسبت دولت یو ضروري شی وګرځېدی. اوس د تولید د انکشاف په ساحه کي په خورا چټکۍ سره یوې داسي مرحلې ته ور نژدې کیږو، چي په هغې کي به نه یوازي د دغو طبقاتو د موجودیت ضرورت پای ته ورسیږي، بلکي دا طبقات به د تولید په مخ کي یو خنډ وګرځي. دا طبقات به هغه شان ارو مرو له منځه ووځي، لکه څنګه چي ارو مرو په یوه پخوانۍ مرحله کي منځ ته راغلي وه. د دوی د سقوط سره سم به دولت هم ارو مرو سقوط وکړي. هغه نوې ټولنه چي تولید به د مؤلدینو د آزادانه او مساوري همکارۍ په اساس تنظیم کړي، د دولت ټوله دستګاه به په هغه ځای کي کښیږدي، چي ور سره وړ وي؛ یعني د لرغونو

۹۱ د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء

زمانو په موزيم کي به يې د تاوولو د څرخي او د برونزو د تبر له اړخه سره کښېږدي.[۹۲]

خو د بشريت د تېري زماني دغه موزيم يوازي هغه وخت جوړېدلای سي، چي د نړۍ د هيوادونو يو اکثريت بې‌طبقې ټولنه او کمونيزم جوړ کړي.

نړۍ وختي لا دغي دورې ته داخله سوې ده!

۹۲ هم‌هغه اثر

# ضميمې

## لومړۍ ضميمه

۱- (P. XI) د مريانو تصنيف:

«نرادا» پنځه‌لس ډوله مريان ذکر کړي دي. «منو سمريتي» اووه ډوله ذکر کړي دي. (منوسمريتي، 415 VIII).

۲- (P. XII) د «ويدهي – Vidhi» د آزادۍ په موضوع کي «نرادا سوتراګاني» وګورئ.

بادار د اوبو يو خاورين لوښی د مريي له اوږو څخه ايسته کوي او هغه رېز مرېزه کوي. بيا نو دی د مريي پر سر باندي هغه اوبه پاشي، چي غله او ګلان پکښې وي او درې ځله دا اعلاموي، چي دی آزاد دی.

۳- (P. XIII) مريان په کرايه ور کول او د هغو ترټنه:

د «جاتاکاس – Jatakas» لومړی جلد، ۲۰۲ صفحه وګورئ، چي هلته د يوې مينځي سرنوشت بيانيږي، چي هغه بادار استولې ده، چي د ده دپاره کار وکړي. کله چي دا په دې نه برياله کيږي، چي ده ته پيسې راوړي، نو په شلاخو وهل کيږي.

هغه مريی چي «کتاهاکا – Katahaka» نوميږي او د خط ويل او ليکل يې د کورنۍ د يو هلک سره زده کړي دي او سربېره پر دې هوښيار دی او د بيان هنر يې هم زده دی، نو د يو تحويلدار په توګه وظيفه اجراء کوي، خو له دې څخه ډار لري، چي مبادا يوه ورځ به د کومې اشتباه په نسبت دا وظيفه د لاسه ور کړي او بيا به نو وډبول سي، داغ به سي او په بند کي به واچول سي.

۴- (P. XIX) «مهابهومي – Mahabhumi» يا دولتي سيمه:

دا د «ګوپاتهاراجامارګا جالاساياديانويتا – Gopatharajamarga Jalasayadyanvita» په حيث ذکر سوي دي (چي هغه د څارويو مسيرونه، شاهانه لاري، مخازن او داسي نور کښېباسي).

۵- (P. XXII) د هغو کارګرانو په باره کي، چي د دولت له خوا استخداميږي:

۷۸۸- ۷۸۹: وخت له درو سيستمونو سره برابر وېشل کيږي: شمسي حرکت، قمري حرکت او د «سوانا – Savana» مطابق.

۷۸۹- ۷۹۰: د مزدوريو د تاديې په برخه کي بايد همېشه شمسي وخت په نظر کي ونيول سي.

د سود (ربح) په زياتېدو کي بايد قمري وخت په نظر کي ونيول سي او د سوانا سيستم بايد د ورځنيو مزدوريو په ور کړه کي رعايت سي.

۷۹۱- ۷۹۲: مزدوري بايد د وخت، کار او يا دواړو مطابق اجراء سي، نو ځکه د هغه تاديه، لکه څنګه چي تنظيم سوې وي، يعني د قرارداد مطابق سر ته ورسول سي.

۷۹۳- ۷۹۴: دغه وزن بايد ته هلته ورسوې او زه به تا ته دونه پيسې ستا د کار په مقابل کي تاديه کړم. دلته مزدوري د کار مطابق محاسبه کيږي.

۷۹۵- ۷۹۶: «هر کال، مياشت يا ورځ زه بايد تا ته دونه تاديه وکړم!» مزدوري له دغه مفکورې سره برابر د وخت مطابق محاسبه کيږي.

۷۹۷- ۷۹۸: دونه اندازه کار په دونه وخت کي تا سر ته رسولی دی، نو زه به تا ته دونه مزدوري تاديه کړم. په دې ترتيب نو مزدوري هم د وخت او هم د کار سره محاسبه کيږي.

۷۹۹- ۸۰۲: بايد د معاش تاديه نه ځوک قطعه کړي او نه يې هم وځنډوي. ويل کيږي، چي مناسبه مزدوري هغه ده، چي ضروري خواړه او کالي په برابريږي.

ښه مزدوري هغه ده، چې په کافي اندازه خواړه او کالي په برابریږي. ټیټه مزدوري هغه ده، چې صرف د یوه تن ګذاره په کېدلای سي.
۸۰۳- ۸۰۴: د کارګرانو د مهارتونو سره سم، باید د منځنۍ درجې وي، چې د پاچا له خوا څخه د خپل ځاني سعادت په منظور په دقت ټاکل کیږي.
۸۰۵- ۸۰۶: مزدوري باید ثابته وي، څو چې کارګر وکولای سي، هغه کارونه سر ته ورسوي، چې د ده اجباري دندي ګڼل کیږي.
۷۰۷- ۷۰۸: هغه نوکران چې ټیټي مزدورۍ اخلي، په طبیعي توګه دښمنان دي. دوی د نورو مرستیالان دي او فرصتونه لټوي او د خزانو او د خلګو په لوټولو پسې دي.
۸۰۹: د «سودراګانو» مزدوري باید فقط د خوړو او کالو دپاره کفایت وکړي.
۸۱۳- ۸۱۴: نوکران درې ډوله دي: غیرفعال، عادي او چالاکه. د دوی مزدوري باید په ترتیب سره عادي او لوړه وي.
۸۱۵- ۸۱۶: د خپلو کورنیو چارو د اجراء دپاره نوکرانو ته باید یوه «یما – Yama» په ورځ کي او درې «یماوي» په شپه کي رخصتي ور کول سي او هغه نوکر چې یوازي د ورځې دپاره مقرر وي، باید نیمه «یما» ور کول سي.
۸۱۷- ۸۱۸: باچا باید دوی کار ته وګماري، په استثناء د اخترونو له موقعې څخه، خو که هغه کار ډېر ضروري وي، نو په اخترونو کي هم باید وګمارل سي. البته له دې حکمه څخه د «شراداها – Shradaha» ورځې وتلي دي.
۸۱۹- ۸۲۱: دی باید هغه نوکر ته، چې ناروغه وي، له عادي مزدورۍ څخه یوه څلورمه کمه ور کړي او که یې ناروغي اوږده وي، نو د دریو میاشتو مزدوري ور تادیه کړي، اما تر دې اضافه چا ته نه سي ور کول کېدلای.

۸۲۲- ۸۲۴: هغه نوکر چي یوه هفته ناروغه وي، له پوره مزدوری څخه یې یوه جزیي برخه هم نه سي کمېدلای او د هغه عوض باید ودرول سي. که حتی تر یوه کاله پوري ژوندی پاته وي او که د مهارت خاوند وي، باید نیمه مزدوري ور کول سي.

۸۲۵: پاچا باید نوکر ته په کال کي پنځلس ورځي تفریحي رخصت ور کړي.

۸۲۶- ۸۲۷: پاچا باید هغه چا ته، چي څلوېښت کاله خدمت وکړي، نیم معاش د تقاعد په ډول ور کړي.

۸۲۸- ۸۲۹: نیم معاش د ژوند تر پایه ور کول کیږي. تر مرګ وروسته که یې زوی وړوکی وي او کار نه سي کولای یا یې مایني ته او لوڼو ته، چي د ښو اخلاقو څښتناني وي، هم ور کول کیږي.

۸۳۰- ۸۳۱: دی باید نوکر ته د معاش یوه اتمه په هر کال کي د انعام په توګه ور کړي او که یې کار په فوق العاده مهارت سره اجراء کړی وي، نو د هغه خدمتونه یوه اتمه برخه، چي ده سر ته رسولي وي، ور کول کیږي.

۸۳۲- ۸۳۳: که څوک په کار کي مړ سي، نو باید معاش د مړه زوی ته تر هغه وخته ور کول سي، څو چي هغه وړوکی وي یا خو د هغه د اولادونو د مهارتونو سره برابر مزدوري ور کول سي.

۸۳۴- ۸۳۵: دی باید د نوکر د مزدوریو څخه له ځانه سره (د امانت په توګه) یوه شپږمه یا یوه څلورمه وساتي او د دې مبلغ نیمی یا ټوله په دوه یا درې کاله کي ور تادیه کړي (پروفیسور «سرکار – Sarkar» فکر کوي، چي دلته د احتیاطي صندوق مفکوره لیدل کیږي).

۸۳۶- ۸۳۷: امیر د سختو الفاظو، ټیټو مزدوریو، شدیدو مجازاتو او توهیناتو په وسیله په نوکر کي د دښمن صفات منځ ته راوړي.

۸۳۸- ۸۳۹: هغه کسان چې په مزدوريو قانع وي او د امتياز په وسيله نازول کيږي او په نرمو الفاظو آرام ساتل کيږي، هيڅ کله له خپل امير څخه نه بېليږي.
۸۴۰- ۸۴۱: بد نوکران د ثروت ارزو لري. معتدل کسان هم ثروت او هم شهرت غواړي او ښه کسان په شهرت پسې تلاش کوي. شهرت د لويانو ثروت دی. (سوکرانيتي- پاڼيني آفس، چاپ: ۱۹۱۴، ترجمه: پروفيسور «بينوي کمار»، سرکار، اتم جلد، VIII د هندو د سلسلې په مقدسو کتابونو کې).
۶- (P. XXIII) «واراروچي – Vararuchi» د لرغوني هند تاريخ تر «پاڼيني» وروسته، چې د سانسکريټ د ژبې ډېر ستر گرامرپوه وو، د «واراروچي» په نوم ثبت کړی دی، چې د «پراکريتي» ژبو له لويو گرامرپوهانو څخه وو. ده د څلورو «پراکريتي» ژبو گرامر وليکی، چې «پراکريتا پراکاشا – Prakrita Prakasha» نومېدی. دغه څلور ژبې دا دي: «مهاراشتري – Maharashtri، ماگادهي – Magadhi، پايشاچي – Paishachi او شاوراسيني – Shauraseni». «واراروچي» داسي معلوميږي، چې تر «اشوکا» دمخه تبارز کړی دی.
۷- (P. XXIV) «گونادهيا – Gunadhya» د هند په تاريخ کې د «گونادهيا» قصه د ډېرو لړزوونکو برخو له جملې څخه يوه برخه ده او په «پراکريتي» ژبو کې د هغې عاميانه ادبيات، لکه څنگه چې د «بريها تکتها – Brihatkatha» په مشهوره مجموعه کې راغلي دي، ډېر اهميت لري.
د «واراروچي» او «گونادهيا» مطالعه، چې يو «ستاواهانايي – Satavahana» پاچا وو، داسي موضوعات دي، چې څېړنه يې زموږ د مليتونو د انکشاف د پېژندني او د «پراکريتي» ژبو او ادبياتو د ودې د پوهېدني دپاره مطلق ضروري دي.

# دوهمه ضمیمه

دایمي پوځونه او اقتصاد

تر میلاد دمخه د شپږمي پېړۍ څخه تر دوهمي پېړۍ پوري، یعني د «بودا» له ظهوره څخه د «اشوکا» تر سقوط پوري، هند ځیني خورا ستري امپراتورۍ جوړي کړي دي. په دې خبره پوهېده اهمیت لري، چي د دغو امپراطوریو د عوایدو منابع څهشي وه؟ او څهرنگه یې استعمالوله؟ د «کاوتیلیا» هغه اثر چي «ارتهاشترا» نومیږي او همدا رنگه نور آثار موږ ته داسي مواد را کولای سي، چي د دې موضوع سره اړه لري.

په دغو آثارو کي دغه خبره مومو، چي دولت یا امپراتور کرهڼه د مریانو، اجیرو نوکرانو او آزادو اجارهدارانو په وسیله سر ته رسوي. دی همدا رنگه دستگاوي یا کارخانې لري، چي نه یوازي اسلحې او د پوځ دپاره مهمات تولیدوي، بلکي همدارنگه د تجارت دپاره محصولات تولیدوي. البته هلته د عوایدو نوري منابع هم موجودیت لري.

هغه مسئله چي باید تر څېړني لاندي ونیول سي، دا ده، چي تر دغو امپراطوریو لاندي اقتصادي فعالیت تر کومه حده د مبادلوي مالونو تولید ته، چي له هغه سره د پیسو او تجارتي پانگي نقش ملگری وو، انکشاف ور کړ.

په همدې ساحه کي یوه بله په زړهپوري پوښتنه د هغه سترو دایمي پوځونو د نقش په باره کي ده، چي دغو امپراتوریو ساتله او پر اقتصاد او خلگو باندي یې اغېزه درلوده.

د ځلورو امپراتوریو پوځونه، چي ذکر یې راغلی دی، په لاندي توگه زموږ لاس ته را ځي:

| | | |
|---|---|---|
| پیاده عسکر | سپاره عسکر | فیلان |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ماگادها | ۶۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ | ۹۰۰ |
| کالینگا | ۵۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ | ۷۰۰ |
| تالوکتا | ۵۰۰۰۰ | ۴۰۰۰ | ۷۰۰ |
| اندهرا | ۱۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰ | |
| ۱۰۰۰ | | | |

د سکندر د خبریالانو د معلوماتو سره سم، د «نندایانو» پوځي احصایه تر «چندرا گوپتا» دمخه داسي وه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پیاده عسکر | سپاره عسکر | فیلان | |
| جنگي گاډۍ | | | |
| ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ | ۴۰۰۰ | |
| ۲۰۰۰ | | | |

دغه ارقام او د مختلفو وسلو ترتیب ډېر مهم ټکی د مطالعې او څېړني دپاره را وړاندي کوي.

د هغي زمانې د تولیدي قواوو سطحه، چي په نظر کي ونیول سي، نو سړی د تولید محصولاتو هغه حجم معلوملای سي، چي باید وه، د یوه دغسي پوځ د ساتلو توښه ځني را بېله سي. که د دې توښې یوه برخه د کلیو له خوا څخه د اجارې (بهري) په توگه د جنس په شکل تهیه کېده، نو د بهرې او مالیاتو بار به پر خلگو څونه پروت وو، چي دا باقي توښه ور پوره کړي؟ که د دې توښې یوه برخه باید وه، چي په بازار کي رانیول سي او یا حتی یوه برخه تادیات پرسونل ته د پیسې په شکل اجراء سي (یو څه تادیه د پیسې په شکل او یو څه هم د جیرې په شکل اجراء کېده). نو څونه مبلغ پیسې باید وي، چي په دوران کي

وي؟ د هغي زمانې په طبيعي اقتصاد کي دغسي مبادلوي حرکت بايد څه اغېزې ښندلي وي؟
يوه بله مسئله چي څېړنه غواړي دا ده، چي د هغه اجتماعي فورماسيون تصوير څه ډول دی، چي تاسي يې د پوځونو د تنوع د نسبتي ثقل او ترکيب څخه استنباط کولای سئ. مارکس وايي، چي پوځ زياتره د خپلو ټولنيزو تقسيماتو تصوير څرګندوي.
آيا د امپراتورۍ دغه پوځونه زموږ سره دا مرسته کولای سي، چي د هغي زمانې د ټولني په داخلي جوړښت کي طبقاتي روابط او د قواوو متقابل تعلقات وګورو؟ په دې ارتباط به د لوستونکو توجه هغه ليک ته واړوم، چي مارکس په دې باره کي ليکلی دی:
«د اردو تاريخ تر بل هر شي په ډېر وضاحت د توليدي قواوو او اجتماعي روابطو په منځ کي د ارتباط په باب زموږ د نظر صحت اثبات ته رسوي. په عمومي توګه اردو د اقتصادي انکشاف دپاره اهميت لري. مثلاً دا کار د اردو په برخه کي سر ته ورسېدی، چي لرغونو خلګو د لومړي ځل دپاره يو بشپړ د مزدورۍ سيستم منځ ته راوړی. همدا شيان د روميانو تر منځ «د اردو ملکيت – Peculium Castrense» لومړی قانوني شکل وو، چي په هغه کي د کورنيو تر پلرو علاوه د نورو حقوق په منقول ملکيت کي په رسميت وپېژندل سوه. همدا رنګه د هغو کسبګرانو، چي په اردو پوري ملحق وه «Fabri»، د اتحاديې تر منځ ګيلډي سيستم دغه راز وو. دلته هم وار د واره ماشينان په لويه پيمانه تر استفادې لاندي نيول کيږي، حتی د فلزاتو خاص ارزښت او د پيسو په توګه د هغو استعمال ښکاري، چي په لومړي سر کي سمدستي تر هغه وروسته، چي د «ګريم – Grimm» د ډبري دوره تېره سوه، په نظامي اهميت را بناء سوي وي.

د يوې څانگې په دننه کې د کار تقسيم هم د لومړي ځل دپاره په پوځونو کې را پيدا سو. د بورژوازي ټولني د اشکالو ټوله تاريخ په خورا عجيبه توگه دلته خلاصه سوی دی.

زما په عقيده يوازې هغه ټکي، چې ستا په بيان کې پاته سوي دي، دا دي:

۱: په غټه پيمانه د اجيرو لښکرو لومړنی کامل ظهور، چې په هغه زمانه کې، د قرطاجينيانو – Carthaginians» تر منځ ليدل کيږي.

۲: په پنځلسمه او د شپاړسمې پېړۍ په سر کې په ايټاليه کې د اردو د سيستم انکشاف.

۳: آسيايي نظامي سيستم، لکه څنگه چې د لومړي ځل دپاره په پارسيانو کې را پيدا سو او بيا وروسته که څه هم ډول يې بېخي بل راز اوښتی وو، په مغولو، ترکانو او نورو کې منځ ته راغلی...» (د مارکس هغه ليک، چې اينگلس ته يې د کال ۱۸۵۷م. د سيپټمبر پر ۲۵ وليکی).